# اِصلاحي

# مُدلّل تقریرونه

څلورم جلد

دَقرآن کریم. نبوی احادیثو او دامت داسلافو دقیمتی اقوالو اصلاحی نصیحتونو، عِلمی لطائفو او دعِبرت نه ډک زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کی۔ دمعاشری دإصلاح. خوف خدا، دحقوق الله اوحقوق العبادو اهمیت او د دارینو دسعادت او نیک بختئ په باره کی. دعلماو. طلباو. مقررینو او عامو مسلمانانو دپاره یوه مفصله معتمده علمی او تحقیقی ذَخیره:


تالیف أبو الشمس مولانا نور الهدی عفی عنه

مدرس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان



زیر اهتمام کفایت الله آرمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازیه محله جنګی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

دَ قرآن کريم، نبوي احاديثو او د امت د اَسلافو د قيمتي اقوالو، اِصلاحي نصيحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَک زړه راښکُونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کې. د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهميت او د دارينو د سَعادت او نيک بختۍ په باره کې. د علماو، طلباو، مُقرِرينو او عامو مسلمانانو د پاره يوه مفصّله مُعتَمَده عِلمي او تحقيقي ذَخِيره:

# اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه

## جلد ٤

تاليف

آبُو الشَّمس مولانا نُوْرُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی، مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د کتاب نوم: اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۴

مؤلف: اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی مردان
فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر: مؤلف پخپله

د چاپ کال: ۱٤٣٧هـ ق ، ١٣٩٤هـ ش، مطابق ۲۰۱٦ ء

نوټ: د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازيه سره محفوظ دي

مکتبه اعزازيه
محله جنګي پشاور

زير اهتمام

کفايت الله ارماني

۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د شلورم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّابَعْد :

قدرمنو ! په نورو کلونو کې به مې ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه ) کتاب هر جِلد د مدرسې په سالانه رُخصتیو کې لیکل ، ځکه د دَرسي مصروفیاتو په وجه به د کال په مینځ کې راته د لیکلو موقع ډیره نه ملاویده .

خو کله چې دریم جلد ولیکل شو ، او د هغې په آخر کې مې د څلورم جلد د لیکلو وعده وکړه نو ددې کتاب شائقینو دومره په اِهتمام سره بار بار د څلورم جلد په باره کې تپوسونه او ټیلفوني کولی چې ماته آخِر حَیاء راغله او زه په دې مجبور شوم چې د دوی دې خبرې ته لَبّیک ووایم ، او د دوی عِلمي تَنده ماته کړم .

لهذا د دوی دې آرزو ته د عمَلي جامې اَغوستلو په خاطر مې په ځان بوج راوَست او د دَرسونو سره سره د کال په مینځ کې مې د څلورم جلد په لیکلو شروع وکړه . چې کله څو میاشتې پس څه اَندازه کتاب ولیکلې شو نو ناڅاپه په یو اِلهي اِمتحان کې راګیر شوم چې د هغې په وجه د کتاب په لیکلو کې څه نا څه تاخیر راغی . (۱)

خو بیا مې د کلکې حَوصلې او اِستقامت نه کار واخیست ، او د الله ﷻ په فضل سره مې د کتاب باقي حصه په داسې عِلمي او تحقیقي اَنداز کې پوره کړه چې د مخکیني درې واړه جلدونو په نسبت مې دې څلورم جِلد سره کوشش او خواري ډیره وکړه ، ځکه مخکینې هر یو جلد به مې تقریبا په پنځو یا شپږو میاشتو کې پوره کولو ، او دا څلورم جلد مې په لسو میاشتو کې اولیکلو .

(۱) ددې امتحان څه تفصیل د کتاب په آخر کې " دځاؤ دَرخواست " د عُنوان لاندې په صفحه ۳۷۷ باندې ذکر دی .

زما ددې خوارۍ او مِحنت اَندازه به تاسو ته دکتاب د مطالعه کولو په وخت کې اُولېږي.

بل دا چې د همدې څلورم جِلد په وجه مې د خپل رب نه دا قوي اُميد دی چې ددې په وجه به راته خپل ګناهونه معاف کوي.

کومو اهلِ علمو ، خطيبانو او دوستانو چې راته په يو څو مخصوصو موضوع ګانو باندې د ليکلو په باره کې ډيره تاکيدي وينا کړې وه په هغې کې څه موضوع ګانې خو په دې جِلد کې اوليکلې شوی ، او باقي به انشاء الله په راتلونکي **پنځم جلد** کې اوليکم.

الله ربّ العزت دې دا کتاب هم دخلقو د اِصلاح او فائدې ذريعه اوګرځي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

**ابوالشمس نُورالهدٰی عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيد مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ.

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه (د څلورم جلد) | |
| ۲. | **۱. د نبي علیه السلام اتباع او اطاعت** | ۱ |
| ۳. | د نبي علیه السلام د اِتباع فوائد : | ۷ |
| ۳. | د صحابه کرامو په نزد د نبي علیه السلام د حکم اَهمیت | ۲۴ |
| ۴. | د نبي علیه السلام د اِتباع متعلق نور بهترین او مُتعمَد واقعات | ۳۴ |
| ۵. | د رسولُ الله ﷺ اِتباع نه کوونکو د پاره سزاګانې | ۴۵ |
| ۶. | د نبي علیه السلام د سُنتو او شرعي احکاماتو اِتباع نه کولو اَسباب | ۵۵ |
| ۷. | ضروري فقهي مسائل | ۵۹ |
| ۸. | د "اِتباعِ سُنّت" موضوع متعلق اَهم بحثونه | ۶۳ |
| ۹. | د احادیثو متعلق د مُنکرینِ حدیث څه شُبهات (اِعتراضات)، او د هغې تفصیلي جوابات | ۷۸ |
| ۱۰. | **۲. نبي علیه السلام سره د محبت کولو وجوب او لزوم** | ۹۱ |
| ۱۱. | د نبي علیه السلام سره د محبت نه بغیر د انسان اِیمان کامِل نه دی | ۹۴ |
| ۱۲. | د نبي علیه السلام سره د محبت کولو تقاضا او د هغې علامات | ۱۱۶ |
| ۱۳. | د محبت ټول اَسباب په نبي علیه السلام کې جمع وو | ۱۲۶ |
| ۱۴. | د مخکینې پیغمبرانو د مُعجزو او کمالاتو سره د نبي علیه السلام د معجزو او کمالاتو موازنه | ۱۳۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵. | د نبي عليه السلام سره د محبت او عِشق واقعات | ۱۶۱ |
| ۱۶. | د نبي عليه السلام سره د عِشق او محبت كولو متعلق نور معتمَد واقعات | ۱۸۴ |
| ۱۷. | د انسانانو نه علاوه نورو مخلوقاتو هم د نبي عليه السلام سره محبت كولو | ۲۰۱ |
| ۱۸. | د غَربي مُفكّرينو په نظر كې د رسولُ الله ﷺ عَظمت | ۲۰۶ |
| ۱۹ | ضروري فِقهي مسائل | ۲۱۳ |
| ۲۰. | **۳. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل كولو سائنسي او طبي فوائد** | ۲۲۴ |
| ۲۱. | **۴. د ګيرې پرېښودلو اهميت ، او د خرېلو يا قبضې نه د كمولو سزاګانې** | ۲۷۷ |
| ۲۲. | د ګيرې پرېښود اَهميت او فوائد | ۲۸۱ |
| ۲۳. | د ګيرې خَرېلو يا قبضې نه د كمولو نقصانات | ۲۹۲ |
| ۲۴. | د ګيرې خرَيونكو د پاره مختلف شبهې ، بهَانې او دلائل | ۳۲۸ |
| ۲۵. | د ګيرې متعلق ضروري فِقهي مسائل | ۳۵۴ |
| ۲۶. | په جَلسه يا بل غټ پروګرام كې اِفتتاحي كلمات | ۲۴۳ |
| ۲۷. | د دُعاوُ دَرخواست | ۳۷۷ |
| ۲۸. | يو ځل بيا د اَهل عِلمو او خطيبانو د پاره د خوشحالۍ خبر | ۳۸۴ |
| ۲۹. | د خُوشحالۍ دويم خبر | ۳۸۴ |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## تفصيلي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه ( د څلورم جلد ) | |
| | **۱ . د نبي علیه السلام اتباع او اطاعت** | ۱ |
| ۲. | د نبي علیه السلامؑ د اِتباع کولو حکم او اَهمیت | ۴ |
| ۳. | د نبي ﷺ اِطاعت د الله ﷻ اطاعت دی | ۵ |
| ۴. | **د نبي علیه السلام د اِتباع فوائد :** | ۷ |
| ۵. | ۱ . د رسول الله ﷺ اِتباع د الله ﷻ د محبت او د ګناهونو د مغفرت ذریعه ده | ۷ |
| ۶. | د حافظ ابن کثیر رحمه الله وینا | ۸ |
| ۷. | د نورو مفسرینو وینا | ۹ |
| ۸. | ۲ . د رسول الله ﷺ اِتباع د جنت د تللو ذریعه ده | ۱۰ |
| ۹. | د اِتباع په وجه په جنت کې د نبي ﷺ ملګرتیا | ۱۳ |
| ۱۰. | ۳ . د نبي علیه السلام اِتباع د عباداتو د قبولیت د پاره شرط ده | ۱۳ |
| ۱۱. | دا معلومول چې زما اَعمال قبول دي او که نه ؟ | ۱۵ |
| ۱۲. | د رسول الله ﷺ ذات او ژوند د اُمت د پاره نمونه ده | ۱۵ |
| ۱۳. | ۴ . د اِتباع په وجه د انسان په زړه کې د نبي ﷺ سره محبت پیدا کیږي | ۱۶ |
| ۱۴. | د مذکوره حدیث متعلق عِلمي تحقیق | ۱۷ |
| ۱۵. | ۵ . د سُنتو د ژوندي کولو په وجه په جنت کې د نبي ﷺ سره ملګرتیا | ۱۸ |
| ۱۶. | د سُنتو ژوندي کولو اَجر | ۱۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷. | د سلو (۱۰۰) شهيدانو اَجر | ۱۹ |
| ۱۸. | د سُنتو په حفاظت اِعزازونه | ۲۰ |
| ۱۹. | ٦. اِتباع کوونکي کامياب دي | ۲۱ |
| ۲۱. | ۷. د سُنتو د اِتباع په وجه د جهنم د اُور نه محفوظ کيدل | ۲۲ |
| ۲۲. | ۸. په سُنتو باندې عمل کوونکې به د ګمراهۍ نه بچ وي | ۲۲ |
| ۲۳. | **د صحابه کرامو په نزد د نبي عليه السلام د حکم اَهميت** | ۲۴ |
| ۲۴. | ۱. د نبي ﷺ د حکم اَوريدو نه روستو ابن مسعود رضي الله عنه د جُمات په دَروازه کې کيناست | ۲۴ |
| ۲۵. | ۲. د شرابو د حُرمت نه روستو متصل ټول شراب اَړول | ۲۵ |
| ۲٦. | ۳. حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه او د نبي عليه السلام حکم عَملي کول | ۲٦ |
| ۲۷. | ۴. د صحابه کرامو د رکوع په حالت کې خانه کعبې طرفته تاويدل | ۲۷ |
| ۲۸. | ۵. صحابه کرامو د زخمونو او تکليفونو باوجود د نبي ﷺ حکم ته لبّيک .. | ۲۸ |
| ۲۹. | ٦. حضرت حنظله رضي الله عنه د نبي عليه السلام حکم ته فورًا لبّيک وويل | ۳۰ |
| ۳۰. | ۷. د يو صحابي خپل څادر سَوزَول | ۳۱ |
| ۳۱. | ۸. صحابه کرامو د نبي عليه السلام حُکم فورًا عَملي کړو | ۳۲ |
| ۳۲. | د سُنتو په پريخودو مسلمانان ذليله شو | ۳۲ |
| ۳۳. | د صحابه کرامو د کاميابۍ راز | ۳۳ |
| ۳۴. | **د نبي ﷺ د اِتباع متعلق نور بهترين او مُتعمَد واقعات** | ۳۴ |
| ۳۵. | په هر حالت کې د سُنتو اِتباع کول | ۳۴ |
| ۳٦. | ۱. د حضرت حُذيفه رضي الله عنه بهترين جواب | ۳۴ |
| ۳۷. | ۲. د حضرت عثمان رضي الله عنه د سُنتو خلاف کار کولو نه اِنکار کول | ۳۵ |
| ۳۸. | ۳. حضرت حثامه بن ساحق کناني رضي الله عنه او د نبي عليه السلام اِتباع | ۳٦ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۹. | ۴ . حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما او د نبي عليه السلام اتباع | ۳۷ |
| ۴۰. | ۵ . د نبي عليه السلام د حکم اَوريدو نه روستو دُتهکيدونکو غوښو دکې کتهوي اَچول | ۳۸ |
| ۴۱. | ٦ . د نبي عليه السلام د ويښتانو په شان ويښتان جوړولو د پاره سخت تکليف برداشت کول | ۳۹ |
| ۴۲. | ۷ . د صحابياتو د اِتباع نمونې | ۳۹ |
| ۴۳. | ۸ . د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمل نه کوونکي سره خبرې نه کول | ۴۱ |
| ۴۴. | د ټولو نه لوي کرامت " په هر حالت کې د سُنتو تابعداري کول " دی | ۴۲ |
| ۴۵. | ۹ . د جُنيد بغدادي رحمه الله واقعه | ۴۲ |
| ۴۶. | د امام غزالي رحمه الله وينا | ۴۳ |
| ۴۷. | د بايزيد بسطامي رحمه الله وينا | ۴۳ |
| ۴۸. | د مجدد الف ثاني رحمه الله وينا | ۴۳ |
| ۴۹. | ۱۰ . د مرګ په وخت د سُنتو لحاظ ساتل | ۴۴ |
| ۵۰. | ۱۱ . د نظر ختميدو باوجود په سُنتو باندې د عمل کولو په خاطر په سترګو کې رانجه کول | ۴۴ |
| ۵۱. | **د رسولُ الله ﷺ اِتباع نه کوونکو د پاره سزاګانې** | ۴۵ |
| ۵۲. | ۱ . د نبي عليه السلام اِتباع نه کوونکې ګمراه دی | ۴۵ |
| ۵۳. | ۲ . د سُنتو په پريخودو نبي عليه السلام خفه کيږي | ۴٦ |
| ۵۴. | د ميرزا قتيل واقعه | ۴۷ |
| ۵۵. | ۳ . د نبي عليه السلام په حکم باندې عمل نه کولو سره مسلمانانو ته تکليف رسيدل | ۴۹ |
| ۵٦. | د غزوه اُحد په واقعه کې د مسلمانانو د پاره عبرت | ۵۰ |
| ۵۷. | عبرت | ۵۳ |
| ۵۷. | ۴ . د سُنتو په پريخودو د فرائضو نه محرومي | ۵۳ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۸. | د نبي ﷺ د سُنتو نه د اعراض كولو په وجه په قبر كې د قبلې نه مخ اوړېدل | ۵۳ |
| ۵۹. | ۵ . د نبي ﷺ اطاعت نه كولو په وجه په قيامت كې د كافرانو پښېمانتيا | ۵۴ |
| ۶۰. | **د نبي ﷺ د سنتو او شرعي احكاماتو اِتباع نه كولو اَسباب** | ۵۵ |
| ۶۱. | ۱ . د شرعي اَحكاماتو او سُنتو نه جهالت (او ناخبري) | ۵۵ |
| ۶۲. | ۲ . د خواهشاتو تابعداري كول | ۵۵ |
| ۶۳. | ۳ . د بې دينه او گمراه خلقو په مجلس كې كيناستل | ۵۶ |
| ۶۴. | ۴ . د صحيح احاديثو په مقابله كې ضعيف او موضوع احاديثو ته ترجيح وركول | ۵۶ |
| ۶۵. | ۵ . د باطل په مقابله كې د علماؤ سكوت | ۵۶ |
| ۶۶. | ۶ . د قرآن كريم او احاديثو په مقابله كې عقل ته ترجيح وركول | ۵۷ |
| ۶۷. | ۷ . د قرآني آيتونو او صحيح احاديثو باوجود د گمراه او بې دينه مشرانو اِتباع كول | ۵۸ |
| ۶۸. | **ضروري فقهي مسائل** | ۵۹ |
| ۶۹. | د مُنكرين حديث حكم | ۵۹ |
| ۷۰. | احاديثو ته "جَعلي داستانونه" ويونكې كس مُلحِد او زنديق دى | ۶۰ |
| ۷۱. | د نبي عليه السلام د سُنتو توهين كول كفر دى | ۶۰ |
| ۷۲. | د يو سُنت عمل د سُنتيَت نه اِنكار كول كفر دى | ۶۱ |
| ۷۳. | د نبي عليه السلام په شان كې گستاخي كوونكې كس مرتد او كافر دى | ۶۱ |
| ۷۴. | **د " اِتباعِ سُنت " موضوع متعلق اَهم بحثونه** | ۶۳ |
| ۷۵. | د مقررينو د پاره ضروري تَنبيه | ۶۳ |
| ۷۵. | د سُنتو لغوي او شرعي تحقيق | ۶۳ |
| ۷۶. | د سُنتو اَقسام | ۶۴ |
| ۷۷. | د سُنتو يو بل تقسيم | ۶۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۷۸. | په کتابي شکل کې د احاديثو د ليکلو او تدوين زمانه | ٦٦ |
| ۷۹. | احاديثو ته د فنّي حيثيت ورکوونکي (يعنی مُدَوِّن اوّل) په باره کې نور عِلمي تحقيق | ٦۷ |
| ۸۰. | **په دين کې د حديث او سُنت مقام** | ۷۰ |
| ۸۱. | د مُنکرينِ حديث فتنه | ۷۰ |
| ۸۲. | په اَدِلۂ شرعيهٔ کې احاديث دويم نمبر دليل دی | ۷۰ |
| ۸۳. | د قرآن کريم د بعضو احکاماتو تفصيل په احاديثو کې دی | ۷۲ |
| ۸۴. | اول مثال : | ۷۲ |
| ۸۵. | دويم مثال : | ۷۳ |
| ۸۶. | سُنت وَحي خَفي ده | ۷۴ |
| ۸۷. | د احاديثو نه بغير د ډيرو آيتونو په مطلب پوهيدل ګران دي | ۷۴ |
| ۸۸. | احاديث حُجّت نه ګنړونکې کس کافر دی | ۷٦ |
| ۸۹. | **د احاديثو متعلق د مُنکرينِ حديث څه شبهات (اِعتراضات)، او د هغې تفصيلي جوابات** | ۷۸ |
| ۹۰. | **اول اعتراض** : د احاديثو الفاظ بِعَينه محفوظ نه دي | ۷۸ |
| ۹۱. | اول جواب | ۷۹ |
| ۹۲. | د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حافظه | ۷۹ |
| ۹۳. | د امام بخاري رحمه الله حافظه | ۷۹ |
| ۹۴. | دويم جواب : | ۸۰ |
| ۹۵. | دريم جواب : | ۸۱ |
| ۹٦. | څلورم جواب : | ۸۱ |
| ۹۷. | پنځم جواب : | ۸۲ |
| ۹۸. | شپږم جواب : | ۸۲ |
| ۹۹. | اُووم جواب : | ۸۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | اتم جواب | ۸۳ |
| ۱۰۱ | نهم جواب | ۸۳ |
| ۱۰۲ | لسم جواب | ۸۳ |
| ۱۰۳ | **د مُنكرينِ حديث دويم اعتراض** | ۸۴ |
| ۱۰۴ | نبي عليه السلام خو د احاديثو ليكلو نه منع كړې ده | ۸۴ |
| ۱۰۵ | اول جواب | ۸۵ |
| ۱۰۶ | دويم جواب | ۸۵ |
| ۱۰۷ | د مسلم شريف د حديث نه جواب | ۸۸ |
| ۱۰۸ | دريم جواب | ۸۹ |
| ۱۰۹ | څلورم جواب | ۸۹ |
| ۱۱۰ | پنځم جواب | ۹۰ |
| | **۲. نبي ﷺ سره د محبت كولو وجوب او لزوم** | ۹۱ |
| ۱۱۱ | د اِطاعت سره محبت هم لازم دى | ۹۳ |
| ۱۱۲ | د نبي ﷺ سره د محبت نه بغير د انسان اِيمان كامِل نه دى | ۹۴ |
| ۱۱۳ | په حديث كې د والد ، ولد او عامو خلقو ذكر كولو وجه | ۹۵ |
| ۱۱۴ | د ايمان د تكميل د پاره د رسولُ الله ﷺ سره ربط او تعلق ضروري دى | ۹۶ |
| ۱۱۵ | يو اِعتراض او د هغې جواب | ۹۷ |
| ۱۱۶ | محبتِ طبعي | ۹۸ |
| ۱۱۷ | محبت عقلي | ۹۸ |
| ۱۱۸ | د قاضي بيضاوي رحمه الله تحقيق | ۹۸ |
| ۱۱۹ | د علامه ابن حجر رحمه الله تحقيق | ۹۹ |
| ۱۲۰ | د علامه خطابي رحمه الله تحقيق | ۱۰۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۲۱ | د علامه قسطلاني رحمه الله تحقيق | ۱۰۰ |
| ۱۲۲ | د ''عقلي محبت'' سره د نورو محبتونو جمع کول | ۱۰۱ |
| ۱۲۳ | د نبي عليه السلام د محبت په وجه د خپل ځوي لحاظ نه کول | ۱۰۲ |
| ۱۲۴ | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د محبت واقعه | ۱۰۲ |
| ۱۲۵ | د نبي عليه السلام سره د محبت په وجه د خپل پلار لحاظ نه ساتل | ۱۰۳ |
| ۱۲۶ | د عبدالله بن اُبَي بن سلول د ځوي د محبت واقعه | ۱۰۳ |
| ۱۲۷ | د نبي عليه السلام سره د محبت په وجه د خپل ځان پَرواه نه کول | ۱۰۵ |
| ۱۲۸ | د يوې زَنانه په زړه کې د نبي عليه السلام عَظمت او محبت | ۱۰٦ |
| ۱۲۹ | د حضرت زيد بن دَثِنه رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره د محبت واقعه | ۱۰۸ |
| ۱۳۰ | په مُؤمِن باندې د خپل ځان په نسبت د نبي عليه السلام حق زيات دی | ۱۰۹ |
| ۱۳۱ | د نبي ﷺ سره محبت نه کوونکي فاسِق او د هدايت نه محرومه دي | ۱۱۰ |
| ۱۳۲ | د قاضي بيضاوي رحمه الله تحقيق | ۱۱۱ |
| ۱۳۳ | د انسان حشر به په قيامت کې د هغه چا سره وي چې د چا سره يې محبت وي | ۱۱۱ |
| ۱۳۴ | د نبي ﷺ سره محبت کوونکي ته په جنت کې د هغوی ملګرتيا نصيبه کيدل | ۱۱۴ |
| ۱۳۵ | د نبي ﷺ سره محبت کوونکي ته د ايمان خوږوالي نصيبه کيدل | ۱۱۵ |
| ۱۳٦ | **د نبي عليه السلام سره د محبت کولو تقاضا او د هغې علامات** | ۱۱٦ |
| ۱۳۷ | **۱. د نبي عليه السلام د سُنتو اِتباع کول** | ۱۱٦ |
| ۱۳۸ | محبت هغه دی چې په ظاهري وجود يې اَثرات ښکاري | ۱۱۷ |
| ۱۳۹ | **۲. د نبي عليه السلام سره د تعلق لرونکو شيانو تعظيم کول** | ۱۱۸ |
| | د اسلافو په زړونو کې د محبت يو څو نمونې: | ۱۱۸ |
| ۱۴۰ | ۱. د حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت اُسامة رضي الله عنه سره محبت کول | ۱۱۸ |
| ۱۴۱ | ۲. امام مالک رحمه الله او د احاديثو تعظيم | ۱۱۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴۲ | ۳. سعيد بن المسيب رحمه الله او د احاديثو تعظيم | ۱۲۰ |
| ۱۴۳ | ۴. عبدالله بن مبارک رحمه الله او د احاديثو تعظيم | ۱۲۰ |
| ۱۴۴ | ۵. امام بخاري رحمه الله او د احاديثو تعظيم | ۱۲۰ |
| ۱۴۵ | ۶. عُمربن عبدالعزيز د نبي ﷺ خط په خپلو سترګو او مخ اُومږل | ۱۲۰ |
| ۱۴۶ | ۷. امام مالک رحمه الله او د مديني منورې تعظيم | ۱۲۱ |
| ۱۴۷ | ۸. د مديني منورې نه راغلې کپړې سره د مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله مينه | ۱۲۱ |
| ۱۴۸ | ۹. حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه او د نبي ﷺ د ويښتانو مبارکو تعظيم کول | ۱۲۲ |
| ۱۴۹ | ۳. د نبي عليه السلام سره بُغض کوونکي کس سره بُغض کول | ۱۲۲ |
| ۱۵۰ | ۴. د نبي عليه السلام ډيره تذکره کول | ۱۲۳ |
| ۱۵۱ | مجنون بار بار د ليلی نوم ليکل | ۱۲۳ |
| ۱۵۲ | ۵. په نبي عليه السلام بأندې ډير درود شريف ويل | ۱۲۴ |
| ۱۵۳ | ۶. د نبي عليه السلام د مُلاقات شوق | ۱۲۴ |
| ۱۵۴ | د حضرت بلال رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام سره د ملاقات شوق | ۱۲۴ |
| ۱۵۵ | **د محبت ټول اسباب په نبي عليه السلام کې جمع وو** | ۱۲۶ |
| ۱۵۶ | د چا سره د محبت کولو اول سبب: "**کمال**" | ۱۲۶ |
| ۱۵۷ | د نبي عليه السلام مقام او مرتبه | ۱۲۷ |
| ۱۵۸ | نبي عليه السلام جامع د صفاتو کماليتو وُ | ۱۲۹ |
| ۱۵۹ | د علماؤ او طلباؤ د پاره يوه ضروري تنبيه | ۱۲۹ |
| ۱۶۰ | د يو تعليم يافته هنڈو ځوان اقرار | ۱۲۹ |
| ۱۶۱ | د ټولو پيغمبرانو اَخلاق او صفات په نبي عليه السلام کې جَمع وو | ۱۳۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱٦۲ | **د مخکيني پيغمبرانو د مُعجزو او کمالاتو سره د نبي عليه السلام د معجزو او کمالاتو موازنه** | ۱۳۵ |
| ۱٦۳ | نبي عليه السلام ته عِلمي او عَمَلي دواړه قِسمه مُعجزې ورکړې شوې وې | ۱۳۵ |
| ۱٦۴ | ۱. د حضرت آدم عليه السلام د مُعجزاتو او کمالاتو سره موازنه | ۱۳٦ |
| ۱٦۵ | د علامه اسماعيل حقي رحمه الله تحقيق | ۱۳۷ |
| ۱٦٦ | د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق | ۱۳۷ |
| ۱٦۷ | د حضرت موسى عليه السلام د مُعجزاتو او کمالاتو سره موازنه | ۱۳۸ |
| ۱٦۸ | د حضرت عيسى السلام د معجزاتو او کمالاتو سره موازنه | ۱۴۰ |
| ۱٦۹ | د حضرت ابراهيم عليه السلام د معجزاتو او کمالاتو سره موازنه | ۱۴۱ |
| ۱۷۰ | د حضرت يوسف عليه السلام د معجزاتو او کمالاتو سره موازنه | ۱۴۲ |
| ۱۷۱ | د چا سره د محبت کولو دويم سبب : **جمال** (يعنى ښائست او حُسن) | ۱۴۳ |
| ۱۷۲ | نبي عليه السلام د سپوږمۍ نه ډير حَسين وُ | ۱۴۳ |
| ۱۷۳ | د نبي عليه السلام د مخ په ليدلو د عبدالله بن سلام رضي الله عنه اِيمان راوړل | ۱۴۵ |
| ۱۷۴ | د حضرت يوسف عليه السلام د حُسن او د نبي عليه السلام د جَمال په باره کې عِلمي تحقيق | ۱۴٦ |
| ۱۷۵ | اعتراض | ۱۴٦ |
| ۱۷٦ | جواب | ۱۴۷ |
| ۱۷۷ | د حُسن په باره کې د بُوعلي سينا تحقيق | ۱۴۹ |
| ۱۷۸ | د نبي عليه السلام د حُسن په باره کې د حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه اَشعار | ۱۴۹ |
| ۱۷۹ | د نبي عليه السلام د حُسن په باره کې د حضرت عائشې رضي الله عنها اَشعار | ۱۵۰ |
| ۱۸۰ | د نبي عليه السلام د حُسن په باره کې د علامه بوصيري اَشعار | ۱۵۱ |
| ۱۸۱ | د نبي عليه السلام د حُسن په باره کې د شيخ سعدي اَشعار | ۱۵۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۸۲ | ذ چا سره د محبت کولو دریم سبب : " **احسان** " | ۱۵۲ |
| ۱۸۳ | په اُمت باندې د نبي علیه السلام یو څو احسانات | ۱۵۲ |
| ۱۸۴ | د خپل اُمت د مغفرت او بخښې د پاره الله ﷻ ته ژړل | ۱۵۳ |
| ۱۸۵ | د چا سره د محبت کولو څلورم سبب : " **قُرب** " | ۱۵۶ |
| ۱۸۶ | نبي علیه السلام د مؤمنانو د پاره رُوحاني پلار دی | ۱۵۶ |
| ۱۸۷ | د یو چا سره د محبت کولو پنځم سبب : " **سخاوت** " | ۱۵۸ |
| ۱۸۸ | د سوال کوونکي د پاره قرض اخیستل | ۱۶۰ |
| ۱۸۹ | خلاصه | ۱۶۰ |
| ۱۹۰ | **د نبي علیه السلام سره د محبت او عِشق واقعات** | ۱۶۱ |
| ۱۹۲ | د صحابه کرامو د محبت او عِشق واقعات | ۱۶۱ |
| ۱۹۳ | د صحیح واقعاتو بیانولو اَهمیت | ۱۶۱ |
| ۱۹۴ | د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله وینا | ۱۶۲ |
| ۱۹۵ | د جُنید بغدادي رحمه الله وینا | ۱۶۲ |
| ۱۹۶ | د سفیان بن عیینه رحمه الله وینا | ۱۶۳ |
| ۱۹۷ | د محمد بن یونس رحمه الله وینا | ۱۶۳ |
| ۱۹۸ | ۱. د ډیر محبت او عِشق په وجه د نبي علیه السلام د اَودس اُوبه او لاړې په مخ او بَدن باندې مږل | ۱۶۳ |
| ۱۹۹ | ۲. د نبي علیه السلام د قبر په لیدلو د یوې زَنانه وفات کیدل | ۱۶۵ |
| ۲۰۰ | د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د نبي ﷺ سره عِشق او محبت | ۱۶۶ |
| ۲۰۱ | ۳. د نبي ﷺ د حفاظت د پاره اِقدامات | ۱۶۶ |
| ۲۰۲ | ۴. نبي علیه السلام په خپلو اُوږدو خیجول | ۱۶۷ |
| ۲۰۳ | ۵. په غارِ ثور کې د محبت مظاهره | ۱۶۸ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۴ | ٦. د نبي عليه السلام په شان صفات په ځان کې پيدا کول | ۱۷۰ |
| ۲۰۵ | اول حديث | ۱۷۰ |
| ۲۰۶ | دويم حديث | ۱۷۱ |
| ۲۰۷ | ۷. د کور ټول مال و اَسباب د نبي عليه السلام په خدمت کې پيش کول | ۱۷۳ |
| ۲۰۸ | ۸. د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مرګ اَصلي سبب | ۱۷۴ |
| ۲۰۹ | **د نورو صحابه کرامو د نبي عليه السلام سره د محبت واقعات** | ۱۷۵ |
| ۲۱۰ | ۹. د حضرت عثمان رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره د محبت واقعه | ۱۷۵ |
| ۲۱۱ | ۱۰. د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام سره د محبت واقعات | ۱۷۶ |
| ۲۱۲ | ۱۱. حضرت مالک بن سِنان رضي الله عنه او د نبي عليه السلام وينه څکل | ۱۸۰ |
| ۲۱۳ | ۱۲. حضرت ابن الزبير رضي الله عنه او د نبي عليه السلام وينه څکل | ۱۸۱ |
| ۲۱۴ | يوه ضروري مسئله: د نبي عليه السلام هر څه پاک ؤ | ۱۸۱ |
| ۲۱۵ | ۱۳. د نبي عليه السلام د وفات په وخت د يو صحابي کيفيت | ۱۸۲ |
| ۲۱۶ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۸۳ |
| ۲۱۷ | **د نبي عليه السلام سره د عِشق او محبت کولو متعلق نور معتمَد واقعات** | ۱۸۴ |
| | **د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره د محبت کولو باره کې نور د عِشق نه ډک واقعات** | ۱۸۴ |
| ۲۱۹ | په نبي کريم ﷺ باندې خپل مال خرچ کول | ۱۸۴ |
| ۲۲۰ | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه عظيمه قرباني | ۱۸۵ |
| ۲۲۱ | ابوبکر صديق رضي الله عنه نبي عليه السلام ته معمولي تکليف رسيدل نه برداشت کول | ۱۸۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۲ | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ژړا | ۱۸۸ |
| ۲۲۳ | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه محبوب شيان | ۱۸۸ |
| ۲۲۳ | د نور صحابه کرامو او عامو مسلمانانو د نبي عليه السلام سره د محبت واقعات | ۱۸۹ |
| ۲۲۴ | د جنګ په ميدان کې نبي عليه السلام ته شا نه ګرځول | ۱۸۹ |
| ۲۲۵ | د نبي عليه السلام سره د محبت په وجه په چَنده کې خپل وړوکي بچي پيش کول | ۱۹۰ |
| ۲۲۶ | د حضرت بلال رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره محبت | ۱۹۱ |
| ۲۲۷ | د حضرت ثوبان رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام سره محبت | ۱۹۱ |
| ۲۲۸ | حضرت امير معاوية رضي الله عنه او د نبي عليه السلام د ويښتانو تعظيم | ۱۹۳ |
| ۲۲۹ | د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره مينه | ۱۹۳ |
| ۲۳۰ | د نبي عليه السلام د ليدلو شوق | ۱۹۴ |
| ۲۳۱ | د ژوند په آخِري وخت کې د نبي عليه السلام د دِيدار شوق | ۱۹۴ |
| ۲۳۲ | د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د يو صحابي د محبت واقعه | ۱۹۵ |
| ۲۳۳ | د اُويس قرني رحمه الله د نبي عليه السلام سره د محبت واقعات | ۱۹۶ |
| ۲۳۴ | د نبي عليه السلام سره د محبت کوونکي کس مقام | ۱۹۷ |
| ۲۳۵ | د عبدالرحمن جامي رحمه الله د نبي عليه السلام سره محبت | ۱۹۸ |
| ۲۳۶ | د سلطان محمود غزنوي رحمه الله د نبي عليه السلام سره محبت | ۲۰۰ |
| ۲۳۷ | **د انسانانو نه علاوه نورو مخلوقاتو هم د نبي عليه السلام سره محبت کولو** | ۲۰۱ |
| ۲۳۸ | د ممبر په جوړيدو د اُونې د ژړا (حَنانې) ژړا | ۲۰۱ |
| ۲۳۹ | په نبي عليه السلام باندې د اُونو او کاڼو سلام اچول | ۲۰۲ |
| ۲۴۰ | د اُحد غرٔ خوَزيدل | ۲۰۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۱ | خَر د نبي عليه السلام فِراق برداشت نه کړې شو | ۲۰۳ |
| ۲۴۲ | يو وَحشي ځناور او د نبي عليه السلام تعظِيم کول | ۲۰۴ |
| ۲۴۳ | اُونه د نبي عليه السلام د سلام د پاره راتلل | ۲۰۴ |
| ۲۴۴ | د اُوښانو د نبي عليه السلام سره مينه | ۲۰۵ |
| ۲۴۵ | خلاصه | ۲۰۵ |
| ۲۴۶ | **د غَربي مُفکرينو په نظر کې د رسولُ الله ﷺ عَظمت** | ۲۰۶ |
| ۲۴۷ | د '' مَائکل هارټ '' وينا | ۲۰۶ |
| ۲۴۸ | د نبي عليه السلام د ژوند هر اَړخ محفوظ دی | ۲۰۸ |
| ۲۴۹ | د '' کارليل '' وينا | ۲۰۹ |
| ۲۵۰ | د رُوسي کاتِب '' تولستوي '' وينا | ۲۰۹ |
| ۲۵۱ | د فرانس اَديب '' ليمرټائن '' وينا | ۲۱۰ |
| ۲۵۲ | يُورپيانو او نورو غير مُسلمو هم د نبي ﷺ په سِيرت کتابونه ليکلي | ۲۱۱ |
| ۲۵۳ | د قانون دانانو د فهرست په سَر کې د نبي ﷺ نوم | ۲۱۱ |
| ۲۵۴ | خلاصه | ۲۱۲ |
| ۲۵۵ | **ضروري فِقهي مسائل** | ۲۱۳ |
| ۲۵۶ | په نبي عليه السلام کې هيڅ عيب نهٔ | ۲۱۳ |
| ۲۵۷ | نبي عليه السلام سره په درجه او فضيلت کې هيڅوک برابر نشته | ۲۱۳ |
| ۲۵۸ | د نبي عليه الصلاة و السلام هر څه پاک وو | ۲۱۴ |
| ۲۵۹ | د رسولُ الله ﷺ په ذات او صفاتو باندې تنقيد کول د اِيمان منافي خبره ده | ۲۱۶ |
| ۲۶۰ | د نبي ﷺ په باره کې د توهين او سَپکاوي کلمات ويل سبب د کفر دی | ۲۱۷ |
| ۲۶۱ | د نبي ﷺ د بدن مبارک سره لګيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده | ۲۱۸ |
| ۲۶۲ | سوال | ۲۱۹ |

| صفحه | موضوع | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ٢١٩ | جواب | ٢٦٣ |
| ٢١٩ | ټول اَنبياء قبلَ النبوّة او بَعد النبوّة معصوم دي | ٢٦٤ |
| ٢٢٠ | نبي عليه السلام اَوّلين او آخِرين پيغمبر دی | ٢٦٥ |
| ٢٢٠ | د اُمت اَعمال نبي عليه السلام ته پيش کولې شي | ٢٦٦ |
| ٢٢١ | د نبي عليه السلام د نوم مبارک سره صرف (ص)، يا صرف (ع) ليکل مکروه دي | ٢٦٧ |
| ٢٢٢ | د نبي عليه السلام د روضې مبارکې نه د مصافحې د پاره لاس راويستل | ٢٦٨ |
| ٢٢٤ | **٣. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسي او طِبي فوائد** | |
| ٢٢٤ | د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمَل کولو سائنسي، طِبّي، او دُنيوي فوائد | ٢٦٩ |
| ٢٢٥ | تمهيدي خبره | ٢٧٠ |
| ٢٢٦ | ضروري تَنبِيه: مسلمان به بغير د چُون و چرا نه په شرعي اَحکاماتو باندې عمل کوي | ٢٧١ |
| ٢٢٧ | انسان طبعًا حريص دی | ٢٧٢ |
| ٢٢٨ | د خوراک نه مخکې لاسونه وينځل: د احاديثو په رڼا کې | ٢٧٣ |
| ٢٢٩ | د خوراک نه مخکې د لاسونو وينځلو سائنسي او طِبّي فوائد. | ٢٧٤ |
| ٢٢٩ | واقعه: د خوراک نه مخکې د لاسونو نه وينځلو نقصان | ٢٧٥ |
| ٢٣٠ | د خوراک نه روستو د لاسونو وينځلو اَهميت | ٢٧٦ |
| ٢٣١ | په ګوتو خوراک کول، او د ګوتو څټَل: د احاديثو په رڼا کې | ٢٧٧ |
| ٢٣٢ | په ګوتو د خوراک کولو، او د ګوتو څټَلو سائنسي او طِبّي فايدې | ٢٧٨ |
| ٢٣٢ | په ښي لاس خوراک کول | ٢٧٩ |
| ٢٣٣ | د جديد سائنس تحقيق | ٢٨٠ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۸۱ | په احاديثو کې د مسواک استعمالولو تاکيد | ۲۳۳ |
| ۲۸۲ | د مسواک استعمالولو طِبّي او سائنسي فايدې | ۲۳۵ |
| ۲۸۳ | واقعه : د مسواک په وجه د يو غير مُسلمه اسلام قبول | ۲۳۶ |
| ۲۸۴ | مسواک استعمالوونکې به د زړه ، معدې او غابښونو د مرضونو نه محفوظ وي | ۲۳۸ |
| ۲۸۵ | د اُوده کيدو په وخت مسواک استعمالول : د احاديثو په رڼا کې | ۲۳۸ |
| ۲۸۶ | د اُوده کيدو په وخت د مسواک استعمالولو سائنسي او طِبّي فوايد | ۲۳۹ |
| ۲۸۷ | د سپي جُوټه کړې لوخې په اُوبو او خاوره صفا کول : د احاديثو په رڼا کې | ۲۴۰ |
| ۲۸۸ | فِقهي مسئله | ۲۴۰ |
| ۲۸۹ | سائنسي او طِبّي وجه | ۲۴۱ |
| ۲۹۰ | واقعه : د يو جَرمني ډاکټر اِقرار | ۲۴۱ |
| ۲۹۱ | په خي طرف اُوده کيدل سُنت دي | ۲۴۲ |
| ۲۹۲ | په خي طرف د اُوده کيدلو سائنسي او طِبّي فوايد | ۲۴۳ |
| ۲۹۳ | ۱ . انسان د زړه د بيماريو نه محفوظ وي | ۲۴۴ |
| ۲۹۴ | ۲ . انسان ډير ډُوب او د غفلت په خُوب اُوده نه وي | ۲۴۴ |
| ۲۹۵ | ۳. خطرناک او يَروُونکي خُوبونه نه گوري | ۲۴۵ |
| ۲۹۶ | ۴ . د خوب کولو نه روستو انسان مُطمئِن او تازه وي | ۲۴۵ |
| ۲۹۷ | مَچ په خوراک کې غورځيدل ، او بيا غُوپه ورکول | ۲۴۵ |
| ۲۹۸ | سائنسي او طِبّي وجه | ۲۴۶ |
| ۲۹۹ | د پَرَنجې ( اَنکرِيشي ) کولو نه روستو "اَلحَمدُ لله" ويل | ۲۴۷ |
| ۳۰۰ | د پَرَنجې کولو نه روستو د "اَلحَمدُ لله" او نورو دُعاگانو ويلو حِکمتونه | ۲۴۷ |
| ۳۰۱ | واقعه : د يو اَنگريز ډاکټر اِقرار | ۲۴۸ |
| ۳۰۲ | د خَتنې ( يعنى ماشوم سُنتولو ) اَهميت | ۲۵۰ |
| ۳۰۳ | د خَتنې کولو سائنسي او طِبّي فوائد | ۲۵۱ |
| ۳۰۴ | د خَنگرو ( يعنى گيټو ) نه لاندې د پرتوگ او کپړو زوړندولو مُذمت | ۲۵۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۰۵ | د خَنګرو نه لاندې د لباس زوړندولو سائنسي او طِبي نقصانات | ۲۵۴ |
| ۳۰۶ | . واقعه : د عیسائي ډاکټرانو اقرار | ۲۵۴ |
| ۳۰۷ | په سترګو کې د رَانجو کولو اَهمیت : د احادیثو په رڼا کې | ۲۵۵ |
| ۳۰۸ | په سترګو کې د رَانجو کولو طِبي او ډاکټري فوائد | ۲۵۶ |
| ۳۰۹ | د نوکانو پریکولو اَهمیت : د احادیثو په رڼا کې | ۲۵۷ |
| ۳۱۰ | مسئله | ۲۵۷ |
| ۳۱۱ | د نوکانو کټ کولو طِبي او ډاکټري فائدې | ۲۵۹ |
| ۳۱۲ | په اسلام کې د اَودس اَهمیت | ۲۶۰ |
| ۳۱۳ | د اَودس کولو سائنسي او طِبّي فواید | ۲۶۱ |
| ۳۱۴ | د مولانا اَشرف علي تهانوي رحمه الله تحقیق | ۲۶۱ |
| ۳۱۵ | د اَودس متعلق د ډاکټرانو او سائنسدانانو تحقیق | ۲۶۲ |
| ۳۱۶ | اَودس سره د "بَلډ پریشر" (یعنی فِشَار) علاج | ۲۶۳ |
| ۳۱۷ | په اَودس سره د مایوسۍ او پریشانۍ علاج | ۲۶۳ |
| ۳۱۸ | په مغربي جرمن کې یو سیمینار منعقد کیدل | ۲۶۳ |
| ۳۱۹ | د اَودس د اَندامونو وینځلو فواید | ۲۶۴ |
| ۳۲۰ | د لاسونو تر مَړوَندونو پورې وینځلو سائنسي او طِبي فوائد | ۲۶۴ |
| ۳۲۱ | د خُلې وینځلو سائنسي او طِبي فایده | ۲۶۴ |
| ۳۲۲ | د پُوزې وینځلو سائنسي او طِبّي فایدې | ۲۶۵ |
| ۳۲۳ | د مَخ وینځلو سائنسي او طِبّي فائدې | ۲۶۵ |
| ۳۲۴ | تر څنګلو پورې د لاسونو وینځلو طِبّي فوائد | ۲۶۶ |
| ۳۲۵ | د څټ مَسح کولو سائنسي او طِبّي فائدې | ۲۶۷ |
| ۳۲۶ | واقعه : د څټ په مسحې سره انسان د لیوَنتوب او دِماغي بیماریو نه محفوظه کیږي | ۲۶۸ |
| ۳۲۶ | د خپو وینځلو طِبّي او ډاکټري فایدې | ۲۶۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۲۷ | د اَودس نه پاتې شوې اوبه څکل سُنت دي | ۲۷۰ |
| ۳۲۸ | د اَودس نه د پاتې شوې اوبو څکلو سائنسي او طِبي فائدې | ۲۷۱ |
| ۳۲۹ | د حيوان ذبح کولو سائنسي او طِبي فائدې | ۲۷۱ |
| ۳۳۰ | د ذبحې نه علاوه نور صورتونه | ۲۷۲ |
| ۳۳۱ | ۱. د ژوندي څاروي نه غوښه پرېکول | ۲۷۲ |
| ۳۳۲ | ۲. حيوان مُسلسل په کاڼو ويشتل | ۲۷۲ |
| ۳۳۳ | ۳. د څټ د طرفه په تُوره وهل | ۲۷۳ |
| ۳۳۴ | ۴. په سَر وهل، يا د بجلۍ تيز کرَنټ ورکول | ۲۷۴ |
| ۳۳۵ | په اِسلامي طريقې د حيوان ذبح کولو فايدې | ۲۷۵ |
| ۳۳۶ | خلاصه | ۲۷۶ |
| ۳۳۷ | دُعا | ۲۷۶ |
| | **٤. د ګيرې پرېخودلو اهميت، او د خرېلو يا قبضې نه د کمولو سزاګانې** | ۲۷۷ |
| ۳۳۸ | ګيره خَريل يا د موټې نه کموَل ولې عام شو ؟ | ۲۷۸ |
| ۳۳۹ | مسلمان به د شريعت په هر حکم باندې عمل کوي | ۲۸۰ |
| ۳۴۰ | **د ګيرې پرېخود اهميت او فوائد** | ۲۸۱ |
| ۳۴۱ | د ګيرې پرېخودو حکم | ۲۸۱ |
| ۳۴۲ | د ګيرې په باره کې د راغلي الفاظو تحقيق | ۲۸۲ |
| ۳۴۳ | اَمر حقيقتًا د "وجوب" د پاره راځي | ۲۸۳ |
| ۳۴۴ | ګيره پرېخودل يو "فِطري شی" او د ټولو پيغمبرانو طريقه ده | ۲۸۴ |
| ۳۴۵ | د فِطرت تشريح | ۲۸۴ |
| ۳۴۶ | ګيره د انسان د پاره زِينَت دی | ۲۸۶ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۴۷ | ګيره د نارينه کيدو علامه نخه ده | ۲۸٦ |
| ۳۴۸ | د ګيرې په مکمل ختمولو سره پوره دِيَت لازميدل | ۲۸٦ |
| ۳۴۹ | جادُو ګرو ته د حضرت موسى عليه السلام د مشابهت په وجه ايمان نصيب شو | ۲۸۷ |
| ۳۵۰ | د محبوب سره مُشابهت لرونکي کس سره هم محبت کول. د يوې بُودۍ واقعه | ۲۹۰ |
| ۳۵۱ | د ګيرې پريخودو فوائد او حِکمتونه | ۲۹۱ |
| ۳۵۲ | **د ګيرې خَريلو يا قبضې نه د کمولو نقصانات** | ۲۹۲ |
| ۳۵۳ | ګيره خريل يا د موټي نه کمول د الله جل جلاله او د رسول ﷺ نافرماني ده | ۲۹۲ |
| ۳۵۴ | ګيره خريل " تَغِيْرٌ فِيْ خَلْقِ الله " دى | ۲۹۳ |
| ۳۵۵ | ګيره خريل يا د قبضې نه کمول د مُشرکينو او مجوسو طريقه ده | ۲۹۴ |
| ۳۵٦ | د ملا علي قاري رحمه الله وينا | ۲۹۵ |
| ۳۵۷ | د مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله وينا | ۲۹۵ |
| ۳۵۸ | د امام نووي رحمه الله وينا | ۲۹۵ |
| ۳۵۹ | ګيره د يو موټي نه کمول د مغربي خلقو او مُخَنّثو طريقه ده | ۲۹٦ |
| ۳٦۰ | د مفتي رشيد احمد صاحب تحقيق | ۲۹٦ |
| ۳٦۱ | ګيره خريل د ښځو سره مُشابهت کول دي | ۲۹۷ |
| ۳٦۲ | نبي عليه السلام هِيجړا د مديني منورې نه اُوويسته | ۲۹۸ |
| ۳٦۳ | د کفارو سره د مُشابهت حکم | ۳۰۰ |
| ۳٦۴ | نبي عليه السلام خپل اُمت د غير مسلمو سره د مُشابهت نه منع کړى | ۳۰۱ |
| ۳٦۵ | د کافرانو سره مُشابهت خطرناک دى | ۳۰۳ |
| ۳٦٦ | نبي عليه السلام ګيره خرَيونکي ته کتل هم خوَښ نه کړه | ۳۰۴ |
| ۳٦۷ | ګيره خريونکې هر وخت او په هر ځاى کې مسلسل ګناهګار وي | ۳۰٦ |
| ۳٦۸ | ګيره خريل ښکاره ګناه ، او ښکاره بغاوت دى | ۳۰۸ |
| ۳٦۹ | ګيره خريل د حضرت لوط عليه السلام د قوم عمَل دى | ۳۰۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۷۰ | د ګیرې په خریلو یا د موټي نه په کمولو سره نبي علیه السلام خفه کیږي | ۳۱۰ |
| ۳۷۱ | د میرزا قتیل واقعه | ۳۱۰ |
| ۳۷۲ | په کوم زړه کې، چې د نبي ﷺ د شکل مبارک سره نفرت وي په هغې کې ایمان باقي نه پاتې کیږي | ۳۱۲ |
| ۳۷۳ | ګیره خریونکې به قیامت کې په کوم سترګو د نبي ﷺ سره مخامخ کیږي ؟ | ۳۱۲ |
| ۳۷۴ | په ګیره خریونکي به نبي ﷺ څنګه د اُمتي کیدو ګمان وکړي ؟ | ۳۱۳ |
| ۳۷۵ | ګیره خریل او بیا د نبي ﷺ روضې مُبارکې ته حاضري کول ؟ | ۳۱۴ |
| ۳۷۶ | په اَربونو روپۍ روزانه د ګیرې په خریلو خرچ کیږي | ۳۱٦ |
| ۳۷۷ | د ګیرې خریلو سائنسي ، طِبي ، او ډاکټري نقصانات | ۳۱٦ |
| ۳۷۸ | ۱ . مردانه قوت کمزورې کیدل | ۳۱٦ |
| ۳۷۹ | ۲ . جِلدي اَمراض ( Skin diseseases ) پیدا کیدل | ۳۱۷ |
| ۳۸۰ | ۳ . د سترګو نظر کمزورې کیدل | ۳۱۷ |
| ۳۸۱ | ۴ . د مَرۍ او سِینې رګونه متأثر کیدل | ۳۱۷ |
| ۳۸۲ | ۵ . اَعصابي او جِنسي نظام متأثره کیدل | ۳۱۷ |
| ۳۸۳ | د ګیرې په باره کې د یو عیسائي ډاکټر (چارلس هومر) تحقیق | ۳۱۷ |
| ۳۸۴ | ٦ . په مخ باندې دانې راختل | ۳۱۸ |
| ۳۸۵ | ۷ . نورې مختلف قِسمه بیمارۍ پیدا کیدل | ۳۱۹ |
| ۳۸٦ | ګیرې خریلو ته ګناه نه ویل ډیر خطرناک دي | ۳۱۹ |
| ۳۸۷ | د حضرت آدم علیه السلام د توبې قبلیدو وجه | ۳۱۹ |
| ۳۸۸ | د اِبلیس د لعنتي کیدو وجه | ۳۲۰ |
| ۳۸۹ | د مریض مثال | ۳۲۱ |
| ۳۹۰ | ګیره خریل یا د موټي نه کمول سَراسر نقصان دی | ۳۲۲ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۹۱ | غټ غټ بریتونه پریخودل منع دي | ۳۲۳ |
| ۳۹۲ | د بریتونو وړولو مقدار | ۳۲۵ |
| ۳۹۳ | مسلمانانو ته د خپلو اسلامي شعائرو حفاظت په کار دی | ۲٦ |
| ۳۹۴ | واقعه | [illegible] |
| ۳۹۵ | دُعا | ۳۲۷ |
| ۳۹٦ | **د ګیرې خرَیونکو د پاره مختلف شبهې، بهَانې او دلائل** | ۳۲۸ |
| ۳۹۷ | **اوله شُبهه** : د ګیرې حکم په قرآن کریم کې نشته | ۳۲۸ |
| ۳۹۸ | اول جواب | ۳۲۸ |
| ۳۹۹ | دویم جواب | ۳۳۱ |
| ۴۰۰ | دریم جواب | ۳۳۲ |
| ۴۰۱ | څلورم جواب | ۳۳۲ |
| ۴۰۲ | **دویمه شُبهه** : نبي ﷺ د خپل قوم د رَسم و رِوَاج مطابق ګیره پرېښې وه | ۳۳۳ |
| ۴۰۳ | اول جواب | ۳۳۳ |
| ۴۰۴ | دویم جواب | ۳۳۴ |
| ۴۰۵ | **دریمه شُبهه** : ډیر عرَب او د مِصر عُلماء هم ګیرې خرَی | ۳۳۵ |
| ۴۰٦ | جواب | ۳۳۵ |
| ۴۰۷ | **څلورمه شُبهه** : که ګیره پرېږدو نو خلق به راپورې ییا توقې کوي | ۳۳٦ |
| ۴۰۸ | جواب | ۳۳٦ |
| ۴۰۹ | **پنځمه شُبهه** : که ګیره پرېږدو نو د نورو قومونو په نظر کې به سپک شو | ۳۳۷ |
| ۴۱۰ | جواب | ۳۳۷ |
| ۴۱۱ | **شپږمه شُبهه** : ګیره پریخودل زیات نه زیات سُنت دي | ۳۴۰ |
| ۴۱۲ | جواب | ۳۴۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۴۱۳ | گیرې ته د سُنت ویلو وجه | ۳۴۱ |
| ۴۱۴ | **اوومه شُبهه** : ډیرډ گیرو واله خلق دُهوکه باز دي | ۳۴۲ |
| ۴۱۵ | جواب | ۳۴۲ |
| ۴۱٦ | **اتمه شُبهه** که گیره پریږدونو د گناه کولو په وخت به بیا خلق پیغور راکوي | ۳۴۲ |
| ۴۱۷ | جواب | ۳۴۳ |
| ۴۱۸ | **نهمه شُبهه** : که گیره پریږدو نو د گناه کولو په وجه بیا گیره او اِسلام بَدنامیږي | ۳۴۳ |
| ۴۱۹ | جواب | ۳۴۳ |
| ۴۲۰ | **لسمه شُبهه** : گیره خرَیل وره گناه ده | ۳۴۴ |
| ۴۲۱ | جواب | ۳۴۵ |
| ۴۲۲ | **لسمه شُبهه** : په شریعت کې د گیرې مِقدار نه دی ذِکر | ۳۴۵ |
| ۴۲۳ | جواب | ۳۴۵ |
| ۴۲۵ | **یولسمه شُبهه** : په گیرې سره سړې بَد رَنگ او عجیبه معلومیږي | ۳۴۸ |
| ۴۲٦ | جواب | ۳۴۸ |
| ۴۲۷ | **دولسمه شُبهه** : که گیره پریږدو نو بیا به راته حکومتي نوکري او غټې عُهدې نه ملاویږي | ۳۴۹ |
| ۴۲۸ | جواب | ۳۴۹ |
| ۴۲۹ | واقعه : د گیرې خریلو باوجود نوکري ورته ملاؤ نه شوه | ۳۵۰ |
| ۴۳۰ | **دیار لسمه شُبهه** : زمونږ زړه او باطن صَفا دی، لهذا گیرې ته ضرورت نشته | ۳۵۱ |
| ۴۳۱ | جواب | ۳۵۱ |
| ۴۳۲ | **څوار لسمه شُبهه** : آیا دا اِسلام صِرف په گیره کې دی ؟ | ۳۵۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۳۳ | جواب | ۳۵۱ |
| ۴۳۴ | **بنځلسمه شُبهه** : ګيره هم د سَر د ويښتانو په شان ده | ۳۵۲ |
| ۴۳۵ | جواب | ۳۵۲ |
| ۴۳۶ | حِيلې او بهَانې پريخودَل په کار دي | ۳۵۳ |
| ۴۳۷ | **د ګيرې متعلق ضروري فِقهي مسائل** | ۳۵۴ |
| ۴۳۸ | **اوله مسئله** : ګيره پريخودل واجب دي | ۳۵۴ |
| ۴۳۹ | **دويمه مسئله** : ګيره خريل يا د قبضې نه کمول حرام او ګناه کبيره ده | ۳۵۵ |
| ۴۴۰ | **دريمه مسئله** : د موټي نه زياته ګيره کټ کول جائز دي | ۳۵۷ |
| ۴۴۱ | د قبضې نه د زياتي ګيرې کټ کولو په باره کې د علماؤ اختلاف | ۳۵۷ |
| ۴۴۲ | **څلورمه مسئله** : ګيره خريونکې فاسِق او مَردُودُ الشّهادة دی | ۳۵۹ |
| ۴۴۳ | **پنځمه مسئله** : وَړه ګيره ( رِيش بَچه ) خريل بِدعت دی | ۳٦۰ |
| ۴۴۴ | **شپږمه مسئله** : بريتونه خريل او کمول دواړه جائز دي ، البته د خريلو په نسبت کمول بهتر دي | ۳٦۰ |
| ۴۴۵ | د بريتونو د کمولو او خريلو باره کې د علماؤ اقوال | ۳٦۱ |
| ۴۴٦ | **اوومه مسئله** : د رخسار او حلق د ويښتانو حکم | ۳٦۲ |
| ۴۴۷ | **اتمه مسئله** : د ګيرې توهين کوونکې کس کافِر دی | ۳٦۳ |
| ۴۴۸ | د ګيرې په وجه د يو مسلمان سپَکاوې کول سبب د کفر دی | ۳٦۴ |
| ۴۴۹ | **نهمه مسئله** : ګيره خريل جائز ګڼل او ګناه نه ګڼل کفر دی | ۳٦۵ |
| ۴۵۰ | **لسمه مسئله** : د شعائرِ اسلام توهين کفر دی | ۳٦۵ |
| ۴۵۱ | **يولسمه مسئله** : د دې خبرې حکم چې " زما د ګيرې د نوم نه نفرت دی " | ۳٦٦ |

| صفحه | موضوع | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ۳۶۷ | **دولسمه مسئله** : ګيرۍ واله ته د سپَكاوي په وجه د" سِيكه "ويلو حكم | ۴۵۲ |
| ۳۶۸ | **ديارلسمه مسئله** : د هغه چا حكم چې د سپَكاوي په نيت د ګيرۍ تشبيه د چيلۍ د لکۍ سره وركړي | ۴۵۳ |
| ۳۶۸ | **څوارلسمه مسئله** : د ګيرۍ خريونكي يا د قبضې نه كموونكي كس امامت كول مكروهِ تحريمي دی | ۴۵۴ |
| ۳۶۹ | **پنځلسمه مسئله** : ګيره خريونكې كس مُؤذِن مقررول مكروه دي | ۴۵۵ |
| ۳۶۹ | **شپاړسمه مسئله** : د علاج د پاره د ګيرۍ خريلو حكم | ۴۵۶ |
| ۳۷۰ | **اوولسمه مسئله** : كه د ښځې ګيره را اُوخيجي نو كټ كولې يې شي | ۴۵۷ |
| ۳۷۰ | **اتلسمه مسئله** : ګيرۍ يا سَر ته د خِضاب (يعنى سرو نكريزو يا تورو نكريزو ) وركولو حكم | ۴۵۸ |
| ۳۷۳ | **نولسمه مسئله** : بل له ګيره خريل يا ورله اَنګريزي ويښتان جوړول منع دي | ۴۵۹ |
| ۳۷۳ | **شلمه مسئله** : د ګيرۍ د وَرو او غټو ويښتانو برابرولو حكم | ۴۶۰ |
| ۳۷۴ | **يو ويشتمه مسئله** : د ګيرۍ راختلو د پاره په مَخ باندې د پَتري (بليډ) وهلو ضرورت نشته | ۴۶۱ |
| ۳۷۵ | د ګيرۍ متعلق بهترين اَشعار | ۴۶۲ |
| ۲۴۳ | **په جَلسه يا بل غټ پروګرام كې اِفتتاحي كلمات** | ۴۶۳ |
| ۳۷۷ | د دُعاؤ دَرخواست | ۴۶۴ |
| ۳۸۴ | **يو ځل بيا د اَهلِ عِلمو او خطيبانو د پاره د خُوشحالۍ خبر** | ۴۶۵ |
| ۳۸۴ | د خُوشحالۍ دويم خبر | ۴۶۶ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَمَآ اٰتٰـكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ الحشر آیت ۷.

# د نبي علیه السلام اِتباع او اِطاعت

تالیف :


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

# نوټ

" **د نبي ﷺ اِتباع او اِطاعت** " دا موضوع اګر چې ډيره اُوږده ده خو بيا هم په څو غټو عنواناتو مې تقسيم کړې ده ، تاسو کولې شئ چې هر يو عنوانان په ځانله ځانله جُمعه کې بيان کړئ ، او ددې عنواناتو په مينځ کې داسې ربط او تعلق هم شته چې که موقع او وخت زيات وي نو ټول په يوه جُمعه هم بيانولې شئ .

هغه عنوانات دادي :


۱ . **د نبي عليه السلام د اِتباع اَهميت او فوائد** ..................صفحه : ۳

۲ . **د صحابه کرامو په نزد د نبي ﷺ د حکم اَهميت (تقريبًا اته ۸ واقعات)** ۲۴

۳ . **د همدې موضوع متعلق نور اَهم واقعات : (تقريبًا يوُولس واقعات )**صفحه : ۳۴

۴ . **د نبي عليه السلام اِتباع نه کوونکو د پاره سزاګانې** ........صفحه : ۴۵

۵ . **ضروري فقهي مسائل**..................................صفحه : ۵۹

٦ . **دهمدې موضوع متعلق اَهم او ضروري بَحثونه** ............صفحه : ٦۳


ابو الشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د نبي عليه السلام اتباع او اطاعت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه، وَنَعُوْذُبِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ لَه، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه .

اَمَّابَعْدُ فَاَعُوْذُبِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْد:

﴿وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ . (١)

و قَالَ فِيْ مَوْضِعٍ اٰخَر: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ . (٢)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبٰى ، قَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللهِ وَمَنْ يَأْبٰى ؟ قَالَ: مَنْ أَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ أَبٰى . متفق عليه (٣)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَخُذُوْهُ ، وَمَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا . (٤)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

---

(١) الحشر آيت ٧ .

(٢) الاحزاب آيت ٢١ .

(٣) رواه البخاري ( ٧٢٨٠ ) كتاب الاعتصام بالكتاب والسنّة باب الإقتداء بسُنن رسول الله صلى الله عليه وسلم ، ومسلم (١٨٣٥ ) كتاب الإمارة .

(٤) سنن ابن ماجه باب اتّباع سُنّة رسولِ الله صلى الله عليه وسلم حديث ١ . و في رواية : مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ . صحيح ابن حبان ، ذِكرُ البيان بانّ المناهي عن المصطفى صلى الله عليه وسلم والأوامر فرضٌ على حسب الطاقة على امته لايسعهم التخلّف عنه . حديث ١٨ .

# د نبي عليه السلام د اتباع کولو حکم او أهميت

زما خوږو قدرمندو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! لکه څرنګ چې په انسان باندې د الله ﷻ د أحکاماتو اطاعت او تابعداري لازم ده نو دغه شان په ده باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اِتباع او تابعداري هم لازم ده . دغه وجه ده چې په قرآن کريم کې په مختلفو ځايونو کې د الله ﷻ د اِطاعت نه روستو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اِطاعت حکم مستقلاً ذکر شوی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ .(۱)

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو حکم أومنئ د الله ، او حکم اومنئ ( د هغه ) د رسول .

نو که چيرته صرف د الله ﷻ اِطاعت کافي وی نو بيا به په دې دومره ډيرو آيتونو کې ﴿ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ مستقلاً نه ذکر کيده . پس معلومه شوه چې په مؤمنانو باندې د الله ﷻ د اِطاعت سره سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم اِطاعت هم مستقلاً فرض دی .

بل ځای کې الله ﷻ د اِتباع نه کوونکو او نافرماني کوونکو د پاره سخت وعيدونه ذکر کړي :

﴿ قُلْ أَطِيْعُوا اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ ﴾ .(۲)

ترجمه : اې پيغمبره ته ( دوی ته ) اووايه : تاسو حکم أومنئ د الله ﷻ او د ( هغه د ) رسول ، پس که چيرته تاسو مخ واړوی (۳) نو بيشکه الله ﷻ کافران نه خوښوي .(۴)

---

(۱) النساء آيت ۵۹ .

(۲) آل عمران آيت ۳۲ .

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ . (١)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نا فرماني وکړي نو بيشکه هغه گمراه شو په ښکاره گمراهۍ سره .

بل ځای الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ وَمَآ اٰتٰـكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰـكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ . (٢)

ترجمه : او رسول ( صلى الله عليه وسلم ) چې تاسو ته څه درکوي هغه واخلئ ، او د څه شي نه چې تاسو منع کړي د هغې نه منع شئ .

**فائده** : د آيت الفاظ چونکه عام دي نو اَقوالو او اَفعالو دواړو ته شامل دی .

## د نبي ﷺ اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی

الله رب العزت فرمايي :

﴿ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ﴾ . (٣)

ترجمه : څوک چې د پيغمبر ( عليه السلام ) اِطاعت وکړي ( يعنی د هغه خبره اُومني ) نو بيشکه ده د الله اِطاعت وکړو .

پس که څوک د رسول الله صلى الله عليه وسلم اِطاعت کوي او د هغه احکام مني نو گويا هغه د الله ﷻ اِطاعت کوي .

او که څوک د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت نه کوي ، او د هغه د اَحکاماتو نه سَرغړَوَنه کوي نو گويا دې د الله ﷻ اِطاعت نه کوي . او د الله ﷻ اطاعت نه کول خو ښکاره گمراهي ده .

---

(١) الاحزاب آيت ٣٦ .

(٢) الحشر آيت ٧ .

(٣) النساء آيت ٨٠

ځکه رسول الله ﷺ هم د ځان نه خبره نه کوي بلکه دا هم ورته د الله ﷻ د طرفه وَحي شوې وي ، خو احاديث وَحي خَفي ( يعنی وحي غير مَتلو ) ده او په دې کې د قرآن کريم د اَحکاماتو تفصيل دی . الله تبارک وتعالی فرمايي :

﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴾ . (۱)

ترجمه : دا پيغمبر د خپل خواهشِ نفس نه خبرې نه کوي ( بلکه ) د دوی هره خبره وَحي ده چې په دوی نازلولې شي .

گفته او گفته الله بود ✿ گرچه از حلقوم از عبدالله بود .

د پيغمبر عليه السلام وينا د الله ﷻ وينا ده اگر چې د مرۍ يعنی د ژبې مبارکې د عبدالله ( يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم ) نه راوتې وي . (۲)

پس معلومه شوه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د کوم شي حکم وکړي ، يا د کوم شي نه منع وکړي نو په اُمت باندې د هغې مَنل فرض دي ، او د دې خلاف کول ناجائز دي .

د مسلم شريف حديث دی نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَانَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوْهُ ، وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَافْعَلُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ . (۳)

د څه شي نه چې زه تاسو منع کړم نو تاسو د هغې نه ځان بچ اُوساتئ ، او د څه شي چې زه تاسو ته حکم وکړم نو څومره مو چې طاقت وي تاسو هغه کوئ ( يعنی د خپل طاقت موافق په هغې عمل کوئ ) .

---

(۱) النجم آيت ۳، ۴ .

(۲) معارف القرآن پ ۴ ص ۱۰۹ .

(۳) مسلم بابُ توقيره صلى الله عليه وسلم وترك إكثار سؤاله عمّا لاضرورة اليه حديث ۱۳۰ ( ۱۳۳۷ ) . وفي روايةٍ : مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا . وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ . صحيح ابن حبان ذكرُ البيان بانّ المناهي عن المصطفى صلى الله عليه وسلم والأوامرَ فرضٌ على حسب الطاقة على امّته لايسعُهم التخلّفُ عنه . حديث ۱۸ . وفي روايةٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَخُذُوْهُ وَمَانَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا . سنن ابن ماجه باب اتّباع سنّة رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث ۱ .

# د نبي عليه السلام د اتباع فوائد :

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع کول ، د هغوی په سُنتو باندې عمل کول ، او د ژوند په هره مرحله کې د هغوی په نقشِ قدم باندې تلل د انسان د پاره د سعادت او کامیابۍ ذریعه ده .

چونکه د نبي علیه السلام د اِتباع او اِطاعت د پاره بې شماره فوائد بیان شوي دي ، خو زه به درته صرف یو څو غټې فوائد بیان کړم :

## ۱. د رسول الله ﷺ اتباع د الله ﷻ د محبت او د ګناهونو د مغفرت ذریعه ده

کوم کس چې په اَقوالو ، اَعمالو او اَخلاقو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع کوي نو د داسې کس سره الله رب العزت مَحبت کوي ، او د الله ﷻ محبوب جوړیږي .
الله تبارک وتعالی فرمایي :

﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾. (۱)

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) ته ( خلقو ته ) ووایه که چیرته تاسو د الله ﷻ سره په رېښتیا محبت کوئ ( او ددې محبت په وجه دا هم غواړئ چې الله ﷻ هم د تاسو سره محبت وکړي ) نو ( ددې مقصد حاصلولو د پاره ) تاسو زما تابعداري وکړئ ، نو الله به د تاسو سره محبت وکړي ، او تاسو ته به ستاسو ګناهونه معاف کړي ، او الله تعالی بخښونکې او مهربانه دی .

**فایده** : ددې آیت نه دا خبره هم معلومه شوه چې کوم کس د الله جل جلاله د محبت دعویٰ کوي نو د هغه د پاره دا واجب او ضروري ده چې دې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع کوي ځکه د نبي علیه السلام د اِتباع نه بغیر د الله ﷻ د محبت دعویٰ کول باطل او دروغ ده .

---

(۱) آل عمران آیت ۳۱ .

## د حافظ ابن کثير رحمه الله وينا :

حافظ ابن کثير رحمه الله د همدې آيت د لاندې ليکي :

هٰذِهِ الْآيَةُ الْكَرِيْمَةُ حَاكِمَةٌ عَلٰى كُلِّ مَنْ إِدَّعٰى مَحَبَّةَ اللهِ وَلَيْسَ هُوَ عَلَى الطَّرِيْقَةِ الْمُحَمَّدِيَّةِ فَإِنَّهُ كَاذِبٌ فِيْ دَعْوَاهُ فِيْ نَفْسِ الْأَمْرِ حَتّٰى يَتَّبِعَ الشَّرْعَ الْمُحَمَّدِيَّ وَالدِّيْنَ النَّبَوِيَّ فِيْ جَمِيْعِ أَقْوَالِهِ وَأَفْعَالِهِ وَأَحْوَالِهِ . (١)

دا آيتِ کريمه د هر هغه چا خلاف حُجت دی چې د الله تعالى د محبت دعوىٰ خوکوي ليکن د رسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه او سنتو باندې عمل نه کوي ، نو داسې کس په حقيقت کې په خپله دعوىٰ کې تر هغه وخته پورې دروغجن دی تر څو پورې چې دې په ټولو اَقوالو ، اَفعالو او اَحوالو کې د شريعتِ محمّدي او دينِ نبوي پيروي اونکړي .

علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي چې د الله ﷻ سره د محبت او د الله ﷻ د محبوبيت علامه داده چې انسان به د رسول الله صلى الله عليه وسلم اِتباع کوي نو بيا به د الله ﷻ محبوب جوړيږي . او د نبي عليه السلام د اِتباع نه بغير نه خو دده د الله ﷻ سره د محبت دعوىٰ صحيح ده ، او نه دې د الله ﷻ محبوب جوړيدې شي . (٢)

جُنيد بغدادي رحمه الله فرمايي : الله رب العزت ته هيڅوک نشي رسيدی مګر د الله ﷻ د دين په واسطه به ورته وَر رسي ، او الله پاک ته د رسيدو لاره د پيغمبر عليه السلام اِتباع او پيروي کول دي . (٣)

---

(١) تفسير القرآن العظيم ج٢ ص ٢٩ آل عمران آيت ٣١ .

(٢) وقال ابن القيم : ﴿يُحْبِبْكُمُ اللهُ﴾ إشارة الى دليل المحبّة وثمرتها وفائدتها . فدليلُها وعلامتها اتّباع الرّسول . وفائدتها وثمرتها محبّة المرسل لكم . فما لم تحصل المتابعة فليست محبتكم له حاصلة . ومحبته لكم منتفية . مدارج السالكين (٣ / ٢٢ ) ، الطريق الى الجنة ص ١٦٤

(٣) مكاشفة القلوب ص ٤٢ موضوع ١١ .

**د نورو مفسرینو وینا** : مفسرینو لیکلي چې څوک د الله ﷻ د محبت دعویٰ کوي او بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سُنتو مخالفت کوي نو دې په دې خپله دعویٰ کې دروغجن دی ، ځکه د عِشق او محبت قانون دادی چې د یو چا دبل چا سره محبت وي نو دې د هغه د کور ، د هغه د دیوالونو ، او د هغه د هر شي سره محبت کوي .

اوس چې د یو سړي د الله ﷻ سره محبت وي نو خامخا به دې د هغه د رسول " محمّد صلی الله علیه وسلم " اِتباع کوي . مجنون وایي :

أَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلٰى ۞ أُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارَ وَذَا الْجِدَارَا

وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِيْ ۞ وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارَا . (۱)

زه د لیلی په ښهر ( او کورونو ) تیریږم نو دا دیوال او هغه دیوال ښکلوم ، ددې ښار محبت زما زړه عاشِق کړې نه دی لیکن زه چې دا کار کوم نو دا د هغه چا د محبت په وجه کوم چې په دې ښار ( او کلو ) کې اُوسیږي ( یعنی د لیلی د محبت په وجه دا کار کوم ) .

مفسرینو لیکلي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو قوم د الله ﷻ د محبت دعویٰ وکړه ، نو الله رب العزت دا آیت نازل کړو : ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ ... ﴾ .

نو الله تبارک و تعالی دا واضحه کړه چې څوک زما د محبت دعویٰ کوي نو په هغه باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع واجب ده ، او د نبي علیه السلام اِتباع د الله ﷻ سره د محبت غټه نخه اُوخودلې شوه . بیا د نبي علیه السلام اِتباع خُود بخود د الله ﷻ محبت د بنده سره واجبوي . (۲)

اوس چې یو سړې د الله ﷻ د محبت دعویٰ کوي خو د نبي علیه السلام تابعداري نه کوي نو دا په حقیقت کې د الله ﷻ د حکم نافرماني کوي .

(۱) فتح الملهم ج۱ ص ۴۲۴ .

(۲) وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ وَغَيْرُهُ مِنَ السَّلَفِ : زَعَمَ قَوْمٌ أَنَّهُمْ يُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَابْتَلَاهُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا الْاٰيَةِ . فَقَالَ : ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ ... ﴾

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمايي:

تَعْصِي الإِلٰهَ وَأَنْتَ تَزْعُمُ حُبَّهُ ۞ هٰذَا لَعَمْرِي فِي الْقِيَاسِ شَنِيعُ
لَوْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَأَطَعْتَهُ ۞ إِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيعُ .(١)

ته د الله ﷻ د محبت دعوىٰ کوى حالانکه ته خو د هغه نافرماني کوى، قسم په الله ﷻ دا خو عقلاً ډيره نا آشنا خبره ده. که چيرته ستا محبت د الله ﷻ سره رېښتينې وى نو بيا به تا خامخا د هغه (د احکاماتو) تابعداري کړې وى، ځکه عاشق خو د خپلې معشوقې تابعدار وي.

لهذا څومره چې يو انسان د نبي عليه السلام په اِتباع کې قوي وي نو په هماغه انداز باندې به د ده سره د الله ﷻ محبت هم قوي وي، او چې څومره دې په اِتباع کې کمزورې وي نو هماغومره اندازه به د الله ﷻ محبت د ده سره کم وي.(٢)

## ٢. د رسول الله ﷺ اِتباع د جنت د تللو ذريعه ده

څوک چې د سردارِ دوجهان محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم اِتباع او تابعداري کوي نو الله ﷻ به د دې په وجه دا انسان جنت ته داخل کړي. د بخاري شريف حديث دى پيغمبر عليه السلام فرمايي:

كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ. وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى .متفق عليه (٣)

---

(١) تفسير ابن رجب الحنبلي (١/٢٠٢). دا شعر په يو بل انداز هم نقل شوى: تَعْصِي الإِلٰهَ وَأَنْتَ تُظْهِرُ حُبَّهُ ۞ هٰذَا مَحَالٌ فِي الْقِيَاسِ بَدِيعُ . لَوْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَأَطَعْتَهُ ۞ إِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ أَحَبَّ مُطِيعُ. تفسير الراغب الاصفهاني (٣٠٨/٢)

(٢) فبحسب هذا الاتباع يكون منشأ هذه المحبة وثباتها وقوتها، وبحسب نقصانها يكون نقصانها. مدارج السالكين (٣٧/٣) الطريق الى الجنة ص ١٦٥.

(٣) رواه البخاري (٧٢٨٠) كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة باب الإقتداء بسنن رسول الله صلى الله عليه وسلم، ومسلم (١٨٣٥) كتاب الإمارة.

زما هر يو اُمتي به جنت ته داخليږي مگر (هغه كس به جنت ته نه داخليږي) چا چې اِنكار وكړو (١)، (د نبي عليه السلام نه) پوښتنه اُوشوه: هغه كوم كس دى چې هغه انكار كوي؟ پيغمبر عليه السلام اوفرمايل: چا چې زما تابعداري وكړه هغه به جنت ته داخل شي، او چا چې زما نافرماني وكړه نو هغه اِنكار او سركشي وكړه (يعنى چا چې زما اِطاعت او نه كړو نو هغه سركشي او اِنكار كوونكې دى، د جنت مستحق نه دى، بلكه دې به د دې خپل اِنكار او نافرمانۍ په وجه د الله ﷻ د عذاب او جهنم مستحق اوگرځي).

د ترمذي شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (٢)

چا چې حلال رِزق اوخوړو، په سُنت طريقه يې عمل وكړو، او دده د ضَرر نه خلق په اَمن كې شو نو دې به جنت ته داخل شي.

فائده: په دې حديث كې جنّت ته د داخليدو د پاره دويم صفت دا خودلې شوې چې دا انسان د ژوند په هره مرحله كې د سُنتو پوره پوره پيروي وكړي: كه هغه عبادات وي، كه معاملات وي، او كه معاشرت وي په دې ټولو كې د پيغمبر عليه السلام د سُنتو تابعداري وكړي نو دا د انسان جنت ته د تللو ذريعه ده.

نبي عليه السلام فرمايي: مَنْ تَمَسَّكَ بِالسُّنَّةِ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (٣)

چا چې زما سُنت مضبوط اونيوه (يعنى عمل يې پرې وكړو) نو دې به جنت ته داخل شي.

قدرمنو! په دې كې هيڅ وشبه نشته چې د حق، كاميابۍ او جنت ته د تللو لاره صرف او صرف داده چې انسان د اسلام په دې ښكلي دين باندې عمل وكړي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم اِتباع وكړي. ځكه په نورو لارو تللو سره انسان گمراه كيږي، او د حق لارې نه خطاء كيږي.

---

(١) أَيْ: إمتنع عن قبول الدّعوة او عن إمتثال الأمر. تعليق مصطفىٰ البغا على البخاري.

(٢) ترمذي حديث ٢٥٢٠ باب ٦٠، المستدرک على الصحيحين للحاكم حديث ٧٠٧٣ وقال هذا حديث صحيح الاسناد ولم يُخرجاه، مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٣٧.

(٣) كنزالعمال (١/ ١٠٠).

د ابوداؤد شريف حديث دى ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې رسول ﷺ زمونږ د پوهولو د پاره مونږ ته يو نيغ خط (كرخه) راښكوده ، بيا يې راته وفرمايل :

هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ . دا د الله ﷻ لاره ده .

بيا نبي ﷺ د هغې خط (كرخې) خي طرف او چپ طرف (وړې او كږې اووه) نورې كرخې راښكودى او وې فرمايل :

هٰذِهِ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُوْا إِلَيْهِ .

دا هم لارې دي په دې كې په هره لاره باندې شيطان ناست دى چې خپلې لارې ته بلنه وركوي . بيا پيغمبر عليه السلام دا آيت تلاوت كړو :

﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ﴾ . (١)، (٢)

ترجمه : او بيشكه دا (دينِ اسلام او ددې ټول حكمونه) زما لاره ده كومه چې (بيخي) نيغه ده ، پس تاسو ددې پيروي كوئ او د نورو لارو پيروي مه كوئ ، چې دا نورې لارې به تاسو د الله ﷻ د لارې نه جدا كړي .

---

(١) الانعام آيت ١٥٣ .

(٢) عَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ خَطَّ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا . فَقَالَ : هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ . ثُمَّ خَطَّ خُطُوْطًا عَنْ يَمِيْنِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ . فَقَالَ : هٰذِهِ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُوْا إِلَيْهِ . ثُمَّ تَلَا : ﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهِ ﴾ ابوداؤد شريف ج١ حديث ٢٤١ ما أسند عبدالله بن مسعود ، و رواه الدارمي (٢٠٢) في مقدمة سننه ، واحمد (٤١٣١) مسند الكثيرين من الصحابة ، وحسنه العلامة الالباني رحمه الله في المشكاة (١٦٦) مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنة حديث ٢٧ . وفي رواية : أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِاللهِ الْأَنْصَارِيَّ . قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ : إِنِّيْ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ جِبْرِيْلَ عِنْدَ رَأْسِيْ وَمِيْكَائِيْلَ عِنْدَ رِجْلَيَّ يَقُوْلُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ : اِضْرِبْ لَهُ مَثَلًا . فَقَالَ : اِسْمَعْ سَمِعَتْ أُذُنُكَ وَاعْقِلْ عَقَلَ قَلْبُكَ . إِنَّمَا مَثَلُكَ وَمَثَلُ أُمَّتِكَ كَمَثَلِ مَلِكٍ اِتَّخَذَ دَارًا . ثُمَّ بَنٰى فِيْهَا بَيْتًا . ثُمَّ جَعَلَ فِيْهَا مَائِدَةً . ثُمَّ بَعَثَ رَسُوْلًا يَدْعُوا النَّاسَ إِلٰى طَعَامِهِ . فَمِنْهُمْ مَنْ أَجَابَ الرَّسُوْلَ وَمِنْهُمْ مَنْ تَرَكَهُ . فَاللهُ هُوَ الْمَلِكُ وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ وَالْبَيْتُ الْجَنَّةُ وَأَنْتَ يَا مُحَمَّدُ رَسُوْلٌ . فَمَنْ أَجَابَكَ دَخَلَ الْإِسْلَامَ وَمَنْ دَخَلَ الْإِسْلَامَ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ أَكَلَ مَا فِيْهَا . رواه الترمذي رقم الحديث ٢٨٦٠ ابواب الامثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ، المستدرک على الصحيحين رقم الحديث ٣٢٩٩ ، ٨١٨٨ ، وهكذا رواه البخاري كتاب الاعتصام بالكتاب والسنّة (٧٢٨١) .

نوټ: نبي عليه السلام چې اول نيغه کرخه رابنکوده نو د دينه د اسلام نيغه لاره يعنى صحيح عقائد او نيک اعمال مراد دي ، اود نورو وړو وړو او کږو کرخو نه د شيطان لاره يعنى د ګمراهۍ او ضلالت لارې مراد دي .

## د اتباع په وجه په جنت کې د نبي ﷺ ملګرتيا

څوک چې د الله ﷻ او د هغه د رسول محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم اتباع کوي ، او د نبي عليه السلام د سُنتو پيروي کوي نو دا کس به په جنت کې د پيغمبر ﷺ ملګرې وي .
او دا دانسان د پاره لوي سعادت او عظيم نعمت دى . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُوْلٰئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ أُوْلٰئِكَ رَفِيْقًا ﴾ . (١)

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو دوى به (په جنت کې) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړې دى چې هغه پيغمبران ، صديقين ، شهداء او صالحين دي ، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې (يعنى دا خلق ډير ښه ملګري دي).

## ٣. د نبي عليه السلام اِتباع د عباداتو د قبوليت د پاره شرط ده

د الله ﷻ په نزد د انسان هغه عبادات او اعمال مقبول دي کوم چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طريقې او سُنتو موافق شوي وي . څکه کوم اعمال چې د پيغمبر عليه السلام د اِتباع او سنتو خلاف شوي وي نو دا اَعمال نه خو د الله ﷻ په نزد مقبول دي او نه د الله ﷻ د نزديکت ذريعه ګرځي ، بلکه اَلبته انسان د الله ﷻ نه لرې کوي .

د مسلم شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ . (٢)

(١) النساء آيت ٦٩ .

(٢) صحيح . رواه مسلم (١٧١٨) كتاب الاقضية ، و رواه البخاري معلقًا في كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة . و في رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ . متفق عليه ، مشكوة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الاول حديث ١ .

چا چې داسې يو عمل وکړو چې په هغې باندې زمونږ حکم نه ؤ نو هغه مردود او باطل دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

لَا يُقْبَلُ قَوْلٌ إِلَّا بِعَمَلٍ ، وَلَا يُقْبَلُ قَوْلٌ وَعَمَلٌ إِلَّا بِنِيَّةٍ ، وَلَا يُقْبَلُ قَوْلٌ وَعَمَلٌ وَنِيَّةٌ إِلَّا بِإِصَابَةِ السُّنَّةِ . (١)

د انسان وينا بغير د عمل نه نشي قبلولی ، او د انسان وينا او عمل دواړه بغير د نيت نه نشي قبلولی ، او د انسان وينا عمل او نيت درې واړه بغير د سُنتو د موافقت نه نشي قبلولی (يعنی دا به هلته قبليږي چې کله د نبي عليه السلام د سنتو موافق وي) .

همدغه شان خبره سفيان ثوري رحمه الله هم کړی ، دې وايي :

لَا يَسْتَقِيمُ قَوْلٌ وَعَمَلٌ وَنِيَّةٌ إِلَّا بِمُوَافَقَةِ السُّنَّةِ . (٢)

هيڅ قول ، عمل او نيت تر هغه وخته پورې صحيح نه دی تر څو پورې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طريقې مطابق نه وي .

علامه ابن رجب حنبلي رحمه الله فرمايي :

فَكَمَا أَنَّ كُلَّ عَمَلٍ لَا يُرَادُ بِهِ وَجْهُ اللهِ تَعَالَى فَلَيْسَ لِعَامِلِهِ فِيهِ ثَوَابٌ ، فَكَذٰلِكَ كُلُّ عَمَلٍ لَا يَكُوْنُ عَلَيْهِ أَمْرُ اللهِ وَرَسُوْلِهِ فَهُوَ مَرْدُوْدٌ عَلَى عَامِلِهِ . (٣)

پس لکه څرنګه چې هر هغه عمل چې په هغې کې د الله ﷻ د رضا اِراده نه وي شوي نو په هغې کې د کوونکي د پاره هيڅ ثواب نه وي نو همدغه شان هر هغه عمل چې په هغې باندې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حکم نه وي وارِد شوی (او د هغې مطابق نه وي) نو هغه به هم کوونکي ته واپس کولې شي (يعنی دده نه به نشي قبلولی) .

(١) الابانة الكبرى لابن بطة ج١ ص ٣١٥ حديث ١٥٢ باب ما أمر به من التمسك بالسنة ... همداسې قول د حسن بصري رحمه الله نه هم نقل دی ، دې وايي : لَا يَصِحُّ الْقَوْلُ إِلَّا بِعَمَلٍ ، وَلَا يَصِحُّ قَوْلٌ وَعَمَلٌ إِلَّا بِنِيَّةٍ ، وَلَا يَصِحُّ قَوْلٌ وَعَمَلٌ وَنِيَّةٌ إِلَّا بِالسُّنَّةِ . شرح اصول اعتقاد اهل السنة للالكائي (١/ ٥٧) رقم ١٨ ، الطريق الى الجنة ص ١٦٢ .

(٢) تلبيس ابليس ص ٩ .

(٣) جامع العلوم والحكم ١/ ١٧٦ ، الطريق الى الجنة ص ١٦٢ .

## دا معلومول چې زما أعمال قبول دي او که نه ؟

لکه څرنګه چې د زَرګر سره یوه آله وي او هغه په دې باندې سره زَر معلوموي چې دا بنه سره زَر دي یا خراب ؟ همدغه شان که یو کس دا غواړي چې زما دا اعمال او عبادات به مقبول وي او که نه ؟ نو ددې د پاره معیار او تَله داده چې دې به خپل اعمال په شریعت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سُنتو په تَله باندې اُوتلي ، نو که چیرته دده اعمال د شریعت او د نبي علیه السلام د طریقې موافق وو نو دده دا اعمال به د الله ﷻ په نزد مقبول وي ، او که برابر نه وو نو هغه به مردود او باطل وي .

## د رسول الله ﷺ ذات او ژوند د اُمت د پاره نمونه ده

کله چې مونځ په جَمعې سره کولې شي نو د مقتدي دپاره دخپل اِمام اِقتداء او پیروي ضروري ده ، یعنی که اِمام رکوع ته ځي نو مقتدي به هم رکوع ته ځي ، که امام سجدې ته ځي نو مقتدي به هم سجدې ته ځي نو بیابه ددې مقتدي مونځ مقبول وي . او که مقتدي د امام پیروي اونکړي یعنی امام یو رُکن اداء کوي او دې بل رُکن اداء کوي نو دده مونځ هیڅکله نه قبلیږي .

دغه شان محمّد رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم هم زمونږ د ژوند اِمام او مقتداء دی ، اوس که چیرته یو کس د خپل پیغمبر په طریقه ژوند تیروي او د هغه د سنتو موافق اعمال کوي نو دا به هم د الله ﷻ په نزد مقبول وي ، او که چیرته دې د خپل پیغمبر اِتباع او پیروي نه کوي یعنی هغوی یو عمل په یو اَنداز کړې وي او دې یې په بل انداز کوي نو دده دا عمل به هم مقبول نه وي بلکه مردود او باطل به وي .

الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : (اې مسلمانانو ! ) بیشکه ستاسو د پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذاتِ مبارکه کې ښائسته نمونه موجود ده .

---

(۱) الاحزاب آیت ۲۱ .

**مثال** : ستاسو د پوهې د پاره يو مثال ذکر کوم : که چيرته يو کس دَرزي ( خيّاط يا ټيلر ) ته جامې د ګنډلو د پاره ورکړي ، او يو معلوم ناپ او نمونه هم ورسره ورکړي ، او ورته ووايي : چې په همدې نمونې او ناپ باندې ما له جامې جوړې کړه .

اوس چې کله يو څو ورځې روستو دا کس د جامو راوړلو د پاره ورشي ، او دې اوګوري چې دَرزي د ده د ناپ نه خلاف جامې جوړې کړي دي، نو آيا دا سړې به دده نه دا کپړې قبولې کړي ؟ هيڅکله به يې ورنه رانه وړي . بلکه د هغه په مخ به يې ورأوولي چې تا خو دا خرابې کړي ، ما خو درته دا ناپ نه ؤ درکړی .

نو چې کله يو انسان په دُنيا کې د خپل ورکړي ناپ نه خلاف معمولي شان فرق هم نه برداشت کوي نو الله رب العزت خو نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ژوند تيرولو يوه نمونه راليږلې وه او د هغوی د اِتباع حکم يې کړې دی ، نو بيا به هغه عمل څنګه مقبول کړي کوم چې د شريعت او د پيغمبر عليه السلام د طريقې خلاف وي ؟

## ۴ . د اِتباع په وجه د انسان په زړه کې د نبي ﷺ سره محبت پيدا کيږي

په هر مسلمان باندې دا واجب او لازم دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره به يې د خپل ځان ، اولاد ، مور او پلار او ټولو خلقو نه زيات محبت وي نو بيا به ددې مسلمان ايمان هم کامل وي ، ورنه دده ايمان تر هغه وخته پورې نشي کامل کيدې تر څو پورې چې يې د خپل پيغمبر سره د هر چانه زيات اِختياري محبت نه وي پيدا شوی .

او دا محبت په حقيقت کې هلته پيدا کيږي چې انسان د نبي عليه السلام د سُنتو ، د هغوی د اَقوالو او د هغوی د افعالو اِتباع وکړي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ . (١)

په تاسو کې يو کس تر هغه وخته پورې کامِل مؤمن نشي جوړيدی تر څو پورې چې ده ته زه د خپل پلار ، خپلو بچو او ټولو خلقو نه زيات محبوب نه شم .

---

(١) رواه البخاري كتاب الايمان باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان حديث ١٥ ، ، خرجه مسلم في الايمان باب وجوب محبة رسول الله صلى الله عليه وسلم اكثر من الاهل والولد والوالد رقم ٤٢ .

(( **نوټ** : ددې حديث متعلق يو اعتراض او د هغې تفصيلي جوابات په راتلونکي موضوع " د نبي عليه السلام سره د محبت کولو وجوب او لزوم " کې ذکر دي ))

د بخاري شريف په يو بل حديث کې دي ، يو صحابي فرمايي : چې مونږ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ناست وو ، او دوی د حضرت عمر ﷺ لاس نيولې ؤ ، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا مِنْ نَفْسِيْ .

اې د الله رسوله ! تاسو ماته د هر شي نه زيات محبوب يې مګر د خپل ځان نه علاوه (چې خپل ځان راته ډير محبوب دی) .

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

لَا وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ نَفْسِكَ .

داسې نه ده (اې عمره !) زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې د چا په قبضه کې چې زما ساه ده (ستا ايمان تر هغه وخته پورې نشي کامل کيدې) تر څو پورې چې زه تاته د خپل ځان نه هم ډير محبوب نه شم .

حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل : فَإِنَّهُ الْآنَ ، وَاللهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِيْ .

قسَم په الله اوس راته تاسو د خپل ځان نه هم ډير محبوب يئ .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

اَلْآنَ يَا عُمَرُ .(۱) اې عمر ! اوس ستا ايمان کامِل شو .

**د مذکوره حديث متعلق علمي تحقيق** : ددې حديث په تشريح کې محدّثينو او شُراحو دا خبره ليکلې ده چې حضرت عمر ﷺ اول دا ګمان کولو چې ګني انسان ته خپل ځان د نورو په نسبت ډير محبوب وي خو چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته تَنبيه ورکړه او حضرت عمر ﷺ په دې باندې غور او فکر وکړو چې زه خو د نبي عليه السلام د اَبرو او

(۱) بخاري كتاب الايمان والنذور حديث ٦٦٣٢ باب كيف كان يمين النبي صلى الله عليه وسلم .

عزت د پاره خپل ځان قربانوم ، او چيرته چې د پيغمبر عليه السلام د خَولې يوه قطره غورځيږي هلته زه د خپل سَر قرباني ورکولو ته تيار يم نو دا خو يقيني چې نبي عليه السلام ماته د خپل ځان نه هم ډير محبوب دی ، نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې تَنبيه او توجُه کولو نه روستو دوی چې په دې خبره باندې غور وکړو نو د دوی اِنشراحِ صدر اوشو او دا خبره ورته منکشفه شوه چې ماته پيغمبر عليه السلام د خپل ځان نه هم ډير محبوب دی نو ځکه يې فورًا وويل : فَإِنَّهُ الْآنَ ، وَاللهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِيْ . (١)

## ٥ . د سُنتو د ژوندي کولو په وجه په جنت کې د نبي ﷺ سره ملګرتيا

څوک چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سُنت ژوندي کوي نو د دې په عوض کې به الله ﷻ ده ته دا سَعادت ورپه برخه کړي چې په جنت کې به د نبي عليه السلام سره يو ځای وي ، او دا يو لوي نعمت او غټ سَعادت دی .

د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې ماته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

يَا بُنَيَّ إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ وَلَيْسَ فِيْ قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ .

---

(١) فتح الباري ج١١ ص ٥٢٨ كتاب الأيمان والنذور باب كيف كان يمين النبي صلى الله عليه وسلم ، كشف الباري ج٢ كتاب الايمان ص ٢٣ . بعضې علماؤ دا جواب هم ورکړی : د اَحنافو په نزد دا قاعده ده چې " په مستثنی کې د مستثنی منه خلاف حکم نه وي بلکه مستثنی د مَسکوت عنه په حکم کې وي " ګويا حضرت عمر رضي الله عنه داسې وويل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ . اې د الله رسوله ! تاسو ماته د هر شي نه ډير محبوب يئ او د " إِلَّا مِنْ نَفْسِيْ " مطلب دا نه دی چې ګني تاسو ماته دخپل ځان نه ډير محبوب نه يئ . بلکه د دې مطلب دادی چې زه د خپل ځان په باره کې هيڅ نه شم ويلی په دې کې زما سکوت دی . او دا ترجمه مو ځکه وکړه چې " إِلَّا مِنْ نَفْسِيْ " مستثنی ده . او په مستثنی کې د مستثنی منه خلاف حکم نه وي بلکه مستثنی به حکم د مسکوت عنه کې وي . فضل الباري ج١ ص ٣٤٢ ، کشف الاسرار لعبد العزيز البخاري ج٣ ص ١٢٢ پوره تفصيل په کشف الباري ج١ ص ٢٤ کې ذکر دی . نوټ : کومو علماؤ چې دا توجيه ذکر کړی نو دا ځکه چې هغوی د حضرت عمر رضي الله عنه شان ته کتلي چې دا خو د اُوچتې درجې واله صحابي دی ، د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه پسې د دوی مرتبه ده نو د دوی په زړه کې به خامخا د پيغمبر عليه السلام سره د خپل ځان نه ډير محبت وُ .

اې بچيه ! که ته په دې قدرت لرې چې د سهر نه تر ماښامه پورې په داسې حالت کې تير کړې چې ستا په زړه کې د هيچا سره کينه (او دهوکه) نه وي نو داسې وکړه.

بيا پيغمبر عليه السلام راته وفرمايل:

يَا بُنَيَّ وَذٰلِکَ مِنْ سُنَّتِيْ، وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِيْ فَقَدْ أَحَبَّنِيْ، وَمَنْ أَحَبَّنِيْ کَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ.(١)

اې زما بچيه ! دا زما سُنت دي، او چا چې زما د سُنتو سره محبت وکړو نو هغه به په جنت کې د ما سره وي.

## د سُنتو ژوندي کولو اَجر

د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِيْ قَدْ أُمِيْتَتْ بَعْدِيْ فَإِنَّ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلَ أُجُوْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا.(٢)

چا چې زما داسې يو سُنت راژوندې (يعنی رائج يي) کړو چې هغه زما نه روستو پريښودل شوې ؤ نو هغه ته به دومره ثواب حاصليږي څومره چې په دې سُنت باندې عمل کوونکو ته حاصليږي، خو په سُنت باندې د عمل کوونکو خلقو په ثواب کې به کمې نشي کولی.

يعنی چا چې يو سُنت ژوندې او عام کړو نو په دې باندې چې څومره خلق عمل کوي او څومره اَجرونه دوی ته حاصليږي همدومره اَجر به د سُنت رائج کوونکي او ژوندي کوونکي ته هم حاصليږي، او ددې نورو خلقو په ثواب کې به کمې هم نه کيږي.

## د سلو (١٠٠) شهيدانو اَجر

کله چې په اُمت کې فِتنه او فساد خُور وي، خلقو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سُنتو باندې عمل پريخې وي او په دې وخت کې يو کس د نبي عليه السلام په سُنتو باندې

---

(١) رواه الترمذي حديث ٢٦٧٨ باب ما جاء في الأخذ بالسنة واجتناب البدع، مشكوة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٣٤.

(٢) رواه الترمذي حديث ٢٦٧٧ باب ما جاء في الأخذ بالسنة واجتناب البدع، و رواه ابن ماجه ج١ ص ٢١٠ باب من أحيا سنة قد أميتت. مشكوة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٢٩

عمل وکړي ، او رائج يې کړي نو داسې کس ته به الله ﷻ د سلو (١٠٠) شهيدانو اَجر ورکوي.

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِيْ فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ . (١)

څوک چې زما د اُمت د خرابيدو (او فساد) په وخت زما په يو سُنت باندې عمل وکړي نو ده ته به د سلو (١٠٠) شهيدانو اَجر ملاويږي.

وجه داده چې لکه څرنګه چې شهيد د اِسلام د سربُلندۍ او غالب کيدو د پاره مختلف قِسمه مصيبتونه برداشت کوي ، او خپل ځان هم قربانوي ، دغه شان چې کله په اُمت کې فِتنه او فساد شروع شي ، هر طرف ته خُرافات او بِدعات خواره وي نو په داسې وخت کې چې څوک د پيغمبر عليه السلام په سُنتو باندې عمل کوي ، هغه رائج کوي او خوَروي يې نو ده ته هم په دې لاره کې بې شماره تکليفونه او مصيبتونه پېښيږي نو ځکه ده ته هم عظيم الشان بشارت او خوشخبري واورولې شوه.

## د سُنتو په حفاظت اعزازونه

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ حَفِظَ سُنَّتِيْ أَكْرَمَهُ اللهُ بِأَرْبَعِ خِصَالٍ : اَلْمَحَبَّةُ فِيْ قُلُوْبِ الْبَرَرَةِ ، وَالْهَيْبَةُ فِيْ قُلُوْبِ الْفَجَرَةِ ، وَالسَّعَةُ فِي الرِّزْقِ ، وَالثِّقَةُ فِي الدِّيْنِ . (٢)

څوک چې زما د سُنتو حفاظت وکړي نو الله ﷻ به په څلورو خبرو سره دده اِکرام وکړي :

١ . د نيکانو خلقو په زړونو کې به دده محبت پيدا کړي . ٢ . د فاجرانو خلقو په زړونو کې به دده هيبت واچوي . ٣ . رِزق به ورله فراخه کړي . ٤ . په دين کې به پُختګي او مضبوطوالې ورله پيدا کړي.

---

(١) رواه البيهقي في كتاب الزهد ، مشكوة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٣٥ .

(٢) شرح شرعة الاسلام ص ٨ ، شمايل.

# ٦. اِتباع کوونکي کامیاب دي

د انسان د کامیابۍ د پاره لکه څرنګې چې د الله ﷻ اِطاعت او فرمانبرداري ضروري ده، دغه شان په دواړه جهانه کې د انسان د فلاح او کامیابۍ د پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع او تابعداري هم ضروري ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴾. (١)

ترجمه: او څوک چې د الله او د هغه د رسول حکم اُومني نو بیشکه هغه کامیاب شو په لوي کامیابۍ سره.

بل ځای الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: او څوک چې د الله ﷻ او د هغه د رسول اِطاعت کوي (یعنی د دوی حکم مني)، د الله ﷻ نه ویریږي، او تقوی اختیار کړي (یعنی د هغه دنافرمانۍ نه ځان بچ ساتي) پس همدا خلق کامیابېدونکي دي.

الله رب العزت د نبي علیه السلام د اِطاعت په باره کې فرمايي:

﴿ وَإِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ﴾. (٣)

ترجمه: او که تاسو د پیغمبر علیه السلام اِطاعت وکړئ (او د هغه خبره اومنئ) نو تاسو به هدایت بیا مومئ.

نبي علیه السلام فرمايي: مَنْ تَمَسَّکَ بِسُنَّتِيْ وَثَبَتَ نَجَا. (٤)

چا چې زما په سُنتو باندې عمَل وکړو، او په دې مضبوط پاتې شو نو ده نِجات اوموندو.

(١) الاحزاب آیت ٧١.

(٢) النور آیت ٥٢. بل ځای الله جل جلاله فرمايي: ﴿ وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾. آل عمران آیت ١٣٢.

(٣) النور آیت ٥٤.

(٤) الابانة الكبرى لابن بطة ج١ ص ٣٠٨ حديث ١٤٤ باب ما أمر به من التمسک بالسنة ....

امام مالک رحمه الله فرمايي :

إِنَّ السُّنَّةَ مِثْلُ سَفِيْنَةِ نُوْحٍ مَنْ رَكِبَهَا نَجَا ، وَمَنْ تَخَلَّفَ غَرِقَ . (۱)

د سنتو پيروي د حضرت نوح عليه السلام د کشتۍ په شان ده ، پس څوک چې په دې کې سور شو هغه نجات او موندہ ، او څوک چې پاتې شو هغه غرق شو .

## ۷ . د سُنتو د اتباع په وجه د جهنم د اُور نه محفوظ کيدل

څوک چې د محمّدُ رّسول الله صلی الله عليه وسلم د سُنتو اِتباع کوي نو الله ﷻ به داسې کس د قيامت په ورځ د جهنم د اُور نه محفوظ ساتي ، ځکه په دُنيا کې که مونږ اوګورو نو يو مور هم د خپل بچي تصوير ( فوټو ) په اُور کې غورځول نه غواړي ، ځکه هغه وايي چې دا زما د بچي تصوير دی ، او په دې کې د هغه شکل و شباهت ماته ښکاري .

نو چې کله يو مور د خپل بچي تصوير په اُور کې غورځول نه خوښوي نو آيا الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه انسان د جهنم په اُور کې اوغورځوي چې هغه د الله د محبوب محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په شان خپل شکل و شباهت جوړ کړې وي ؟ هيڅکله به يې او نه غورځوي .

يعنی څوک چې په دُنيا کې په هر عمل کې د الله ﷻ د محبوب "نبي کريم صلی الله عليه وسلم " پيروي کوي ، او خپل ظاهري شکل و شباهت ، او باطني اَخلاق يې د پيغمبر عليه السلام په شان جوړ کړي وي نو الله ﷻ به هم دغه انسان د قيامت په ورځ د جهنم د اُور نه محفوظ اوساتي .

## ۸ . په سُنتو باندې عمل کوونکې به د ګمراهۍ نه بچ وي

تر څو پورې چې يو انسان په قرآن مجيد او سُنتو باندې عمل کوونکې وي نو تر هاغه وخته پورې به دا انسان د ګمراهۍ او بې دينۍ نه محفوظ وي .

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) شمايل ص۴۳ .

تَرَكْتُ فِيْكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللهِ وَ سُنَّةُ رَسُوْلِهِ . (١)

ما ستاسو په مینځ کې دوه شیان پرېخي دي ترڅو پورې چې تاسو دا دواړه مضبوط نیولي وي ( او په دې باندې عمل کوئ ) نو هیڅ کله به ګمراه نه شئ ، هغه ( دوه شیان ) : کتابُ الله ( یعنی قرآن مجید ) ، او سُنت د رسولُ الله ( یعنی احادیث ) دي .

د ابوداؤد شریف حدیث دی ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته نصیحت کولو او ورته وې فرمایل :

..... فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرٰى إِخْتِلَافًا كَثِيْرًا ، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَ سُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ . (٢)

بیشکه په تاسو کې چې څوک زما نه پس ژوندي پاتې شي نو هغه به ډېر اختلافات اوګوري ، نو په داسې حالت کې په تاسو باندې زما سُنت او د هدایت یافته خلفائې راشدینو سُنت لازم دي ، په دې باندې مَنګولې اولږوئ ( یعنی بهروسه او عمل ورباندې وکړئ ) ، او دا په غاښونو باندې مضبوط ونیسی ( یعنی په پوره عزم اویقین سره یې په ځان لازم کړئ ) ، او تاسو په دین کې د نوې نوې خبرو پیداکولو نه ځان بچ اوساتئ ، ځکه هره نوې خبره ( کومه چې په دین کې د ځان نه راویستل شوې وي ) بدعت دی ، او هر بدعت ګمراهي ده .

---

(١) مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنّة الفصل الثالث حديث ٤٥ ، و رواه فى الموطاء حديث ٣ ( بلفظ : كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ . بابُ النّهي عن القول بالقَدَر ) . و في روايةٍ : إِنِّيْ تَرَكْتُ فِيْكُمْ شَيْئَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهُمَا : كِتَابُ اللهِ وَ سُنَّتِيْ ، وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتّٰى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ . صحيح . رواه الحاكم فى المستدرک ج١ ص ١٧٢ حديث ٣١٩ ، والدار القطني ٤ / ٢٤٥ ، وصححه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح الجامع ٢٩٣٧ .

(٢) رواه ابوداؤد حديث ٤٦٠٧ بابٌ في لزوم السنّة ، والبيهقي في دلائل النبوة ٦ / ٥٤١ ، واحمد ١٢٦/٤ ، ١٢٧ ، و الترمذي فى العلم ١٦ ، ورواه ابن ماجه حديث ٤٢ بابُ اتباع سنّة الخلفاء الراشدين المهديين ، مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٢٦ .

# د صحابه کرامو په نزد د نبي عليه السلام د حکم اَهميت

صحابه کرامو ته چې الله جل جلاله دومره لوي مقام ورکړې ؤ نو دا ځکه چې دوی به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هر حکم باندې ځان قربانول ، او په هر حالت کې يې د خپل پيغمبر کامِله اِتباع کړې.

د اِيمان د تازه کولو په خاطر درته د يو څو صحابه کرامو د خپل پيغمبر د اِتباع نمونې بيانوم :

## ١. د نبي ﷺ د حکم اَوريدو نه روستو ابن مسعود رضي الله عنه د جُمات په دَروازه کې کيناست

په ابوداؤد شريف کې ذکر دي چې : يو ځل پيغمبر عليه السلام د جُمعې په ورځ په مسجدِ نبوي کې خطبه بيانوله ، نو څه خلق يې وليده چې د خطبې په دَوران کې ولاړ وو (دا چونکه د اَدب خلاف وه ) نو نبي عليه السلام هغه ولاړو خلقو ته حکم وکړو :

إِجْلِسُوْا. تاسو کينئ.

کوم وخت چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حکم وکړو په دغه وخت کې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د بهر نه راروان ؤ ، د جُمات د دروازې ته رارسيدلې ؤ ، ده چې کله د نبي عليه السلام دا حکم د کيناستو واوريده نو هم هلته د جُمات په دروازه کې کيناست.

پيغمبر عليه السلام چې وليده نو ورته وې فرمايل :

تَعَالَ يَا عَبْدَاللهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ ( رضي الله عنه ). (١)

---

(١) وفي سنن أبي داؤد عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا اسْتَوٰى رَسُوْلُ اللهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَالَ: '' إِجْلِسُوْا '' فَسَمِعَ ذٰلِكَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ ( رضي الله عنه ) فَجَلَسَ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ . فَرَآهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: تَعَالَ يَا عَبْدَاللهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ . صحيح . رواه ابوداؤد كتاب الصلوة باب الامام يُكلّم الرَّجلَ في خُطبَته حديث ١٠٩١ ، وصححه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح سنن ابي داؤد . المستدرک على الصحيحين للحاكم حديث ١٠٥٦ وقال هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يُخرِّجَاهُ .

اې ابن مسعود ! دلته راشه ( تاته خو ما د کيناستو نه وو ويلي بلکه کوم خلق چې ولاړ وو ما خو هغوی ته حکم کړې ؤ ) .

**فائده** : د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ په زړه کې د نبي عليه السلام د حکم دومره اَهميت ؤ چې د کيناستو حکم اَوريدو نه روستو يې قدم هم د ځای نه پورته نه کړو ، بلکه هم هلته په دروازه کې کيناست ، اګر چې ابن مسعود ﷛ ته دا معلومه وه چې د کيناستو حکم ولاړو خلقو ته دی خو دوی دا نه خوښوله چې د پيغمبر عليه السلام د حکم په عمَلي کولو کې معمولي تاخير اوشي نو ځکه هم هلته په دروازه کې کيناست .

## ۲ . د شرابو د حُرمت نه روستو متصل ټول شراب اَړول :

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس بن مالک ﷛ فرمايي : چې د شرابو د حُرمت نه مخکې زه د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه په کور کې موجود ووم ، او ميلمنو ته د شرابو ورکولو ذمه واري ماته حواله وه ، نو په دې وخت کې په پيغمبر عليه السلام باندې د شرابو د حُرمت حکم نازل شو ( يعنی شراب د الله ﷻ د طرفه حرام کړې شو ) .

نبي عليه السلام يو کس ته حکم وکړو چې د مدينې منوّرې په کوڅو کې ددې اِعلان وکړه . حضرت انس ﷛ فرمايي چې ماته حضرت ابو طلحه رضي الله عنه وويل :

ته ورشه ، بهر اووځه ، او اُوګوره چې دا آواز د څه شي دی ؟ ( او څه ويل غواړي ؟ )

حضرت انس ﷛ فرمايي چې زه بهر اووتم ( آواز مې واوريده ) ، بيا راغلم ، حضرت ابوطلحه ﷛ ته مې وويل : دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم دطرفه مُنادِي ( اِعلان کوونکې ) دی ، او دا اِعلان کوي :

" اَلَا إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ "

(اې خلقو ! ) خبردار ، بيشکه شراب حرام کړې شو .

حضرت انس ﷛ فرمايي چې ماته ابو طلحه ﷛ وويل :

• إِذْهَبْ فَأَهْرِقْهَا . لاړ شه او دا ټول شراب واړوه .

حضرت انس ﷺ فرمايي : چې صحابه کرامو د دې حکم اَوريدو نه روستو مُتصل په دې باندې داسې په اِهتمام سره عمل وکړو چې (ټولو شراب واړول او) شراب د مدينې منوّرې په کوڅو کې اُوبهيده . (۱)

**فائده** : الله ﷻ چې صحابه کرامو ته دومره لوي عزت ورکړې وُ نو دا ځکه چې دوی د نبي عليه السلام د حکم اَوريدو نه روستو مُتصل په هغې باندې عمل کولو ، هيڅ صحابي دا سوچ اونه کړو چې ''خير اوس به يې اُوڅکو او بيا به يې نه څکو'' يا هيچا هم خرڅ نه کړه ، بلکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حکم اَوريدو نه روستو ټولو شراب واړول ، تر دې پورې چې د مدينې منوّرې په کوڅو کې شراب د اُوبو غوندې روان شو .

## ۳ . حضرت ابوذر غفاري ﷺ او د نبي عليه السلام حکم عَملي کول :

د ابوداوُد شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَايِمٌ فَلْيَجْلِسْ ، فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ . (۲)

کله چې په تاسو کې يو کس غصه شي او دې ولاړ وي نو په کار ده چې ذې کينې ، که چيرته د ده نه په کيناستو سره غصه لاړه نو ډيره ښه ده ، او که غصه يې ختمه نه شوه نو دا دې ده اُولړوي ( يعنی دا دې څملي نو په دې سره به د ده نه غصه لاړه شي ) .

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه خپل باغ اُوبه کول ، په دې دَوران کې يو کس څه داسې حرکت وکړو چې په هغې سره د اُوبو د نالې بَند (پُشتي) اُوشليده ، او اُوبه ټولې بهر

(۱) حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ فِيْ مَنْزِلِ أَبِي طَلْحَةَ فَنَزَلَ تَحْرِيْمُ الْخَمْرِ ، فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادٰى ، فَقَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ : أُخْرُجْ فَانْظُرْ مَا هٰذَا الصَّوْتُ؟ قَالَ : فَخَرَجْتُ ، فَقُلْتُ : هٰذَا مُنَادٍ يُنَادِيْ : '' أَلَا إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ '' فَقَالَ لِيْ : إِذْهَبْ فَأَهْرِقْهَا . قَالَ : فَجَرَتْ (اى الخمر) فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ . متفق عليه : رواه البخاري (۴٦٢٠) كتاب تفسير القرآن ، ومسلم (۱۹۸۰) كتاب الاشربة .

(۲) سنن ابوداوُد حديث ۲۷۸۲ باب ما يقال عند الغضب ، صحيح ابن حبان حديث ٥٦٨٨ ذكر الامر بالجلوس لمن غضب وهو قايم والاضطجاع إذا كان جالسًا . وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلْغَضَبُ جَمْرَةٌ فِيْ قَلْبِ الْإِنْسَانِ تُوْقَدُ ، أَلَمْ تَرَوْا إِلٰى حُمْرَةِ عَيْنَيْهِ وَ إِنْتِفَاخِ أَوْدَاجِهِ . فَإِذَا حَسَّ أَحَدُكُمْ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَلْيَجْلِسْ . الجامع لابن وهب مصطفى ابوالخير حديث ۳۷۳ ، جامع معمر بن راشد ج۱۱ ص ۳۴٦ حديث ۲۰۷۲۰ .

اُوبهيدی. حضرت ابوذر غفاري ﷛ ته غصه ورغله، فورًا ورته د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حديث وریاد شو (چې څوک غصه شي او دې ولاړ وي نو په کار ده چې کيني، ځکه چې په دې سره به د ده غصه ختمه شي).

نو په کوم ځای کې چې ولاړ ؤ هلته تولې ختې او اُوبه وی خو حضرت ابوذر غفاري ﷛ د نبي عليه السلام په حکم باندې عمل کولو کې معمولي تاخير هم او نکړو، بلکه په هماغه ځای کې په ختو او اُوبو کې کيناست، چې په دې سره يې تولې کپړې په ختو او اُوبو سره لمدې شوی. (۱)

**فائده**: ديته کمالِ اِتباع وايي چې د خپلو کپړو (جامو) يې هيڅ پرواه او نه ساتله، بس خو چې څنګه ورته د پيغمبر عليه السلام حديث وریاد شو نو په هغې باندې عمل کولو د پاره فورًا په ختو او اُوبو کې کيناست.

## ۴. د صحابه کرامو د رکوع په حالت کې خانه کعبې طرفته تاويدل

د بخاري شريف حديث دی، حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي: چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منوّرې ته تشريف راوړو نو شپاړس يا اُوولس مياشتو پورې يې بيتُ المقدس طرف ته مونځونه کول، خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خوَښه وه چې خانه کعبې طرف ته مخ کړي (او قبله خانه کعبه اوګرځي)، نو الله ﷻ دا آيت نازل کړو:

﴿ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾. (۲)

ترجمه: (اې پيغمبره!) بيشکه مونږ ګورو بار بار پورته کيدل (او ګرځيدل) د مخ ستا آسمان طرف ته (يعنې تاسو بار بار آسمان ته ګورئ چې شايد فرښته د قبلې بدليدو حکم راوړي) نو مونږ به ضرور اوګرځوو تا داسې قبلې طرف ته کومه چې ستا خوَښه ده (بيا مونږ درته هم د دې حکم کوو) پس ته خپل مخ په طرف د مسجد حرام (خانه کعبې) اوګرځوه.

(۱) مسند احمد ۵/ ۱۵۲.

(۲) البقرة آيت ۱۴۴.

ددې آيت د نازليدو نه روستو د مسلمانانو مخ خانه کعبې طرف ته اوګرځولې شو (يعنی نبي عليه السلام د مازيګر مونځ خانه کعبې طرف ته وکړو)، په صحابه کرامو کې يو کس د مازيګر مونځ د پيغمبر عليه السلام سره وکړو، او بيا (د مدينې منورې نه) بهر اووتو، او د اَنصارو په يو قوم باندې دده تيريدل اوشو چې هغوی (د قبلې د بدليدو حکم نه نه وو خبر، نو بيتُ المقدس طرف ته يې مخ کړې ؤ، او دوی) د مازيګر په لمانځه ولاړ وو، ده ورته ووېل:

هُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَّهُ قَدْ وُجِّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ.

دې (دا صحابي خپل ځان يادوي) داګواهي ورکوي چې ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د مازيګر مونځ وکړو او هغوی بيتُ الله (خانه کعبې) طرف ته مخ کړې ؤ.

صحابه کرامو چې دا خبره واوريده نو په همدې مانځه کې خانه کعبې طرف ته راتاؤ شو، حالانکه دوی د رکوع په حالت کې وو او د مازيګر مونځ يې اداء کول. (۱)

سبحان الله. صحابه کرامو د رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې کلکه اِتباع کوله چې کله د رکوع په حالت کې ورته د پيغمبر عليه السلام عمل معلوم شو نو فورًا بغير د تردّد نه يې خانه کعبې طرف ته مخ کړو، د رکوع نه د راپورته کيدو او د مانځه د ختميدو انتظار يې هم او نه کړو، بلکه په همدې رکوع کې يې بيت الله طرف ته مخ کړو.

## ۵. صحابه کرامو د زخمونو او تکليفونو باوجود د نبي ﷺ حکم ته لبيک ووېل

په غزوه اُحد کې چې کله د بعضې مسلمانانو نه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حکم په عملي کولو کې کوتاهي اوشوه (۲) نو ددې په وجه مسلمانانو ته سخت تکليف اورسيده،

---

(۱) وأخرج البخاري من حديث البراء بن عازب رضي الله عنه قال: لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمُقَدَّسِ سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا. وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ. فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ﴿قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ فَوُجِّهَ نَحْوَ الْقِبْلَةِ. وَصَلَّى مَعَهُ رَجُلٌ الْعَصْرَ. ثُمَّ خَرَجَ فَمَرَّ عَلَى قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ: هُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَأَنَّهُ قَدْ وُجِّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ. فَانْحَرَفُوا وَهُمْ رُكُوعٌ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ. متفق عليه: رواه البخاري (۷۲۵۲) كتاب اخبار الآحاد، ومسلم (۵۲۵) كتاب المساجد و مواضع الصلاة. فَانْحَرَفُوا: اى مَالُوا إِلَى جِهَةِ الْكَعْبَةِ.

(۲) تفصيلي واقعه روستو راروانه ده.

اويا ( ۷۰ ) کسان شيهدان شو ، ډير په کې زخميان شو ، د پيغمبر عليه السلام غاښونه مبارک په کې شهيدان شو ، مخ مبارک يې زخمي شو ، او د جنګ په دَوران کې کافرانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات کيدو خبر هم خُور کړو چې په دې سره مسلمانان نور هم په مُشقت کې واقع شو .

کله چې د مسلمانانو يقين پيدا شو چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ژوندې دی نو د دوی د حفاظت او دِفاع د پاره يې ډيره قرباني ورکړه .

بيا کله چې صحابه کرامو خپل شهيدان ورونړه دفن کړه ، او مدينې منوّرې ته واپس راغله نو نبي عليه السلام ته معلومه شوه چې ابوسفيان ( کوم چې تر اوسه اِيمان نه ؤ راوړی ) دوباره په مسلمانانو باندې د حملې کولو اِراده لري ، ځکه ابوسفيان دا ګمان کول چې ګني صحابه کرام به د خپلو ورونړو د شهادت په وجه سخت خفه وي ، د زخمونو او ستړې والي په وجه به د جنګ طاقت نه لري نو ځکه د مسلمانانو د ختمولو د پاره يې دوباره د حملې کولو اِراده وکړه .

رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو سره مقابلې ته د وَرتللو د پاره مشوره وکړه او دا حکم يې ورته وکړو چې " د مونږ سره به صرف هغه کسان ځي کوم چې پرون د مونږ سره تللي وو " .

صحابه کرام باوجود ددينه چې سخت زخميان وو ، دَرد مند وو ، ستړي وو ، او د خپلو شهيدانو ورونړو د فِراق غم هم ورسره ؤ ، خو په زړونو کې يې د نبي عليه السلام د حکم داسې اَهميت ، او داسې محبت ؤ چې ټولو په يو آواز د پيغمبر عليه السلام حکم ته لبّيک وويل ، او د نبي عليه السلام سره دوباره د جهاد د پاره روان شو .

**فائده** : ديته اعلیٰ درجه اِتباع او اِطاعت وايي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حکم ته يې په هر شي باندې فَوقيت ورکړو . (۱)

(۱) مواقف من حياة الانبياء والصحابة والتابعين ۱ / ۷۳ ، الطريق الى الجنة ص ۵۹۳ .

## ٦. حضرت حنظله ﷺ د نبي عليه السلام حکم ته فورًا لبيک وويل:

په غزوه أحد کې چې کوم صحابه کرام شهيدان شوي وو، په هغوی کې حضرت حنظله بن ابي عامر ﷺ هم وُ، ده ته غَسِيْلُ الْمَلَائِكَة ويلې شي، ځکه د شهادت نه روستو ده ته فربنتو غُسل ورکړې وُ، د دوی د شهادت نه روستو رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ صَاحِبَكُمْ حَنْظَلَةُ تُغَسِّلُهُ الْمَلَائِكَةُ.

بيشکه ستاسو ملګري حنظله ته فربنتې غُسل ورکوي.

کله چې نبي عليه السلام دده د بي بي نه دده په باره کې پوښتنه وکړه نو هغې ورته ووبا حضرت حنظله ﷺ چې کله جهاد ته د وتلو اِعلان واوريده (او دا ورته معلومه شوه چې نبي عليه السلام جهاد ته تللې دی) نو دې هم فورًا جهاد ته أووت، حالانکه دې په دغه وخت کې د جُنابت په حالت کې وُ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

فَذٰلِكَ قَدْ غَسَّلَتْهُ الْمَلَائِكَةُ.(١)

د همدې د وجې نه فربنتو ده ته غُسل ورکړو.

**فايده**: د حضرت حنظله رضي الله عنه په زړه کې د الله ﷻ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حکم دومره اَهميت وُ چې کله يې جهاد ته د تللو اِعلان واوريده نو دې په دغه وخت کې جُنُب وُ، دوی د غُسل کولو پورې اِنتظار اونه کړو بلکه فورًا جهاد ته روان شو، نو الله ﷻ هم ورته پيا لوي اِعزاز ورکړو چې فربنتو ورته غُسل ورکړو.

(١) صحيح ابن حبان ذکر حنظلة ابن ابي عامر غسيل الملائكة رضوان الله عليه حديث ٧٠٢٥، واخرجه الحاكم ٣/ ٢٠٤، ٢٠٥، والبيهقي في السنن ٤/ ١٥ وصححه على شرط مسلم، ووافقه الذهبي، واخرجه ابن ابي اسحاق في السيرة ص ٣١٢. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ صَاحِبَكُمْ حَنْظَلَةُ تُغَسِّلُهُ الْمَلَائِكَةُ. فَسَأَلُوْا صَاحِبَتَهُ عَنْهُ ـ (زوجته) ـ فَقَالَتْ: إِنَّهُ خَرَجَ لَمَّا سَمِعَ الْهَائِعَةَ وَهُوَ جُنُبٌ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِذٰلِكَ غَسَّلَتْهُ الْمَلَائِكَةُ. رواه الحاكم ٣/ ٢٢٥، وحسنه العلامة الالباني في السلسلة الصحيحة ٣٢٦، الطريق الى الجنة ص ٥٩٢.

# ۷. د يو صحابي خپل څادر سَوزَول :

حضرت عبد الله بن عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي چې زه يو ځل نبي عليه السلام په داسې حالت کې وليدم چې ما د زېړ رنګ واله جامې اغوستې وې چې معمولي ګلابي رنګ ته مائله وې. پيغمبر عليه السلام راته وفرمايل :

مَا هٰذَا ؟ دا څه دي ؟ (يعنې په دې جامو دې څه کړي ؟ دا صحابي فرمايي چې ماته د نبي عليه السلام د دې سوال نه د ناخوښۍ آثرات معلوم شو)

پس زه کورته لاړم ، او دغه جامې مې أوسوزولې . بيا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زه وليدم نو راته وې فرمايل :

مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِکَ ؟ تا د هغه جامو سره څه وکړه ؟

ما ورته ووېل : هغه خو ما أوسوزولې .

پيغمبر عليه السلام راته وفرمايل :

أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ ؟ (۱)

تا ولې د کور بعضې زَنانه ؤ ته ورنه کړې ؟ ( يعنې دا جامې به دې د کور زَنانه ؤ کې چاته ورکړې وې ) .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ : رَآنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ ( قَالَ أَبُوْ عَلِيٍّ اللُّؤْلُؤِيُّ أُرَاهُ وَعَلَيَّ ثَوْبٌ مَصْبُوْغٌ بِعُصْفُرٍ مُوَرَّد ) ـ فَقَالَ : مَا هٰذَا ؟ فَانْطَلَقْتُ فَأَحْرَقْتُهُ . فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مَا صَنَعْتَ بِثَوْبِکَ ؟ فَقُلْتُ : أَحْرَقْتُهُ . قَالَ : أَفَلَا كَسَوْتَهُ بَعْضَ أَهْلِكَ . ابوداؤد كتابُ اللباس باب ۲۴۱ فی الحمرة حديث ٦٦٨ . وفي رواية : عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ هَبَطْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثَنِيَّةٍ فَالْتَفَتَ إِلَيَّ وَعَلَيَّ رَيْطَةٌ مُضَرَّجَةٌ بِالْعُصْفُرِ . فَقَالَ : مَا هٰذِهِ الرَّيْطَةُ عَلَيْکَ ؟ فَعَرَفْتُ مَا كَرِهَ . فَأَتَيْتُ أَهْلِيْ وَهُمْ يَسْجُرُوْنَ تَنُّوْرًا لَهُمْ . فَقَذَفْتُهَا فِيْهِ . ثُمَّ أَتَيْتُهُ مِنَ الْغَدِ . فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ ! مَا فَعَلَتِ الرَّيْطَةُ ؟ فَأَخْبَرْتُهُ . فَقَالَ : أَفَلَا كَسَوْتَهَا بَعْضَ أَهْلِكَ فَإِنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِلنِّسَآءِ . ابوداؤد كتابُ اللباس باب ۲۴۱ فی الحمرة حديث ٦٦٦ . ( رَيْطَةٌ مُضَرَّجَةٌ بِالْعُصْفُرِ : هغه مضبوط غټ څادر چې په زېړ رنګ کې رنګ شوې وي ) .

# ٨. صحابه كرامو د نبي عليه السلام حُكم فورًا عَملي كړو

حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل مونږ صحابه كرام د پيغمبر عليه السلام سره په سفر اووتو ، نو حضور صلى الله عليه وسلم زمونږ په كجاوو او اُوښانو باندې سره څادرونه او كپړې وليدى چې په هغې كې سره تارونه وو ، نبي عليه السلام وفرمايل :

" زه وينم چې دا سُرخي په تاسو باندې غالبه كيږي " . حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ددې حكم ( عَملي كولو ) په وجه فورًا دومره په تيزۍ باندې پاڅيدو چې زمونږ بعضې اُوښان ( ددې فورًا پاڅيدو په وجه اُوېريده او ) اُوتخيده . پس مونږ ( فورًا ) دغه سره څادرونه د دې اُوښانو نه لرې كړه . (١)

## د سُنتو په پريخودو مسلمانان ذليله شو

كه مونږ د څوارلسوو ( ١٤٠٠ ) كالو تير تاريخ اوګورو نو دا به راته معلومه شي چې مسلمانانو كله هم د خپل پيغمبر د سُنتو تابعداري كړې او د هغوى په نقشِ قدم باندې يې تلل كړي نو دوى ته په دُنيا كې عزت او غلبه ملاؤ شوى ، او دوى ته اِقتدار ملاؤ شوى .

خو چې د كله نه يې د نبي عليه السلام سُنت پريخي دي نو دوى باوجود د ډيروالي او باوجود د زياتو وسائلو بيا هم په دُنيا كې ذليله او خوار دي ، او په هر ځاى كې وهلې كيږي .

صحابه كرامو د همدې سُنتو د كلكې اِتباع په وجه خپل طاقت ټولې دُنيا ته اُوخوده ، او په لږ وخت كې يې ډير فتوحات حاصل كړه ، او كفري دُنيا ته يې مضبوط شكست وركړو .

ليكن نن د مونږ سره دا يَره ده چې كه په فلانكي سُنت باندې عمل وكړو نو خلق به راپورې خاندي ، يا كه په فلانكي سُنت باندې عمل وكړو نو د دُنيا كافران به راپورې ټوقې كوي ، د خپلو دُښمنانو د راضي كولو د پاره مو هر څه قرباني كړه ، خپل اسلامي احكامات مو د دوى

(١) عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَرَأَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلى رَوَاحِلِنَا وَعَلى إِبِلِنَا أَكْسِيَةً فِيْهَا خُيُوْطُ عِهْنٍ حُمْرٌ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَلَا أَرَى هٰذِهِ الْحُمْرَةَ قَدْ عَلَتْكُمْ . فَقُمْنَا سِرَاعًا لِقَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى نَفَرَ بَعْضُ إِبِلِنَا . فَأَخَذْنَا الْأَكْسِيَةَ فَنَزَعْنَاهَا عَنْهَا . ابوداؤد كتاب اللباس باب ٢٢١ في الحمرة حديث ٦٧٠.

د خوشحالولو د پاره پريخوده ، خپل اَخلاق ، کِردار ، لباس او سيرت مو پريخود ، خپل شکل و صورت مو بدل کړو حتّی چې د سَر نه تر خپو پورې مونږ د دوی نقل او غلامي وکړه خو ليکن بياهم مونږ دا کافر دښمن راضي نه کړو ، بلکه اَلټه مسلمانان نور هم خوار او ذليل شو ، ځکه دا يقيني او پَخه خبره ده چې کله هم مسلمانانو د خپل پيغمبر اِتباع پريخې ده نو دوی ذليله شوي .

## د صحابه کرامو د کاميابۍ راز

صحابه کرامو ته چې الله رب العزت دومره لوي مقام ورکړې ؤ ، د هِدايت ستوري يې ګرځولي وو ، په دُنيا کې ورته د جنت او د الله ﷻ د رَضا زيرې ورکړې شوې ؤ ، د زمکې ، آسمان ، او دريابونو نظام د دوی د پاره مسخر کړې شوې ؤ ، تر دې پورې چې د يو صحابي په وينا سره د ځنګل ځناورو خپل خپل بچي په خُله او لاسونو کې اونيوه د ځنګل نه اُووته او ځنګل يې صحابه کرامو ته خالي کړو ، دا ټول ددې په برکت سره وو چې د دوی په قرآن کريم باندې عمل ؤ ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سُنتو کامله اِتباع يې کوله .

الله رب العزت دې مونږ او تاسو ته هم د خپل خوږ پيغمبر محمّدُ رّسول الله صلی الله عليه وسلم کامله اِتباع رانصيبه کړي ، او تر مرګه پورې دې راته پرې اِستقامت راکړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# د نبي ﷺ د اِتباع متعلق نور بهترين او مُتعمَد واقعات

**نوټ** : " د نبي عليه السلام اِتباع او اِطاعت " ددې موضوع متعلق درته يو څو نور معتمَد او بهترين واقعات ذکر کوم ، ددې د پاره چې که موقع زياته وي نو د ځان د پاره ددينه هم اِنتخاب کولې شي .

## په هر حالت کې د سُنتو اِتباع کول

انسان ته په کار دي چې دې په هر حالت کې د خپل خوږ پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم تابعداري وکړي ، د چا د خبرو يا د چا د خَندا د لاسه د نبي عليه السلام سُنت پرې نه ږدي .

که د صحابه کرامو په ژوند باندې نظر واچولې شي نو دوی هم په هره موقع باندې د خپل پيغمبر په سُنتو باندې کلک عمل کړی ؤ . ددې يو څو نمونې ستاسو دړاندې ذکر کوم :

### ١ . د حضرت حُذيفه ﷺ بهترين جواب :

کله چې په اِيران کې په کِسریٰ باندې حمله اوشوه نو هغه د مذاکراتو د پاره د ايران فاتح حضرت حذيفه ﷺ خپل دربار ته اُوغوښته ، حضرت حذيفه ﷺ هلته ورغی ، کله چې د ميلمستيا په خاطر د دوی مخې ته ډوډۍ ( روټۍ ) کيښودې شوه ، نو دوی ډوډۍ خوړل شروع کړه ، د خوراک په دَوران کې د دوی د لاس نه يوه نوړۍ اُوغورځيده .

(( د خوراک په دَوران کې د نوړۍ غورځيدو په باره کې د پيغمبر عليه السلام تعليم دادی چې کله نوَړۍ لاندې اُوغورځيږي نو هغه مه ضائع کوئ ځکه داد الله تعالی رزق دی ، هيڅ پته نه لږي چې د رزق په کومه حصه کې برکت دی ، نو تاسو هغه نوړۍ راپورته کړئ ، صفا يې کړئ ، او وې خورئ )).

پس کله چې د حضرت حذيفه ﷺ نه د خوراک په دوران کې نوړۍ اوغورځيده نو د نبي عليه السلام دا حديث ورته رایاد شو ، نو د دې نوَړۍ راپورته کولو د پاره يې لاس ور اُوږد کړو ، د دوی سره نزدې يو کس ناست ؤ هغه ورته اِشاره وکړه چې دا څه کوی ؟ دا خو

دکسریٰ دَربار دی ، دوی دا کار بَد ګڼي ، که ته د دوی په دَربار کې غورځیدلې نوَړې راپورته کوی او خوري یې نو د دوی په ذهنونو کې به ستا څه عزت پاتې نه شي ، بلکه دوی به دا ګمان کوي چې دا ډیر نادیده خلق دي . لهذا ته نن دا نوَړې مه را اُوچتوه ، او مه یې خوره . حضرت حذیفه ﷺ ورته ډیر عجیبه جواب ورکړو ( کوم چې د سرو زرو په اُوبو د لیکلو لائق دی ) ، ورته وې فرمایل :

أَأَتْرُكُ سُنَّةَ حَبِيْبِيْ لِهٰؤُلَآءِ الحمق؟

آیا زه ددې اَحمقانو ( کم عقلو ) په وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سُنّت پرېږدم ؟ که د کسریٰ دربار واله دا ښه ګڼي او که بد ، خو زه هیڅکله د خپل پیغمبر سُنت نه شم پرېخودی .

**فائده** : دیته د خپل محبوب اِتباع او اعلیٰ درجه ایمان وايي چې د چا د خبرو یا خندا په وجه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سُنت پرې نه خوده .

## ۲. د حضرت عثمان ﷺ د سُنتو خلاف کار کولو نه انکار کول

د حُدیبې په موقع باندې چې کله د مکې مشرکانو مسلمانان مکې مکرمې ته د داخلیدو نه منع کړه حالانکه مسلمانان د جنګ د پاره نه وو راغلي بلکه اِحرامونه یې تړلي وو ، د عُمرې اداء کولو د پاره راغلي وو ، نو پیغمبر علیه السلام حضرت عثمان ﷺ خپل نمائنده جوړ کړو او مکې مکرمې ته یې ولیږل چې د مکې سردارانو سره مذاکرات وکړي چې مونږ خو جنګ له نه یو راغلي ( بهر حال د حُدیبې واقعه ډیره اُوږده ده ، زه صرف ورنه مقصودي ځای رانقل کوم ) .

نو حضرت عثمان ﷺ مکې مکرمې ته لاړ ، هلته یې شپه د خپل تره ځوي سره وکړه ، کله چې سهر د مکې سردارانو سره د مذاکراتو د پاره روان شو نو په دې وخت کې دده اِزار ( پینځه یا لنګ ) د ګیټو نه پورته تر د نیمې پونډۍ پورې ؤ ،

( او ددې په باره کې د نبي علیه السلام فرمان دادی چې د ګیټو نه ښکته پرتوګ یا لنګ ساتل بالکل نا جائز دي ، او د ګیټو نه پورته ساتل جائز دي ، خو د رسول الله صلی الله علیه

وسلم خپل معمول دا ؤ چې اِزار به يې د نيمايي پونډۍ پورې ساتل او دډېنه لاندې به نه ؤ (١).

د حضرت عثمان رضي الله عنه د تره ځوي دوی ته وويل چې جناب ! د عربو دستور دادی چې د چا لنګ او پرتوګ څومره ښکته وي نو هماغومره اندازه دا اُوچت او مُعزز سړی ګنړلی شي، او د مکې سرداران چونکه خپل لنګونه او پينځې ښکته ساتي، نو که چيرته ته خپل پرتوګ د ګيټو نه ښکته نه کړې او همداسې پورته يې اوساتې نو د هغوی په نظر کې به ستا هيڅ حيثيت پاتې نه شي، او په مذاکراتو به څه فايده هم مُرتّب نه شي (لهذا تاسو دا لنګ د ګيټو نه ښکته کړئ)، حضرت عثمان رضي الله عنه چې دا خبره واوريده نو ډېر عجيبه جواب يې ورکړو :

لَا هٰكَذَا إِزْرَةُ صَاحِبِنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نه، زه خپل اِزار (لنګ يا پرتوګ) د پونډو نه نشم ښکته کولی ځکه زمونږ د آقا محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم اِزار همدغه شان د پونډو نه پورته ؤ.

يعنې که دا خلق په دې سره ما بَد ګنړي يا خه، که زما عزت کوي او که نه، خو زه خپل اِزار همداسې پورته ساتم، ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم اِزار به د نيمايي پونډو پورې ؤ، او زه د هغې خلاف نه شم کولی. (٢)

## ٣. حضرت حشامه بن ساحق کناني رضي الله عنه او د نبي عليه السلام اِتباع

حضرت عمر رضي الله عنه حضرت حشامه بن ساحق کناني رضي الله عنه رُوم ته وليږل، حضرت حشامه رضي الله عنه فرمايي چې زه کله د هرقل روم دَربار ته اُورسيدم نو په بې خيالۍ (يعنې خطايي) کې د سرو زَرو په کرسۍ باندې کيناستم، ناڅاپه زما خيال پيدا شو چې زه خو د سرو زرو په کرسۍ باندې ناست يم (حالانکه نبي عليه السلام ددېنه منع کړې) نو فورًا ورنه راښکته شوم، هرقل روم اُوخندل، او وې ويل :

---

(١) چې څوک خپل اِزار يا پرتوګ د ګيټو نه ښکته ساتي نو دهغوی په باره کې په احاديثو کې سخت وعيد راغلي دی، د ابوداوُد شريف حديث دی نبي عليه السلام فرمايي : إِزْرَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ السَّاقَيْنِ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ فَمَا أَسْفَلَ مِنْ ذٰلِكَ فَفِي النَّارِ. لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا. ابوداؤد حديث ٢٣٣٢.

(٢) خطبات عثماني، لداي ممبر ومحراب ج٧ ص ١٨٢.

مونږ خو ستا عزت کړې ؤ او ته رابنکته شوی (دا ولی ؟) ما ورته جواب ورکړو :

إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى عَنْ مِثْلِ هٰذَا .

ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اَوریدلي دي چې ددې (سرو زرو په درسې يې د ناستې) نه منع کړې ده . (١)

## ۴ . حضرت عبدالله بن عُمر ﷺ او د نبي عليه السلام اِتباع :

١ . حضرت عبدالله بن عُمر ﷺ به چې کله د مدینې منورې نه مکې معظمې طرف ته تللو نو په لاره کې به یې د یوې اُونې لاندې لږ وخت د پاره آرام کولو ، چا ورنه پوښتنه وکړه : تاسو چې هر وخت سفر کوی نو ددې اُونې لاندې دَمه (آرام) کوی ، ددې څه وجه ده ؟

دوی ورته وفرمایل : ما نبي کریم صلى الله عليه وسلم ليدلې ؤ چې ددې اُونې لاندې يې آرام کړې ؤ ، نو ځکه زه هم دلته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اِتباع په وجه آرام کوم .

٢ . د ابن عمر ﷺ په باره دا هم نقل دي چې دې یو ځل حج ته روان ؤ ، ملګري ورسره وو ، په لاره کې يې په یو ځای کې سوَرلي اُودروله ، او یو څنډې طرف ته اَخوا لاړو ، هلته داسې کيناستو لکه انسان چې قضائې حاجت (اَودس ماتي) ته کيني ، ليکن د اَودس کولو نه بغير واپس راغی ، او په خپل اُوښ باندې سور شو .

ملګرو ورته وويل : چې کله تاته د قضاې حاجت ضرورت هم نه ؤ نو بيا ولې دلته ښکته شوی چې مونږ هم ستا اِنتظار وکړو ؟ ده ورته وويل : ما ته يقيني د قضاې حاجت هيڅ ضرورت نه ؤ خو چې رابنکته شوم نو دا ځکه چې یو ځل ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره په دې لاره باندې سفر کولو هغوی دلته قضاې حاجت پوره کړې ؤ نو زمازړه هم دا غوښته چې د خپل محبوب صلى الله عليه وسلم اِتباع په دې عمل کې هم وکړم ، نو ځکه د سوَرلۍ نه رابنکته شوم او هلته لاړم . (٢)

٣ . د مسجدِ نبوي په دروازو کې یوه دروازه وه چې په هغې به اکثره ښځې جَمعې ته راتلې ، او چې کله به ښځې نه وی نو کله نا کله به سړي هم په دې دروازه باندې راتله ، يو ځل

(١) کنز العمال ٧/ ٨٥ .

(٢) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج١ ص ١١١ .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : " څومره به ښه وي که دا • وازه د ښځو د پاره پریخودې شي " چې په دې باندې خاص ښځې جُمات ته راځي .

کله چې صحابه کرامو دا خبره واوریده نو بیا به دوی په دې دروازه باندې جُمات ته نه راتله ( بلکه په هغه بله دروازه باندې به راتله ) ، تر دې پورې چې حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه چې د نبي علیه السلام دا خبره واورېده نو بیا په ټول ژوند کې تر آخري عُمره پورې په دې دروازه باندې مسجدِ نبوي ته نه دې داخل شوی .

**فایده** : سبحان الله ، دیته د خپل پیغمبر د حکم کامِله تابعداري وایي چې په یو ځل خبره اَوریدو سره باقي ټول عُمر په هغه دروازه بیا جُمات ته داخل نه شو ، بلکه په هغه بله دروازه به داخلیدو . (۱)

## ۵ . د نبي ﷺ د حکم اَوریدو نه روستو د ځټکیدونکو غوښو دکې کټوې اَړول :

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته د غزوهٔ خیبر په موقع د کورني خرو د حُرمت حکم بیان کړو ، او دوی یې د کورني خرو د غوښو خوړو نه منع کړه ، نو صحابه کرامو بغیر د څه سوچ او تردّد نه متّصِل د پیغمبر علیه السلام په حکم باندې داسې عمل وکړو چې د خرو د غوښو نه ځټکیدونکې دکې کټوې په هماغه وخت واړولې ، او ددې د خوراک د پاره یې هیڅ حیله او بهانه تلاش نه کړه . (۲)

---

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۱ ص ۱۱۱ .

(۲) په بخاري شریف کې دا حدیث داسې ذکر دی : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ جَاءَهُ جَاءٍ . فَقَالَ : " أُكِلَتِ الحُمُرُ " .. فَسَكَتَ . ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ . فَقَالَ : " أُكِلَتِ الحُمُرُ " فَسَكَتَ . ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ . فَقَالَ : " أُفْنِيَتِ الحُمُرُ " فَأَمَرَ مُنَادِيًا . فَنَادَى فِي النَّاسِ : " إِنَّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ " . فَأُكْفِئَتِ القُدُوْرُ وَإِنَّهَا لَتَفُوْرُ بِاللَّحْمِ . متفق علیه : رواه البخاري ۴۱۹۹ کتاب المغازي باب غزوة خیبر ، مسلم ۱۹۴۰ کتاب الصید والذبائح وما یؤکل من الحیوان .

## ٦. د نبي عليه السلام دويښتانو په شان ويښتان جوړولو د پاره سخت تکليف برداشت کول :

يو صحابي ؤ ، د حبشې اوسيدونکې ؤ ، د هغه دا خوښه وه چې زما د سَر ويښتان هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سَر د ويښتانو په شان نيم خي طرف او نيم چپ طرف واوړي، او د سَر په مينځ کې يوه کرخه پيدا شي ( ځکه د پيغمبر عليه السلام په سَر مبارک کې د ويښتانو د خي طرف او چپ طرف اړولو په وجه يوه کرخه معلوميده ) ، خو ليکن د حبشو ويښتان عام طور باندې واړه او سخت وي نو ځکه يې په ويښتانو کې کرخه نه جوړيده ، هر وخت به ورسره دا فکر ؤ چې زما د سَر ويښتان د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سَر ويښتانو په شان شي ( حالانکه په شرعي لحاظ سره په ده باندې دا لازم نه وو ځکه دده ويښتان قدرتًا او خِلقتًا داسې وو چې په هغې کې کرخه نه ويستل کيده ) .

يوه ورځ يې د پيغمبر عليه السلام سره د ډير محبت په وجه په اُور کې سيخ ګرم کړو او د ويښتانو په مينځ کې يې داسې تير کړو چې په دې سره دده ويښتان او پوستکې اوسوَزيده ، علاج يې وکړو ، زخم يې ښه شو ، بيا به داسوزيدلې ځاى داسې معلوميده لکه ويښتان يې چې خي طرف او چپ طرف اړولي وي ، يعنى په مينځ کې يوه کرخه معلوميده .

خلقو ورته وويل : تا دومره تکليف ولې برداشت کړو ؟ ده ورته وويل : ما خو تکليف برداشت کړو ليکن زه په دې ډير خوشحاله يم چې زما ويښتان اوس د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ويښتانو په شان ښکاري ، اوپه مينځ کې يې يوه کرخه معلوميږي .(١)

## ۷. د صحابياتو د اِتباع نمونې :

١ . يو صحابي فرمايي : چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه ښځه راغله ، د هغې سره يوه لور هم وه ، او د هغې د لور سره په لاس کې د سرو زرو دوه غټ بنګړي وو ، نبي عليه الصلوة والسلام ورته پوښتنه وکړه :

أَتُعْطِيْنَ زَكَاةَ هٰذَا ؟

(١) خطبات فقير ج٣ ص ١٥٩ ، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج١ ص ١١٢ .

آيا ته ددې زکوة ورکوې ؟

هغې ورته وويل : نه .

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

أَيَسُرُّكِ أَنْ يُسَوِّرَكِ اللهُ بِهِمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ ؟

آيا ستا دا خوښه ده چې د قيامت په ورځ الله ﷻ تا ته ( د دينه د زکوة نه ورکولو په وجه ) د اُور بنګړي در واچوي ؟

هغه زَنانه چې دا خبره واوريده نو بغير د تردّد او سوچ نه يې دواړه بنګړي را اُويست ، او د پيغمبر عليه السلام په خدمت کې يې پيش کړه ، او ورته وې ويل :

هُمَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلِرَسُوْلِهِ . (١) دا د الله ﷻ او د هغه د رسول د پاره دي .

**فايده** : الله اکبر . دې زَنانه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ددې سرو زرو د بنګړو نه د زکوة ويستلو خبره واوريده نو لږ انتظار يې هم اونه کړو ، بلکه بغير د تردّد نه يې د معلوم زکوة ويستلو په ځاى باندې ټول بنګړي نبي عليه السلام ته د الله ﷻ د رضا د پاره پيش کړه ، ځکه د دوى يقين وُ چې د آخرت نعمتونه او جنت د دُنيا او مَا فِيهَا نه ډير بهتر دي .

٢ . رسول الله صلى الله عليه وسلم زَنانه وُ ته حکم کړې وُ (٢) چې د لارې په مينځ مه ځئ ، بلکه په يو څنډه ( طرف ) ځئ ، زَنانه وُ چې د پيغمبر عليه السلام دا حکم واوريده نو بيا به

---

(١) عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ اِمْرَأَةً أَتَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهَا اِبْنَةٌ لَهَا . وَفِيْ يَدِ اِبْنَتِهَا مَسَكَتَانِ غَلِيْظَتَانِ مِنْ ذَهَبٍ . فَقَالَ لَهَا : أَتُعْطِيْنَ زَكَاةَ هٰذَا ؟ قَالَتْ : لَا . قَالَ : أَيَسُرُّكِ أَنْ يُسَوِّرَكِ اللهُ بِهِمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ ؟ قَالَ : فَخَلَعَتْهُمَا فَأَلْقَتْهُمَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ . وَقَالَتْ : هُمَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلِرَسُوْلِهِ . رواه ابوداؤد كتاب الزكوة باب الكنز ما هو ؟ و زكاة الحلي حديث ١٥٦٣ ، والترمذي كتاب الزكوة حديث ٦٣٧ ، والنسائي كتاب الزكوة حديث ٢٤٧٩ ، وحسنه العلامة الالباني رحمه الله في صحيح سنن ابي داؤد .

(٢) فَعَنْ أَبِيْ أُسَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَهُوَ خَارِجٌ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاخْتَلَطَ الرِّجَالُ مَعَ النِّسَاءِ فِي الطَّرِيْقِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِلنِّسَاءِ : " اِسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيْقَ . عَلَيْكُنَّ بِحَافَاتِ الطَّرِيْقِ " . فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَلْتَصِقُ بِالْجِدَارِ حَتّٰى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ مِنْ لُصُوْقِهَا بِهِ . ، رواه ابوداؤد كتاب الادب ابواب السلام باب في مشي النساء مع الرجال في الطريق حديث ١٨٣١ ، وحسنه العلامة الالباني رحمه الله في السلسلة الصحيحة ٨٥٦ .

د لارې دومره په څنډه د ديوالونو سره نزدې تللې چې د ديوالونو د زيګ والي د لاسه به يې جامې د ديوالونو سره نختې.

## ٨. د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمل نه كوونكي سره خبرې نه كول

د بخاري شريف حديث دى، حضرت عبدالله بن مغفّل رضي الله عنه يو كس وليده (١) چې د ګوتو په ذريعه يې كاڼي ويشتل، ده ورته وويل: په ګوتو باندې كاڼي مه اُوله ځكه رسول الله صلى الله عليه وسلم ددينه منع كړې ده (يا دا چې نبي عليه السلام دا بَد او ناخوښه ګڼل)، او پيغمبر عليه السلام فرمايلي چې په دې سره خو نه ښكار كولې شي او نه په دې سره دُښمن زخمي كيږي، البته دا (په ګوتو باندې كاڼي ويشتل) كله د نزدې ناست كس غاښونه مات كړي، يا د هغه سترګې زخمي او ړندې كړي.

حضرت عبدالله بن مغفّل رضي الله عنه بيا همدا سړې په كاڼي ويشتلو وليده (يعنى د حديث اُوريدو نه روستو هغه بيا كاڼي اُوويشته)، نو ده ورته وويل:

أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ _ أَوْ كَرِهَ الْخَذْفَ _ وَأَنْتَ تَخْذِفُ ؟ لَا أُكَلِّمُكَ كَذَا وَكَذَا . (٢)

زه تاته د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث بيانوم چې دوى په ګوتو باندې د كاڼو ويشتلو نه منع كړى (يا هغوى دا ناخوښه ګڼل) او ته اوس هم په ګوتو باندې كاڼي اُولې

---

(١) د ابن ماجه په روايت كې ذكر دي چې دا يې وراره ؤ. ابن ماجه حديث ١٧ باب تعظيم حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم والتغليظ على من عارضه.

(٢) فِي الصَّحِيْحَيْنِ أَنَّ عَبْدَاللهِ بْنَ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَخْذِفُ . فَقَالَ لَهُ : لَاتَخْذِفْ فَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ _ أَوْ كَانَ يَكْرَهُ الْخَذْفَ _ وَقَالَ : " إِنَّهُ لَا يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ وَلَا يُنْكَأُ بِهِ عَدُوٌّ . وَلٰكِنَّهَا تَكْسِرُ السِّنَّ . وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ " ثُمَّ رَآهُ بَعْدَ ذٰلِكَ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهُ : أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ _ أَوْ كَرِهَ الْخَذْفَ _ وَأَنْتَ تَخْذِفُ ؟ لَا أُكَلِّمُكَ كَذَا وَكَذَا . رواه البخاري كتاب الذبائح والصيد باب الخذف والبندقة باب ٢٨٧ حديث ٤٤٣، ومسلم كتاب الصيد والذبائح وما يؤكل من الحيوان باب إباحة ما يُستعانُ به على الاصطياد والعدوّ وكراهة الخذف حديث ١٩٥٤ نوټ: (يَخْذِفُ) خذف ديته وايي چې انسان د ګوتو په ذريعه باندې كاڼي اولي. اَلْخَذْفُ: رَمْيُكَ حصَاةً أَوْ نَوَاةً تَأْخذ بَيْنَ سبابتيك، و ترمي بها. عمدة القاري ٢١: ٩٦، كشف الباري كتاب الذبائح والصيد حديث ٥١٦٢.

( چونکه ته د سُنتو مخالفت کوی ) لهذا زه به د تا سره د [illegible]
نه کوم.

د مسلم شريف په حديث کې دي چې ده ورته وويل :

لَا أُكَلِّمُکَ أَبَدًا . (١)

زه به د تاسره هيڅکله خبرې اونه کړم .

**فايده** : د بخاري شريف د دې حديث نه معلومه شوه چې د سُنتو مخالفت کوونکي کس سره خبرې او تعلقات پرېخودل جائز دي ، او دا په هغه نَهي او وعيد کې نه راځي په کوم کې چې نبي عليه السلام د يو مسلمان سره د درې ورځو نه زياتې خبرې نه کول بند کړي دي ، ځکه هغه نَهي د هغه چا د پاره ده چې د خپلې ذاتي غصې او ذاتي نفرت په وجه يې د بل سره خبرې بندې کړې وي ، او دلته خو ذاتي نفرت نشته ، بلکه دنبي عليه السلام د سُنتو په پرېخودو يې د هغه سره تعلق ختم کړی او دا جائز دی . (٢)

## د ټولو نه لوي کرامت " په هر حالت کې د سُنتو تابعداري کول " دی

د ټولو نه لوي کرامت او بزرگي داده چې انسان په هر حالت کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د سُنتو کامِله تابعداري وکړي ، او په هيڅ حالت کې د شريعت او د سُنتو خلاف اونکړي .

## ٩ . د جُنيد بغدادي رحمه الله واقعه

يو کس د جليلُ القدر ولي جُنيد بغدادي رحمه الله خانقاه ته راغی د دې د پاره چې دلته به د دوی نه څه کرامت او بزرگي اوګورم ، لس ( ١٠ ) کاله پس دې کس د تللو اِراده وکړه ، جُنيد بغدادي رحمه الله ورنه پوښتنه وکړه چې ته د څه د پاره راغلی وی ؟ او اوس ولې ځی ؟

هغه ورته وويل : جناب ! زه د دې د پاره راغلی ووم چې ستاسو څه کرامت اوګورم خو په دې لس کاله کې ما تاسو نه څه داسې ښکاره کرامت او بزرګي او نه ليده ، نو ځکه ځم .

---

(١) مسلم کتاب الصيد والذبائح ٥٦ (١٩٥٣) ، فتح الباري ٩ ، ٧٥٩

(٢) فتح الباري ٩ : ٧٥٩ ، کشف الباري کتاب الذبائح والصيد .

جُنيد بغدادي رحمه الله ورته وويل : دا راته ووايه چې تا په دې لس کاله کې زما يو عمَل د سُنتو خلاف ليدلی ؟ هغه ورته وويل : نه .

نو دوی ورته وويل : اَصلي بزرګي او کرامت خو همدا دی چې تا زه په دې لس کاله کې په خلافِ سُنت عمل باندې نه يم ليدلی ، بلکه الله رب العزت راته هر عمل د سُنتو موافق کولو توفيق راکړې دی . (١)

## د امام غزالي رحمه الله وينا:

امام غزالي رحمه الله په " مکاشفة القلوب " کې ذکر کړي دي چې که انسان يو کس اوګوري چې هغه په هوا کې اَلوزي ، يا د سمندر په اُوبو باندې د پاسه روان دی ، يا د اُور په مينځ کې روغ جوړ ولاړ دی خو قصدًا بغير د څه عذره فرائض پرېږدي يا د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمَل نه کوي نو دا کس دروغجن دی ، د ولايت او بزرګۍ دعویٰ يې باطله ده، دا دده کرامت نه دی بلکه دا دده د پاره اِستدراج (يو قِسم مُهلت) دی . الله ﷻ دې ددې نه هر مسلمان اُوساتي . (٢)

## د بايزيد بسطامي رحمه الله وينا :

بايزيد بسطامي رحمه الله فرمايي چې : ما شل (٢٠) کاله د خپل نفس خلاف مُجاهَده وکړه خو د ټولو نه غټه او سخته مجاهَده د نفس د پاره داده چې انسان هر کار د سُنتو موافق کوي .

## د مجدد الف ثاني رحمه الله وينا :

امام رباني مجدّد الف ثاني رحمه الله ليکلي چې نفلي عباداتَ د خپلې خوښې موافق کول څه ګران کار نه دی ، ځکه نفس ددې سره اَموخته کيږي بيا ورته ګران نه معلوميږي ، خو د ټولو نه غټه مجاهَده او ګران کار دادی چې انسان هر کار د سُنتو مطابق وکړي .

---

(١) خطبات فقير ج٢٨ ص ١٢٧ .

(٢) مکاشفة القلوب ص ۴١ موضوع نمبر ١١ .

## ۱۰. د مرګ په وخت د سُنتو لحاظ ساتل

ابوبکر شبلي رحمه الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سُنتو داسې کلکه اتباع کوله چې کله دې وفات کيده نو ژبه يې بنده شوه (يعنی د خبرو کولو نه اوغورځيده) . په تندي باندې يې خوَلې راماتې شوی ، او د زنکدن آثار وباندې شروع شو . نو په دغه وخت کې چې د دوی سره څوک ناست وُ هغه ته يې په اِشاره وويل چې ماله اَودس وکړه .

نو دا کس وايي چې ما ورله نور ټول اَودس وکړو خو صرف د ګيرې خِلال رانه پاتې شو (حالانکه د ګيرې خِلال کول سُنت دی) ، دا کس وايي چې ابوبکر شبلي رحمه الله زما لاس اُونيوه او زما د لاس ګمدې ګوتې يې په خپله ګيره کې داخلې کړی ، او د ګيرې خِلال يې هم اوکړو .

**فايده** : سُبحان الله . د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سُنتو سره يې داسې مينه وه چې د مرګ په هغه سخت وخت کې يې هم يو سُنت عمل (يعنی د ګيرې خِلال) پرې نه خوده .

## ۱۱ . د نظر ختميدو باوجود په سُنتو باندې د عمل کولو په خاطر په سترګو کې رانجه کول :

د ديوبند مشهور فقيه عالِم حضرت مولانا ګنګوهي رحمه الله په آخيري عُمر کې د څه بيماری په وجه د سترګو نظر ختم شوې وُ خو بيايې هم د شپې رانجه کول . چا ورته وويل :
رانجه خو خلق د سترګو د نظر تيزيدو د پاره کوي او ستاسو د سترګو نظر خو ختم شوې دی نو ته ولې رانجه کوی ؟

ده ورته وويل :

تاسو به رانجه د سترګو نظر تيزولو د پاره کوی ، او زما اګرچې نظر ختم شوې دی خو زه بيا هم د پيغمبر عليه السلام په سُنتو باندې د عمل کولو په خاطر د شپې رانجه کوم ، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د شپې رانجه کول . (۱)

(۱) خطبات فقير ج۳۲ ص ۴۶ .

# د رسول الله ﷺ اتباع نه کوونکو د پاره سزاګاني :

څوک چې د ژوند په هره مرحله کې د خوږ پیغمبر محمّد رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع نه کوي نو د داسې کس د پاره په شریعت کې ډیرې سزاګانې ذکر شوي، یو څو ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

## ۱. د نبي علیه السلام اِتباع نه کوونکې ګمراه دی

لکه څرنګ چې د الله ﷻ نافرماني کول ضلالت او ګمراهي ده نو دغه شان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرماني او د هغه د سنتو نه سَرغړونه کول هم ګمراهي او بدبختي ده.

الله رب العزت فرمایي :

﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِيْنًا ﴾. (۱)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو بیشکه هغه ګمراه شو په ښکاره ګمراهۍ سره.

بل ځای الله ﷻ فرمایي :

﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا ﴾. (۲)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو بیشکه د ده د پاره د جهنم اور دی، دوی به په هغې کې تل تر تله همیشه وي.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي :

لَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ. (۳)

که چیرته تاسو د نبي علیه السلام سُنت پرېږدئ نو ګمراه به شئ.

(۱) الاحزاب آیت ۳۶.

(۲) الجن ایت ۲۳.

(۳) ابوداؤد ج۱ حدیث ۳۱۱، مسلم ج۱ حدیث ۶۵۴ باب صلاة الجماعة من سُنن الهُدی.

# د رسول الله ﷺ اتباع نه کوونکو د پاره سزاګانې:

څوک چې د ژوند په هره مرحله کې د خوږ پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم اِتباع نه کوي نو د داسې کس د پاره په شریعت کې ډیرې سزاګانې ذکر شوي، یو څو ستاسو د وړاندې ذکر کوم:

## ۱. د نبي علیه السلام اِتباع نه کوونکې ګمراه دی

لکه څرنګ چې د الله ﷻ نافرماني کول ضلالت او ګمراهي ده نو دغه شان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرماني او د هغه د سنتو نه سَرغړوَنه کول هم ګمراهي او بدبختي ده.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾. (۱)

ترجمه: او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو بیشکه هغه ګمراه شو په ښکاره ګمراهۍ سره.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَإِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا ﴾. (۲)

ترجمه: او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو بیشکه د ده د پاره د جهنم اور دی، دوی به په هغې کې تل تر تله همیشه وي.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:

لَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ. (۳)

که چیرته تاسو د نبي علیه السلام سُنت پریږدئ نو ګمراه به شئ.

---

(۱) الاحزاب آیت ۳۶.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په یوه موقع وفرمایل:

وَإِنِّي لَأَخْشَى إِنْ تَرَكْتُ شَيْئًا مِنْ أَمْرِهِ أَنْ أَزِيغَ. (۱)

که چیرته زه د نبي علیه السلام یو اَمر پرېږدم نو بیشکه زه یرېږم چې د حق لارې نه به بې لارې شم.

**عبرت**: کله چې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه غوندې عظیم صحابي او خلیفه اول سره دا یَره ده چې که زه د پیغمبر علیه السلام یو حکم پرېږدم نو د حق لارې نه به بې لارې شم حالانکه که د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ایمان د ټول اُمت د ایمان سره وزن کړې شي نو دا به پرې دروند شي نو بیا خو زمونږ د پاره په طریقِ اولی د نبي علیه السلام د سُنتو د مخالفت نه ځان ساتل په کار دي، بلکه په هر حالت کې د پیغمبر علیه السلام اِتباع په کار ده.

یو شاعر وایي:

خلافِ پیمبر کسے رہ گزید ❁ که هرگز بمنزل نه خواهد رسید

د پیغمبر علیه السلام د طریقې خلاف که څوک بله لاره اختیار کړي نو هیڅ کله دې منزل مقصود ته نشي رسیدی.

## ۲. د سُنتو په پرېښودو نبي علیه السلام خفه کیږي

که انسان د ځان سره سوچ وکړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل اُمت د هدایت د پاره څومره تکلیفونه برداشت کړي، اکثر ټوله شپه به یې د اُمت د پاره په ژړا تیره کړه، او په هر حال کې یې اُمت یاد ساتلی، په عرفات کې، په منی کې او په مُزدلفه کې یې د اُمت د پاره دُعاګانې کړي، د خانه کعبې غِلاف نیولو سره، او د هر عبادت نه روستو یې د اُمت دپاره خاص دُعاګانې غوښتي. اوس چې کله د اُمت اعمال پیغمبر علیه السلام ته پیش کړې شي او په هغې کې سُنت پرېښودل هم وي نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم به څومره خفه شي چې دا خو زما هغه اُمت دی چې د دوی د پاره ما ډیر تکلیفونه برداشت کړي وو، شپې مې

---

(۱) بخاري کتاب فرض الخمس حدیث ۳۰۹۲.

رُونې کړې وی لیکن دوی ته زما شکل و صورت جوړول او زما په سُنتو عمل کول هم محبوب نه دي .

محترمو ! هیڅ عاشِق خپلې معشوقې ته تکلیف ورکول نه برداشت کوي ، نن چې مونږ په ابوجهل او ابولهب یا نورو کافرانو باندې لعنت لیږو نو دا ځکه چې هغوی زمونږ محبوب محمد رّسولُ اللهٰ صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسولې ؤ .

اوس مسلمان چیرته په خپل ګریوان کې دا سوچ کړی چې زما ددې اعمالو په وجه خو نبي علیه السلام ته تکلیف نه رسي ؟ ځکه د اُمت اعمال په جُمعه کې دوه پیرې نبي علیه السلام ته پیش کولې شي .

مثلاً ګیره پریخودل د نبي علیه السلام سُنت دي ، اوس چې پیغمبر علیه السلام ته د یو اُمتي د ګیرې خیرلو عمل پیش شي نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم به څومره خفه شي ؟ او د دوی زړه مبارک ته به په دې څومره تکلیف اورسي ؟

## د میرزا قتیل واقعه :

میرزا قتیل د دِهلي ( هندوستان ) یو مشهور شاعِر تیر شوی دی ، د پیغمبر علیه السلام په شان او صفت کې یې اُوږدې اُوږدې قصیدې او اشعار جوړ کړي ، د اِیران یو کس دده دا اَشعار واوریده نو ډیر متأثِره شو ، او په زړه کې یې د میرزا قتیل سره د ملاقات شوق راپیدا شو ، ځکه دده داګمان ؤ چې ګني دا به ډیر لوي عالِم او بزرګ انسان وي ، نو د اِیران نه دده د ملاقات د پاره روان شو ، کله چې دِهلي ته اورسیده ، نو په پوښتنه پوښتنه یې دده کور پیدا کړو ، دده پوښتنه یې وکړه ، کور واله ورته وویل چې بهر وتلې دی ، دې د هغه د تلاش پسې رااُووت ، د نایي ( حجام ) په دُکان کې یې ولیده چې ګیره یې خریله .

دې بزرګ چې کله میرزا صاحب په دې حالت کې ولیده نو حیران شو چې دا خوهغه شخصیت دی چې ده د پیغمبر علیه السلام په باره کې بهترینې قصیدې او اَشعار جوړ کړي حالانکه دې خو ګیره خری ، نو بې اِختیاره یې د خُولې نه اُووت :

آغا ریش ے تراشي ؟ صاحبه ! ته خو ګیره خری ، دا ولی ؟

دا شاعِر حاضِر جوابې ؤ ، دې کس ته یې جواب ورکړو :

ريش را مے تراشم ولے دلِ کسے نه مے خراشم.

ګيره خريم خو ليکن د چا زړه نه زخمي کوم (يعنی چاته تکليف نه ورکوم).

د شاعر مقصد دا وُ چې ګڼي ګيره خريل دومره غټه ګناه نه ده، بلکه د مسلمان زړه آزاره وَل او خفه کول غټه ګناه ده.

نو دې کس ورته عجيبه جواب ورکړو :

آرے دلِ رسول الله را مے خراشي.

(اې ظالِمه ! دا صحيح ده چې ته د چا مسلمان زړه نه زخمي کوی خو د سُنتو په پريخودو سره) ته خو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم زړه زخمي کوی.

يعنی کله چې ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سُنت پريږدی او ستا دا عمل پيغمبر عليه السلام ته پيش شي نو په دې سره رسول الله ﷺ خفه کيږي.

کله چې دې شاعر دا خبره واوريده نو ډير غټ آثر يې وربانديې وکړو، او د بې هوشۍ عجيبه کيفيت وربانديې راغی، کله چې په هوش کې راغی نو د ګيرې خريلو نه يې پخه توبه اُوويسته، او دې بزرګ ته يې وويل :

جَزَاکَ الله که چشمم باز کردي ❁ مارا باجانِ جان همراز کردي

الله تعالی دې تاته خير درکړي چې تا زما سترګې کلاوُ کړی، او تا زما رابطه زما د محبوب سره جوړه کړه. (۱)

**فايده** : معلومه شوه چې د سُنتو په پريخودو سره پيغمبر عليه السلام خفه کيږي.

خو افسوس د مسلمان په حال بانديې، که چيرته په يو کور کې د واده تياري کولې شي نو د کور د هر کس د خوشحالولو کوشش کولې شي، که څوک لرې خپلوان او دوست خفه شوې وي نو هغه هم راضي کولې شي، ليکن کله چې واده شروع شي نو بيا د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ښکلي سُنت او بهترينې طريقې د خپو لاندې کولې شي، او په هغې بانديې عمل نه شي کولی.

(۱) نوټ: د ګيرې متعلق تفصيلي بحث روستو په مُستقله موضوع کې راروان دی.

دغه رنګې که په کور کې څوک معمولي غونډې پياله يا لوخې مات کړي نو د کور واله خلق ورباندې خفه شي ، يوه څپېړه هم ورکړي ، ليکن که په کور کې خلق د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سُنت ماتوي او په هغې باندې عمل نه کوي نو د هيچا زره پرې نه خفه کيږي .

او ډيره عجيبه بيا دا ده چې يو کس د پيغمبر عليه ا لسلام په شان شکل و صورت هم نه جوړوي ، د هغه په شان اَخلاق هم په ځان کې نه پيدا کوي ، د هغه په سُنتو باندې عمل هم نه کوي خو بيا هم د پيغمبر عليه السلام د عِشق او محبت دعوىٰ کوي او د هغه د شفاعت طمعه ساتي . دا خو عجيبه عشق او عجيبه محبت دى . الله جل جلاله دې په مونږ کې دا اِحساس پيدا کړي چې د ژوند په هره مرحله کې د خپل خوږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په ښائسته سُنتو باندې عمل وکړو .

## ۳. د نبي عليه السلام په حکم باندې عمل نه کولو سره مسلمانانو ته تکليف رسيدل :

چې کله هم او په کوم ځاى کې هم د پيغمبر عليه السلام په يو حکم باندې عمل نه دې شوى ، يا د نبي عليه السلام د حکم خلاف وَرزي شوى ده نو هلته مسلمانانو ته سخت نقصان او تکليف رسيدلې دى .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾. (١)

ترجمه : پس څوک چې د الله د حکم ( يا د پيغمبر عليه السلام د حکم (٢) ) مخالفت کوي نو دوى له په کار دي چې دوى اُويريږي ددينه چې ( په دُنيا کې ) دوى ته مصيبت اورسيږي ، يا ( په آخرت کې ) ورته درد ناک عذاب اورسيږي .

(١) النور آيت ٦٣ .

(٢) ( يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهِ ) : في هاءِ الكناية قولان : احدهما : انها ترجعُ الى الله عز وجل . قاله مجاهد . والثاني : الى رسول الله صلى الله عليه وسلم . قاله قتادة . تفسير زاد المسير ج٣ ص ٣١٠ سورة النور آيت ٦٣ .

# د غزوه اُحد په واقعه کې د مسلمانانو د پاره عبرت

په غزوه اُحد کې چې کله د مسلمانانو نه د نبي علیه السلام د حکم په عملي کولو کې کوتاهي او اِجتهادي غلطي اوشوه نو ددې په وجه ورته سخت تکلیف اورسیده.

په سورة آل عمران کې الله رب العزت ددې واقعې تذکره کړې، پوره واقعه داسې ده:

کله چې د اُحد په میدان کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله د مسلمانانو صفونه مرتّب کړه نو د غره په سَر یو کنډاؤ باندې یې د حضرت عبدالله بن جُبیر ﷺ په مشرۍ کې پنځوس (٥٠) کسان تِیر انداز (غشي ویشتونکي) مقرر کړه، ځکه ددې طرفه دا خطره وه چې دُشمن د شا طرفه په مسلمانانو حمله او نه کړي. او نبي علیه السلام دې پنځوسو کسانو ته دا حکم وکړو چې تاسو به دا کنډاؤ په هیڅ حالت کې نه پرېږدئ، که مسلمانان غالِب شي یا مغلوب شي خو تاسو به هیڅ کله دا مرکز نه پرېږدئ، تر څو پورې چې ما درپسې څوک کس نه وي درلیږلی.

کله چې جنګ شروع شو نو مسلمانانو داسې په شجاعت او بهادرۍ سره مقابله وکړه چې کافران په شا اُوتختیده او مسلمانانو ته فتحه حاصله شوه.

مسلمانانو د مالِ غنیمت په راجمع کولو شروع وکړه، کله چې د غره په سَر ناستو پنځوسو کسانو دا منظر ولیده چې کافرانو شکست اوخوړ، په شا اوتختیده او مسلمانان د مالِ غنیمت په راجمع کولو کې مصروفه دي نو دوی کې بعضو دا ګمان وکړو چې کله مسلمانانو ته فتحه حاصله شوه نو بیا دلته په دې کنډاؤ باندې د پاتې کیدو ضرورت نشته، بلکه د مسلمانانو سره د مالِ غنیمت په راجمع کولو کې اِمداد په کار دی.

حضرت عبدالله بن جُبیر رضي الله عنه دوی ته وویل: آیا تاسو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه فرمان یاد نه دی چې هغوی فرمایلي وو چې تاسو به په هیڅ حالت دا ځای نه پرېږدئ؟

هغوی ورته وویل چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د حکم مقصد پوره شو (ځکه چې مسلمانانو ته فتحه حاصله شوه او کافران په شا اوتختیده) لهذا نور په دې ځای کې پاتې کیدو څه ضرورت نشته.

عبدالله بن جُبير رضي الله عنه او څه ملګرو یې وویل : مونږ خو د نبي علیه السلام په حکم باندې عمل کوو او ددې ځای نه نه ښکته کیږو . دوی ددې ځای د حفاظت د پاره هم دلته پاتې شو او باقي نور مسلمانان راښکته شو .

حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه چې لا تر اوسه مسلمان شوی نه ؤ دې په دغه وخت کې د کافرانو د لښکر " رسالې " کماندر ؤ ، ده چې دا ځای خالي اولیده نو د غر د شاته نه راتاؤ شو او د دغه کنډاؤ نه یې په مسلمانانو مضبوطه حمله وکړه ، حضرت عبدالله بن جبیر رضي الله عنه د خپلو یولسو ( ۱۱ ) ملګرو سره ددې فوج سخته مقابله وکړه خو د کافرانو د ډیروالي په وجه یې په شا او نه شو تمبولی ، آخر دا چې شهید شو .

مسلمانان چونکه د شا طرف نه د دشمن د راتلو نه مطمئن وو ، کله چې کافرانو نا څاپه د شا طرفه په مسلمانانو حمله وکړه ، او مخې ته چې د کافرانو کوم پیاده فوج تختیدلې ؤ هغوی چې دا ولیده چې زمونږ ملګرو پرې د شا طرفه حمله وکړه نو دوی هم دوباره راواپس شو او په مسلمانانو باندې یې د مخې طرفه حمله وکړه .

کله چې مسلمانان د دواړه طرفه ګیر شو نو سخت ګډ وډ ، بې انتظامه او خواره واره شو ، او مسلمانانو ته ډیر تکلیف اورسیده ، اویا ( ۷۰ ) صحابه کرام شهیدان شو ، د نبي علیه السلام غاښونه مبارک شهیدان شو ، او مخ مبارک یې زخمي شو .

( مفسرینو دا واقعه په پوره تفصیل سره ذکر کړې خو زه ورنه صرف مطلبي ځای راخلم ) :
ددې عارضي ماتې په وجه مسلمانانو ته ډیر تکلیف اورسیده ، تر دې چې د بعضې حضراتو په خُله باندې دا خبره هم راغله چې أَنَّىٰ هَٰذَا ؟ . (۱) دا مصیبت په مونږ باندې د کوم ځای نه راغلو ؟ ( حالانکه مونږ خو د اِسلام په حق دین باندې یو ، نبي علیه السلام د مونږ سره ملګرې دی ، او د دوی سره یو ځای د دین د سربلندۍ د پاره جهاد کوو (۲) ) .

---

(۱) پوره آیت داسې دی : أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . آل عمران آیت ۱۶۵ .

(۲) أَنَّىٰ هَٰذَا . قَالَ ابْنُ عباسٍ : مِنْ أَيْنَ أَصَابَنَا هَٰذَا وَنَحْنُ مُسْلِمُونَ ؟ . تفسیر زاد المسیر ج ۱ آل عمران آیت ۱۶۵ .

په همدې آيت کې الله رب العزت دا خبره هم واضحه کړه چې د دې تکليف او مصيبت سبب په حقيقت کې د دُشمن ډير والې او زيادت نه ؤ ، بلکه د دې سبب ستاسو ځنې کوتاهي ده چې تاسو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د حکم په عمَلي کولو کې کوتاهي وکړه ، هغه کنډاؤ مو پرېخود او لاندې ورنه رابښکته شوې . (١)

**خلاصه** : خلاصه دا چې د دې عارضي ماتې خوړلو اَصل سبب دا ؤ چې د غر په سَر (کنډاؤ) باندې غشي ويشتونکي ډله د پيغمبر عليه السلام په حکم باندې ولاړه پاتې نه شوه ، او ښکته راکوز شو .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ . (٢)

ترجمه : آيا هر کله چې تاسو ته (د اُحد په جنګ کې) داسې مصيبت اورسيده چې تاسو (د بَدر په جنګ کې) د دې په دوچند هغوی ته رسولې دی نو تاسو ووېل دا (مصيبت په مونږ باندې) د کوم ځای نه راغلو ؟ اې پيغمبره ته دوی ته ووايه چې دا تکليف تاسو ته د خپلو ځانونو د طرفه در رسيدلې دی (يعنی د تاسو نه د پيغمبر عليه السلام د حکم په عمَلي کولو کې کوتاهي اوشوه نو ځکه دا تکليف در اورسيده (٣)) بيشکه الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی .

---

(١) تفسير معارف القرآن لمولانا محمد ادريس کاندهلوي ج٢ ص ٦١ آل عمران آيت ١٣٠ ، و معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله آل عمران آيت ١٢١ ، ١٦٥ . الطريق الى الجنة ص ٦١١ .

(٢) آل عمران آيت ١٦٥ .

(٣) قَوْلُهُ تَعَالَى : ﴿ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾ : فِيهِ ثَلَاثَةُ أَقْوَالٍ : أَحَدُهَا : أَنَّ مَعْنَاهُ : بِأَخْذِكُمُ الْفِدَاءَ يَوْمَ بَدْرٍ ، قاله عمر بن الخطاب . وَالثَّانِي : أَنَّهُ جَرَى ذٰلِكَ بِمَعْصِيَةِ الرُّمَاةِ يَوْمَ أُحُدٍ ، وَتَرْكِهِمْ أَمْرَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قاله ابن عباس و مقاتل في آخرين . وَالثَّالِثُ : أَنَّهُ بِمُخَالَفَتِهِمِ الرَّسُوْلَ فِي الْخُرُوْجِ مِنَ الْمَدِيْنَةِ يَوْمَ أُحُدٍ ، فَإِنَّهُ أَمَرَهُمْ بِالتَّحَصُّنِ فِيْهَا ، فَقَالُوا : بَلْ نَخْرُجُ . قاله قتادةُ والزجّاجُ . تفسير زاد المسير ج١ ص ٣٣٤ آل عمران آيت ٦٥ .

**عبرت** په دې واقعه کې د مسلمانانو د پاره ډیر لوي عبرت پروت دی چې کله په غزوه أحد کې د بعضې مسلمانانو نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم په عمَلي کولو کې کوتاهي اوشوه ، او تر آخره پورې پرې قائم پاتې نه شو اګر چې دا یې اِجتهادي خطایي وه خو بیا هم مسلمانانو ته څومره سخت نقصان اورسیده .

نو اوس ستاسو څه ګمان دی چې په موجوده وخت کې مسلمانان د نبي علیه السلام بې شماره حکمونه پریږدي نو آیا په دوی باندې به مصیبتونه او عذابونه نه راځي ؟ بلکه خامخا به پرې راځي .

دغه وجه ده چې نن صبا مسلمانان سره د ډیرو وسائلو ، او سره د ډیر تعداده بیا هم په مصیبتونو او مشکلاتو کې ګرفتار دي . الله رب العزت دې مونږ ته په شریعت باندې د عمَل کولو او په دې باندې د مضبوط پاتې کیدو توفیق رانصیب کړي . آمین

## ۴ . د سُنتو په پریخودو د فرائضو نه محرومي

حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکلي :

مَنْ تَهَاوَنَ السُّنَّةَ عُوْقِبَ بِحِرْمَانِ الْفَرَائِضِ . (۱)

څوک چې د سُنتو په پریخودو کې سستي کوي ( او دا ورته سپک معلومیږي ) نو ده ته به د فرائضو نه د محرومتیا سزا ورکړې شي .

یعنی کوم کس چې بغیر د څه عذره مسلسل سُنت پریږدي او دا ورته سپک معلومیږي نو داسې انسان ته بیا د فرائضو اداء کولو توفیق هم نه نصیبه کیږي .

## د نبي ﷺ د سُنتو نه د اِعراض کولو په وجه په قبر کې د قبلې نه مخ اَوړیدل

ابواسحاق فزاري ته یوکفن کش وویل : ما به قبرونه کنیسته ، په دې کې ما داسې قبرونه هم لیدلي چې د مړي مخ به په قبر کې د قبلې نه راوړیدلې ؤ .

ابواسحاق فزاري وایي : ما ددې باره کې د اِمام اَوزاعي نه پوښتنه وکړه ( چې په قبر کې ددې خلقو مخونه ولې اوړیدلي ؟ ) هغه راته وویل : دوی ته دا عذاب څکه ورکولې شي چې

(۱) تفسیر عزیزي .

أُولٰئِکَ قَوْمٌ مَاتُوا عَلٰى غَيْرِ السُّنَّةِ . دا خلق په داسې حالت کې مړه شوي چې دوی به د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمل نه کولو ، او ددې نه به يې اعراض کولو . (١)

## ٥. د نبي ﷺ اطاعت نه کولو په وجه په قيامت کې د کافرانو پښيمانتيا

کافران چې کله د قيامت په ورځ دوزخ ته اُوغورځولې شي نو دوی به هلته لکه څرنګ چې د الله ﷻ د اِطاعت نه کولو په وجه افسوس او پښيمانتيا ښکاره کوي نو همدغه رنګې به د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د اِطاعت نه کولو په وجه به هم افسوس ښکاره کړي ، او د نَدامت لاسونه به مروړي خو هيڅ به ورته په ګوتو نه ورځي .

الله رب العزت په قرآن کريم کې ددې بيان داسې کړې دی :

﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا اللّٰهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴾ . (٢)

ترجمه : په کومه ورځ چې مخونه د کافرانو به په اُور د جهنم کې اَړولې راړولې شي نو دوی به ووايي اې کاش چې مونږ د الله اِطاعت کړې وی (يعنی د هغه حکمونه مو منلي وی ) ، او مونږ د رسول (صلى الله عليه وسلم ) اِطاعت کړې وی .

بل ځای الله جلّ جلاله فرمايي :

﴿ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ ... ﴾ . (٢)

ترجمه : په دغه ورځ (د قيامت ) به هغه خلق چا چې کفر کړې وي او د رسول نافرماني يې کړې وي دوی به دا آرزو وکړي چې کاش په دوی باندې زمکه هواره کړې شي . (يعنی کاش چې مونږه خاورې شو ، په خاوره کې يو ځای کړې شو ، او د خاورې حصه جوړ شو خو چې صرف ددې عذاب نه بچ شو ، ليکن د دوی دا آرزو ګانې او ندامت به هيڅ فايده دوی ته ورنه کړي ) .

---

(١) ابن ابی الدنيا ، ابن ابی الشيبه ، شرح الصدور باب ٢٧ باب عذاب القبر . ملک الموت والانبياء ص١٨٩ ) .

(٢) الاحزاب آيت ٦٦ .

(٢) النساء آيت ٤٢ .

# د نبي ﷺ د سُنتو او شرعي احکاماتو اتباع نه کولو اَسباب

کله چې يو انسان د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سُنتو تابعداري نه کوي يا په نورو شرعي احکاماتو باندې عمل نه کوي نو ددې د پاره څه اَسباب او موانع موجود دي چې د هغې په وجه دا کس د پيغمبر عليه السلام د صحيح اِتباع نه محرومه وي. اګر چې هر سبب دير اُوږد او تفصيلي دی خو زه به يې درته اِجمالاً ذکر کړم:

## ۱. د شرعي احکاماتو او سُنتو نه جهالت (او ناخبري)

کله چې يو انسان د شرعي احکاماتو يا د نبي عليه السلام د صحيح سُنتو نه جاهله او ناخبره وي نو خامخا به دا سړی د ګمراهۍ او ګناهونو په طرف روان، او د پيغمبر عليه السلام د صحيح اِتباع نه به محرومه وي.

دغه وجه ده چې شريعت انسان ته د علم حاصلولو ترغيب او فضائل بيان کړي، او د جهالت نه يې يرَولي دي.

## ۲. د خواهشاتو تابعداري کول:

د حق نه د اَوړيدو، په ګناهونو او ګمراهۍ کې د مبتلاء کيدو دويم غټ سبب دا دی چې انسان د صحيح نصوصو په ځای د نفسي خواهشاتو تابعداري کوي، دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې ځای په ځای د اِتّباعُ الهویٰ مذمت بيان شوی، او انسان ددينه يرَول شوي دي. (۱)

همدارنګې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په الله ﷻ سره ددينه پناه غوښته. (۲)

---

(۱) قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ القصص آيت ۵۰. وقال تعالى: ﴿أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً﴾ الجاثية آيت ۲۳.

(۲) نبي عليه السلام به دا دُعا کوله، اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ. صحيح، رواه الترمذي کتاب الدعوات حديث ۳۵۹۱.

## ۳. د بې دینه او ګمراه خلقو په مجلس کې کیناستل

کله چې یو نیک سړی د بې دینه او ګمراه خلقو په مجلس کې کیني نو په دې سره دا ګمراه خلق خپل ځان په حقه ګڼي ، بل دا چې هغوی دا نیک سړی هم په دې مجبوره کړي چې دهغوی غوندې د شریعت او سُنتو خلاف کارونو کې مشغوله شي .

دغه وجه ده چې اَسلافو د ګمراه خلقو سره د ناستې نه سخته منع کړې ده .(۱)

## ۴. د صحیح احادیثو په مقابله کې ضعیف او موضوع احادیثو ته ترجیح ورکول :

بعضې وخت انسان د صحیح او قوي احادیثو باوجود په ضعیف او موضوعي احادیثو باندې عمل کوي ، ځکه چې دې خو یا د قوي ، ضعیف او موضوع حدیث په مینځ کې تمییز نه شي کولی ، یا د علماؤ دې خبرې ته نظر کوي چې " په فضائلو کې په ضعیف حدیث هم عمل جائز دی " . حالانکه په ضعیف حدیث باندې د عمل کولو د پاره علماؤ خپل شرائط بیان کړي .(۲)

نو چې کله د صحیح احادیثو باوجود انسان په ضعیف یا موضوعي احادیثو باندې عمل کوي نو خامخا به دې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صحیح اِتباع نه محرومه وي .

## ۵. د باطل په مقابله کې د علماؤ سکوت

کله چې د باطل په مقابله کې علماء سکوت وکړي ، او حق آواز اُوچت نه کړي نو خامخا باطل قوي کیږي ، خلق بیا دا ګمان کوي چې ګڼي دا باطل په حقه دی ځکه یې ترقي وکړه نو

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَاسٍ رضي الله عنهما : لاتجالس اهل الأهواء فإنّ مجالستهم ممرضة للقلب . الابانة الكبرى لابن بطة ۲ / ۴۳۸ رقم ۳۷۱ . وقال مصعب بن سعدٍ : لاتجالس مفتونًا فإنّه لن يخطئك منه احدى اثنتين : إمّا أنْ يفتنك فتتابعه . وإمّا أن يؤذيك قبل أن تفارقه . لابن بطة ۲ / ۴۴۲ رقم ۳۸۵ .

(۲) په ضعیف حدیث باندې د عمل کولو یو څو شرائط درته بیانوم : اَهَمُّهَا : ألّا يعتقد عند العمل ثبوت الحديث لئلا ينسب الى النبي صلى الله عليه وسلم ما لم يقله . وألّا يكون الضعف شديدًا . وأنْ يكونَ الحكم الّذي يثبته الحديث الضعيف مندرجًا تحت اصلٍ عامٍ ليخرج بذلك ما لا أصل له والذي يمتنع تأسيس الاحكام وإثباتها عن طريق ما كان كذلك . الاعتصام للشاطبي ۱ / ۲۲۸ _ ۲۳۱ ، الطريق الى الجنة ص ۲۰۷ .

نتيجه يې دا را اوځي چې د پيغمبر عليه السلام د سُنتو اِتباع پاتې شي او د باطل پسې خلق روان شي . دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د حق پټوونکي د پاره سخت وعيدونه ذکر شوي . (١)

## ٦ . د قرآن کريم او احاديثو په مقابله کې عقل ته ترجيح ورکول

کله چې انسان د قرآن کريم او صحيح احاديثو باوجود عقل ته ترجيح ورکوي نو په دې سره دا انسان د حق د لارې نه ګمراه کيږي .

بيا خاصکر بعضې ګمراه فرقې داسې دي چې هغوی د ځان نه څه باطل عَقلي قواعد جوړ کړي ، بيا د قرآن کريم آياتونه او احاديث د هغې سره مقايِسه کوي نو که د هغې باطلو عقلي قواعدو برابر وو نو مني يې ، ګني نه يې مني .

حالانکه دا ګمراه خلق په دې هم نه پوهيږي چې عقل د هر شي اِدراک نه شي کولی ، بيا خاصکر چې کله قرآني نصوص او صحيح احاديث موجود وي نو ددې په مقابله کې د عقلي خُودساخته قواعدو هيڅ اِعتبار نشته ، بلکه مسلمان ته دا حکم دی چې دې به د شريعت هر حکم بغير د چُون و چرا نه مني ، که دده عقل هغې ته رسيدګي کوي او که نه .

---

(١) قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدٰى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُوْنَ ﴾ . البقرة آيت ١٥٩ .

علامه شوکاني ددې په تفسير کې ليکي : اګر چې دا آيت د يهودو او نصارىٰ په باره کې نازل شوی خو ليکن الفاظ يې عام دي ، مراد ورنه هر هغه څوک دی چې دې حق وينا پټوي ، ځکه " اِعتبار عموم د الفاظو لره دی نه خصوص د سبب لره " . فتح القدير ١ / ٢٣٨ .

وَفِي حَدِيْثِ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ . رواه ابوداؤد كتاب العلم ٣٦٥٨ ، والترمذي كتاب العلم حديث ٢٦٤٩ ، وابن ماجه في المقدمة حديث ٢٦١ ، واحمد ٢ / ٢٦٣ .

وَفِي رواية لابن ماجه قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ رَجُلٍ يَحْفَظُ عِلْمًا فَيَكْتُمُهُ إِلَّا أُتِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلْجَمًا بِلِجَامٍ مِنَ النَّارِ . رواه ابن ماجه حديث ٢٦١ .

## ۷. د قرآني آيتونو او صحيح احاديثو باوجود د گمراه او بې دينه مشرانو اتباع کول :

کله چې د انسان د وړاندې د قرآن کريم واضحه احکامات ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم قولي احاديث ، او د نيکانو اسلافو بهترينه نمونه موجود وي او دې بيا هم ددې په مقابله کې د خپلو بې دينه او گمراه مشرانو پيروي کوي نو يقيني خبره ده چې دا سړی د حق لارې نه گمراه ، او د نبي عليه السلام د طريقې خلاف روان دی .

قرآن کريم کې هم ددې خبرې مذمت بيان شوی دی . (۱)

(۱) قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَآ أَنزَلَ اللهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾ . المائدة آيت ۱۰۴ .
وقال عز وجلّ : ﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَآ أَطَعْنَا اللهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا . وَقَالُوا رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا . رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴾ . الاحزاب آيت ٦٦ ـ ٦٨ .

# ضروري فقهي مسائل

**نوټ** : ددې موضوع متعلق درته يو څو ضروري فقهي مسائل ذکر کوم :

## د مُنکرين حديث حکم :

اوله مسئله داده : چې څوک احاديث حجت نه ګڼي ، او د احاديثو نه مُنکر وي نو داسړې کافر دی . (۱)

ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث هم وَحي ده ( خو دا وَحي خَفي او غير مَتلو ده ) ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴾ (۲)

ترجمه : دا پيغمبر د خپل خواهشِ نفس نه خبرې نه کوي ( بلکه ) د دوی هره خبره وَحي ده چې په دوی نازلولې شي . لهذا که يو کس عقيدتًا د حَقارت په وجه د احاديثو نه اِنکار کوي نو په دې سره دا سړې کافر کيږي .

لما فی الهندية : مَن أنکر المتواتر فقد کفر ، ومن أنکر المشهور يکفر عند البعض ، وقال عيسی ابن ابان رحمه الله يُضل ولايکفر وهوالصحيح ، ومن انکر الخبر الواحد غير انه يأثم بترک القبول . هکذا فی الظهرية . (۳)

---

(۱) قال الله تعالی : ﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴾ الاية . وفی الهندية : من قرأ حديثًا من احاديث النبيّ صلی الله عليه وسلم فقال رجل " همه روز خلشها خوانند " قال إنْ اضاف ذلک الی القاري لا الی النّبي صلی الله عليه وسلم ينظر إن کان حديثا يتعلق بالدّين واحکام الشرع يکفر . هندية ج۲ ص ۲٦٦ احکام المرتدين منها ما يتعلق بالانبياء عليهم الصلاة والسلام ، فتاوی فريديه ج۱ ص ۱۱۴ .

(۲) النجم آيت ۳ ، ۴ .

(۳) الفتاوی الهندية ج۲ ص ۲٦۵ الباب التاسع احکام المرتدين . قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : وفی المحيط من قال لفقيه يذکر شيئًا من العلم او يُروی حديثًا صحيحا ( ای ثابتًا لاموضوعًا ) هذا ليس بشيء .... کفر . شرح الفقه الاکبر ص ۱۷۵ الفصل فی العلم والعلماء . و مثله فی فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۱۲ ص ۴۳۰ احکام المرتدين ، فتاوی حقانيه ج۱ ص ۲۱٦ .

## احاديثو ته "جَعلي داستانونه" ويونكي كس مُلحِد او زنديق دى

دويمه مسئله داده : چې څوک په احاديثو باندې تنقيد كوي او صحاحِ ستّهٔ ته جَعلي داستانونه ، يا ګند بَلا وايي نو داسې كس مُلحِد او زنديق دى .

او داسې كس چونكه مُنكِرِ حديث دى لهذا دده تعظيم او تكريم كول د دين توهين او د كفر خوَروونكي سره امداد كول دي. لهذا د مسلمان د پاره ددينه ځان ساتل لازمي دي . (١)

خلاصه دا چې د چا دا عقيده وي چې د احاديثو ټوله ذخيره د اِعتبار قابله او معتبره نه ده نو دا كفري عقيده ده ، په دې سره دا سړې د اِسلام نه اُوځي . (٢)

## د نبي عليه السلام د سُنتو توهين كول كفر دى

دريمه مسئله داده : چې كله په دليل شرعي سره ديو كار متعلق دا معلومه شي چې دا سُنت دى نو بيا دداسې سُنتو توهين كول ، يا اِستهزاء او ټوقې ورپورې كول كفر دى .

لما قال في الهندية : در روزِ عاشوراء يكے را ګويند كه سُرمه درين روز سُنت است او ګويد كارِ زنان ومخنثان بود كافر ګردد . (٣)

---

(١) فتاوى فريديه ج١ ص ١٠٠ .

(٢) وفي البزازية على هامش الهندية : إذا استخف بسنة او حديث من احاديثه عليه السلام كفر . وفي الهندية : مَن أنكر المتواتر فقد كفر ، ومن أنكر المشهور يكفر عند البعض ، وقال عيسى ابن ابان رحمه الله يُضل ولايكفر وهوالصحيح . الهندية ج٢ ص ٢١٥ ، فتاوى عثمانية لمولانا تقي عثماني دامت بركاتهم العالية ج١ ص ٧٧ فصل في كلمات الكفر و افعال الكفر .

(٣) الفتاوى الهندية ج٢ ص ٢٦٥ الباب التاسع احكام المرتدين . قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : بل بالمواظبة على ترك سنة استخفافا بها بسبب انه فعلها النبي صلى الله عليه وسلم زيادة او استقباحها كمن استقبح من اخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه . رد المحتار ج٣ ص ٢٢٢ باب المرتد ومثله في شرح الفقه الاكبر ص ١٥٢ استحلال المعصية صغيرة .... كفر ، فتاوى حقانيه ج١ ص ١٣٦ .

## د يو سُنت عمل د سُنتيت نه انکار کول کفر دی

ځلورمه مسئله داده : چې کله يو عمل سُنّت وي نو د هغې د سُنّتيت عقيده ساتل فرض دي ، او ددې د سُنّتيت نه اِنکار کول کفر دی .

مثلاً مسواک استعمالول سُنت دي نو ددې د سُنّتيت عقيده ساتل په انسان باندې فرض دي ، او ددې د سُنّتيت نه اِنکار کول کفر دی .

اَلسِّوَاکُ سُنَّةٌ ، وَاِعْتِقَادُ سُنِّيَّتِهٖ فَرْضٌ ، وَتَحْصِيْلُ عِلْمِهٖ سُنَّةٌ ، وَجُحُوْدُهٗ كُفْرٌ ، وَجَهْلُهٗ حِرْمَانٌ . وَتَرْكُهٗ عِتَابٌ اَوْ عِقَابٌ . (١)

مسواک استعمالول سُنت دي ، او ددې د سُنّتيت عقيده لرل فرض دي ، او ددې علم حاصلول سُنت دي ، او ددينه اِنکار کول کفر دی ، او ددينه نا واقفيت محرومي ده ، او ددې پريخودل باعث د عِتاب او عِقاب دي .

## د نبي عليه السلام په شان کې ګستاخي کوونکې کس مرتد او کافر دی

پنځمه مسئله داده چې : په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې د نبي عليه السلام په شان کې ګستاخي کول ، يا (نعوذُ بالله) کنځل ورته کول ، يا تکذيب يې کول ، يا په کې عيبونه راويستل کفر دی ، په دې سره دا انسان مرتد او د اِسلام نه خارجيږي ، او خپله ښځه وريانديې طلاقيږي . (٢)

(١) اکفار الملحدين ص ٦ بيان کثرة المتواترات فی الاحکام ، مجمع الانهر ٢ / ٥٠٧ ثم إن الفاظ الکفر انواع . فتاوی محمودية ج٢ ص ٣١٨ . رجلٌ قال لآخر : إحلِقْ رأسَکَ ، وقلم أظفارَک فانّ هذه سنةٌ . فقال : لَا أَفْعَلُ وَإِنْ کَانَ سُنّة . فَهٰذَا کُفْرٌ . لِاَنَّهٗ قال علی سبيلِ الإنکار والرَّدِ . وکذا سائر السُّنن خصوصًا فِي سنّة هي معروفةٌ وثبوتها بالتّواتر . مجمع الانهر ج١ ص ٦٩٢ کتاب السير باب المرتد طبع احياء التراث العربي ، ايضًا شرح فقه الاکبر ص ١٧٤ ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٨ ص ٢٩٠ تخريج شده ايڈيشن .

(٢) ايما رجلٍ مسلمٍ سبّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم اَوْ کذبَهٗ او عَابَهٗ او تنقصه فقد کَفَرَ بِالله تعالیٰ وَبَانَتْ منه امرأته ... شامي کراچي ج٤ ص ٢٣٢ باب المرتد مطلب مهم في حکم سب الانبياء ، کتاب الشفاء ٢ / ١٨٩ في بيان ما هو في حقه سب ، مجمع الانهر ٢ / ٤٨٢ قبيل باب المرتد ط. دارالکتب العلمية بيروت ، فتاوی محموديه ج٢ ص ٢٢٣ .

د داسې کس د پاره توبه، تجديد د ايمان، او تجديد د نکاح لازم دی، ځکه که توبه اونه باسي نو دا سړی مرتد واجبُ القتل دی. (١)

**نوټ**: خو ددې حکم عمَلي کولو (يعني د ګستاخِ رسول قتلولو) د پاره څه شرائط شته، د هغې لحاظ کول په کار دي. (٢)

ګستاخِ رسول که د توبې نه بغير مړ شي نو په اسلامي طريقې ...ره به دده تجهيز او تکفين نشي کولی، غُسل به نشي ورکولی، او مونځ د جنازې به هم پرې نه شي کولی، بلکه د سپي غوندې به په يوه کنده کې ورغورځولې شي. (٣)

که چيرته خُدا نخَواسته د يو مسلمان د خُلې نه د غلبهٔ جهالت، يا ضلالت په وجه داسې بې ادبي اوشي نو فورًا دې توبه اُوباسي، تجديد د ايمان دې وکړي، او تجديد د نکاح دې هم وکړي. (۴)

---

(١) ولفظ النتف: مَنْ سَبَّ الرّسولَ صلى الله عليه وسلم فإنَّه مُرْتَدٌّ. وحكمُه حكمُ المرتدِ، ويفعلُ به ما يفعلُ بالمرتد. وفي الشامي (تحت قوله وصرح في النتف ...) وَبَانَتْ منه امْرَأته. تَابَ وَإِلَّا قُتِلَ .... الدر المختار مع رد المحتار ۴ ... مطلب مهم في حكم سب الانبياء، شرح كتاب الشفاء ٢/ ۴٧٥ الباب الثاني في حكم سابه صلى الله عليه وسلم، البحر الرائق ٥/ ١٢٦ باب احكام المرتدين، فتاوى محموديه ج٢ ص ٢٢٢.

**نوټ**: علامه شامي رحمه الله په دې باندې مستقله رساله ليکلې "كتابُ تَنبِيْهِ الولاة والحكّام على أحكام شاتم خيرالأنام أوْ أحَدِ أصحابِه الكرام" ملحقه: مجموعه رسائل ابن عابدين. همدارنګې نورو علماؤ هم په دې موضوع رسالې ليکلې لکه "اَلصَّارِمُ الْمَسْلُوْل فِي شَاتِم الرّسول"، د دينه علاوه نور هم ډير کتابونه پرې ليکل شوي.

(٢) .... ورکنه: إقامة الامام او نائبه في الاقامة ... عالمكيري ج٢ ص ١۴٣ اول كتاب الحدود ط زكريا ديوبند، فتاوى محموديه ج٢ ص ٢٢٣.

(٣) امّا المرتد فيُلقى في حفرة كالكلب. وفي الشامية اى لا يغسل ولا يكفن. الدرالمختار مع الشامي ٣/ ١٣۴ باب صلاة الجنازة قبيل مطلب في حمل الميت، مجمع الانهر على مجمع الانهر ١/ ٢٧۴ باب صلاة الجنازة، مراقي الفلاح على الطحطاوي ص ۴٩٦ احكام الجنائز فصل السلطان احق بصلاته، فتاوى محموديه ج٢ ص ٢٢٥.

(۴) ... ماكان في كونه كفرا اختلاف يؤمر قائله بتجديد النكاح وبالتوبة والرجوع عن ذلك احتياطا. مجمع الانهر ٢/ ٥٠١ باب المرتد ط دارالكتب العلمية بيروت، المحيط البرهاني ٧/ ٣٩٩ النوع الاول في اجراء كلمة الكفر، فتاوى

# د ''اتباعِ سُنّت'' موضوع متعلق اَهم بحثونه

﴿ **د مقررينو د پاره ضروري تنبيه** : ددې موضوع متعلق درته يوڅو اَهم اوضروري بحثونه ذکر کوم ، اګر چې په دې بحثونو کې عِلمي رنګ ډير غالِب دی چې د عوامو د اِستعداد او سَوِيې نه اُوچت دي ، خو بيا هم بعضې ځايونه داسې وي چې هلته عِلمي او تحقيقي تقرير کولو ته ضرورت وي ، لهذا مقرِرين حضرات دې د موقع مناسب ځان ته ددينه اِنتخاب وکړي . اُميد شته چې تقرير به يې ډير مؤثر اوګرځي ﴾ . ابو الشمس عفي عنه

## د سُنتو لغوي او شرعي تحقيق :

سُنت په لغت کې '' طريقې '' او '' عادت '' ته وايي . (١)

او په اصطلاح کې علماؤ د سُنت مختلف تعريفونه کړي دي :

١ . سُنت هغې طريقې ته وايي په کومه باندې چې نبي ﷺ ژوند تير کړې وي . (٢) نورو ته يې ددې دعوت ورکړې وي ، اوصحابه کرامو په دې عمل کړې وي . (٣)

٢ . يا : سُنت هغې ته وايي چې د نبي عليه السلام نه قولاً ، فِعلاً يا تقريرًا منقول وي . (٤)

٣ . محقق ابن همام رحمه الله د سُنتو مفهوم خلفاءِ راشدينو ته هم عام کړی ، هغه يې تعريف داسې کوي : وَسُنَّتُهُ : اَلطَّرِيْقَةُ الدِّيْنِيَّةُ مِنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَالْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ .

۴ . علامه شامي رحمه الله هم د سُنتِ مؤکده تعريف عام کوي ، دې وايي :

اِنْ كَانَ مِمَّا وَاظَبَ عَلَيْهِ الرَّسُوْلُ صلّى اللهُ عليه وسلّمَ اَوِ الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ مِنْ بَعْدُ فَسُنَّةٌ . (٥)

---

(١) اَلسُّنَّةُ فِي اللغة الطريقةُ ( مرضيةً كانت او غير مرضية ) . والعادةُ . التعريفات للسيد شريف الجرجاني الحنفي ص ٨٨

(٢) وفي الشريعة : هي الطريقةُ المسلوكةُ في الدِّينِ مِن غيرِ افتراضٍ وُجوبٍ . التعريفات للسيد شريف الجرجاني الحنفي ص ٨٨ .

(٣) ندائے ممبر و محراب ج٧ ص ١٦٨ .

(۴) جامع الرموز .

(٥) الشامي ١ / ٧٠ .

۵. علامه عبدالحي فرنګي محلي رحمه الله په " ظفر الاماني في مختصر الجرجاني " کې د سُنتو تعريف داسې کړی :

اِنَّ السُّنَّةَ تُطْلَقُ عَلیٰ قَوْلِ الرَّسُوْلِ صَلَّی اللّٰهُ عليه وسلّم وَفِعْلِهٖ وَسُکُوْتِهٖ وَطَرِيْقَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ .

٦. په " طحطاوي على المراقي " کې د سُنتو تعريف داسې ذکر دی :

مَافَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عليه وسلّم اَوْ وَاحِدٌ من الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ . (١)

**نوټ** : د اهلِ عِلمو په نزد سُنت او حديث مترادف الفاظ دي ، معنی د دواړو يوه ده ، البته محدثين په دې دواړو کې فرق کوي چې :

حديث هغې ته وايي چې نبي عليه السلام ته منسوب وي که هغه ضعيف وي ، که موضوع وي او که شاذ وي . دې ټولو ته حديث وايي .

او سُنت هغې طريقې ته وايي چې د صحيح احاديثو په بناء د نبي عليه السلام نه ثابت وي . (٢)

## د سُنتو اقسام :

سُنت يا په دوه (٢) قِسمه دي :

١. سُنتِ هُدیٰ (ديته سنتِ مؤکده هم وايي) .

٢. سنتِ زوائِد ( ديته سنتِ غير مؤکده هم وايي ) .

سُنَنِ هُدیٰ هغې ته وايي چې نبي عليه السلام ورياندې په طريقې د عبادت مواظَبَت کړې وي او بغير د عُذره يې نه وي پريخي ، البته کله کله يې پريخي هم وي . لکه د جَمعې مونځ ، آذان کول ، اِقامت کول .

د سُنتِ مؤکده په کولو سره ددين تکميل راځي ، او بغير عُذره ددې پريخودونکې ملامته دی .

---

(١) طحطاوي على المراقي ص ٥١ .

(٢) ثنائے ممبر ومحراب ج٧ ص ١٧١.

يعنى سُنتِ مؤكده په حکم د واجبو کې دي مګر فرق يې د واجبو سره دادی چې بغير د عُذره د واجبو په پرېښودو سره انسان د عقاب او جزا مستحق ګرځي . او د سُنتِ مؤکده په پرېښودو سره انسان د عقاب مستحق نه ګرځي البته مُستحق د ملامتيا ګرځي . (١)

سُنتِ زوائد ( يعنى سُنت غير مؤكده ) هغه دي چې نبي عليه السلام په طريقې د عادت سره کړي وي . لکه په ولاړه ، ناسته ، خوراک او څکاک کې د نبي عليه السلام عادات مبارکه شو .

ددې حکم دادی چې ددې په کولو کې ثواب دی ، او پرېښودل يې باعث د ملامتيا او کراهت نه دي . (٢)

## د سُنتو يو بل تقسيم

د سُنتو يو بل تقسيم هم شته ، هغه دا چې سُنت په درې ( ٣ ) قسمه دي :

١ . قولي ٢ . فِعلي ٣ . تقريري .

د سُنتِ قولي نه مراد د پيغمبر ﷺ هغه اَقوال دي کوم چې دوی اُمت ته بيان کړي .

---

(١) فَالسُّنَّةُ : مَا وَاظَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عليها مع التَّرْكِ اَحْيَانًا ، فَإِنْ كَانَتِ الْمواظبةُ المذكورةُ على سبيلِ العبادةِ " فَسُنَنُ الْهُدٰى " ، وَيُقَالُ لَهَا " السُّنَّةُ الْمُؤَكَّدَةُ " اَيْضًا ، كَالْاَذَانِ وَالْإِقَامَةِ وَالسُّنَنِ . فسنةُ الهُدى ما يكون اقامتها تكميلًا للدين وهي التي تتعلق بتركها كراهةٌ او إساءة . وَحُكْمُهُ كَالْوَاجِبِ ، اى الْمُطَالَبَةُ فى الدُّنْيَا إلا اَنَّ تَارِكَ الْوَاجِبِ يُعَاقَبُ وَتَارِكَ السُّنَنِ غَيْرُ مُعَاقَبٍ . التعريفات للعلامه السيد شريف الجرجاني ص ٨٨ ، وماخود از شرح وقايه وشامي ١ /٧٠ . امام غزالي رحمه الله په " الاربعين " کې ذکر کړي چې بغير د عُذره سُنتِ مؤکده پرېښودل يا کفرِ خفي دی او يا حماقتِ جلي دی ، دې ليکي : أَمَّا فِي الْعِبَادَاتِ فَلَا أَعْرِفُ لِتَرْكِ السُّنَّةِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَجْهًا إِلَّا كُفْرٌ خَفِيٌّ اَوْ حُمْقٌ جَلِيٌّ . زما په نزد بغير د عُذره سنتِ مؤکده پرېښودلو د پاره وجه يا خو کفرِ خفي دی ، يا حماقتِ جلي دی . او بيا وجه ورته هم ذکر کوي چې کله يو سړی د پيغمبر عليه السلام دا حديث واوري چې د جَمعې سره مونځ ځان له مونځ نه يو په اُووه ويشت درجې افضل دی ( او د جَمعې سره مونځ چونکه سنتِ مؤکده دی ) نو او س چې يو سړی دا سُنتِ مؤکده پرېږدي نو يا خو دا سړی اَحمق دی ، او يا غافله ، جاهله او ناپوهه دی . الاربعين ص ٦٢ .

(٢) وإن كانت على سبيلِ العادةِ فَسُنَنُ الزَّوَائِدِ . إقامتها حسنة ولايتعلقُ بتركها كراهة ولا إساءة ، كَسِيَرِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم في قيامه وقعوده ولِباسه وأكْلِهِ . التعريفات للعلامه السيد شريف الجرجاني ص ٨٨ ، وماخود از شرح وقايه وشامي ١ /٧٠ .

د سُنتِ فعلي نه مراد دادی چې صحابه کرامو ذکر کړي وي چې په فلانی موقع نبي علیه السلام دا عمل کړې دی .

د سُنتِ تقریري نه مراد دادی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وړاندې چا یو کار کړې وي ، دوی لیدلې وي خو بیا یې هم منع کړې نه وي ، بلکه خاموشي یې ورباندې اختیار کړې وي .

نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا چپ پاتې کیدل هم ددې دلیل دی چې دا کار جائز دی . ځکه که دا کار ناجائز وی نو بیا به نبي علیه السلام ضرور دې منع کړې وی . (۱)

## په کتابي شکل کې د احادیثو د لیکلو او تدوین زمانه

د صحابه کرامو په دور کې جزوي طریقي سره به احادیث لیکلې شو خو لیکن باقاعده د احادیثو تدوین د دوه (۲) وجوهاتو د وجې نه ؤ شوی :

۱. یو خو د قرآن کریم سره د اِلتباس راتلو په وجه صحابه کرام د احادیثو د لیکلو نه منع شوي وو .

۲ . دویم دا چې صحابه کرامو ته د احادیثو د تدوین ضرورت هم نه ؤ ، ځکه الله ﷻ دوی ته قوي حافظې ورکړې وی چې بغیر د لیکلو نه ورته احادیث یاد وو .

خو لیکن چې کله د تابعینو دَور راغی او د اِسلام په نوم باندې ډیرې باطلې فرقې پیداشوی ، چې هغوی به د خپل ځان نه احادیث جوړول ، او د خپلې مرضی خلاف احادیث یې د دین نه ویستل ګناه نه ګڼل نو په دغه وخت کې ضرورت پیداشو چې د احادیثو باقاعده تدوین وکړې شي ، ددې د پاره چې صحیح احادیث د نورو نه راجدا شي .

د همدې د وجې نه عُمربن عبدالعزیز رحمه الله په خپل دورِ حکومت کې یو فرمان جاري کړې ؤ او په هغې کې یې د اهلِ عِلمو نه دا مطالبه کړې وه چې تاسو د نبي علیه السلام احادیث راجمع کړئ . نو علماؤ د احادیثو راجمع کولو کار شروع کړو .

(۱) ندائے ممبر و محراب ج۷ ص ۱۶۸ .

چونکه عُمربن عبدالعزيز په يو سل او يو (١٠١) هجري کې وفات شوې وُ ، ددينه دامعلوميږي چې احاديثو د ليکلو باقاعده تدوين د اولې صدۍ په آخر کې او د دويمې صدۍ په اول کې شروع شوې دی. (١)

## احاديثو ته د فنّي حيثيت ورکوونکي (يعنی مُدَوِّن اوّل) په باره کې نور علمي تحقيق :

د نبي عليه الصلوة والسلام احاديثو ته په کتابي شکل کې چې چا د فن حيثيت ورکړی نو ددې مُدوّنِ اوّل په باره کې دوه (٢) راې دي :

١. حافظ ابن حجر رحمه الله ذکر کړي چې ددې مدوِّن اوّل ابن شهاب زهري رحمه الله دی (دده پوره سلسله نسب داسې ده : محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن حارث بن زهره بن کلاب). (٢)

همدغه رنګې ابونعيم په "حلية الاولياء" کې د امام مالک رحمه الله قول ذکر کړی چې د احاديثو مدوِّن اوّل ابن شهاب زهري رحمه الله دی. (٣)

---

(١) لما قال ابنُ حجر رحمه الله : اِعلم علّمني واياک انّ آثار النبيّ صلى الله عليه وسلم لم تكنْ في عصر اَصحابه وكبار تبعهم مدوّنة في الجوامع ولامرتّبة لأمرين: أحدهما أنهم كانوا في ابتداء الأمر قد نهوا عن ذلک كما ثبت في صحيح مسلم خشية انْ يتخلّط بعض ذلک بالقرآن العظيم . وثانيهما لِسعة حفظهم وسيلان اذهانهم . ولانّ اكثرهم لايعرفون الكتابة . ثم حدث في اواخر عصر التابعين تدوين الآثار وتبويب الاخبار لما انتشر العلماء في الامصار وكثر الابتداع من الخوارج والروافض ومنكرى الاقدار ... هدى الساري مقدمه فتح الباري الفصل الاول ج١ ص ٢. همدارنګې په ارشاد الساري شرح صحيح البخاري کې ذکر دي : وكانَ اوّلُ مَنْ اَمَرَ بتدوينِ الحديثِ وجمعه بالكتابة عُمربنُ عبدالعزيز رحمه الله خوفَ اندراسه . اخرج ابونعيم في تاريخ اصبهان عن عُمربن عبدالعزيز رحمه الله انه كتب الى اهْل الآفاق اُنْظُرُوْا الى حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم فاجمعوه . ارشاد الساري للقسطلاني رحمه الله الفصل الثانى في ذكر اوّل من دوّن الحديث والسّنن ج١ ص ٧ ، فتاوى حقانيه ج٢ ص ١٨٩ ، ١٩٠ كتاب ما يتعلق بالحديث.

(٢) فتح الباري باب كتابة العلم ج١ ص٢٠٨.

(٣) حلية الاولياء ج٣ ص٣٦٣.

# دنبي عليه السلام سره د محبت كولو تقاضا او د هغې علامات

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره د محبت كولو څه تقاضې او علامات دي چې انسان به د هغې لحاظ ساتي. يو څو ستاسو د وړاندې بيانوم:

## ١. د نبي عليه السلام د سُنتو اِتباع كول

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره د محبت كولو اوله تقاضا او علامه داده چې دا سړې به د خپل پيغمبر كلكه اِتباع كوي، د هغوی د سُنتو پيروي به كوي، د هغوی د اَقوالو، اَفعالو او اَوامرو لحاظ به ساتي، او د كومو شيانو نه چې هغوی منع كړې د هغې نه به پرهيز كوي نو بيا به دا انسان په دې محبت كې رېښتينې وي.

بل دا چې په محبت كې حِكمتونه او مصلحتونه نشي تلاش كولی چې ګني دا كار ولې وكړم؟ په دې كې څه فايده او څه فلسفه ده؟ بلكه چې د چا د خپل پيغمبر سره محبت وي هغه بغير د چون و چرا نه د هغه اِتباع كوي، او د هغه هر حكم به په سَر، سترګو مني.

بل دا چې د محبت تقاضا داده چې د محبوب هر شی به دده خوښ وي، د هغه جامې - هغه پټكې، د هغه شكل و صورت او د هغه اخلاق به دده ته خوَند وركوي او خپلوي به يې.

اوس چې يو انسان كوټ پتلون اغوستي وي، ګيره يې خريلې وي، شكل يې د انګريزانو جوړ كړې وي، ټايي يې اچولې وي، روټۍ په ولاړه خُوري، اَخلاق او تهذيب يې د غيرمسلمو وي، او په خُله باندې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د محبت دعوىٰ كوي نو دا څنګه محبت دی؟

كه دده په زړه كې يقيني د نبي عليه السلام سره محبت وی نو بيا به يې ظاهري شكل و صورت او لباس هم د پيغمبر عليه السلام په شان وُ. ځكه دا ظاهِر خو د باطِن ترجَمان دی، خو معلوميږي چې يقيني محبت يې د نبي عليه السلام سره نشته.

په دُنيا كې كه مونږ اوګورو نو وړوكې ماشوم چې كله نوې نوې خبرې شروع كړي نو اكثر دې شيانو ته نيمګړې او بدل نوم اخلي: لكه اُوبو ته " بَه " وايي، او روټۍ ته " پَه‌پَا " وايي. ددې ماشوم مور او پلار چې كله ددې بچي سره خبرې كوي نو دوی هم دې شيانو ته همدغه شان نيمګړې نوم اَخلي، حالانكه دوی په صحيح نوم اخيستلو قادِر

وي. دا ځکه چې د دوی دې بچي سره مينه وي نو دده د خُلې نه چې څنګه لفظ راؤځي دوی هم ورته هماغه شان نوم اَخلي.

دغه شان چې د چا د پيغمبر عليه السلام سره مينه وي نو دې به هم هر کار د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم په طريقه او د هغوی په نقشِ قدم باندې کوي.

## محبت هغه دی چې په ظاهري وجود يې اَثرات ښکاري

محترمو صحيح محبت هغه دی چې د هغې اَثرات په ظاهري وجود باندې هم ښکاره شي، انسان د خپل محبوب په اِتباع باندې راضي کړي، او دده په اَعمالو باندې اَثر وکړي.

اوس چې يو ... ړی صرف په خُله باندې د نبي عليه السلام د محبت دعوی کوي خو ظاهري شکل يې د هغوی په شان نه دی، د هغوی اِتباع نه کوي، او دهغوی په شان اَعمال نه کوي نو دا محبت نه دی بلکه هسې دُهوکه ده.

دا څنګه محبت دی چې په زړه کې پټ دی او ظاهري څه اثرات يې نه ښکاري؟

**مثال**: ددې خو داسې مثال دی لکه يو سړي زمکه خرڅوله، او ويل يې چې دا ډيره بهترينه د کروَندې زمکه ده، کله چې اخيستونکې د زمکې ليدو له راغی نو وې کتل چې شاړه زمکه ده، هيڅ کروَنده په کې نشته، د هغه نه يې پوښتنه وکړه چې: هغه زمکه چيرته ده کومه چې تا يادوله؟ هغه ورته وويل: هغه همدا زمکه ده په کومه چې ته ولاړ يې خو ددې په ظاهري شکل مه تيروَځه ځکه دا دَننه ډيره بهترينه زمکه ده. ده دا ګمان وکړو چې ګنې ددې سړي مقصد دادی چې که ددې سره خَواري اوشي، اُوبه شي، واړولې شي او تخم په کې اُوکرَلې شي نو دا به زَرخيزه شي.

بهر حال زمکه يې ورنه واخيسته، کله چې ده اُوبه کړه، واېې ړوله او تخم يې په کې واچول نو دې زمکې هيڅ شی رازرغون نه کړو ځکه دا شاړه زمکه وه، د کروَندې قابله نه وه، هغه تخم يې هم ضائع کړو. دې واپس د زمکې مالِک ته راغی او ورته وې ويل: تا خو ويل چې دا ډيره بهترينه زمکه ده. نو دې خو هيڅ شی رازرغون نه کړو. هغه ورته مسلسل همدا يوه خبره کوله چې ددې په دې ظاهري شکل مه تيروَځه دا زمکه دَننه ډيره بهترينه زمکه ده.

نو په دَننه به يې څه وکړي چې بهر څه نه رازرغونوي؟

همدغه شان حالت د نن صبا عاشقانو هم دی چې په خُله باندې دا وايي چې زمونږ په زړه کې د پيغمبر عليه الصلوة والسلام سره محبت دی . نو په داسې محبت به څه وکړی چې صرف دَننه پټ وي ، په ظاهر يې هيڅ اَثر نه ښکاري ؟ نه د نبي عليه السلام په شان شکل و صورت جوړوي ،او نه دهغوی اِتباع کوي . لهذا دا محبت نه دی بلکه ښکاره دُهوکه ده .

خلاصه دا چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره د محبت د پاره د هغوی د سُنتو اِتباع ضروري ده ، بغير ددې نه دا انسان د محبت په دې دعویٰ کې دروغجن دی .

حاتمِ زاهد وايي :

مَنِ ادَّعٰی حُبَّ النَّبِيِّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ اِتِّبَاعِ السُّنَّةِ فَهُوَ كَذَّابٌ . (١)

څوک چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د محبت دعویٰ کوي خو دهغوی د سُنتو اِتباع نه کوي نو دا سړی په خپله دعوی کې دروغجن دی .

## ٢ . د نبي عليه السلام سره د تعلق لرونکو شيانو تعظيم کول :

د محبت دويمه تقاضا او علامه داده چې انسان به دټولو هغه شيانو تعظيم کوي او محبت به ورسره کوي کوم چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره تعلق لري لکه : د هغوی د ښار ( مکې معظمې او مدينې منوّرې ) تعظيم کول ، د هغوی د ملګرو يعنی صحابه کرامو تعظيم کول ، او دهغوی د سُنتو تعظيم کول . د اَسلافو په زړونو کې چې ددې شيانو څومره عزت ؤ د هغې يو څو نمونې ستاسو دوړاندې بيانوم :

### ١ . د حضرت عمر ﷺ د حضرت اسامة ﷺ سره محبت کول :

د ترمذي شريف حديث دی چې حضرت عمر ﷺ په خپل دورِ خلافت کې د حضرت اُسامة بن زيد رضي الله عنه وظيفه د خپل ځوي " عبدالله " په نسبت ډيره مقرر کړې وه . يوه ورځ عبدالله دې خپل پلار ته ووېل :

تاسو اُسامه ﷺ ته په ما باندې ولې ترجيح ورکوئ او د هغوی وظيفه مو په ما ولې زياته کړې ؟ قسَم په الله ﷻ ، هغه خو د ما نه په هيڅ ميدان کې نه دې مخکې شوی .

(١) درّة الناصحين ص ٦٩ بحواله تنبيه الغافلين .

حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل:

لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيْكَ . وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ مِنْكَ . فَآثَرْتُ حُبَّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حُبِّيْ . (١)

(زه هغه ته ستا په نسبت ترجيح ورکوم دا) ځکه چې (د حضرت أسامه رضي الله عنه پلار) حضرت زيد رضي الله عنه نبي عليه السلام ته ستا د پلار (يعنی د ما نه) ډير محبوب ؤ، او په خپله أسامة رضي الله عنه نبي عليه السلام ته د تا نه ډير محبوب ؤ (نو چونکه د حضرت أسامة رضي الله عنه او د هغه پلار حضرت زيد رضي الله عنه سره د نبي کريم صلی الله عليه وسلم محبت زيات ؤ) نو زه هم د نبي عليه السلام محبت ته په خپل محبت باندې ترجيح ورکوم (او حضرت أسامة رضي الله عنه سره ستا په نسبت زيات ډير محبت کوم).

## ۲. امام مالك رحمه الله او د احاديثو تعظيم

امام مالک رحمه الله له به چې څوک راغله نو چې د مسائلو د پوښتنې د پاره به راغلي وو نو مجلس ته به يې راأوغ ښت او د مسائلو جوابونه به يې ورکړه او که ورته به معلومه شوه چې د احاديثو أوريدو د پاره راغلي دي نو دوی به غُسل وکړو، په ښائسته جامې به يې واغوستې، چوغه به يې واغوسته، پټکې به يې أوتړل، ګيره به يې ګومنزه کړه، خوشبو به يې أولړوله، په بهترين شان سره به کيناست، او بيا به يې د نبي عليه السلام احاديث بيانول. (٢)

(١) عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ فَرَضَ لِأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فِيْ ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ . وَفَرَضَ لِعَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ فِيْ ثَلَاثَةِ آلَافٍ . قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيْهِ : لِمَ فَضَّلْتَ أُسَامَةَ عَلَيَّ؟ فَوَاللهِ مَا سَبَقَنِيْ إِلٰى مَشْهَدٍ . قَالَ : لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيْكَ . وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ مِنْكَ . فَآثَرْتُ حُبَّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حُبِّيْ . ترمذي باب مناقب زيد بن حارثة رضي الله عنه حديث ٣٨١٣ .

(٢) قَالَ ابْنُ كَثِيْرٍ رَحِمَهُ اللهُ : كَانَ الْإِمَامُ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُحَدِّثَ تَنَظَّفَ . وَتَطَيَّبَ . وَسَرَّحَ لِحْيَتَهُ . وَلَبِسَ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ . البداية والنهاية ١٠ / ١٨٠ ، نضرة النعيم ج٣ ص ١٠٤٣ تعظيم الحرمات .

### ۳ . سعيد بن المسيب رحمه الله او د احاديثو تعظيم :

د سعيد بن المسيب رحمه الله د مرګ آخيري وخت ؤ ، په کټ کې پروت ؤ . چا ورنه د يو حديث په باره کې پوښتنه وکړه ، نو ده خلقو ته وويل : ما راپاڅوئ او په کټ کې مې کينوئ چې حديث درته بيان کړم .

هغوی ورته وويل : په کيناستو کې تاته تکليف ډير دی ، ته مه راکينه . ده ورته وويل : زه دا نه خوښوم چې په ملاسته باندې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم حديث بيان کړم (ځکه دا د آدب خلاف ده) .

نو چې کله راکينولې شو او حديث يې بيان کړو ، نو د حديث بيانولو نه روستو متصل ځملاست ، کلمه شهادت يې وويله او په همدغه وخت کې وفات شو . (۱)

### ٤ . عبدالله بن مبارك رحمه الله او د احاديثو تعظيم :

د عبدالله بن مبارک رحمه الله په زړه کې د نبي عليه السلام د احاديثو داسې آدب ؤ چې که چا به په روانه کې د دوی نه د حديث پوښتنه وکړه نو دوی به جواب نه ورکولو . (۲)

### ۵ . امام بخاري رحمه الله او د احاديثو تعظيم :

امام بخاري رحمه الله چې " صحيح البخاري " ليکله نو د احاديثو د تعظيم د وجې يې د هر حديث د ليکلو نه مخکې تازه غُسل کړی ، او دوه رکعته مونځ يې کړی ، بيا يې حديث ليکلې دی . دغه وجه ده چې په ټوله دُنيا کې د قرآن کريم نه پس صحيح البخاري ته مقبوليت ملاؤ شو . دا صرف د حضور صلی الله عليه وسلم د احاديثو د تعظيم په وجه ، ورنه د صحيح احاديثو کتابونه خو نور هم بې شماره دي . (۳)

### ٦ . عُمربن عبدالعزيز د نبي ﷺ خط په خپلو سترګو او مخ اوموږل

عُمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو خط راوړې شو ، ده چې اُوليده نو ډير په آدب يې راواخيست او د تبرُک د پاره يې په خپلو سترګو او مخ باندې

---

(۱) مدارج النبوّة ج۱ ص ۵۴۱ ، اصلاحي حکايات ص ٦١ ، خطبات فقير ج۳۴ ص ۳٦ .

(۲) خطبات فقير ج۳۴ ص ۳٦ .

(۳) محدثين عظام .

اُومږل. ددې دپاره چې ددې خط کومې حصې سره د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم لاس مبارک لږیدلې دی هغه حصه دده د سترګو او مخ سره اُولږي. (١)

### ٧. امام مالك رحمه الله او د مدینې منورې تعظیم :

امام مالک رحمه الله په مدینه منوّره کې په سورلۍ نه سوَریده، چا ورنه پوښتنه وکړه: چې تاسو په مدینه منوره کې په سوَرلۍ ولې نه سوَرېږئ؟ نو دوی ورته ووېل:

ما ته حیاء راځي (او دا زما خوښه نه ده) چې په کومه خاوره باندې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم قدم مبارک ایښې زه هغه خاوره د خپلې سورلۍ په خپو باندې پائمال کړم. ( یعنی زه دا بې اَدبي ګڼړم چې په کوم ځای باندې نبي علیه الصلوة والسلام قدم مبارک ایښې دی په هغه ځای باندې زما د ځاروي خپې راشي ).

بلکه د امام مالک رحمه الله په باره کې دا هم نقل دي چې کله بهٔ دې مسجد نبوي ته رانزدې شو نو د لرې نه به یې خپلې څپلۍ اُوویستی، او پیاده به د هغه ځای نه راروان ؤ. (٢)

### ٨. د مدینې منورې نه راغلې کپړې سره دمولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله مینه :

د دیوبند په عُلماؤ کې مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله یو فقِیه او تکړه عالِم تیر شوی، ده ته یو حاجي د مدینې منوّرې نه څه کپړه راوړه، او ورته ورېي کړه، ده هغه کپړه ډیره په اَدب سره واخیسته، اول یې ځَپ ( ښُکل ) کړه، او بیا یې ډیر په تعظیم سره په خپل سَر کیښوده. ورسره ناست شاګردانو ورته ووېل:

جناب! دا کپړه خو په مدینه منوّره کې نه ده جوړه شوی بلکه دا خو د فلانکي مُلک کپړه ده، د مدینې تاجرانو ورنه اخیستې ده، او بیا یې په حاجیانو خرڅوي.

---

(١) وَقَدْ هِلَالُ بْنُ سِرَاجِ بْنِ مَجَّاعَةَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللهُ بَعْدَ مَا وَلِيَ الْخِلَافَةَ بِكِتَابٍ كَتَبَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَجَّاعَةَ فَأَخَذَهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ وَوَضَعَهُ عَلَى عَيْنَيْهِ وَمَسَحَ بِهِ وَجْهَهُ رَجَاءَ أَنْ يُصِيْبَ وَجْهُهُ مَوْضِعَ يَدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . لسان العرب ٤/٢٣٠٧، نضرة النعيم ج٣ ص ١٠٤٢.

(٢) خطبات فقیر ج٣٤ ص٣٨، ٣٩.

ده ورته وويل : ماته معلومه ده چې دا د مدينې منوّرې کېره نه ده خو زه چې ددې دومره عزت کوم نو داځکه چې په دې باندې د مدينې منوّرې هَوا لګېدلې ده. (١)

## ٩. حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه او د نبي ﷺ د وېښتانو مبارکو تعظيم کول

په احاديثو کې ذکر دي چې حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه په خپله ټوپۍ (خولۍ) کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو څو وېښتان مبارک د تبرُک د پاره ايخي وو ، په يو جهاد کې د دوی نه دا ټوپۍ اُوغورځيده ، دوی ددې حاصلولو د پاره دومره سخته مقابله وکړه حتی چې څه مسلمانان هم په دې جنګ کې شهيدان شو .

صحابه کرامو په ده باندې دا اِلزام اُولګول چې تا د يوې ټوپۍ حاصلولو د پاره دومره سخته مقابله وکړه ، دا ولې ؟ ده ورته وويل :

ما د خپلې ټوپۍ حاصلولو د پاره دومره سخته مقابله نه ده کړی بلکه په دې ټوپۍ کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم وېښتان مبارک وو ، ماويل چې چيرته دا ضائع نه شي او د کافرانو لاس ته ورنشي نو ځکه مې دومره سخت جنګ او سخته مقابله وکړه .

## ٣ . د نبي عليه السلام سره بُغض کوونکي کس سره بُغض کول

د محبت دريمه تقاضا او علامه داده چې څوک د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم بُغض او عَداوت کوي نو مسلمان به د هغو خلقو سره بُغض او عداوت کوي (يعنی د پيغمبر عليه السلام د دُشمنانو سره بُغض او عداوت کول) .

که په معاشره کې مونږ اوګورو نو عام طور څوک چې د چا د محبوب سره مينه کوي نو دې د هغوی سره محبت کوي ، او که څوک دده د محبوب سره بُغض کوي نو دې د هغوی سره بُغض کوي .

ددې آسان مثال داسې دی لکه د يوې ښځې يو بچي وي ، او هغه په دې باندې ډير ګران وي نو اوس چې څوک ددې دې بچي سره مينه کوي نو دې مور ته هم هغه کس مُعزز او ګران وي ، او څوک چې ددې دې بچي سره مينه نه کوي بلکه وهي او رټي يې نو د ماشوم دې مور ته هم دغه کس هيڅ معزز نه وي ، بلکه بُغض ورسره کوي .

(١) خطبات فقير ج٣٣ ص١٠٨ .

دغه شان د مسلمان شان هم دی څوک چې زمونږ د محبوب محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره مینه کوي نو هغه کس زمونږ په نزد هم مُعزز دی . او څوک چې د هغوی سره بُغض او عداوت کوي نو دغه خلق زمونږ دشمنان دي .

(نوټ : د روستو واقعاتو نه به درته آندازه اولږي ) .

## ۴ . د نبي علیه السلام ډیره تذکره کول :

د محبت څلورمه تقاضا داده چې دې به درسولُ الله صلی الله علیه وسلم تذکره ډیره کوي، ځکه دا قاعده ده " مَنْ أَحَبَّ شَيْئًا أَكْثَرَ ذِكْرَهُ " څوک چې د څه شي سره مینه کوي (او هغه یې خوښ وي ) نو دې به د هغې تذکره ډیره کوي .

دغه شان مسلمان له هم په کار دي چې د خپل محبوب محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم تذکره ډیره ډیره کوي .

صحابه کرام چې به کله هم په خپل مینځ کې سره یو ځای شو نو دیو بل سره به یې د محمدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم تذکره کوله .

بیا خاصکر څوک چې د پیغمبر علیه الصلوة والسلام په نقشِ قدم ژوند تیروي ، او دهغوی په سُنتو باندې عمل کوي نو د هر سُنت په عمَلي کولو سره به آهومیتک ده ته خپل پیغمبر رایادیږي ، او زړه ته به یې تسلي حاصلیږي ، ځکه د محبوب په رایادیدو او د هغه په نوم اخیستو په وجه عاشِق ته تسلي حاصلیږي .

## مجنون بار بار د لیلی نوم لیکل

یو کرَت مجنون په خاورو کې ناست ؤ ، او په زمکه یې څه شی بار بار لیکل ، چا ورنه پوښتنه وکړه :

گفت اې مجنون شیدا چیست این ❁ مي نویسي نام بهر کیست این

اې مجنونه ! عاشِقه دا څه دی چې بار بار د چا نوم لیکی ؟

گفت مشقِ نام لیلی میکنم ❁ خاطر خود را تسلی میدهم

مجنون ورته وویل د لیلی د نوم مشق کوم ،یعنی لیکم یې ، او په دې سره خپل زړه ته تسلي ورکوم .

نو چې کله یو مجازي عاشِق د خپلې محبوبې د نوم لیکلو او ویلو په وجه خوشحالي او تسلي حاصلوي نو په کار ده چې مسلمان هم د خپل محبوب رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په تذکره کولو او په هغوی درود شریف ویلو سره تسلي حاصله کړي .

## ۵ . په نبي علیه السلام باندې ډیر درود شریف ویل

پنځمه تقاضا د محبت داده چې انسان به په رسولُ الله صلی الله علیه وسلم باندې درود شریف ډیر وایي ، ځکه درود شریف د نبي علیه السلام سره د قُربت ذریعه ده ، د انسان د ګناهونو د ختمولو او د الله ﷻ د رحمت د مستحق کیدو ذریعه ده . (١)

## ٦ . د نبي علیه السلام د مُلاقات شوق :

پنځمه تقاضا د محبت داده چې د انسان په زړه کې به د پیغمبر علیه السلام سره د ملاقات شوق وي : که هغه په دُنیا کې په خُوب کې د هغوی دیدار وي ، یا مدینې منوّرې ته د هغوی د رَوضې دیدار ته تلل وي ، او یا په آخرت کې د هغوی سره مُلاقات کول وي .

ځکه هر عاشِق د خپل محبوب سره د ملاقات ډیره آرزو لري ، دغه وجه ده چې د هر صحابي په زړه کې به د پیغمبر علیه السلام سره د ملاقات دومره شوق ؤ چې د نبي علیه السلام د دیدار نه بغیر به یې ګزاره ګرانه وه . (٢)

## د حضرت بلال رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام سره د ملاقات شوق

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه ډیره موده پس کله چې د حضرت بلال رضي الله عنه د وفات کیدو وخت رانزدې شو ، آخري وخت یې ؤ ، بي بي ورسره ناسته وه ، هغې وویل :

وَا حُزْنَاه . های افسوس .

---

(١) **نوټ** : د درود شریف فضایل ، فوائد ، مسایل او تفصیلي بیان ددې کتاب په اول جلد کې تیر شوي دی . ابوالشمس عفي عنه

(٢) لکه مخکې ددې پوره تفصیل د عنوان (( د انسان حشر به په قیامت کې د هغه چا سره وي چې د چا سره یې محبت وي)) د لاندې تیر شو .

حضرت بلال رضي الله عنه وفرمايل: وَاطربَاهُ غَدًا أَلْقَى الْأَحِبَّةَ ۞ مُحَمَّدًا وَحِزْبَه.

څومره د خوشحالۍ خبره ده، د وفات كيدو نه پس صبا به د محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابهؤ سره ملاقي كيږم.

د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِيْ لِيْ حُبًّا نَاسٌ يَكُوْنُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْرَآنِيْ بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ. (١)

زما په امتيانو كې د ماسره ډير محبت كوونكي هغه خلق دي چې زما نه پس به راځي (هغوی به زه نه يم ليدلی خو د خپلو علماؤ نه به زما تذكره واوري نو د ما سره به دومره محبت كوي چې) كه چيرته دوی كې يو كس ته زما ملاقات د خپل مال، او اولاد په عوض كې نصيبه كيدې شي نو دوی به دا هم خوښ كړي (او زما ملاقات له به راشي).

په يو حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغسې خلقو د پاره دُعا كړې چې بغير د ليدلو د نبي عليه السلام سره دومره محبت كوي چې كه چيرته دوی ته اِختيار وركړی چې د پيغمبر عليه السلام سره د ديدار په عوض كې تاسو ټول مال، او اولاد وركړئ، نو هم دا خلق به دې ته غاړه كيدي.

---

(١) كتاب الجنة وصفة نعيمها و اهلها باب فيمن يودّ رؤية النبي صلى الله عليه وسلم باهله و ماله، و اسناده صحيح على شرط الشيخين، واخرجه البيهقي فى الدلايل ٦ / ٥٣٦، والبغوي ٣٨٢٢، واخرجه احمد ٢ / ٤٤٩، ٥٠٤. وفي رواية مسلم: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ فِيْ يَدِهِ لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَلَايَرَانِيْ. ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِيْ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ مَعَهُمْ. مسلم باب فضل النظر اليه صلى الله عليه وسلم وتمنّيه حديث ٢٣٦٤.

# د محبت ټول اَسباب په نبي عليه السلام کې جمع وو

په دُنيا کې د يو چا سره د محبت کولو عام طور باندې پنځه (٥) غټ اَسباب دي :

١. کمال ٢. جمال ٣. اِحسان ۴. قُرب ٥. سخاوت.

دا اَسباب چې په چا کې هم موجود وي نو د هغه سره خلق فِطرتًا محبت کوي ، او دا پنځه واړه اَسباب په کامِلې طريقې سره په نبي کريم صلى الله عليه وسلم کې موجود وو ، نو ځکه هغوی مستحِق دې دی چې د هغوی سره محبت وکړې شي .

**تفصيل** : اوس درته د دې هر يو سبب څه نا څه تفصيل بيانوم چې تاسو ته د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم عظمت او مقام معلوم شي ، او په زړونو کې مو د هغوی سره محبت پيدا شي .

## د چا سره د محبت کولو اول سبب : " کمال "

په دُنيا کې چې چا هم په يو فَن کې کمال حاصل کړی نو خلق د دې کمال په وجه د هغه سره محبت کوي اګر که ده هغه ليدلې نه وي .

اوس په سَردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله ﷺ کې دومره ډير کمالات وو چې د هغې ټولو بيان ناممکِن دی ، ځکه د هغوی د ژوند هر اَړخ يو مُستقِل عنوان دی ، څوارلس سوه (١۴٠٠) کاله اوشو چې علماء د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په سيرت او کمالاتو باندې کتابونه ليکي خو ترا اوسه پورې هيچا دا او نه ويل چې ګنې ما د سيرت حق اداء کړو ، يا ما د نبي عليه السلام ټول کمالات بيان کړه ، بلکه هر کس په دې ويلو مجبور دی :

لَايُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَاكَانَ حَقَّهٗ ❁ بعد از خدا بزرگ توئي قصه مختصر (١)

بلکه بعضې علماؤ خو د پيغمبر عليه السلام د کمالاتو او صفتونو ذکر کولو نه روستو د خپل عِجز اِظهار په دې الفاظو کړې دی :

---

(١) دا شعر داسې هم نقل دی : لَايُمْكِنُ الثَّنَاءُ كَمَاكَانَ حَقَّهٗ ❁ بعد از خدا تو بزرگ اين قصه مختصر .

**نوټ** : دويم سبب : " جمال " په صفحه ١۴٣ ذکر دی ، دريم سبب : "اِحسان " په صفحه ١٥٣ ، څلورم سبب : " قُرب " په صفحه ١٥٦ او پنځم سبب : " سخاوت " په صفحه ١٥٨ ذکر دی .

مَا إِنْ مَدَحْتُ مُحَمَّدًا بِمَقَالَتِيْ ۞ وَلٰكِنْ مَدَحْتُ مَقَالَتِيْ بِمُحَمَّدٍ

رسول الله صلى الله عليه وسلم سيّدُ الاوّلين والآخرين دى ، امامُ الانبياء او خاتَمُ النبيّين دى ، او د ټولو پيغمبرانو جدا جدا كمالات يوائحې په محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم كې جَمع وو ، حتّى چې د الله ﷻ نه پس كه چيرته په يو چا كې څه كمالات جَمع كيدې شي نو هغه په حضور صلى الله عليه وسلم كې جَمع وو .

يو شاعر وايي :

جهاں کے سارے کمالات ایک تجھ میں ہے ۞ تیرا کمال کسي میں نہیں مگر دو چار

تو فخر کون و مکان زبدۂ زمین و زمان ۞ امیر لشکر پیغمبران شه ابرار

## د نبي عليه السلام مقام او مرتبه

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته الله رب العزت ډير اُوچت اِمتيازي شان وركړې وُ ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ . (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) مونږ ستا ذكر اُوچت كړو .

يعنى په ټولو اسلامي شعائرو كې د الله ﷻ د نوم سره د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نوم يو ځاى اخيستلې شي لكه : په آذان او اِقامت كې د " أَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ إِلَّا اللهُ " سره " أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله " هم ويلې شي .

دغه رنګې په خطبه كې ، په تَشَهّد كې او نورو ډيرو ځايونو كې چې چيرته د الله ﷻ نوم اخيستلې شي هلته د رسول الله صلى الله عليه وسلم نوم هم ورسره ذكروي .

حديث قدسي دى ، الله تعالى فرمايي :

إِذَا ذُكِرْتُ ذُكِرْتَ مَعِيَ . (٢)

---

(١) الانشراح آيت ۴ .

(٢) معارف القرآن ، درّمنثور بروايت ابن جرير وابن ابي حاتم .

کله چې زما ذکر کولې شي نو هلته به ستا ذکر هم د ماسره يو ځای کولې شي.

مفسرين ليکي چې د "سورة ضُحی" نه تر آخره د قرآن پورې په دې دوه ويشت (٢٢) سورتونو کې په اکثرو کې د نبي عليه السلام د شان، بلندۍ او مخصوصو فضيلتونو ذکر دی.(١)

په قرآن مجيد کې چې د کومو پيغمبرانو ذکر راغلی او الله تعالی د هغوی سره خطاب کړی نو په نوم باندې يې ورته خطاب کړی:

يَا مُوسٰى، يَا عِيسٰى، يَا إِبْرَاهِيمُ، يَا يَحْيٰى.(٢)

ليکن د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره خطاب په نوم باندې نه دې شوی بلکه په نبوّت يا رسالت باندې شوې دی:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ، يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ، يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ، يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ.

په قرآن مجيد کې الله رب العزت د بل هيچا په عُمر باندې قسَم نه دې کړی، ليکن د نبي عليه السلام په عُمر (ژوند) باندې يې قسَم کړی:

لَعَمْرُكَ.(٣) دغه رنګې د دوی په ښار يې قسَم خوړلی: لَا أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ.(٤)

خلاصه دا چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم جامع د کمالاتو او فضايلو وُ، داسې کمالات نه مخکې په چا کې جَمع وو، او نه به تر قيامته پورې داسې څوک پيدا شي چې په هغه کې دغه ټول کمالات موجود وي.

يو شاعر وايي:

مَضَتِ الدُّهُورُ وَمَا أَتَيْنَ بِمِثْلِهِ ❁ وَلَقَدْ أَتَى فَعَجَزْنَ عَنْ نُظَرَائِهِ.

---

(١) معارف القرآن سورة الضحى.

(٢) نزهة الناظرين كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم ص ٣٠.

(٣) قَالَ تَعَالى: ﴿ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾. الحجر آيت ٧٢. أَقْسَمَ تَعَالى بِمُدَّةِ حَيَاتِهِ. وَأَصْلُهُ بِضَمِّ الْعَيْنِ مِنَ الْعُمرِ، وَلٰكِنَّهَا فُتِحَتْ لِكَثْرَةِ الإسْتِعْمَالِ. وَمَعْنَاهُ: وَبَقَائِكَ يَا مُحَمَّدُ. نزهة الناظرين كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم ص ٣٠.

(٤) البلد آيت ١.

زمانه تيره شوه خو د پيغمبر عليه السلام غوندې انسان يې رانه وست ، او کله چې نبي عليه السلام راغلو نو راتلونکې زمانه د هغوی د مثال او نظير نه عاجزه شوه .

## نبي عليه السلام جامع د صفاتو کماليؤ ؤ

(( **د علماؤ او طلباؤ د پاره يوه ضروري تنبيه** : د ټولو نه مخکې په دې خبره ځان پُوهوَل په کار دي چې بغير د شک و شُبهې نه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته په نورو پيغمبرانو باندې کُلي فضيلت حاصل دی . اوس که چيرته يو جُزي فضيلت په يو بل پيغمبر کې موجود وي نو دا د نبي عليه السلام په کُلي فضيلت کې څه نقصان نه راولي ، ځکه کلي فضيلت بيا هم نبي عليه السلام ته حاصل دی .

لهذا بغير د څه دلائلو او نصوصو نه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته هر جزي فضيلت په داسې انداز کې ثابتول چې په هغې سره د نورو پيغمبرانو په شان کې بې اَدبي او تَنقِيص راځي دا ښه کار نه دی کوم چې بعضې مُصنِّفين او واعِظان کوي چې د پيغمبر عليه السلام کمالات او صفات خو بيان کړي ، خو بَل طرف ته د نورو پيغمبرانو توهين او تنقيص وکړي ، او دا ښه خبره نه ده .

لهذا که په صريحو نصوصو کې اوس يو پيغمبر ته څه جُزي فضيلت حاصل وي نو دا د نبي عليه السلام په کلي فضيلت کې څه کمې نه راولي . (١) ))

قدرمنو ! هغه بهترين صفات او اَخلاق کوم چې په مختلفو پيغمبرانو او انسانانو کې په مختلفو وختونو کې موجود شوي وو هغه ټول صفات د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ذاتِ مبارکه او د دوی په ژوند کې په عمَلي طريقې سره موجود وو .

## د يو تعليم يافته هندو ځوان اِقرار

يو عالِم په خپل کتاب کې ليکلي چې زما يو هندو دوست ؤ ، تعليم يافته ؤ ، يوه ورځ مو څه خبرې کولې ، ما د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته زمونږ د پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په باره کې څه نَظريه لرې ؟

---

(١) اشرف الجواب لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله حصه دوم ص ١٥٦ .

نو هغه راته جواب راکړو : چې زما په نزد ستاسو پیغمبر د دُنیا په ټولو انسانانو کې کامِل ترین انسان ؤ ، ځکه چې ما کله د هغوی ژوند مطالعه کړو نو ماته په یو وخت کې د هغوی په ذاتِ مبارکه کې داسې مُتضاد او مختلف قِسمه صفات او اَخلاق په نظر راغله چې هغه په تاریخ کې تر اوسه پورې په یو انسان کې چیرته هم نه دي جَمع شوي . بیا هغه هندو ځوان ددې تفصیل داسې بیان کړو :

❁ ستاسو پیغمبر داسې بادشاه ؤ چې ټول مُلک یې په پوره کنټرول او قبضه کې ؤ ، خو بل طرف ته ځان یې هم داسې بې بَسه گڼل چې خپل ځان یې ټول د الله رب العزت په قبضهٔ قدرت کې گڼړل .

❁ داسې دولت مند ؤ چې د مالِ غنیمت خزانې او مال و دولت دده دارُالحکومت ته په اُوښانو باندې راروان ؤ ، خو بل طرف ته داسې فقیر ؤ چې ځو ځو میاشتې به د دوی په کور کې اُور بل نه شو ، او وَلږه به یې برداشت کوله .

❁ داسې سِپه سالار ؤ چې د یو څو صحابه کرامو په ملگرتیا یې په زرهاؤ مُسلح فوجونو ته شکست ورکړی ، خو بل طرف ته داسې صُلح خوښوونکې هم ؤ چې د زرهاؤ جان نِثاره صحابه کرامو په موجودگۍ کې یې بیا هم د صُلحې په معاهده باندې دستخط کول .

❁ داسې زړه وَر او بهادر ؤ چې د زَرهاؤ دشمنانو به یې ځان له مقابله کوله ، خو بل طرف ته داسې نرم دِل ؤ چې هیڅ کله یې بې ځایه د یو چا یو قطره وینه هم په خپله نه ده توی کړې .

❁ داسې بهترینو اَخلاقو واله ؤ چې هیڅ کله یې د چا نه ذاتي بَدل نه دی اخیستی ، خو بل طرف ته یې د الله ﷻ د دین د شمنان هیڅ کله معاف کړي نه دي .

❁ داسې تعلق لرونکې ؤ چې د عربو د هر یو غریب ، مسکین ، یتیم او کونډې فکر به ورسره ؤ ، خو بل طرف ته د الله جل جلاله په یاد کې داسې ډوب ؤ چې گویا د هیچا سره یې تعلق نشته .

❁ كه يو طرف ته ستاسو پيغمبر يو عظيم مجاهد ؤ نو بل طرف ته ټوله شپه عبادت كوونكې او زاهد ؤ.

❁ كه يو طرف ته د غونډ عربو بادشاه ؤ خو بل طرف ته د قجورې اُونې د څانګو نه په جوړه شوې تكيه او كمزورې دَرى باندې ناست په نظر راتلو.

❁ كه يو طرف ته د عربو د اَطرافو نه دومره مالِ غنيمت راتلو چې د مسجدِ نبوي په صحن كې به د مال و دولت اَنبار لږيدلې ؤ خو بل طرف ته په همدغه وخت كې به د دوى په كور كې فقر و فاقه او غُربت ؤ.

❁ كه يو طرفته به په جهاد كې وينځې او غلامان راتله او نبي عليه السلام به د خدمت د پاره په مسلمانانو تقسيمول نو بل طرفته په همدغه وخت كې د دوى لور حضرت فاطمه رضي الله عنها داسې حالت كې وه چې په لاسونو او سينه باندې يې د ډيرو كارونو د وجې داغونه جوړ شوي وو.

❁ كه يو طرفته نيم عرب د دوى د اِختيار او حكومت لاندې وو خو بل طرف ته په همدغه وخت كې دوى په داسې يو سخت پُوزكي باندې آرام كوي چې د هغې نښې يې په وجود باندې هم جوړې شوي.

❁ كه يو طرفته يو عظيم حكومت ورسره ؤ خو بل طرفته په همدغه وخت كې د دوى په كور كې صرف او صرف لږې وَربشې، يو مشكيزه او معمولي اَسباب موجود وو.

غرض دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې كامِل، جامِع او عظيم صفاتو مالِك ؤ چې د ژوند د هرې طبقې خلقو د پاره د هدايت يوه نمونه وه.

دې هندو ځوان وويل: چې كله ستاسو په پيغمبر كې داسې عظيم صفات جَمع دي نو ځكه زما په نزد ستاسو پيغمبر د دُنيا په ټولو انسانانو كې كامِل ترين انسان ؤ.(١)

خلاصه دا چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ژوند تر قيامته پورې د هر قوم، هرې طبقې، هر جَماعت او هر كس د پاره يوه بهترينه نمونه ده.

الله رب العزت فرمايي : ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ . (١)

ترجمه : (اې مسلمانانو ! ) بيشکه ستاسو د پاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ذاتِ مبارکه کې ښائسته نمونه موجود ده .

## د ټولو پيغمبرانو اَخلاق او صفات په نبي عليه السلام کې جمع وو

که د حضرت نوح عليه السلام ژوند اوګورو نو د کفر خِلاف غيض و غضب په کې په نظر راځي .

که د حضرت ابراهيم عليه السلام ژوند اوګورو نو د بُتانو ماتول او شجاعت په کې په نظر راځي .

که د حضرت موسى عليه السلام ژوند اوګورو نو د کفارو سره جهاد ، شاهانه نظم و نسق او اِجتماعي قوانين په کې په نظر راځي .

که د حضرت عيسى عليه السلام ژوند اوګورو نو تواضع ، عاجزي ، د عفوې ، دَرګزر او قَناعت تعليم په کې په نظر راځي .

که د حضرت سليمان عليه السلام ژوند اوګورو نو شاهانه اَنداز او لوي همتونه په کې په نظر راځي .

که د حضرت ايوب عليه السلام ژوند اوګورو نو صبر او شکر په کې په نظر راځي .

که د حضرت يونس عليه السلام ژوند اوګورو نو ندامت او اِنابَت الى الله په کې په نظر راځي .

که د حضرت يوسف عليه السلام ژوند اوګورو نو په قيد او بَند کې د حق دعوت ، او پُر جوش تبليغ په کې په نظر راځي .

که د حضرت داوُد عليه السلام ژوند اوګورو نو دُعاګانې ، ژړا ، زاري او د الله تعالى حَمد په کې په نظر راځي .

که د حضرت يعقوب عليه السلام ژوند اوګورو نو د الله جل جلاله نه اُميد او په الله جل جلاله باندې توکّل او اعتماد په کې په نظر راځي .

(١) الاحزاب آيت ٢١ .

او كه د سردارِ دوجهان فخرُ الرّسُل مُحمّدٌ رّسولُ الله، صلى الله عليه وسلم ژوند مبارک اوګورو نو په دې کې د ټولو پیغمبرانو اَخلاق او صفات په عَملي طريقې سره په نظر راځي. (١)

که چیرته په حضرت شعیب عليه السلام کې مَعرفت وُ ، په حضرت نوح عليه السلام کې شجاعت وُ ، په حضرت ابراهیم عليه السلام کې دوستي وه ، د حضرت اسماعيل عليه السلام سره شِیرین کلامي وه، د حضرت اسحاق عليه السلام سره رضا وه ، د حضرت صالح عليه السلام سره فصاحت وُ ، د حضرت لوط عليه السلام سره حِکمت وُ ، د حضرت موسى عليه السلام سره سختي وه ، د حضرت ايوب عليه السلام سره صبر وُ ، د حضرت يونس عليه السلام سره طاعت وُ، د حضرت يوشع عليه السلام سره دجهاد جذبه وه ، د حضرت داوُد عليه السلام سره آواز وُ ، د حضرت دانيال عليه السلام سره محبت وُ ، د حضرت الياس عليه السلام سره وقار وُ ، د حضرت يحیٰ عليه السلام سره پاکدامني وه ، او د حضرت عيسى عليه السلام سره زُهد وُ ، نو زمونږ پیغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره دا ټول صفات په کاملې طریقې موجود وو . (٢)

ځکه الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ . (٣)

ترجمه : او يقيناً (اې پیغمبره ! ) ته د اَخلاقو په اُوچته مرتبه يې .

دغه رنګې د مخکيني پیغمبرانو معجزات هم زمونږ پیغمبر عليه السلام ته ورکړې شوي وو ، يو شاعِر وايي :

حُسنِ يُوسف ، دَمِ عيسىٰ يدِ بَيضاء داري ❁ آنچه خوباں همه دارند تو تنها داري

---

(١) خطباتِ مدارس لمولانا سيد سليمان ندوي رحمه الله ص ٧٨ . د مسلم شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ . مسلم شريف حديث ٢٢٧٨ باب تفضيل نبينا صلى الله عليه وسلم على جميع الخلائق .

(٢) ورالديني مرجع .

(٣) القلم آيت ٤ .

۞ که يو طرف ته حضرت موسى عليه السلام په کوه طور باندې د الله جل جلاله سره په راز و نياز مشغول ؤ ، نو بل طرفته محمدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په غارِ حراء کې د الله جل جلاله په عبادت کې مشغول ؤ .

۞ که يو طرف ته حضرت موسى عليه السلام د مصر نه مدين ته هجرت کړی ، نو بل طرف ته محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د مکې معظمې نه مدينې منوّرې طرف ته هجرت کړی.

۞ که يو طرفته حضرت عيسى عليه السلام په کوهِ زيتون باندې وعظ کوونکې ؤ ، نو بل طرفته محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صَفا په غَر باندې قريشو ته وعظ کوونکې ؤ .

۞ که يو طرف ته حضرت موسى عليه السلام فرعونيانو ته ښېرې (بَد دُعا ) کړی چې د بار بار معجزو په ليدو يې ايمان نه راوړو ، نو بل طرفته محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د مکې اووه ( ۷ ) سردارانو په حق کې ښېرې کړې .

۞ که يو طرفته حضرت عيسى عليه السلام خپلو دُشمنانو ته د هدايت دُعا کړی ، نو بل طرف ته په غزوه اُحد کې نبي عليه السلام د هدايت دُعا کړی .

۞ که يو طرفته د حضرت سليمان عليه السلام سره فوجونه او حکومت ؤ ، نو بل طرفته د فتحِ مکې په وخت د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره فوجونه ، جَنډې ، رُعب او حکومت ؤ .

۞ که يو طرف ته په مِصر کې حضرت يوسف عليه السلام په قيد خانه کې ؤ ، نو بل طرفته محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم په شعب ابي طالب کې درې ( ۳ ) کاله داسې محصور ؤ چې د خوراک اَشياء به هلته نه رسيده .(١)

(١) خطباتِ مدارس لمولانا سيد سليمان ندوي رحمه الله ص ۷۹ .

# د مخکيني پيغمبرانو د مُعجزو او کمالاتو سره د نبي عليه السلام د معجزو او کمالاتو موازنه

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته الله رب العزت د نورو پيغمبرانو په نسبت ډير اِمتيازي شان ورکړی ، امامُ الانبياء او متبوعُ الانبياء يې ګرځولی ، جِسماني معراج يې ورته نصيبه کړی ، رحمةٌ لِلعالمين يې ګرځولی ، د ټولو انسانانو د پاره يې هادي ګرځولی ، ظاهري باطني مخکيني او روستوني ټول علوم يې ورکړي ، د ختمِ نبوت تاج يې دوی ته په سَر کړی ، او د قيامت په ورځ د شفاعتِ کبریٰ حق يې صرف دوی ته ورکړی .

## نبي عليه السلام ته عِلمي او عَمَلي دواړه قسمه مُعجزې ورکړې شوې وی

نورو پيغمبرانو ته الله رب العزت صرف عَمَلي مُعجزې ورکړې وی : لکه حضرت موسی ﷺ ته د اَمسا او يدِ بيضاء معجزه ورکړې شوې وه .

حضرت صالح ﷺ ته اُوښه ملاؤ شوې وه .

حضرت عيسی ﷺ ته د مړو ژوندي کولو معجزه ملاؤ شوې وه .

د حضرت ابراهيم ﷺ په حق کې اُور يَخ شوې ؤ . ددينه علاوه د نورو انبياؤ معجزې هم . او دا ټولې عَمَلي معجزې وی .

بل طرف ته زمونږ پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته الله ﷻ عِلمي او عَملي دواړه قِسمه معجزې ورکړې وی :

د عَملي معجزې مثال لکه د شَقُّ القَمَر معجزه ، کومه چې د سورة قمر په دې آيت کې ذکر ده : ﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴾ . (١)

او دعِلمي مُعجزې مثال په خپله قرآن کريم دی چې دا هم د پيغمبر عليه السلام لويه معجزه ده .

(١) القمر آيت ١ .

چونکه د مخکيني پيغمبرانو معجزې ختمې شوې خو قرآن کريم تر قيامته پورې نه ختميدونکې معجزه ده ، چې تر اوسه پورې هيچا نه ددې مقابله کړې ، او نه به يې اينده اوکړي . (١)

او ددې د حفاظت ذمه واري هم الله ﷻ په خپله اخيستې ، الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : بيشکه مونږ دا قرآن نازل کړې او بيشکه هم دا مونږ ددې حفاظت کوونکي يو .

دا خو اجمالي خبره وه ، اوس درته د يو څو خاصو پيغمبرانو د معجزو او کمالاتو موازنه د پيغمبر عليه السلام د معجزاتو او کمالاتو سره بيانوم ، ددې د پاره چې تاسو ته دا معلومه شي چې مخکيني پيغمبرانو ته الله ربّ العزت څومره معجزې او کمالات ورکړي وو د هغې نه بهتريې زمونږ خوږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته ورکړي دي .

## ١. د حضرت آدم ﷺ د مُعجزاتو او کمالاتو سره موازنه :

١ . که يو طرف ته الله د حضرت آدم عليه السلام د تعظيم د پاره فرښتو ته حکم کړې وُ چې ﴿ اُسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ﴾ (٣) . ترجمه : تاسو حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړئ ،

نو بل طرفته الله ﷻ د نبي عليه السلام د تعظيم د پاره عام حکم کړې :

﴿ إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾ . (٤)

ترجمه : بيشکه الله او دده فرښتې درود ليږي په نبي ( عليه السلام ) باندې ، اې ايمان والو ! تاسو هم په ده باندې درود وليږئ ، او ( په ده باندې ) سلام ووايئ په سلام ويلو سره .

---

(١) الله تعالى فرمايي : ﴿ قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴾ . الاسراء آيت ٨٨ .

(٢) الحجر آيت ٩ .

(٣) البقره آيت ٣٤ .

(٤) الأحزاب آيت ٥٦ .

اوس د هر چا "صلاة" د هغه د شان مناسب وي ، نو په دې آيت کې د الله ﷻ د درود (يعنى د رحمتونو نازلولو ) ، د فرښتو د درود ، او د انسانانو د درود تذکره ده. نو دا فضيلت د حضرت آدم عليه السلام د فضيلت نه زيات شو .(١)

---

(١) **د علامه اسماعيل حقي رحمه الله تحقيق** : صاحب د روح البيان (علامه اسماعيل حقي رحمه الله) دلته ليکلي دي چې دغه شرافت او اِعزاز کوم چې الله تعالى زمونږ پيغمبر عليه السلام ته ورکړى ، دا د هغه شرافت او اِعزاز نه زيات دى کوم چې الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته ورکړې وُ " چې فرښتو ته يې حکم کړې وُ چې تاسو حضرت آدم ﷺ ته سجده د تعظيم وکړئ ".

ځکه په هغه سجده کولو کې الله تعالى په خپله شريک نه وُ ، او په نبي عليه السلام باندې "صلاة" ليږلو کې الله تعالى او د هغه فرښتې هم شريکې دي .لهذا دا شرافت او عزت زيات شو .

وَهٰذا التَّشْرِيفُ الَّذِيْ شَرَّفَ اللهُ به نَبِيَّنَا عليه السلام أَتَمُّ مِن تَشْرِيفِ آدمَ عليه السلام بِأمرِ الملائكةِ بِالسجُوْدِ له. لِأَنَّهُ لَايَجُوْزُ أَنْ يَكونَ اللهُ تعالى مع الملائكةِ فِي هٰذا التَّشْرِيفِ ، وقَدْ أَخْبَرَ تعالى عن نَفْسِهِ بِالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ ثُمَّ عَنِ الملائكةِ. ( تفسير روح البيان ج٥ ص ٢٦٥ الاحزاب آيت ٥٦ ) .

**د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق** : صاحب د رُوح المعاني علامه آلوسي رحمه الله ليکلي چې په دې آيت کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم داسې تعظيم او شرافت بيان شوې دى چې د دې هيڅ نظير نشته . او بيا د دې نه تعبير په داسې انداز سره شوې چې که د آيت سَر (إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ ) ته اوګورو نو دا جمله اسميه ده ، دلالت کوي په " دَوَام او اِسْتِمْرَار " باندې . او که روستو ( يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ) ته اوګورو نو دا جمله فعليه ده چې دلالت کوي په "حُدُوْث او تَجَدُّدْ " باندې. نو اوس يې مطلب دا شو چې :

الله ﷻ او د هغه فرښتې هميشه د پاره وَقْتًا فَوَقْتًا په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې درود ليږي نو اې مؤمنانو ! تاسو هم پرې هر وخت درود ليږئ .

وَالتَّعْبِيْرُ بِالجُمْلَةِ الإِسْمِيَّةِ لِلدَّلَالَةِ عَلَى الدَّوَامِ وَالإِسْتِمْرَارِ . وَذَكَرَ أَنَّ الجُملةَ تُفِيْدُ الدَّوَامَ نَظَرًا الى صَدْرِهَا مِن حيثُ أَنَّهَا جُملةٌ اِسمِيَّةٌ . وَتُفِيْدُ التَّجَدُّدَ نَظَرًا اِلى عَجُزِهَا مِنْ حيثُ أَنَّهَا جُملةٌ فِعْلِيَّةٌ . فَيَكونُ مَفَادُهَا اِسْتِمْرَار الصَّلَاةِ وَتَجَدُّدهَا وَقْتًا فَوَقْتًا. وَتَاكِيْدهَا بِإِنَّ لِلإِعْتِنَاءِ بِشَانِ الخَبَرِ. ( روح المعاني ج ص ٣٤٢ الاحزاب آيت ٦٥ ) .

**نوټ** : د درود شريف متعلق تفصيلي بحث د دې کتاب په اول جلد " د درودِ شريف فضيلت او أهميت " د موضوع لاندې تير شوى . ابو الشمس عفي عنه

۲. که یو طرف ته الله ﷻ حضرت آدم علیه السلام ته حَجَرِ اَسْود ( د جنت کاڼی ) ورکړې ؤ نو بل طرفته یې نبي علیه السلام ته رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّة ( د جنت یوه ټکړه ) ورکړې ده.

۳. که یو طرف ته شیطان حضرت آدم علیه السلام ته د دروغو قسمونه اوکړه ... هغه یې د ممنوعه اُونې میوه ( یعنی د غنم دانه ) اُوخوړه نو بل طرف ته الله ﷻ د نبي علیه السلام شیطان مسلمان جوړ کړې ؤ. (۱)

## د حضرت موسی علیه السلام د مُعجزاتو او کمالاتو سره موازنه

۱. که یو طرفته الله ﷻ د حضرت موسی علیه السلام سره په کوهِ طور باندې خبرې کړې وی نو بل طرف ته الله ﷻ د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره په سِدرةُ المنتهٰی باندې خبرې کړې وی. ﴿فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ﴾. (۲)

۲. که یو طرف ته د حضرت موسی علیه السلام په اَمسا باندې چې کاڼړې یې پرې ووهل نو د هغې نه د اُوبو چینې روانې شوی نو بل طرفته د پیغمبر علیه السلام د ګوتو مبارکو نه د معجزې په طور د اُوبو چینې روانې شوې وی. (۳)

۳. کله چې په کوهِ طور باندې حضرت موسی علیه السلام د الله ﷻ د لیدلو خواهش ظاهر کړو نو الله ربّ العزت ورته وفرمایل:

﴿لَن تَرَانِي﴾. (۴)

ترجمه: ته (په دُنیا کې) ما هرګز نشې لیدی.

---

(۱) په حدیث کې راځي، پیغمبر علیه الصلوة والسلام فرمایي: چې الله ﷻ زما شیطان مسلمان جوړ کړې دی.
(۲) النجم آیت ۱۰.
(۳) د نبي علیه السلام د ګوتو مبارکو نه د اُوبو راوتلو معجزه په احادیثو کې په تفصیل سره ذکر ده.
(۴) پوره آیت داسې دی: ﴿وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي...﴾ الاعراف آیت ۱۴۳.

نو حضرت موسى عليه السلام ته د الله ﷻ سره صرف د هَمكلامى شَرف حاصل شو، ليكن د معراج په شپه باندې الله ﷻ پيغمبر عليه السلام ته د هَمكلامى سره سره خپل ديدار هم ورنصيبه كړو .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

رَأى مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَرَّتَيْنِ : مَرَّةً بِبَصَرِهِ ، وَمَرَّةً بِفُؤَادِهِ . (١)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم خپل رب دوه كرتې ليدلى دى : يو پيره په سترګو سره ، او دويمه پيره په زړه سره .

۴ . حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ نه په خپله د ځان د پاره د اِنشراحِ صدر دُعا غوښتې وه : ﴿ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴾ . (٢)

ترجمه : اې ربه ! زما سينه پرانيزه ( يعنى كلاۀ يې كړه ) .

او د پيغمبر عليه السلام شان ګوره چې الله رب العزت ورته فرمايي :

﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴾ . (٣)

ترجمه : آيا مونږ تاله سينه نده پرانيستى ؟

۵ . د حضرت موسى عليه السلام د معجزې ( اَمسا ) په مقابله كې ساحرانو ظاهري او سَرسري طور باندې مقابله وكړه چې خپل پړي او رسى يې واچول او هغه خلقو ته ماران معلوميده ، اګر چې په حقيقت كې د معجزې مقابله هيڅوك نشي كولى ، خو ساحرانو بيا هم په مقابله كې ظاهري او سَرسري طور باندې څه پيش كړه .

خو د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د معجزې ( قرآن كريم ) په مقابله كې تر اوسه پورې ظاهري طور باندې هم چا هيڅ شى د مقابلې د پاره پيش نه كړې شو كوم چې د قرآن كريم غوندې د فصاحت او بلاغت نه ډک كلام وي .

---

(١) المعجم الكبير للطبراني حديث ١٢٥٦۴ .

(٢) سورة طه آيت ٢٥ .

(٣) الانشراح آيت ١ .

٦. كله چې حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ سره د همكلامۍ د پاره كوه طور ته لاړ نو الله ﷻ د هغې بيان داسې كوي : ﴿ وَلَمَّا جَآءَ مُوسٰى لِمِيقَاتِنَا ...﴾ (١)

ترجمه : او هر كله چې موسى ( عليه السلام ) زمونږ په مقرره نيټه راغى .

نو دلته د حضرت موسى عليه السلام د راتلو ذكر دى ، چې دى راغى .

خو كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د معراج په شپه د الله ﷻ د ديدار او همكلامۍ د پاره لاړ نو د هغې بيان الله ﷻ په دې انداز كوي .

﴿ سُبْحَانَ الَّذِيٓ أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى ... ﴾ . (٢)

ترجمه : پاكي ده هغه ذات لره چا چې خپل بنده ( محمد صلى الله عليه وسلم ) د شپې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصى ( بيت المقدس ) ته بوتلو .

په دې آيت كې دا ذكر دي چې الله ﷻ نبي عليه السلام بوتلو .

پس معلومه چې حضرت موسى عليه السلام ته الله ﷻ كومې معجزې ، كمالات او فضيلتونه وركړي وو د هغې نه بهترې زمونږ خوږ پيغمبر محمدٌ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته وركړي وو .

## د حضرت عيسى السلام د معجزاتو او كمالاتو سره موازنه

١. كه يو طرف ته الله ﷻ حضرت عيسى عليه السلام ته د اِحياءِ مَوتٰى ( يعنى د مړو ژوندي كولو ) معجزه وركړې وه نو بل طرف ته الله ﷻ زمونږ پيغمبر ته د اِحياءِ قُلوب يعنى د زړونو ژوندي كولو معجزه وركړې وه . ډير كرتې به چې د يو كافِر نظر څنګه په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندې اولږيده نو الله ﷻ به دده د زړه دُنيا بدله كړه ، او همدلته به مسلمان شو .

---

(١) الاعراف آيت ١٤٣ .

(٢) الاسراء آيت ١ .

٢. كه يو طرف ته د حضرت عيسى عليه السلام محافظ روحُ القدس ؤ نو بل طرفته د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم محافظ په خپله الله رب العزت ؤ ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَاللّٰهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ﴾. (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) الله ﷻ به تا د خلقو ( د شر ) نه بچ ساتي .

## د حضرت ابراهيم عليه السلام د معجزاتو او كمالاتو سره موازنه

١. كه يو طرف ته الله ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام ته مقامِ ابراهيم وركړې ؤ د كوم په باره كې چې رب كريم فرمايي : ﴿وَاتَّخِذُوۡا مِنۡ مَّقَامِ إِبۡرَاهِيۡمَ مُصَلًّى ﴾. (٢)

ترجمه : (مونږ ورته حكم وكړو چې) تاسو مقامِ ابراهيم د مونځ ځاى جوړ كړئ.

نو بل طرف ته الله ﷻ به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته مقامِ محمود وركوي ، الله رب العزت فرمايي : ﴿عَسٰى أَنۡ يَّبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحۡمُوۡدًا ﴾. (٣)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) قريب ده چې ستا رَب به تا په مقامِ محمود كې اُودروي (يعنى مقامِ محمود به دركړي).

٢. كه يو طرف ته الله ﷻ د حضرت ابراهيم عليه السلام د پاره اُور گلِ گلزار جوړ كړې ؤ ، او نه يې سوَزول ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ قُلۡنَا يَا نَارُ كُوۡنِيۡ بَرۡدًا وَّسَلَامًا عَلٰى إِبۡرَاهِيۡمَ ﴾. (٤)

ترجمه : مونږ (اُورته) وويل : اې اُوره ! ته په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې يَخ او سلامتيا واله شه.

---

(١) المائدة آيت ٦٧.

(٢) البقرة آيت ١٢٥.

(٣) الاسراء آيت ٧٩.

(٤) الانبياء آيت ٦٩.

نو بل طرفته الله ﷻ د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په صحابه او اُمت کې هم داسې خلق پیدا کړي چې اُور يې نه سوَزوي . (١)

۳ . كه يو طرف ته د قيامت په ورځ به الله ﷻ حضرت ابراهيم عليه السلام ته جَنّتي لباس واغوندي نو بل طرف ته محمّد رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته به هم جنّتي لباس واغوندي ، او بيا به داسې مقام ورکړي چې مخکيني او روستوني ټول خلق به ورباندې غِبطه (رَشک) کوي .

# د حضرت يوسف عليه السلام د معجزاتو او كمالاتو سره موازنه

١ . كه يو طرف ته الله ﷻ حضرت يوسف عليه السلام ته حُسن ورکړې وُ چې ددې په ليدو د مصر ښځو د فروټو په ځای خپلې ګوتې کټ کړی نو بل طرفته الله ﷻ نبي عليه السلام داسې مَليح جوړ کړې وُ او داسې حُسن يې ورکړې وُ چې حضرت عائشه رضي الله عنها د دغې په باره کې فرمايي چې كه د مصر ښځو د نبي عليه السلام د تَندي نور ليدلې وی نو د ګوتو په ځای به يې زړونه ټوټې ټوټې شوي وی . (٢)

---

(١) د احاديثو په كتابونو كې د ابومسلم الخولاني رحمه الله واقعه ذكر ده ، دې تابعي دې ، كله چې عَنسي (كوم چې د دروغو د نبوت دعوى كړې وه ) اُور ته اُوغورځول نو اُور ابومسلم الخولاني او نه سوَزول :

قَالَ أَبُوْحَاتِمٍ : أَبُوْمُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ اسْمُهُ عَبْدُاللهِ بْنُ ثَوْبٍ ، يَمَانِيٌّ ، تَابِعِيٌّ ، مِنْ أَفَاضِلِهِمْ وَأَخْيَارِهِمْ ، وَهُوَالَّذِيْ قَالَ لَهُ الْعَنْسِيُّ : أَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ : لَا . قَالَ : أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ : نَعَمْ . فَأَمَرَ بِنَارٍ عَظِيْمَةٍ . فَأُجِّجَتْ وَخَوَّفَهُ أَنْ يَقْذِفَهُ فِيْهَا إِنْ لَمْ يُوَاتِهِ عَلَى مُرَادِهِ . فَأَبَى عَلَيْهِ . فَقَذَفَهُ فِيْهَا ، (فَلَمْ تَضُرَّهُ) فَاسْتَعْظَمَ ذٰلِكَ ، وَأَمَرَ بِإِخْرَاجِهِ مِنَ الْيَمَنِ . فَأُخْرِجَ فَقَصَدَ الْمَدِيْنَةَ فَلَقِيَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَسَأَلَهُ مِنْ أَيْنَ أَقْبَلَ ؟ فَأَخْبَرَهُ . فَقَالَ لَهُ : مَا فَعَلَ الْفَتَى الَّذِيْ أُحْرِقَ ؟ فَقَالَ : لَمْ يَحْتَرِقْ . فَتَفَرَّسَ فِيْهِ عُمَرُ أَنَّهُ هُوَ . فَقَالَ : أَقْسَمْتُ عَلَيْكَ بِاللهِ ، أَنْتَ أَبُوْ مُسْلِمٍ ؟ قَالَ : نَعَمْ . فَأَخَذَ بِيَدِهِ عُمَرُ حَتَّى ذَهَبَ بِهِ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ . فَقَصَّ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ . فَسُرَّا بِذٰلِكَ ، وَقَالَ : أَبُوْبَكْرٍ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَرَانَا فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ مَنْ أُحْرِقَ فَلَمْ يَحْتَرِقْ ، مِثْلَ إِبْرَاهِيْمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح ابن حبان . مجرجًا ذكر ايجاب محبة الله للمتاصحين والمتباذلين فيه حديث ٥٧٧ .

(٢) د دويم سبب " جمال " په تشريح كې به ددې پوره وضاحت راشي .

۲. که يو طرفته د حضرت يوسف عليه السلام د برأت ( پاکدامنۍ ) ګواهي يو ماشوم ورکړې وه نو بل طرفته د پيغمبر عليه السلام د بي بي ( حضرت عائشې رضي الله عنها ) د برأت ګواهي الله رب العزت په خپله په قرآن مجيد کې ورکړې ده .

خلاصه : دا خو مې درته صرف د " مُشت نمونهٔ خَروار " په طور د يو څو پيغمبرانو تذکره وکړه . همدغه شان هر پيغمبر ته چې الله جل جلاله څومره معجزې ، کمالات او فضيلتونه ورکړي دي د هغې نه بهتر يې زمونږ پيغمبر محمدٌ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته ورکړي دي . څکه خو يو شاعر وايي :

حُسنِ يُوسف . دَمِ عيسىٰ يدِ بَيضاء داري ✿ آنچه خُوباں همه دارند تو تَنها داري

## د چا سره د محبت کولو دويم سبب : جمال ( يعنى ښائست او حُسن )

واپس خپلې خبرې ته راځم ، ما درته خبره دا شروع کړې وه چې د يو چا سره د محبت کولو عام طور باندې پنځه ( ۵ ) اسباب دي ، او هغه ټول په نبي کريم صلى الله عليه وسلم کې په کامِلې طريقې سره موجود وو . د اول سبب يعنى " کمال " بيان مې درته وکړو ، اوس درته د دويم سبب يعنى " جمال " په باره کې خبره کوم .

محترمو ! د يو چا سره د محبت کولو دويم سبب جَمال او ښائست هم دی ، پس په چا کې چې حُسن وي نو فِطري طور باندې هر کس ددهٔ سره محبت کوي .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته خو الله ﷻ د ټولې دُنيا انسانانو نه زيات ښائست ورکړې وُ نو ځکه هغه مستحق ددې دی چې محبت ورسره وکړې شي .

## نبي عليه السلام د سپوږمۍ نه ډير حَسين وُ

د احاديثو په کتابونو کې چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم کوم حُسن بيان شوی ، بيا خاصکر اِمام ترمذي رحمه الله چې په کوم انداز بيان کړی نو په هغې کې ذکر دي چې پيغمبر عليه السلام د سپوږمۍ نه هم ډير ښائسته وُ .

حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه فرمايي : يو ځل د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ښه روښانه وه ، او نبي عليه السلام د سروکرخو واله جامې اغوستې وې ، نو ما د نبي عليه

السلام د ښائسته مخ مبارک او د سپوږمۍ د ښائست په مينځ کې جائزه اخيستل او غوښته چې په دې دواړو کې کوم يو ډير ښائسته دی ؟

نو ما به يو ځل نبي عليه السلام ته کتل ، بيا به مې سپوږمۍ ته کتل ، پس زه په دې نتيجه اورسيدم " فَإِذَا هُوَ عِنْدِيْ أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ " چې زما په نزد نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سپوږمۍ نه هم ډير ښائسته دې . (۱)

يو شاعر وايي :

محبوبه ستا د حُسن تَشبيه ورکړمه د چا سره ؟
د ګل سره اَزغي دي د سپوږمۍ په مخ داغونه دي

د اُردو ژبې يو شاعر وايي :

چاند سے تشبيه دينا يه کهاں انصاف ہے
چاند پر هيں چائياں مَدَني کا چهره صاف ہے

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي :

مَارَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِيْ فِيْ وَجْهِهِ . (۲)

ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ډير ښائسته بل هيڅ شی نه دې ليدلی ( ما د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم مخ مبارک ته او کتل نو د ومره ښائسته ؤ ) ګويا چې نمر د دوی په مخ کې ګرځيږي .

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ، قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ ، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَى الْقَمَرِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ ، فَإِذَا هُوَ عِنْدِيْ أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ . ترمذي حديث ۲۸۱۱ بابُ ما جاء في الرّخصة في لُبس الحُمرة للرّجال .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : عَنِ الْبَرَاءِ ، قَالَ مَارَأَيْتُ مِنْ ذِيْ لِمَّةٍ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ أَحْسَنَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ شَعْرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ ، بَعِيْدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ ، لَمْ يَكُنْ بِالْقَصِيْرِ وَلَا بِالطَّوِيْلِ . هذا حديث حسن صحيح . ترمذي حديث ۳۶۳۵ باب ما جاء في صفة النبي صلى الله عليه وسلم .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ شَعْرٌ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ ، وَرَأَيْتُهُ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ . رواه ابوداؤد باب ۲۴۲ حديث ۶۷۲ كتاب اللباس .

(۲) ترمذي حديث ۳۶۴۸ بابٌ في صفة النبي صلى الله عليه وسلم .

# د نبي عليه السلام د مخ په ليدلو د عبدالله بن سلام رضي الله عنه ايمان راوړل

١. د ابن ماجه او ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه (کوم چې د يهودو لوي عالم وُ ) فرمايي : کله چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم مديني منوّرې ته راغی ، خلق ورته په مَنډه مَنډه راغله ، او ويل يې چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم راغلې. نو زه هم راغلم چې د نبي عليه السلام ديدار وکړم. دې په خپله وايي چې کله ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم مخ مبارک ته اُوکته ( نو ماته په کې داسې حُسن او نُورانيت معلوم شو چې : )

عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ. (١)

زه پوهه شوم چې د دوی دا نُوراني مخ د دروغجن سړي مخ نشي کيدی . (بيا دوی ايمان راوړو ) .

٢. مفسرينو نقل کړي چې کله عبدالله بن سلام رضي الله عنه نبي عليه السلام ته راغی ، نو يو درې ( ٣ ) پوښتنې يې ورنه وکړې ، کله چې پيغمبر عليه السلام جوابونه ورکړه نو په هماغه ځای يې اسلام راوړو ، دې چونکه د يهودو لوي عالِم وُ ، او هغوی به ده ته ډير د قدر په سترګه کتل ، کله چې هغوی دده په ايمان خبر شو نو دې يې ملامته کولو ، خو ده چې : رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په مخ مبارک کې کوم حُسن او نورانيت ليدلې وُ هغه د دروغجن سړي په مخ کې نه شو موجوديدی نو ځکه دده ايمان هم مضبوط او قوي وُ . (٢)

---

(١) عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ : لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ إِنْجَفَلَ النَّاسُ إِلَيْهِ . وَقِيْلَ . قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ فِي النَّاسِ لِأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَلَمَّا إِسْتَبَنْتُ وَجْهَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ . فَكَانَ اَوَّلُ شَيْءٍ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ ، وَ أَطْعِمُوا الطَّعَامَ ، وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ . تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . ابن ماجه حديث ١٣٣٤ باب ما جاء في قيام الليل ، وحديث ٣٢٥١ باب اطعام الطّعام ، ترمذي حديث ٢٤٨٥ ابواب صفة القيامة والرّقائق باب ٤٢ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم حديث ٤٢٨٣ .

(٢) تفسير ابي السعود تحت قوله تعالى : ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللهِ وَكَفَرْتُمْ بِهِ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ بَنِي إِسْرَائِيْلَ عَلَى مِثْلِهِ ...﴾ . الاحقاف آيت ١٠

بهر حال پیغمبر علیه الصلوة والسلام ته الله ﷻ داسې حُسن او نورانیت ورکړې ؤ چې چا به هم د دوی مخ مبارک ته او کته هغه به پوهه شو چې دا د دروغجن سړي مخ نشي کیدی، بلکه دا بَر حق پیغمبر دی.

علامه قرطبي رحمه الله خو تر دې پورې لیکلي دي چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم پوره پوره جَمال نه ؤ ظاهر شوی ګني بیا به چا د دوی د مخ د لیدلو طاقت نه شو لرلی.

## د حضرت یوسف ﷺ د حُسن او د نبي علیه السلام د جَمال په باره کې عِلمي تحقیق:

یو اعتراض او د هغې جواب:

**اعتراض** : که څوک دا اعتراض وکړي چې د حضرت یوسف علیه السلام حُسن خو داسې ؤ چې د مِصر ښځو دا ولیده نو د ډیر حیرانتیا په وجه یې د فروټو په ځای خپل لاسونه غوڅ کړه، او د ډیر حُسن په وجه به حضرت یوسف علیه السلام په خپل مخ باندې کپړه اَچوله، ځکه چې بیا به پرې خلق مَئین کیدل.

بل دا چې د حضرت یوسف علیه السلام د ظاهري حُسن په باره کې خو په خپله پیغمبر علیه السلام فرمایلي:

قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ. (۱) ده ته نیم حُسن ورکړې شوې ؤ.

او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حُسن خو داسې نه ؤ، نو بیا څنګه نبي علیه السلام ډیر حَسین ؤ؟

**جواب** : دا یقیني خبره ده چې حضرت یوسف علیه السلام ته الله جلّ جلاله ظاهري حُسن ورکړې ؤ لکه د مسلم شریف په حدیث کې هم ددې بیان شته. خو حُسن په دوه (۲) قِسمه دی:

(۱) مسلم حدیث ۱٦٢ باب الاسراء برسول الله صلی الله علیه وسلم الی السماوات ...

یو قِسم هغه حُسن دی چې ناګهانه کتونکې حيران کړي ، او دده په زړه کې د هغه سره عِشق پيدا شي ، خو چې بيا څومره ورسره مُخَالطه ، مُجَالسه او مُکالَمه کيږي نو ددې حُسن اَثر کميږي ، او په ده کې ددې حُسن برداشت کولو قوت پيدا کيږي .

ځکه که ددې حُسن په دقائقو او باريکيو کې سوچ اوشي نو دا مُتناهي وي ، ديته "حُسنِ صَباحت" وايي .

او دويم قِسم هغه حُسن دی چې د څه عارِض د وجې دا فورًا ښکاره نه شي ، او کتونکې په اول قدَم کې حيران نه کړي خو چې بيا څومره ورسره مُخالَطه او مُجالسه کيږي ، او څومره ورته ډير ګوري نو دې د هغه په حُسن کې ډوبيږي ، او په ده باندې د هغه حُسن نور هم ښکاره کيږي . لکه يو شاعر وايي :

يزيدک وجهه حُسْنًا ❁ إذا مَا زِدتَه نظرًا

څومره چې ته د هغه مخ ته ډير ګورې نو هماغومره به تا ته د هغه په مخ کې حُسن ډير معلوميږي .

او ديته "حُسنِ ملاحت" وايي .

او س حضرت يوسف عليه السلام ته چې کوم حُسن ورکړې شوې ؤ هغه دا اول قِسم ؤ ، چې چا به اول اُوليده نو کتونکې به ډير حيران شو ، خو د وخت په تيريدلو سره به بيا په ده کې د هغه حُسن برداشت کولو قوت پيدا کيده .

دغه وجه ده چې د مِصر ښځو حضرت يوسف عليه السلام په اول ځل ناګهانه اوليده نو فروتو په ځای يې خپل لاسونه پريکړه ، خو ليکن زليخې يوه ورځ هم خپل لاس نه ؤ پريکړی ، ځکه د وخت په تيريدلو سره په هغې کې ددې حُسن برداشت کولو قوت پيدا شوې ؤ .

او نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ته چې کوم حُسن ورکړې شوې ؤ نو هغه دا دويم قِسم ؤ ، چې په اول ځل به انسان ته دا نه ښکاره کيده ، او کتونکې به يې اچانک نه حيرانه کول ، ځکه د نبي عليه السلام د حُسن سره سره الله ربّ العزت دوی ته داسې رُعب او عظمت هم ورکړې ؤ چې نوي کس به نبي کريم صلی الله عليه وسلم په اول ځل اُوليده نو رعب به ورباندې راغی ، لکه حديث کې راځي :

مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ . (۱)

چا چې به دې ناڅاپه وليده نو رُعب به پرې راغې .

د همدې د وجې نه چا به په اول ځل د پيغمبر عليه السلام مخ مبارک ته د ډير رُعب د وجې نه ډير نه شو کتلی چې ده ته په هغې کې حُسن په نظر راغلې وی ، نو ځکه به انسان ته د نبي عليه السلام حُسن په اول ځل نه ښکاره کيده .

خو دوخت په تيريدلو او دوی سره دمُجالسې او مُکالمې په وجه به چې څومره دده په رُعب کې کمې راتلو نو هماغومره به په ده باندې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حُسن مُنکشَف کيده ، او ورځ په ورځ به يې بيا د نبي عليه السلام سره محبت پيدا کيده .

لکه حديث کې راځي .

مَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ . (۲)

دويم دا چې د حضرت يوسف عليه السلام په حُسن باندې صرف ښځې عاشِقې شوې وی او دا في نفسه څه بعيده خبره نه ده ، بلکه يو فطري اَمر دی کوم چې د عادت مطابق هم دی (اګر چې په څه نا څه درجه کې خارِقُ العادة هم دی) .

او په رسولُ الله صلى الله عليه وسلم باندې سړي عاشِقان وو په کوم کې چې د ځوانانو سره سره ماشومان او بوډاګان هم وو ، او د سړو عاشِق کيدل ډيره عجيبه ده .

دغه وجه ده چې د صحابه کرامو په زړونو کې د پيغمبر عليه الصلوة والسلام سره داسې عِشق او محبت وُ چې په غزوهٔ اُحد کې د نبي عليه السلام د دِفاع په خاطر يې خپل ځانونه هم قربان کړه ، د خپلو لاسونو او سينو نه يې ډالونه جوړ کړي وو او د کافرانو د تورو ګوزارونه او غشي يې پرې رامنع کول ، ددې د پاره چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ته نقصان اونه رسي . دغه رنګې د نبي عليه السلام سره د محبت په وجه يې خپل کورونه ، خپل بال بچ ، او خپل خپلوان پريخوده خو د پيغمبر عليه السلام هر حکم ته يې لبّيک وويل .

(۱) اخرجه الترمذي في الشمائل حديث ۳۶۳۸ باب ماجاء في صفة النبي صلى الله عليه وسلم .

(۲) ورالله‌بي مرجع .

دغه رنګي د صحابه کرامو د نبي عليه الصلوة والسلام سره د محبت او مينې داسې بې شماره واقعات دي کوم چې د احاديثو په کتابونو کې ذکر دي.

دا ټول په دې دلالت کوي چې صحابه کرامو ته د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم حُسن مُنکشَف شوې ؤ نو ځکه يې ورسره کلک عِشق او محبت ؤ. (١)

## د حُسن په باره کې د بُو علي سينا تحقيق:

بُوعلي سينا ليکلي دي چې حُسن خالِصه سپين والي ته نه وايي، بلکه حُسن ديته وايي چې د انسان (د عُمر مطابق دده) ظاهري اَندامونه مکمل برابر وي، او په دې کې توازن وي.

بيا يې ليکلي دي چې په شمائلو کې د پيغمبر عليه الصلوة والسلام کومه حُليه او شکل، و صورت بيان شوی نو د هغې نه دا معلوميږي چې د حضرت آدم عليه السلام نه راپه ديخوا څومره انسانان تير شوي دي په دې ټولو کې صرف نبي عليه السلام داسې واحِد شخصيت دی چې د دوی په اَندامونو کې برابري او حُسن موجود ؤ.

پس معلومه شوه چې پيغمبر عليه السلام د ټولو انسانانو نه زيات حَسين و جميل ؤ. ځکه خو يو شاعر وايي:

حُسنِ يُوسف، دَمِ عيسیٰ يدِ بَيضاء داري ۞ آنچه خوباں همه دارند تو تَنها داري

## د نبي ﷺ د حُسن په باره کې دحضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه اَشعار

حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه هغه صحابي دی چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ژوند کې يې د دوی د وړاندې په مسجدِ نبوي کې اَشعار ويل، او د پيغمبر عليه السلام مَدحه به يې بيانوله. (٢)

(١) اشرف الجواب لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څلورمه حصه ص ٥٣٨، وحصه دوم ص ١٥٨، الرفع والوضع ص ١١، مقالات حکمت نمبر ١١، دعوات عبديت حصه اول.

(٢) عَنِ ابنِ الْمُسَيِّبِ. قَالَ أَنْشَدَ حَسَّانُ فِي الْمَسْجِدِ. قَالَ: فَمَرَّ بِهِ عُمَرُ فَلَحَظَهُ فَقَالَ: أَفِي الْمَسْجِدِ؟ قَالَ: "وَاللهِ لَقَدْ أَنْشَدْتُ فِيهِ مَعَ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ". قَالَ: فَخَشِيَ أَنْ يَرْمِيَهُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجَازَ وَتَرَكَهُ. جامع معمر بن راشد حديث ٢٠٥١٠ باب الشعر والرجز.

کله به چې کافرانو او مشرکينو په خپلو اشعارو کې د پيغمبر عليه الصلوة والسلام هجوه او مزمّت بيان کړو نو حضرت حسان بن ثابت ﷺ به د هغې جواب په اَشعارو کې ورکول، او د نبي عليه السلام دِفاع به يې کوله. (١)

حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه د نبي عليه السلام حُسن داسې بيان کړی:

١. وَأَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَرَقَطُّ عَيْنِيْ ۞ وَأَجْمَلَ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

٢. خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ۞ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ. (٢)

١. اې پيغمبره! زما سترګو د تاسو نه زيات ښائسته کس هيڅ کله نه دې ليدلی، او د تاسو نه ډير جَميل او ښائسته کس تر اوسه مور نه دې زيږولی.

٢. اې پيغمبره! تاسو د هر عيب او نقصان نه پاک پيدا شوي يئ، ګويا تاسو داسې پيدا شوي يئ څنګه چې تاسو غوښتل.

## د نبي ﷺ د حُسن په باره کې د حضرت عائشې رضي الله عنها اَشعار

حضرت عائشه رضی الله عنها د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د حُسن په باره کې فرمايي:

١. لَنَا شَمْسٌ وَلِلْآفَاقِ شَمْسٌ ۞ وَشَمْسِيْ خَيْرٌ مِنْ شَمْسِ السَّمَآءِ

٢. فَشَمْسُ النَّاسِ تَطْلُعُ بَعْدَ فَجْرٍ ۞ وَشَمْسِيْ تَطْلُعُ بَعْدَ الْعِشَاءِ.

١. يو زمونږ نمر دی (يعنی نبي عليه السلام)، او يو د آسمان نمر دی، خو زما دا نمر (نبي عليه السلام) د آسمان د نمر نه ډير بهتر دی.

٢. د خلقو نمر د صبا نه پس راخيجي، ليکن زما نمر (نبي عليه السلام) د ماسخوتن نه پس راخيجي.

(١) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَسَّانَ: أُهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَعَكَ. الادب لابن ابي شيبة ج١ ص٣٥٩ حديث ٣٨٥ باب استماع النبي صلى الله عليه وسلم الشِعر وغير ذلک.

(٢) لمحة العرب ص ٢٢٣، فتاوی محموديه ج٣ ص٢١٩ حاشيه نمبر ١.

بیا حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي:

لَوَاحِيُّ زُلَيْخَا لَوْ رَأَيْنَ جَبِيْنَهُ ۞ لَآثَرْنَ بِقَطْعِ الْقُلُوْبِ عَلَى الْيَدِ.

( د نبي علیه السلام حُسن د انسان په زړه کې داسې ننوتو چې ) د زلیخې ملامت کوونکو ملګرو ښځو که چیرته ( د حضرت یوسف ﷺ په ځای ) زما د محبوب محمد رسولُ الله صلی الله علیه وسلم مخ مبارک لیدلې وی نو د لاسونو کټ کولو په ځای به یې خپل زړونه کټ کړي وی.

## د نبي ﷺ د حُسن په باره کې د علامه بوصیري اَشعار

علامه بوصیري رحمه الله د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د حُسن په باره کې فرمايي:

مُنَزَّهٌ عَنْ شَرِيْكٍ فِيْ مَحَاسِنِهِ ۞ فَجَوْهَرُ الْحُسْنِ فِيْهِ غَيْرُ مُنْقَسِمِ

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په حُسن و جمال کې شریک او ثاني نه لري، ځکه چې په نبي علیه السلام کې د حُسن کوم جَوهر دی هغه قابلِ تقسیم نه دی.

## د نبي علیه السلام د حُسن په باره کې د شیخ سعدي اَشعار

شیخ سعدي شیرازي رحمه الله د پیغمبر علیه الصلوة والسلام د حُسن په باره کې فرمايي:

١. بَلَغَ الْعُلٰى بِكَمَالِهِ ۞ كَشَفَ الدُّجٰى بِجَمَالِهِ

٢. حَسُنَتْ جَمِيْعُ خِصَالِهِ ۞ صَلُّوْا عَلَيْهِ وَآلِهِ.

١. پیغمبر علیه السلام د خپل کمال په ذریعه لویې ( او اُوچتو مرتبو ) ته رسیدلی دی، او د خپل حُسن په وجه یې د کفر تیارې لرې کړي دي.

٢. د نبي علیه السلام ټول اَخلاق ښه دي، ( اې انسانانو ! ) تاسو په دوی او د دوی په اولاد باندې درود وایې.

## د چا سره د محبت کولو دریم سبب : " اِحسان "

د یو چا سره د محبت کولو دریم سبب اِحسان دی ، د عربی مشهوره مقوله ده :

اَلإِنْسَانُ عَبْدُالإِحْسَانِ. انسان بنده د اِحسان دی.

که دده سره څوک اِحسان وکړي نو دي د هغه سره محبت کوي. مثلاً : انسان د خپل مور او پلار سره ځکه محبت کوي چې د هغوی په ده باندې اِحسانات دي . یا مثلاً : شاګرد د خپل اُستاذ سره ځکه محبت کوي چې د هغه په ده باندې د تربیت اِحسان دی .

هم دغه شان د مُحسِن (اِحسان کوونکي) سره د انسان طبعي محبت وي ، او دا یو فِطري خبره هم ده . د عربی مقوله ده :

جُبِلَتِ الْقُلُوْبُ إِلى حُبِّ مَنْ أَحْسَنَ إِلَيْهِ .

فطري طور باندې د انسان زړونه داسې جوړ شوي چې څوک دده سره اِحسان وکړي نو دې د هغه سره محبت کوي .

اوس راځو دې خبرې ته چې د سردارِ دوجهان محمّد رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په خپل اُمت باندې دومره ډیر اِحسانات دي چې د هغې شمار د انسان د وَس او طاقت نه بهر دی . لهذا ددې اِحساناتو په وجه هم نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددې حق دار دی چې د دوی سره محبت وکړې شي .

## په اُمت باندې د نبي علیه السلام یو څو اِحسانات :

اوس درته د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د یو څو اِحساناتو تذکره کوم :

۱ . د نبي علیه السلام د ښائسته تعلیماتو او هدایت په وجه د دُنیا مسلمانان د جَهالت او کفري تیارو نه راووت ، او د اسلام و ایمان په بهترینه رڼا باندې منوّر اوګرځیده .

۲ . د نبي علیه السلام د تعلیماتو په وجه مسلمان د جهنم د اُور ، او د الله ﷻ د عذاب نه نجات اوموندہ ، او د جنت تللو مستحق جوړ شو .

۳ . د نبي علیه السلام د برکته ددې اُمت نه هغه سخت اَحکامات منسوخ کړې شو کوم چې په مخکیني اُمتونو باندې وو .

۴ . د نبي عليه السلام د برکته ددې اُمت نه هغه سختې سزاګانې ختمې کړې شوې کومې چې په مخکيني اُمتونو باندې وې ، مثلا : د ګناهونو په وجه د ټول قوم مسخ کېدل ، بغير د قَتل نه د قاتِل توبه نه قبليدل ... وغيره .

## ۵ . د خپل اُمت د مغفرت او بخښې د پاره الله ﷻ ته ژړل :

نبي عليه السلام په خپل اُمت باندې دومره شفيق او مهربانه وُ چې هر وخت به يې د دوی د پاره دُعاګانې غوښتې ، او د دوی د مغفرت او بخښې د پاره يې د الله ﷻ د وړاندې ډيرې زارۍ او ژړاګانې کړې ، هر وخت به ورسره د خپل اُمت غم وُ .

امام مسلم رحمه الله په خپل کتاب کې مستقل باب قايم کړی " بَابُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمَّتِهِ وَبُكَائِهِ شَفَقَةً عَلَيْهِمْ " او ددې د لاندې يې يو حديث رانقل کړی ، حضرت عبدالله بن عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي چې :

يو ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم (د سورة ابراهيم) هغه آيت تلاوت کړو په کوم کې چې د حضرت ابراهيم عليه السلام د دُعا او زارۍ ذکر دی ، حضرت ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ نه د خپل اُمت د پاره داسې دُعا غوښتې وه :

﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : اې زما ربه ! بيشکه دې بتانو خو ډير خلق ګمراه کړي دي ، پس چا چې زما تابعدري وکړه نو بيشکه هغه زما (د تابعدارو) نه دی ، او چا چې زما نافرماني وکړه نو بيشکه ته بخونکې مهربانه يې (نو زما اُمت اُوبخه) .

بيا پيغمبر عليه السلام (د سورة مائدې) هغه آيت تلاوت کړو په کوم کې چې حضرت عيسى عليه السلام د خپل اُمت د پاره داسې دُعا غوښتې وه :

﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ . (۲)

(۱) سورة ابراهيم آيت ۳۶ .

(۲) المائده آيت ۱۱۸ .

ترجمه: اې الله! که ته دوی ته عذاب ورکوی نو بیشکه دوی ستا بندګان دي، او که ته دوی ته بَخنه کوی نو بیشکه ته غالِب او د حِکمت خاوند یې.

(کله چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام دُعا او زاري د خپل اُمت د پاره اُوکته) نو دوی هم د خپل اُمت د بخنې د پاره دواړه لاسونه پورته کړه، او دا دُعا یې اوغوښته:

أَللّٰهُمَّ أُمَّتِيْ أُمَّتِيْ. اې الله! زما اُمت اُوبخه، زما اُمت اوبخه.

او رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د خپل اُمت د پاره الله جل جلاله ته اُوژړل. الله جل جلاله حضرت جبریل علیه السلام ته وفرمایل:

يَا جِبْرِيْلُ! إِذْهَبْ إِلٰى مُحَمَّدٍ وَرَبُّکَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيْکَ؟

اې جبریل! ته محمد (صلی الله علیه وسلم) ته ورشه، اګر چې الله جل جلاله په دې ټول هر څه بنه عالِم دی، خو ته د هغه نه پوښتنه وکړه چې تا څه شیز ژړوي؟ (یعنې ولې ژاړې؟)

جبریل علیه السلام راغی او د دوی نه یې پوښتنه وکړه (چې تاسو ولې ژاړئ؟)، نبي علیه السلام ورته خبر ورکړو چې زه د اُمت په غم کې ژاړم، د اُمت بخنه غواړم. الله جل جلاله حضرت جبریل علیه السلام ته وفرمایل:

يَا جِبْرِيْلُ! إِذْهَبْ إِلٰى مُحَمَّدٍ، فَقُلْ: إِنَّا سَنُرْضِيْکَ فِيْ أُمَّتِکَ وَلَا نَسُوْءُکَ. (١)

---

(١) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ إِبْرَاهِيْمَ ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِيْ فَإِنَّهُ مِنِّيْ وَمَنْ عَصَانِيْ فَإِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ . ابراهیم آیت ٣٦ ﴾. وَقَالَ عِيْسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴿ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ . المائدة آیت ١١٨ ﴾. فَرَفَعَ يَدَيْهِ. وَقَالَ: أَللّٰهُمَّ أُمَّتِيْ أُمَّتِيْ. وَبَكٰى. فَقَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا جِبْرِيْلُ! إِذْهَبْ إِلٰى مُحَمَّدٍ وَرَبُّکَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيْکَ؟ فَأَتَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَسَأَلَهُ. فَأَخْبَرَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ. وَهُوَ أَعْلَمُ. فَقَالَ اللّٰهُ: يَا جِبْرِيْلُ! إِذْهَبْ إِلٰى مُحَمَّدٍ فَقُلْ: إِنَّا سَنُرْضِيْکَ فِيْ أُمَّتِکَ وَلَا نَسُوْءُکَ. مسلم فی الایمان بَابُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمَّتِهِ وَبُكَائِهِ شَفَقَةً عَلَيْهِمْ ٣٣٦ حدیث (٢٠٢).

إِنَّا سَنُرْضِيْکَ: هذا موافق لقول الله عز وجل: ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ﴾. شرح محمد عبدالباقي على صحيح المسلم.

اې جبريل ! ته محمد (صلى الله عليه وسلم) ته ورشه، او ورته ووايه (چې الله ﷻ فرمايي) بيشکه زه به تاسو ستاسو د أمت په باره کې راضي کړم، او تاسو به نه خفه کوم.

اکثرو مفسرينو د سورة الضحى د آيت ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴾ په تشريح کې د نبي عليه السلام دا حديث رانقل کړی، چې کله دا آيت نازل شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

إِذًا لَا أَرْضَىٰ وَوَاحِدٌ مِنْ أُمَّتِيْ فِي النَّارِ .(١)

چې کله خبره داسې ده نو زه به تر هغه وخته پورې نه راضي کېږم تر څو پورې چې زما يو أمتي هم په جهنم کې وي (بلکه د ټولو مسلمانانو شفاعت به کوم).

شيخ عبدالحق محدّث دهلوي رحمه الله ليکلي دي:

فَانْظُرُوْا الى شفقةِ النّبي صلى الله عليه وسلم على أمّته واشتغل بدعاء الأمّةِ وَشَفَاعَتِهَا، فَهَلْ مِنْ أَحَدٍ غَيرِ حسّاسٍ بحيث لَا يَعْشِقُ لِلنّبي صلى الله عليه وسلم بعد سماعِ هذه الشّفقة.

تاسو د نبي عليه السلام دا شفقت د خپل أمت سره اوګورئ چې ټوله شپه يې د أمت د بخنې د پاره دُعاګانې اوغوښتې، او د دوی سفارش يې وکړو، نو آيا داسې بې حِسه (او بې پرواه) انسان به هم وي چې د نبي عليه السلام د خپل أمت سره دا د شفقت خبرې واوري او دې بيا هم د نبي عليه السلام عاشِق جوړ نه شي؟ (بلکه د هر انسان د پاره د نبي عليه السلام سره محبت په کار دی).

قدرمنو! پيغمبر عليه السلام په هره موقع باندې د خپل أمت د مغفرت او بخنې د پاره د الله ﷻ نه دُعاګانې غوښتې، ژړاګانې او زاري ګانې يې کړي، بلکه د وفات کېدو په وخت هم ورسره د خپل أمت غم وُ، تر دې پورې چې د قيامت په هغه سخته ورځ کې به هر سړې نَفْسِيْ نَفْسِيْ آواز کوي چې اې الله! ما ته نجات راکړه. خو په دې سخت وخت کې به بيا هم د نبي عليه السلام سره د خپل أمت غم وي، او الله ﷻ ته به عرض کوي: أُمَّتِيْ أُمَّتِيْ اې الله! زما د أمت به څه کېږي؟ په دوی رحم وکړه، او د دوی مغفرت وکړه.

---

(١) تفسير جلالين، قرطبي، معارف القرآن، السراج المنير، تفسير نفسي.

لهذا د داسې مُشفِق او مُحسِن پيغمبر سره محبت کول په مسلمان باندې واجب او لازم دي.

## د چا سره د محبت کولو څلورم سبب : " قُرب "

د يو چا سره د محبت کولو يو سبب قُرب او نزديکت هم دی ، يعنی د چا چې د بل سره ځومره خپلولي ، رِشته داري او قُرب زيات وي نو هماغومره به يې د هغه سره مينه او محبت هم زيات وي ، او دا يو فطري خبره هم ده . مثلاً د سړي د خپلو بچو سره رِشته ډيره نزدې وي نو ځکه يې محبت هم ورسره زيات وي، دغه شان د انسان د خپل مور او پلار سره رِشته ډيره نزدې وي نو محبت يې هم ورسره ډير وي .

اوس راځو دې خبرې ته چې د پيغمبر عليه السلام سره خو د هر مسلمان رِشته او قُرب ډير زيات دی ځکه نبي عليه السلام د مسلمانانو د پاره رُوحاني پلار دی ، او په دوی باندې د خپل ځان په نسبت د رسول الله صلی الله عليه وسلم حق زيات دی . الله رب العزت فرمايي :

﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ﴾ . (١)

ترجمه : نبي ( عليه السلام ) په مؤمنانو باندې د دوی د ځانونو نه هم ډير حق لري .

## نبي عليه السلام د مؤمنانو د پاره رُوحاني پلار دی

تفسير مدارک ليکلي چې د ابن مسعود ﷺ په قراءت کې ورسره دا هم شته :

وَهُوَ أَبٌ لَهُمْ . (٢) چې دا پيغمبر د مؤمنانو د پاره روحاني پلار دی .

مجاهد رحمه الله فرمايي :

---

(١) الاحزاب آيت ٦ .

(٢) تفسير مدارک سورة احزاب آيت ٦ . همدغه شان داد ( هُوَ أَبٌ لَهُمْ ) قراءت ډيرو مفسرينو رانقل کړی لکه : تفسير طبري ، معانی القرآن واعرابه للزجاج ، تفسير بغوي ، تفسير السراج المنير ، تفسير ابی السعود . همدغه رنګې د احاديثو په کتابونو کې هم ددې تذکره شته ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ هٰذِهِ الْآيَةَ : ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَهُوَ أَبٌ لَهُمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ . ﴾ هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه . المستدرک علی الصحيحين للحاکم حديث ٣٥٥٦ تفسير سورة الاحزاب . وهکذا ذکر فی السنن الکبری للبيهقي حديث ١٣٤١٩ .

كُلُّ نَبِيٍّ أَبُوْ أُمَّتِهِ وَلِذٰلِكَ صَارَ الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةً . لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُوْهُمْ فِي الدِّيْنِ . (١)

هر نبي د خپل اُمت د پاره رُوحاني پلار وي ، د همدې د وجې نه مسلمانان په خپل مينځ کې سره ورونه دي ، ځکه نبي عليه السلام د دوی رُوحاني او ديني پلار دی .

د نسايي شريف حديث دی ، پيغمبر عليه الصلوة والسلام فرمايي :

إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْخَلَاءِ فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ . وَلَايَسْتَدْبِرْهَا . وَلَايَسْتَنْجِ بِيَمِيْنِهِ ... (٢)

بيشکه زه ستاسو د پاره د پلار په شان يم ، زه تاسو ته دا تعليم او خودَنه کوم چې کله تاسو کې يو کس اودس ماتي ته لاړ شي نو دادې نه قبلې طرفته مخ کوي ، او نه دې ورته شا کوي ، او نه دې په ښي لاس اِستنجاء کوي .

فايده : لکه څرنګ چې يو پلار د خپل بچي تربيت کوي او د ژوند تيرولو طريقې ورته ښايي نو همدغه شان نبي اکرم صلى الله عليه وسلم هم د خپل اُمت صحيح طريقې سره تربيت کړی چې د اَودس ماتي کولو طريقه يې هم ورته خودلې . نو ځکه رسول الله ﷺ په مسلمانانو باندې د خپل پلار نه هم زيات حق لري .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې مؤمنانو ته د خپلو ځانونو په نسبت نبي عليه السلام ځکه ډير نزدې او ډير حق دار دی چې که چيرته رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يو انسان ته د يو شي حکم وکړي ، او دده نفس ده ته د بل شي حکم وکړي نو په ده باندې د پيغمبر عليه السلام حکم منل لازم دي .

(١) تفسير مدارک سورة احزاب آيت ٦ .

(٢) د احاديثو په نورو کتابونو کې هم همدغه شان حديث ذکر دی ، لکه په ، ابن ماجه حديث ٣١٣ باب الاستنجاء بالحجارة والنهي عن الرّوث والرّمة ، صحيح ابن خزيمة حديث ٨٠ باب النهي عن الاستطابة بدون ثلاثة احجار ، صحيح ابن حبان حديث ١٤٣١ ذکرُ الزّجر عن الاستطابة بالرّوث والعظم ، السنن الكبرى للبيهقي حديث ٤٢١ وغيره .

ځکه ډير کرتې نفس انسان ته د داسې شي حکم کوي چې په هغې کې د ده هلاکت وي ، او رسولُ الله ﷺ هميشه انسان ته د داسې شي حکم کوي چې په هغې کې د ده نجات وي . (١)

د بخاري شريف حديث دی ، سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله ﷺ فرمايي :

مَا مِن مُؤْمِنٍ إِلَّا وَأَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ، إِقْرَءُوا إِن شِئْتُمْ : ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ . (٢)

هر يو مؤمن ته په دُنيا او آخرت دواړو کې زه د ټولو انسانانو نه زيات اولٰی او اَقرب يم ، که غواړی نو ددې تصديق د پاره دا قرآني آيت اولولئ . ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ .. ﴾ ...

## د يو چا سره د محبت کولو پنځم سبب : " سخاوَت "

د يو چا سره د محبت کولو پنځم سبب سخاوت دی ، يعنی کوم کس چې سخي وي نو هر کس دده سره فطرةً محبت کوي .

او دا د سخاوَت صفت په حضور صلی الله عليه وسلم کې په کامِلې طريقې سره موجود وُ .

١ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي :

مَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ : لَا . (٣)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه چې کله هم سوال شوی نو ده نه دی رَد کړی ( او هيچا ته يې د نامراده کولو د پاره " لَا " نه ده ويلی ) .

حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ په مَدحه کې فرمايي :

---

(١) قوله تعالى : ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ اي : أَحَقُّ . فَلَهُ أَنْ يحكُمَ فيهم بما يَشاءُ . قال ابنُ عباسٍ : إذا دَعاهُم إلى شيءٍ . وَدَعَتْهُمْ أنفُسُهم إلى شَيْءٍ ، كانَتْ طاعتُه أَوْلَى مِنْ طاعةِ أَنْفُسِهِمْ ، وهذا صحيحٌ . فَإِنَّ أَنْفُسَهُمْ تدعوهم إلَى ما فِيْهِ هَلَاكُهُمْ ، وَالرّسولُ عليه السّلام يدعوهم إلى مَا فِيْهِ نَجَاتُهُمْ تفسير زاد المسير ج٣ ص٤٢٨ الاحزاب آيت ٦ .

(٢) بخاري باب النبي اولى بالمؤمنين من انفسهم حديث ٤٧٨١ .

(٣) البخاري ، الفتح ١٠ ( ٦٠٣٤ ) ، ومسلم ( ٢٣١١ ) واللفظ له ، احمد ( ٣ / ٣٠٧ ) ، نضرة النعيم ج٤ ص ١٥٠٨ الجرد .

مَا قَالَ " لَا " قَطُّ إِلَّا فِي تَشَهُّدِهِ ❁ لَوْلَا التَّشَهُّدُ لَمْ تُسْمَعْ لَهُ لَاءُ . (١)

نبي عليه السلام داسې سخي وُ چې د چا نه يې د څه شي د منع کولو د پاره کلمه د " لا " نه ده ويلې ، مګر صرف په تَشَهّد کې يې ويلې ده (يعنې په " أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " کې ، او هغه هم د چا نه د څه څيز منع کولو د پاره نه ده ) ، که چيرته تَشَهُّد نه وی نو د پيغمبر عليه السلام نه به دغه " لا " هم وه آوريدل شوی .

٢ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس رضی الله عنه فرمايي :

مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ ، وَلَقَدْ جَاءَهُ رَجُلٌ ، فَأَعْطَاهُ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ ، فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ ، فَقَالَ : يَا قَوْمِ ! أَسْلِمُوْا فَإِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِيْ عَطَاءً مَنْ لَا يَخْشَى الْفَقْرَ . (٢)

د رسول الله ﷺ نه چې کله هم د اسلام په نوم (يعنې په اسلام کې د داخليدو او په دې باندې د مضبوط پاتې کيدو په نوم ) څه سوال شوی نو هغه سائل ته به يې ورکړه کوله ، يو کس ورته راغلو نو نبي عليه السلام ورته د دوه غرونو په مينځ کې ګډې ورکړې (يعنې دومره ګډې او چيلې يې ورکړې چې د دوه غرونو په مينځ کې وادي يې ډکوله ) ، کله چې دا کس خپل قوم ته واپس لاړ نو هغوی ته يې وويل : اې زما قومه ! اسلام راوړئ ، څکه محمد صلی الله عليه وسلم دومره ورکړه کوي چې د غريبۍ نه نه ويريږي .

٣ . په رواياتو کې راځي : چې يو کرت رسول الله صلی الله عليه وسلم ته نوي زرا (٩٠٠٠٠) درهم راوړې شو ، په پُوزکي ( چټايي ) باندې کيښودې شو ، رسول الله صلی الله عليه وسلم په فقيرانو باندې ددې تقسيمول شروع کړه ، هر سائل او محتاج ته يې ورکړه ، تر دې چې ټول يې په فقيرانو تقسيم کړه ، او ورنه فارغه شو . (٣)

---

(١) تفسير ابي السعود ، ارشاد العقل السليم الى مزايا الكتاب الكريم ج١ ص ٢١ سورة البقرة الم . يو بل شاعر وايي:
مَا قَالَ " لَا " قَطُّ إِلَّا فِي تَشَهُّدِهِ ❁ لَوْلَا التَّشَهُّدُ لَكَانَ لَاءُهُ نَعَمِ .

(٢) رواه مسلم ، رياض الصالحين باب الكرم والجود والانفاق في وجوه الخير ... حديث ٥٥٠ .

(٣) ويروى أنه صلى الله عليه وسلم حملت إليه تسعون ألف درهم فوضعت على حصير . ثم قام إليها يقسمها فمارد سائلًا حتى فرغ منها ... نزهة الناظرين ص ٢٠٠ كتاب الصدقة .

۴. د سوال کوونکي د پاره قرض اخیستل : حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې يو کس د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه سوال وکړو، دوی ورته وفرمايل :

په دې وخت کې خو د ما سره هيڅ شی نشته ، ليکن ته زما په ذمه دارۍ باندې څه شی واخله ، کله چې ماسره وسعت اوشو (يعنی ما له څه ګوتو ته راشي) نو زه به يې اداء کړم.

ددې جواب په آوريدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل :

اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ ! تاسو خو دې کس له موقع ورکړه ، حالانکه تاسو خو الله جل جلاله د قدرت نه زيات نه يئ مکلف کړي.

د حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره نبي عليه السلام ته خوښه نه شوه . بيا يو انصاري کس حاضر شو او عرض يې وکړو : اې د الله رسوله ! تاسو خرچ کوئ او د عرش د مالک ( الله جل جلاله ) نه د کمي اَنديښنه مه کوئ . د اَنصاري د خبرې په اَوريدو نبي عليه السلام مُسکې شو او په مخ مبارک يې خوشحالي خوَره شوه ، او وې وفرمايل :

ماته دهمدې حکم شوی . (١)

۵ . د حجة الوداع په موقع باندې حضور صلى الله عليه وسلم سل ( ١٠٠ ) اُوښان د قربانۍ د پاره حلال کړه ، چې د عبادت په لحاظ سره دا لويه قرباني او غټ سخاوت دی .

حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي ﷺ د سخاوت تشبيه د تيزې هوا سره ورکړې ده .

## خلاصه :

خلاصه دا چې کله د محبت دا پنځه ( ۵ ) واړه اَسباب ( يعنی کمال ، جمال ، اِحسان ، قُرب او سخاوت ) په رسولُ الله ﷺ کې په کاملې طريقې سره موجود دي نو بيا خو په مسلمان لازم او ضروري دي چې د نبي عليه السلام سره د خپل ځان ، خپل اولاد ، خپل مور و پلار ، او د دُنيا د ټولو انسانانو نه زيات محبت وکړي ، او د هغوی د سُنتو اِتباع او پيروي وکړي نو بيا به ددې انسان ايمان کامِل وي ، او بيا به ده ته د اِيمان حلاوت نصيبه کيږي .

(١) مکارم الاخلاق ص ۲۵۴ .

# د نبي عليه السلام سره د محبت او عشق واقعات :

محترمو ! د هر مسلمان د پاره دا ضروري ده چې دده په زړه کې به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د خپل مال، اولاد، او ټولو انسانانو نه زيات محبت او مينه وي. ځکه بغير ددينه د مسلمان اِيمان نه کامِله کيږي، او نه ده ته د اِيمان حلاوت نصيبه کيږي. (۱)

## د صحابه کرامو د محبت او عشق واقعات :

صحابه کرامو ته چې الله رب العزة دومره لوي مقام ورکړي ؤ چې په دُنيا کې يې ورته د جنت زيرې ورکړې ؤ، او په دُنيا کې يې ورته د خپلې رَضا ( رضي الله عنهم ورضوا عنه ) اِعلان کړې ؤ، همدغه رنګې که د ټولې دُنيا بزرګان، او اَولياءُ الله راجمع شي نو د يو اَدنٰى صحابي درجې ته نشي رسيدی، بلکه زه وايم چې د يو اَدنٰى صحابي د خپو خاورو ته هم نشي رسيدی، او که يو کس د اُحد غَرهومره سَره زَر خيرات کړي خو ليکن دا د يو صحابي د يوې قجورې صدقې ته هم نشي رسيدی.

ددې ټولو فضيلتونو اصل وجه داده چې د هر صحابي په زړه کې د نبي عليه السلام سره د خپل مال، اولاد، او هر شي نه ډير محبت ؤ، او په کامِلې طريقې سره يې د خپل پيغمبر اِتباع او اِطاعت کړې ؤ نو ځکه په هر ميدان کې الله رب العزت فتح او کاميابي ورکړې وه.

قدرمنو ! تاريخ په دې باندې ګواه دی چې څومره محبت او مينه صحابه کرامو د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم سره کړی دومره محبت تر اوسه پورې نه خو يو اُمت د خپل پيغمبر سره کړی، نه يو کارګر د خپل ليډر سره کړی، نه يو مُريد د خپل پير سره کړی، نه يو شاګرد د خپل اُستاذ سره کړی، او نه يو اولاد د خپل مور او پلار سره کړی. ددې يو څو نمونې او واقعات به ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

# د صحيح واقعاتو بيانولو اَهميت

د واقعاتو بيانولو نه مخکې دا خبره ضروري ګڼرم چې تاسو ته دا خبره واضحه کړم چې د صحيح او مُستَنَد واقعاتو بيانول ولې ضروري دي ؟

(۱) ددې خبرې تفصيل مخکې د احاديثو په رڼا کې اوشو.

قدرمنو ! د اَسلافو واقعات، او بيا خاصکر د صحابه کرامو واقعات د انسان د اصلاح د پاره ډير مؤثر دي، په دې سره زړونه روښانه کيږي، د نبي عليه السلام د اتباع او محبت ذريعه ګرځي، د واقعاتو په ذريعه يو مضمون زر او په ښه طريقې سره په ذهن کې کيني، او ددې په ذريعه د وعظ او دعوت کار په ډيره مُؤثره طريقې سره کيدې شي.

**د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وينا** : امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمايي:

اَلحِكَايَاتُ عَنِ الْعُلَمَاءِ وَمَحَاسِنُهُمْ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْفِقْهِ. لِأَنَّهَا آدَابُ الْقَوْمِ وَأَخْلَاقُهُمْ. وَشَاهِدُهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ. (١) ﴾. وَقَوْلُهُ سُبْحَانَهُ: ﴿ لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ. (٢) ﴾.

ماته د علماؤ واقعات، او د دوی محاسِن د ډيرو فقهي مسائلو نه ډير خوښ دي، ځکه دا ددې علماؤ آداب او اَخلاق دي ( يعنی ددې نه د اَخلاقو او آدابو په حقله مونږ ته معلومات حاصليږي چې په دې سره د عَمل کولو شوق پيدا کيږي ) ، او ددې دليل د قرآن کريم دا آيتِ مبارکه دی : «« دا (پيغمبران) هغه خلق دي کومو ته چې الله ﷻ هدايت کړې وُ نو (اې پيغمبره !) ته هم د دوی په لاره چليږه »». او (دويم شاهِد ددې خبرې د پاره د قرآن کريم) دا آيت دی : «« يقينًا ددې پيغمبرانو په واقعاتو کې د عبرت خاوندانو د پاره لوي عبرت دی »».

**د جُنيد بغدادي رحمه الله وينا** : حضرت جُنيد بغدادي رحمه الله فرمايلي دي:

اَلحِكَايَاتُ جُنْدٌ مِّنْ جُنُوْدِ اللهِ تَعَالَى يُثَبِّتُ اللهُ بِهَا قُلُوْبَ أَوْلِيَاءِهِ.

واقعات د الله تعالى په لښکرو کې يو لښکر دی، الله ﷻ ددې په ذريعه د خپلو دوستانو زړونه مضبوطوي.

چا ورنه پوښتنه وکړه : هَلْ لِهٰذَا مِنْ شَاهِدٍ؟ آيا ددې خبرې څه دليل شته؟

ده ورته ووېل :

(١) الانعام آيت ٩٠.

(٢) سورة يوسف آيت ١١١.

شَاهِدُهُ قَوْلُهُ تَعَالَى : ﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ﴾ . (١)
د دې خبرې دليل د الله تعالى دا فرمان دی :
ترجمه : (اې پيغمبره ! ) مونږ تاته د پيغمبرانو د خبرونو (او واقعاتو ) نه هر يو خبر ځکه بيانوو چې په دې سره ستا زړه قوي (او مضبوط) کړو .

**د سفيان بن عيينه رحمه الله وينا** : حضرت سفيان بن عيينه رحمه الله فرمايي :

عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ .
د نيکانو خلقو د يادولو په وخت کې رحمت نازليږي .

**د محمد بن يونس رحمه الله وينا** : محمد بن يونس رحمه الله فرمايي :

مَارَأَيْتُ أَنْفَعَ لِلْقَلْبِ مِنْ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ .
ما د نيکانو خلقو د تذکرې نه زيات نفع ورکونکې څيز د زړه د پاره بل څه شی نه دې ليدلی . (٢)

اوس ستاسو د وړاندې د صحابه کرامو د نبي عليه الصلوة والسلام سره د عِشق او محبت يو څو نمونې او واقعې بيانوم :

## ١ . د ډير محبت او عِشق په وجه د نبي عليه السلام د اَودس اُوبه او لاړې په مخ او بَدن باندې مږل

د صحابه کرامو د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره دومره مينه وه چې کله به نبي عليه السلام اَودس کولو نو هر صحابي به دا د اَودس اُوبه په خپل مَخ او بدن باندې د تبرک د پاره مږلی ، تر دې پورې که پيغمبر عليه السلام به لاړې اُوتوکلی نو هغه به هم زمکې ته نه تللی ، بلکه د يو صحابي په لاس کې به پريوتی ، او هغه به يې په خپل مخ او بدن باندې مږلی
او د دې خبرې اِقرار کافرانو هم کړې وُ چې صحابه کرام د خپل پيغمبر سره ډيره زياته مينه لري . په بخاري شريف کې د دې تذکره شته چې کله حضور صلى الله عليه وسلم د هجرت په

---

(١) سورة هود آيت ١٢٠ .

(٢) رسالة المسترشدين ص ١٢ ، صُوَرٌ من حياة الصحابة ص ٣٠ .

شپږم کال د صحابه کرامو سره عُمري ته روان شو ، او د حُديبيې مقام ته اورسيده ، نو مشرکانو پيغمبر عليه السلام ته د عُمرې کولو اجازت ورنه کړو ....

بهر حال ، د کافرانو د طرفه څه مشران راغله چې د نبي عليه السلام سره خبرې او مذاکرات وکړي ، په دې مشرانو کې د قريشو يو سردار عروة بن مسعود الثقفي هم ؤ ، دا ډير هوښيار کس ؤ ، ده چې د نبي عليه السلام سره خبرې کولې نو د سترګو په ګُنج کې يې د صحابه کرامو هغه حرکاتو او اَعمالو طرف ته هم کتل کوم چې به صحابه ؤ د پيغمبر عليه السلام د تعظيم د پاره کول.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به چې څه لاړې اُوتوکلې نو زمکې ته د رسيدو نه مخکې به هغه يو صحابي په لاس کې اُونيوی ، او په خپل مخ او بدن به يې اُومږلې .

او که پيغمبر عليه الصلوة والسلام به اَودس کولو نو صحابه کرامو کې ددې اُوبو حاصلولو د پاره دومره حِرص ؤ قريبه وه چې د يو بل سره يې پرې جګړه کړې وی ، بلکه هر کس به د اَدوس دا اُوبه په خپل مخ او بدن باندې مږلې ، (او که چاته به د اُوبو يو څاڅکې او نه رسيده نو د بل کس په لوند لاس به يې خپل لاس اُومږل او بيا به يې په خپل مخ رابنکوده )

او کله به چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم خبرې کولې نو هر کس به په ډير اَدب او اِحترام سره دا خبرې اُوريدی ، او د ډير تعظيم په وجه به يې نبي عليه السلام ته نيغ نيغ نه کتل .

کله چې دې عُروة بن مسعود الثقفي د صحابه کرامو دا مينه د نبي عليه الصلوة والسلام سره اُوليده ، او دې بيا خپل قوم ته واپس لاړو نو ده هغوی ته ووېل :

اَيْ قَوْمِ ! وَاللهِ لَقَدْ وَفَدْتُ عَلَى الْمُلُوْكِ وَ وَفَدْتُ عَلٰى قَيْصَرَ وَ كِسْرٰى وَالنَّجَاشِيِّ . وَاللهِ إِنْ رَأَيْتُ مَلِكًا قَطُّ يُعَظِّمُهُ أَصْحَابُهُ مَا يُعَظِّمُ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحَمَّدًا . وَاللهِ إِنْ تَنَخَّمَ نُخَامَةً إِلَّا وَقَعَتْ فِيْ كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فَدَلَكَ بِهِ وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ . وَ إِذَا أَمَرَهُمْ إِبْتَدَرُوْا أَمْرَهُ، وَإِذَا تَوَضَّأَ كَادُوْا يَقْتَتِلُوْنَ عَلٰى وَضُوْءِهِ . وَإِذَا تَكَلَّمَ خَفَضُوْا أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَهُ، وَمَا يُحِدُّوْنَ إِلَيْهِ النَّظَرَ تَعْظِيْمًا لَهُ . وَإِنَّهُ قَدْ عَرَضَ عَلَيْكُمْ خُطَّةَ رُشْدٍ فَاقْبَلُوْهَا . (١)

(١) صحيح البخاري حديث ٢٧٣١ بابُ الشّرُوط فی الجهاد والمُصالحة مع اهل الحرب و كِتابَةِ الشّروط، المعجم الكبير للطبراني حديث ١٣ عُروةُ ابنُ الزُبير عن المسور بن مَخرمَة ، السنن الكبرى للبيهقي حديث ١٨٨٠٧ باب المهادلة على النظر للمسلمين

اې زما قومه ! قسَم په الله ، زه ډیرو بادشاهانو ته تللې یم ، زه قیصر و قصریٰ او نجاشي ته تللې یم ، ( د هغوی د دَربار آداب مې هم لیدلي خو ) ما تر اوسه پورې یو بادشاه داسې نه دې لیدلی چې د هغه ملګري دده دومره تعظیم کوي څومره تعظیم چې د نبي علیه السلام صحابه د ( خپل پیغمبر ) محمد ﷺ کوي . قسَم په الله ، که پیغمبر ( ﷺ ) خراشکې توکي نو هغه هم په زمکه نه غورځي بلکه د یو صحابي په لاس کې غورځي ، او هغه دا په خپل مخ او بدن باندې د تبرُک د پاره مږي . او کله چې محمد صلی الله علیه وسلم دوی ته د یو کار حکم وکړي نو هر کس ددې حکم د عمَلي کولو کوشش کوي ، او چې کله دې اَودس کوي نو هر یو کس ددې اُوبو حاصلولو د پاره دومره حِرص او کوشش کوي قریبه ده چې بل سره پرې جنګ وکړي ، او چې کله دې خبرې کوي نو دوی ورته ډیر په اِحترام چپ ناست وي، او دوی یو کس هم نبي علیه السلام ته د تعظیم په وجه نیغ نه ګوري .

( بیا دې عروة بن مسعود الثقفي خپل قوم ته وویل : اې زما قومه ! ) بیشکه رسولُ الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته ریښتوني او حق پیغام ( اِسلام ) راوړی ، پس تاسو دا قبول کړئ .

## ۲. د نبي علیه السلام د قبر په لیدلو د یوې زَنانه وفات کیدل

د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس یوه زَنانه حضرت عائشې رضي الله عنها ته راغله ( د کومې په زړه کې چې د نبي علیه السلام سره ډیره مینه وه ) او ورته وې ویل :

" په ما باندې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د روضې مبارکې ملاقات وکړه "

حضرت عائشې رضي الله عنها ورته حُجره ( هغه کوټګۍ شریفه په کومه کې چې دَفن ؤ ) کلاؤ کړه، هغې د قبر مبارک زیارت وکړو ، او د زیارت کولو نه پس په ژړا شوه ( او د محبت په وجه یې ) دومره اُوژړل چې په ژړا ژړا کې وفات شوه .

سبحان الله . د خپل پیغبر سره یې داسې پوخ محبت ؤ چې د قبر د زیارت پوره طاقت یې هم او نه لرلې شو او همِلته د قبر سره وفات شوه . (١)

(١) شفاء شريف ، خميس ، حكايات صحابه لمولانا زكريا صاحب .

# د حضرت ابوبکر صدیق رض د نبي ﷺ سره عشق او محبت

صحابه کرام ټول د هدایت ستوري دي خو د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه شان په کې ډیر اُوچت دی، ځکه د دوی صَحابیت بې مثاله دی، او د دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیره بې اَندازې مینه وه.

## ۲ . د نبي ﷺ د حفاظت د پاره اقدامات

امام بیهقي رحمه الله په " دلائل النبوّة " کې، او حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله په " فتح الباري " کې نقل کړي چې د هجرت په موقع باندې کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دواړه غارِ ثور طرف ته روان وو نو په لاره کې به حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه کله د نبي علیه السلام نه مخکې شو، کله به روستو شو، کله به خي طرف ته شو، او کله به چَپ طرف ته. ټوله شپه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په دې بې قرارۍ او پریشانۍ کې تیره کړه، بالآخر نبي علیه السلام ورنه پوښتنه وکړه:

مَاهٰذَا يَا اَبَابَكْرٍ ؟ مَا أَعْرِفُ هٰذَا مِنْ فِعْلِكَ؟

اې ابوبکر ! دا ته څه کوې ؟ چې کله مخې ته شې، کله روستو، کله خي طرف او کله کس (چپ) طرف، زه خو ستا په دې کار پوهه نه شوم.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته (د مینې او محبت نه ډک) جواب ورکړو:

یا رسول الله اذکر الرصد فأکون أمامک، وأذکر الطلب فأکون من خلفک، ومرّة عن یمینک، ومرّة عن یسارک، لا آمن علیک.

اې د الله ﷻ رسوله ! چې کله زه ستاسو شاته روان یم نو ماته خیال راشي چې هسې نه څوک کافر زمونږ مخې ته ناست وي او هغه په غشي یا تورې ګوزار وکړي هسې نه چې تاسو پرې اُولږې، نو ځکه زه رامخې ته شم، ددې د پاره چې هغه ګوزار په تاسو او نه لږي، بلکه خیر دی که زه پرې اُولږم.

يا چې کله ستاسو مخې ته روان يم نو ذهن ته مې خبره راشي چې هسې نه څوک کافران د مونږ پسې شاته راروان وي او هغه ګوزار وکړي نو تاسو به پرې اولږي نو ځکه زه زر راشاته شم. يا دغه شان کله مې خيال راشي چې که څوک زمونږ خې طرف يا ګس طرف ناست وي او ګوزار وکړي نو هسې نه چې تاسو پرې اولږئ نو ځکه زه کله خې طرف ته شم او کله ګس طرف ته شم.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: اې ابوبکره! آيا ستا مقصد دادی چې تاسو قتل شئ او زه بچ شم؟ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل:

اې د الله ﷺ رسوله! زما دې په هغه ذات قسم وي کوم ذات چې تاسو برحق پيغمبر راليږلي يئ يقيني چې زما مقصد همدا دی چې خير که زه قتل شم خو چې تاسو بچ شی. (١)

## ۴. نبي عليه السلام په خپلو اوږدو خيجول

پيغمبر عليه السلام چې د هجرت په شپه روان ؤ نو د خپو په ګوتو يې مزل کولو ددې د پاره چې کافرانو ته د قدمونو په وجه پته او نه لږي، نو د خپو په ګوتو باندې د مزل کولو په وجه د نبي عليه السلام خپې مبارکې اوپړسيدی، لهذا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نبي عليه السلام په خپلو اوږدو باندې غارِ ثور ته اورسول. (٢)

---

(١) اخرج البيهقي في الدلائل النبوة ، وابن عساكر عن ضبة بن محصن العبري ، سيرة المصطفى لمولانا ادريس كاندهلوي ج٢ ص ٣٨٢ غږ لور . همدغه واقعه حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير الدرّالمنثور في التفسير بالمأثور څلورم جلد کې هم رانقل کړی : وأخرج البيهقي في الدلائل وابن عساكر عن ضبة بن محصن العبري قال : قلتُ لعمر بن الخطاب رضي الله عنه : أنتَ خيرٌ من أبي بكر . فَبَكى . وقال : والله لليلة من أبي بكر ويوم خيرٌ من عُمر . هل لك أن أحدّثك بليلته ويومه؟ قال . قلتُ نعم يا أمير المؤمنين . قال : أمّا ليلته . فلمّا خرج رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هاربًا من أهل مكة خرج ليلًا فتبعه أبوبكر رضي الله عنه فجعل يمشي مرةً أمامَه ومرةً خلفه ، ومرّةً عن يمينه ومرّةً عن يساره . فقال رسول الله ﷺ : مَا هٰذَا يَا اَبَابَكرٍ مَا أَعْرِفُ هٰذَا مِنْ فِعْلِكَ ؟ قال : يا رسولَ الله اذكر الرصد فأكون أمامك ، وأذكر الطلب فأكون من خلفك ، ومرّةً عن يمينك ، ومرّةً عن يسارك . لا آمن عليك . الدرّالمنثور في التفسير بالمأثور ج٤ سورة توبة آيت ٤٠ ١٨١ .

(٢) فمشى رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ليلته على أطراف أصابعه حتى حفيت رجلاه . فلمّا رآه ابوبكر رضي الله عنه أنّها قد حفيت حمَلَهُ على كاهله وجعل يشد به حتى أتى فم الغار فأنزله . الدرّالمنثور في التفسير بالمأثور ج٤ سورة توبة آيت ٤٠ ص ١٨٠ .

## ۵ . په غارِ ثور کې د محبت مظاهره

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير "الدُّرُّ المنثور في التفسير بالمأثور" کې د آيت ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ﴾ د لاندې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دا واقعه رانقل کړې :

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د هجرت په شپه کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضي الله عنه غارِ ثور ته د داخليدو اِراده وکړه نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نبي عليه السلام ته وفرمايل :

يَارَسُوْلَ اللهِ! دَعْنِيْ فلأدخُل قَبْلَکَ . فَإِنْ کَانَتْ حَيَّةٌ او شَيْءٌ کَانَتْ لِيْ قَبْلَکَ .

اې د الله ﷺ رسوله ! تاسو لږ اِنتظار وکړئ او ما پرېږدئ چې دې غار ته زه مخکې داخل شم ، ځکه که په دې کې څه مار يا بل خطرناک شی وي نو اول به ماته ټک راکړي (تاسو به د تکليف نه بچ شئ) ، پيغمبر عليه الصلوة والسلام ورته اِجازت ورکړو نو دې اول غار ته داخل شو .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په غار کې په خپل لاس باندې سوړې لټولی ، کله به يې چې سوره اُوليده نو خپل څادر به يې اُوشلول او هغه به يې پرې بنده کړه ، تر دې پورې چې ټولې سوړې يې په خپل څادر بندې کړې ، صرف يوه سوره پاتې وه (د هغې بندولو د پاره څه کپړه پاتې نه شوه) نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په هغې باندې خپله پُونده کېښوده (د دې د پاره چې د دينه چيرته زهريله شی را اُونه اُوځي ، او پيغمبر عليه السلام ته تکليف ورنه کړي) ، بيا يې نبي عليه السلام ته د داخليدو اِجازت ورکړو (نبي عليه السلام غار ته رانوت ، دوارو شپه تيره کړه) .

سهر کې رسولُ الله ﷺ د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه :

فَأَيْنَ ثَوْبُکَ؟ اې ابوبکر ! هغه ستا څادر څه شو ؟

حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ورته خبر ورکړو چې په هغې مې د غار سوري بندې کړي دي، نو حضور صلی الله علیه وسلم د دُعا د پاره لاسونه پورته کړه، او دا دُعا یې اوغوښته:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَبَابَكْرٍ مَعِيَ فِيْ دَرَجَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

اې الله! ابوبكر د ماسره په جنت کې په یوه درجه کې جَمع کړی.

نو الله رب العزت ورته وحي راولیږله چې:

إِنَّ اللهَ قَدِ اسْتَجَابَ لَكَ. بیشکه الله جل جلاله ستا دُعا قبوله کړه.(١)

په بعضو کتابونو کې ورسره دا هم ذکر دي چې کله حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د غار ټولې سورې بَندې کړی او یوه سوره پاتې شوه نو د هغې د بندولو د پاره دوی په هغې باندې خپله پونده کیښوده، کله چې نبي علیه السلام غار ته داخل شو نو حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ورته وفرمایل:

اې د الله جل جلاله رسوله! تاسو ستړي شوي یې نو آرام وکړئ، او زما په غیږ کې سَر کیږدئ

نبي کریم ﷺ آرام کولو او صدیق اکبر رضي الله عنه د دوی د مخ مبارک په دیدار باندې خپلې سترګې یَخولې. په دغه وخت کې په دې غار کې یو مار وُ چې هغه هم د رسول الله ﷺ دیدار کول غوښته، خو چې کله د راوتلو د پاره ورته بل هیڅ ځای ملاؤ نه شو نو د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه پوندې ته یې ټَک ورکړو. کله چې د مار زهر د دوی په جِسم کې خواره شو نو بې اِختیاره یې د سترګو نه اُوخکې راغلې.

(١) أخرج ابن مردويه عن انس بن مالك رضي الله عنه قال: لمّا كانتْ ليلة الغار قال أبو بكر الصديق رضي الله عنه: يارسولَ اللهِ! دَعْنِيْ فلأدخل الجنة قبلك. فإن كانت حية او شيء كانت لي قبلك. قال: أُدْخُلْ. فَدَخَلَ ابوبكر رضي الله عنه فَجَعَلَ يلمس بيديه. فكلّما رأى جحرًا قال بثوبه فشقّه ثمّ ألقمه الجحر حتى فعل ذلك بثوبه أجمع. وبقي جحر فَوَضَعَ عليه عقبه وقال: أُدْخُلْ. فلمّا أصبح قال له النبيّ صلى الله عليه وسلم: فأين ثوبك؟ فأخبره بالذي صَنَعَ. فَرَفَعَ النبيّ ﷺ يديه وقال: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَبَابَكْرٍ مَعِيَ فِيْ دَرَجَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. فأوحى الله إليه: أنَّ الله قَدِ اسْتَجَابَ لَكَ. الدرّالمنثور في التفسير بالمأثور ج٤ سورة توبة آيت ٤٠ ص ١٨٤، حلية الاولياء فضيلة ابي بكر رضي الله عنه الجزء الاول ص ٣٣.

چونکه نبي علیه السلام د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په غیږ کې سَر ایښې ؤ نو دا اُوښکې د پیغمبر علیه السلام په مخ مبارک باندې اُوغورځیدې چې ددې په وجه دوی راویښ شو . پوښتنه یې وکړه :

مَا يُبْكِيْكَ يَا اَبَابَكْرٍ ؟ اې ابوبکر ! ولې ژاړې ؟

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته خبره وکړه چې د مار په چیچلو سره مې بې اِختیاره د سترګو نه اُوښکې راغلې .

## ٦ . د نبي علیه السلام په شان صفات په ځان کې پیدا کول

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د پیغمبر علیه الصلوة والسلام سره دومره محبت ؤ چې د هغوی په شان صفات او اَخلاق یې په ځان کې پیدا کړي وو . ددې اَندازه به تاسو ته د بخاري شریف د دوه (٢) احادیثو نه اُولږي :

**اول حدیث** : امام بخاري رحمه الله ذکر کړي چې په غارِ حراء کې کله اوله وحي په نبي کریم صلی الله علیه وسلم نازله شوه نو په دوی باندې طَبعي یَره راغله ، کله چې کورته راغی حضرت خدیجې رضي الله عنها ته یې وویل :

زَمِّلُوْنِيْ ، زَمِّلُوْنِيْ . په ما باندې څادر واچوه (او ما په څادر کې پټ کړه) .

کله چې د پیغمبر علیه السلام نه دا طبعي خَوف لاړ نو حضرت خدیجې رضي الله عنها ته (یې ټوله واقعه بیان کړه او ورته) فرمایي :

لَقَدْ خَشِيْتُ عَلٰى نَفْسِيْ . زه خو په خپل ځان باندې اُویریدم (یعنی ماته د بیمارۍ یا مرګ خطره محسوسه شوه . (١) ) .

حضرت خدیجې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ بهترین صفات ذکر کړه ، او په دې الفاظو یې ورته تسلي ورکړه :

(١) نوټ : ددې حدیث پوره تشریح په " کشف الباري شرح صحیح البخاري ج١ ص٣٩١ " کې ذکر ده .

كَلَّا وَاللهِ مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا ، إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ ، وَتَحْمِلُ الْكَلَّ ، وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ . (١)

هرگز داسې نه ده ، قسم په الله ، الله رب العزت به تاسو هرگز ضائع (او رسوا) نه کړي ، ځکه تاسو صله رحمي کوئ ، د کمزورو بوج اوچتوئ ، د چا سره چې مال نه وي (او نقير وي) نو تاسو هغوی ته خپل مال ورکوئ ، (او د هغوی مدد کوئ) ، تاسو مهمان نوازي کوئ ، او تاسو په نيکو (او حق بجانب) کارونو کې د مصيبت زده خلقو مدد کوئ (يعنی د راپيخيدونکو حوادثو کې د حق ملګرتيا کوئ) .

(نو چې کله په تاسو کې داسې بهترين صفات موجود دي نو هر ګز به الله ﷻ تاسو ضائع نه کړي) .

دا هغه صفات وو چې په نبي اکرم ﷺ کې موجود وو ، او حضرت خديجې رضي الله عنها د يو څو صفاتو تذکره وکړه .

اوس راځو دې خبرې ته چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره دومره مينه وه چې د هغوی په شان صفات يې هم په ځان کې پيدا کړي وو .

**دويم حديث** : د بخاري شريف حديث دی چې کله په مکه معظمه کې د کافرانو د ظلم د وجې نه مسلمانانو ته په مکه کې اوسيدل ګران شو ، او تکليف ورته زيات شو (نو څه مسلمانانو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه حبشې ته د هجرت کولو اجازت اوغوښتو ، او لاړ ، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هم د نبي عليه السلام نه اجازت اوغوښته ، دوی ورته اجازت ورکړو) نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هم حبشې ته د هجرت کولو د پاره روان شو ، کله چې " برک غماد " مقام ته اُورسيده نو يو کافر ابن الدّغِنَه ورسره ملاؤ شو کوم چې د هغې علاقې سردار ؤ ، ده د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه :

(١) بخاري حديث ٣ باب بدء الوحي كيف كان بدء الوحي الى رسول الله صلى الله عليه وسلم .

اې ابوبكر ! چيرته روان يې ؟ ده ورته وويل : خپل قوم راوويستم ، اوس هجرت كوم چې هلته د الله ﷻ عبادت وكړم ، ابن الدّغِنة ورته وويل :

ستا غوندې بهترين انسان به د مكې معظمې نه نه په خپله ځي ، او نه به يې بل څوك اُوباسي ځكه :

فَإِنَّكَ تَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ ، وَتَحْمِلُ الْكَلَّ ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ ، وَتُعِيْنُ عَلى نَوَائِبِ الْحَقِّ . (۱)

بيشكه تاسو د فقيرانو سره اِمداد كوئ ، صِله رحمي كوئ ، د كمزورو خلقو بُوج اُوچتوئ ، ميلمستيا كوئ ، او په نيكو كارونو كې د مصيبت‌زَده خلقو مدد كوئ .

سبحان الله . حضرت خديجې رضى الله عنها چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم كوم صفات ذكر كړي وو همدغه صفات حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه هم په ځان كې پيدا كړي وو ، او يو كافر هم په حضرت ابوبكر صديق ﷺ كې ددې صفاتو د موجوديدو اِقرار كوي . ديته كامِلې طريقې سره محبت وايي چې د محبوب ټول صفات په ځان كې پيدا كړي .

بلكه حضرت ابوبكر صديق ﷺ ته د نبي اكرم صلى الله عليه وسلم سره ظاهري او باطني دواړه قِسمه مشابهت نصيبه شوې وُ .

دغهٔ وجه ده چې مدينې منوّرې ته د هجرت كولو په وخت كله چې اِستقبال كوونكو خلقو دوى اُوليده نو هغوى حيران شو او په دې سوچ كې پريوتل چې په دې دواړو كې كوم يو محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم دى ؟

---

(۱) ... فَلَمَّا ابْتُلِيَ الْمُسْلِمُوْنَ خَرَجَ اَبُوْ بَكْرٍ مُهَاجِرًا قِبَلَ الْحَبَشَةِ . حَتّٰى إِذَا بَلَغَ بَرْكَ الْغِمَادِ لَقِيَهُ ابْنُ الدَّغِنَةِ . وَهُوَ سَيِّدُ الْقَارَةِ . فَقَالَ : أَيْنَ تُرِيْدُ يَا اَبَا بَكْرٍ ؟ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ : أَخْرَجَنِيْ قَوْمِيْ . فَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَسِيْحَ فِي الْأَرْضِ . فَأَعْبُدَ رَبِّيْ . قَالَ ابْنُ الدَّغِنَةِ : إِنَّ مِثْلَكَ لَايَخْرُجُ وَلَايُخْرَجُ . فَإِنَّكَ تَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ . وَتَصِلُ الرَّحِمَ . وَتَحْمِلُ الْكَلَّ . وَتَقْرِي الضَّيْفَ . وَتُعِيْنُ عَلى نَوَائِبِ الْحَقِّ . وَأَنَا لَكَ جَارٌ . فَارْجِعْ فَاعْبُدْ رَبَّكَ بِبِلَادِكَ . فَارْتَحَلَ ابْنُ الدَّغِنَةِ . فَرَجَعَ مَعَ اَبِيْ بَكْرٍ . فَطَافَ فِيْ أَشْرَافِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ . فَقَالَ لَهُمْ : إِنَّ أَبَا بَكْرٍ لَايَخْرُجُ مِثْلُهُ وَلَايُخْرَجُ . أَتُخْرِجُوْنَ رَجُلًا يُكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ . وَيَصِلُ الرَّحِمَ . وَيَحْمِلُ الْكَلَّ . وَيَقْرِي الضَّيْفَ . وَيُعِيْنُ عَلى نَوَائِبِ الْحَقِّ . فَأَنْفَذَتْ قُرَيْشٌ جِوَارَ ابْنِ الدَّغِنَةِ . وَآمَنُوْا أَبَا بَكْرٍ .... بخاري حديث ۹۸ بابُ جِوَارِ اَبِي بَكرٍ في عَهدِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم وَعَقدِه .

څکه د دواړو رَفتار يو ؤ ، د دواړو لباس يو شان ؤ ، او د دواړو په مخ باندې نورانيت ؤ ، نو هغوی د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره مصافحه ( سترې مَشي ) کول شروع کړه.

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي چې ما هم ددې خلقو سره په دې نيت مصافحه کوله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سترې دی نو که ټول خلق د دوی سره مصافحه وکړي نو دوی ته به تکليف ملاؤ شي . لهذا زه به ورته روستو ووايم چې رسولُ الله ﷺ دادی ، زه نه يم.

کله چې ټولو خلقو مصافحه وکړه ، او کيناسته . دا چونکه د نمر راختو نه مخکې وخت ؤ نو په دې وخت کې نمر راأوخت ، او په پيغمبر عليه السلام باندې نمر اُولږيده نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه راپاځيده او په رسولُ الله صلی الله عليه وسلم باندې سورې وکړو نو په دې وخت کې خلقو ته پته اُولږيده چې پيغمبر خو دادی . (١)

فايده : دا د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دخپل پيغمبر سره داسې مينه وه چې د دوی اَخلاق او چال چلن هر څه يې په ځان کې پيدا کړي وو .

## ٧ . د کور ټول مال و اَسباب د نبي عليه السلام په خدمت کې پيش کول

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په زړه کې د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم د حکم داسې اَهميت او محبت ؤ چې يو پيره پيغمبر عليه السلام صحابه کرامو ته د صدقې حکم وکړو نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د کور ټول مال و دولت هر څه راوړه او د پيغمبر عليه السلام په خدمت کې يې پيش کړه .

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې يو کرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته د صدقې کولو حکم وکړو ، په دغه وخت کې د ما سره مال ډير ؤ ، ما د ځان سره ووېل چې نن ورځ خو به زه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه مخکې کيږم ، نو خپل ټول نيم مال مې راواخيست ، او د رسول الله ﷺ په خدمت کې مې پيش کړو ، نبي عليه السلام رانه پوښتنه وکړه :

(١) خطبات فقير ج ١٤ ص ٨٥.

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ كور والـه ته دې څومره مال پرېښود ؟
ما ورته وويل : نيم مال مې پرېښود .

ددې نه پس حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه خپل ټول مال د ځان سره راوړو ، او د نبي عليه السلام په خدمت كې يې پيش كړو ، پيغمبر عليه السلام د هغه نه پوښتنه وكړه :
مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ كور والـه ته دې څومره مال پرېښود ؟
هغه ورته وويل :
أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ . ما خپل كور والـه د پاره صرف الله جل جلاله او د هغه رسول پرېښود .
حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې ما حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته وويل :
لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا .
زه به او س آينده د تانه په هيڅ شي كې د مخكې كيدو مقابله اونه كړم .(١)

## ۸ . د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د مرګ اصلي سبب

امام سيوطي رحمه الله ليكلي دي چې د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د وفات اَصلي سبب د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه دجدايۍ غَم او صَدمه وه ، يعنى د پيغمبر عليه السلام د وفات نه پس دوى دغه د فِراق غَم ورځ په ورځ كمزورې كولو تر دې پورې چې وفات شو .(٢)

(١) عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ أَنَّهُ قَالَ : أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ . فَوَافَقَ ذٰلِكَ مَالًا عِنْدِي . فَقُلْتُ : الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَابَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا . فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ ؟ فَقُلْتُ : مِثْلَهُ . قَالَ : وَأَتَى أَبُوْبَكْرٍ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ . فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ ؟ قَالَ : أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ . فَقُلْتُ : لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا . اخرجه ابوداؤد ( ١٦٧٨ ) ، وقال الالباني : حسن ( ١ / ٣١٥ ) ، والترمذي ( ٣٦٧٥ ) . نضرة النعيم ج٣ ص ١٥٠٩ الجود .

(٢) ندائے ممبر و محراب ج ٢ ص ١١٠ .

(( **نوټ** : د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره د عشق او محبت نور تفصيلي واقعات روستو په بحث د " نبي عليه السلام سره د عشق او محبت نور زياتي واقعات " کې راروان دي )) .

## د نورو صحابه کرامو د نبي ﷺ سره د محبت واقعات :

دغه رنګې د هر صحابي په زړه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره : خپل ځان، خپل مال، اَولاد او هر شي نه ډيره محبت ؤ .

### ۹ . د حضرت عثمان رضي الله عنه د نبي ﷺ سره د محبت واقعه

د هجرت په شپږم کال کله چې نبي عليه السلام د څوارلس سوه ( ۱۴۰۰ ) صحابه کرامو سره دعُمرې کولو د پاره روان شو ، او د حُديبې مقام ته اُورسيده نو د مکې مشرکانو دوی مکې ته د داخليدو نه منع کړه . پيغمبر عليه السلام حضرت عثمان رضي الله عنه مکې ته د خپل قاصد په حيثيت اُوليږل ، ددې د پاره چې د مکې سردارانو سره خبرې وکړي چې مونږ د جنګ د پاره نه يو راغلي ، بلکه د بيتُ الله شريف د زيارت او ددې د تعظيم د پاره راغلي يو (چې عُمره وکړو ) ... نو حضرت عثمان رضي الله عنه د ابوسفيان او قريشو مشرانو سره اُوکتل او پيغمبر عليه السلام هغه پيغام يې ورته اُورسول .هغوی حضرت عثمان رضي الله عنه ته ووېل : (ته خو هسې هم راغلې يې نو ) که ستاخوښه وي نو ته د بيتُ الله طواف وکړه ( خو مونږ حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګري سږ کال طواف کولو ته نه پرېږدو ) ، حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل : مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ حَتَّى يَطُوْفَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .(۱)

---

(۱) ... فَدَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُثْمَانَ فَبَعَثَهُ إِلَى أَبِي سُفْيَانَ وَأَشْرَافِ قُرَيْشٍ يُخْبِرُهُمْ أَنَّهُ لَمْ يَأْتِ لِحَرْبٍ وَإِنَّمَا جَاءَ زَائِرًا لِهٰذَا الْبَيْتِ مُعَظِّمًا لِحُرْمَتِهِ فَخَرَجَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ ... حَتَّى بَلَّغَ رِسَالَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُظَمَاءُ قُرَيْشٍ لِعُثْمَانَ حِيْنَ فَرَغَ مِنْ رِسَالَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنْ شِئْتَ أَنْ تَطُوْفَ بِالْبَيْتِ فَطُفْ بِهِ قَالَ : مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ حَتَّى يَطُوْفَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... تفسير بغوي سورة الفتح آيت ۱۸ ، تفسير الطبري سورة الفتح آيت ۱۸ ، تفسير خازن سورة الفتح آيت ۱۸ ، مسند احمد حديث ۱۸۱۵۲ في اول مسند الكوفيين باب حديث مسورة بن محرمة .

( اګر چې طواف کول زما ډیر خوښ دي ، او مونږ ټول د همدې طواف او عُمرې کولو د پاره راغلي یو خو ) زه تر هغې وخته پورې طواف نه کوم تر څو پورې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم طواف نه وي کړی .

**د عبرت مقام :** د مکې سَردارانو اګر چې حضرت عثمان ﷺ ته د طواف کولو اجازت ورکړو ، او یقیني چې د دوی په زړه کې به هم د طواف کولو شوق ؤ ځکه د شپږو کالو نه یې طواف نه ؤ کړی ، لیکن د حضرت عثمان ﷺ د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم سره دومره محبت ؤ چې د دوی نه بغیر یې د طواف غوندې عظیم عبادت هم اونکړو .

## ۱۰. د حضرت ابو ایوب انصاري ﷺ د پیغمبر ﷺ سره د محبت واقعات

۱ . د مسلم شریف حدیث دی چې کله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مدینې منوّرې ته هجرت وکړو ، او د حضرت ابوایوب انصاري ﷺ په کور کې دیره ( مُقیم ) شو ، دده کور دوه چَته ؤ ، پیغمبر علیه السلام په لاندې چَت کې دیره شو ، او حضرت ابوایوب اَنصاري ﷺ په پاس چت کې دیره شو ، کله چې شپه شوه نو حضرت ابو ایوب انصاري ﷺ راپاڅیده ، او وې ویل :

نَمْشِيْ فَوْقَ رَأْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَتَنَحَّوْا فَبَاتُوْا فِيْ جَانِبٍ .

مونږ د رسولُ الله ﷺ د پاسه ( په دویم چَت ) ګرځو ( حالانکه دا خو بې اَدبي ده ځکه هغه لاندې چَت کې دی ، او مونږ په پاس چَت کې یو ، د هغوی د پاسه راځو ) نو د کوټې یو طرف ته شو او ټوله شپه یې په همدې فکر کې ویخه تیره کړه .

کله چې سهر شو نو ده نبي علیه السلام ته خبره وکړه ، هغوی ورته وویل :

اَلسُّفْلُ أَرْفَقُ . ( خير دی څه پروا نشته ځکه ) ما ته په لاندې چت کې اُوسیدل آسان دي .

ابو ایوب انصاري ﷺ ورته وویل :

لَا أَعْلُوْ سَقِيْفَةً أَنْتَ تَحْتَهَا .

زه به په داسې چت کې نه اُوسیږم چې تاسو د هغې لاندې یئ .

نو نبي عليه السلام بيا په بره چَت کې ديره شو ، او حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ لاندې چت ته راښکته شو .(١)

**فايده** دېته اعلى درجه محبت ، عِشق او اَدب وايي چې ابو ايوب انصاري ﷺ ټوله شپه ويخه تيره کړه او د کوټې په يو ګټ (ګُنج) کې ويخ ناست ؤ خو دايې نه شوه برداشت کولی چې زما محبوب محمّدٌ رّسولُ الله دې په لاندې چَت کې وي او زه دې د هغه د پاسه چَت کې ديره يم.

٢. په يو روايت کې راځي چې کله ابو ايوب انصاري ﷺ او دده بي بي په اوله ځل بره اُوخته ، او دروازه يې څنګه بنده کړه نو په زړه کې يې خيال راغی ، او بي بي ته يې وويل:

وَيْحَكِ مَاذَا صَنَعْنَا ؟ أَيَكُوْنُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَسْفَلَ وَنَحْنُ أَعْلٰى مِنْهُ ؟ أَنَمْشِيْ فَوْقَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ . أَنَصِيْرُ بَيْنَ النَّبِيِّ وَالْوَحْيِ ؟ إِنَّا إِذًا لَهَالِكُوْنَ .

بي بي ! خدای دې ښه کړه ، دا مو څه چل وکړو ؟ آيا دا مناسب ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دې لاندې وي او مونږ دې بَره يو ؟ آيا دا مناسب ده چې مونږ دې د رسول الله ﷺ د پاسه چت باندې ګرځو ؟ آيا دا مناسب ده چې مونږ دې د نبي عليه السلام او د وحي په مينځ کې يو ؟ (که داسې شي) نو مونږ خو به په دغه وخت کې هلاک شو.

ښځه او خاوند دواړه حيران پاتې شو ، چې اوس څه اوکړو ، ټوله شپه بې آرامه وو ، آخر دوی ته هلته سکون ملاؤ شو چې کله دواړه په داسې يو ګُنج (ګټ) کې کيناسته کوم چې د نبي عليه السلام د پاسه نه ؤ ، او که ګرځيدل به نو د کوټې په غاړو غاړو به ګرځيده ، ددې د پاره چې په ياسر جت کې د نبي عليه السلام د پاسه ګرځيدل رانشي ، ځکه نبي عليه السلام په لاندې چت کې په مينځ حصه کې پروت ؤ .

---

(١) عَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَلَيْهِ . فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّفْلِ وَأَبُوْ أَيُّوْبَ فِي الْعلوِ . قَالَ : فَانْتَبَهَ أَبُوْ أَيُّوْبَ لَيْلَةً . فَقَالَ : نَمْشِيْ فَوْقَ رَأْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنَحَّوْا فَبَاتُوْا فِيْ جَانِبٍ . ثُمَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ " اَلسُّفْلُ أَرْفَقُ " . فَقَالَ : لَا أَعْلُوْ سَقِيْفَةً أَنْتَ تَحْتَهَا . فَتَحَوَّلَ النَّبِيُّ ﷺ فِي الْعُلُوِّ . وَأَبُوْ أَيُّوْبَ فِي السُّفْلِ . مسلم شريف حديث ٢٠٥٣ بابُ إباحة اكل الثوم .

کله چې سهر شو نو حضرت ابو ايوب انصاري ﷜ پيغمبر عليه السلام ته عرض وکړو :

والله ما أغمض لنا جفن في هذه الليلة لا أنا ولا أم ابو ايوب .

قسَم په الله ، بيګاه شپه نه خو ما خوب کړی ، او نه (زما بي بي) أم ايوب خوب کړی .

رسولُ الله ﷺ ورنه پوښتنه وکړه : ولی ؟ دوی ورته وويل :

اې د الله رسوله ! مونږ ټوله شپه دد ې اِحساس په وجه بې آرامه وو چې مونږ کوم کور په بَره منزل کې يو تاسو دهغې لاندې پاتې کيږی ، کله چې مونږ ګرځو او حرکت کوو نو خاوره په تاسو راغورځي او ستاسو د تکليف سبب جوړيږي . او دويمه خبره دا چې مونږ ستاسو او د وَحي اِلٰهي په مينځ کې حائِل يو . حضوراکرم صلی الله عليه وسلم تسلي ورکړه ، او ورته وې فرمايل :

هَوِّنْ عَلَيْكَ يَا أَبَا أَيُّوبَ . إِنَّهُ أَرْفَقُ بِنَا اَنْ نَكُوْنَ فِي السُّفْلِ لِكَثْرَةِ مَنْ يَغْشَانَا مِنَ النَّاسِ .

اې ابو ايوب ! دد ې فکر مه کوه ، ځکه لاندې چت زما د پاره آسان او آرام دِه دی ، وجه دا ده چې زما ملاقات له خلق ډير راځي . (١)

## ٣ . د أغوستو په کمبل باندې أوبه أوچول

حضرت ابو ايوب انصاري ﷜ فرمايي چې ما د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم حکم أومنلو او په بَره منزل کې پاتې شوم ، تر دې چې په يوه يخه شپه کې زمونږد أوبو مَنګې مات شو ، او دهغې أوبه د بَره منزل په کوټه کې خوَرې شوی ، مونږ دواړه ښځه او خاوند ددې أوبو أوچولو د پاره متوجه شو ، په دې وخت کې د مونږ سره د استعمال د پاره صرف يوه کمبل وه ، چونکه د مونږ سره دا يَره وه چې هسې نه دا أوبه لاندې أوڅاځي او د رسولُ الله ﷺ د پريشانۍ سبب جوړ شي ، نو مونږ په همدغه د اغوستو په کمبل باندې دا أوبه أوچې کړې (او په خپله مو يخه شپه تيره کړه ) . بيا سهر زه د نبي کريم صلی الله عليه وعليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم ، او عرض مې وکړو :

(١) صور من حياة الصحابة للعلامة الدكتور عبدالرحمن رافت الباشا .

بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنِّي أَكْرَهُ أَنْ أَكُونَ فَوْقَكَ وَأَنْ تَكُونَ أَسْفَلَ مِنِّي ، ثُمَّ قَصَصْتُ عَلَيْهِ خَبَرَ الْجَرَّةِ ، فَاسْتَجَابَ لِي ، وَصَعِدَ إِلَى الْعِلِّيَّةِ ، وَنَزَلْتُ أَنَا وَأُمُّ أَيُّوبَ إِلَى السُّفْلِ .

اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې په تاسو قربان وي زه دا نه خوښوم چې زه دې بره چت کې يم او تاسو دې ښکته چت کې يې . بيا مې ورته د شپې د منګي ماتيدو واقعه بيان کړه ، او دوى ته مې بره چت ته د تللو درخواست وکړو ، نو رسول الله ﷺ زما دا درخواست منظور کړو ، او بره چت ته اُوختو . زه او ( زما بي بي ) أم ايوب لاندې چت ته راغلو . (١)

۴ . د مسلم شريف دهمدې حديث په آخر کې د حضرت ابو ايوب انصاري رضی الله عنه د محبت يوه بله خبره هم ذکر ده چې حضرت ابو ايوب انصاري رضی الله عنه به د پيغمبر عليه السلام د پاره خوراک تيار کړو ، او ورا او به يې ليږل ، کله به چې لوخي واپس راغله نو ابو ايوب انصاري رضی الله عنه به پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ د کوم ځاى نه خوراک کړى ؟ کله به چې ده ته اُوخودې شو ، نو ده به هم په هماغه ځاى ګوتې ګرځولى ، او د هماغه ځاى نه به يې خوراک کولو .

يوه ورځ دوى نبي عليه السلام ته داسې خوراک تيار کړو چې په هغې کې اُوګه وه ( دا يې ور اُوليږل ) ، کله چې د خوراک لوخي واپس راغله ، ده پوښتنه وکړه چې نن نبي عليه السلام د لوخي د کوم ځاى نه خوراک وکړو ؟ ده ته وويل شو چې نن خو هغوى خوراک اونه کړو ، دده سره يَره او خفګان پيدا شو ( چې رسول الله ﷺ ولې خوراک اونه کړو ؟ ) دې بَره چت ته وراوخت ، او پوښتنه يې ورنه وکړه :

أَحَرَامٌ هُوَ ؟ آيا دا اُوګه حرامه ده ؟

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

لَا وَلَكِنِّي أَكْرَهُهُ . نه ، دا اُوګه حرامه نه ده خو زه يې نه خوښوم ( ځکه فرښتې ماته وحي راوړي ، زه د فرښتو سره خبرې کوم او فرښتو ته د بدبو دار شي نه تکليف رسيږي نو ځکه يې نه خورم ) .

---

(١) مصور من حياة الصحابة للعلامة الدكتور عبدالرحمن رافت الباشا .

حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ ورته وفرمايل:

فَإِنِّيْ أَكْرَهُ مَا تَكْرَهُ. بيشكه زه به هم هاغه شى بدګنړم ( او نه به يې خوښوم ) كوم چې تاسو بَد ګنړئ ( يعنى چې كله تاسو أوګه نه خوښوئ نو ستاسو د اِتباع او محبت په وجه به د نن نه پس زه هم أوګه نه خورَم ) . (١)

فايده: ديته اعلى درجه محبت وايي چې محبوب كوم شى نه خوښوي د هغې نه هم پرهيز كوي.

## ١١. حضرت مالک بن سِنان ﷺ او د نبي عليه السلام وينه څکل

په غزوه أحد كې چې كله د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په مخ مبارک كې د أوسپنې دوه (٢) كړۍ ننوتى نو حضرت ابوبكر صديق په منډه وَر روان شو ، خو بل طرف ته حضرت ابوعبيده ﷺ تيزه ورمنډه كړه ، او د حضرت ابوبكر صديق ﷺ نه يې مخكې ځان ور أورسول ، او هغه كړۍ يې په خپلو غاښونو باندې راويستل شروع كړه ، يوه كړۍ يې را أوويسته ، چې په دې راويستو سره د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه يو غاښ هم مات شو ، خو ده ددې پرواه اونكړه ، او دويمه كړۍ يې هم په خپلو غاښونو أونيوه او راوې ويسته چې په دې سره د حضرت ابوعبيده ﷺ دويم غاښ هم مات شو.

په دې دوه (٢) كړو راويستلو سره د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د مخ مبارک نه وينه راوتل شروع شو ، د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ پلار مالک بن سِنان ﷺ هم په دې موقع

(١) ... فَكَانَ يَصْنَعُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا فَإِذَا جِيْءَ بِهِ إِلَيْهِ سَأَلَ عَنْ مَوْضِعِ أَصَابِعِهِ فَيَتَتَبَّعُ مَوْضِعَ أَصَابِعِهِ . فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فِيْهِ ثُوْمٌ . فَلَمَّا رُدَّ إِلَيْهِ سَأَلَ عَنْ مَوْضِعِ أَصَابِعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقِيْلَ لَهُ : لَمْ يَأْكُلْ . فَفَزِعَ وَصَعِدَ إِلَيْهِ . فَقَالَ : أَحَرَامٌ هُوَ ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا وَلٰكِنِّيْ أَكْرَهُهُ . قَالَ : فَإِنِّيْ أَكْرَهُ مَاتَكْرَهُ _ أَوْ مَا كَرِهْتَ _ قَالَ : وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى . مسلم شريف حديث ٢٠٥٣ باب إباحة اكل الثوم . ﴿ يُؤْتَى ﴾ : معناه تأتيه الملائكة والوحي كما جاء في الحديث الآخر إني أناجي من لا تناجي وإن الملائكة تتأذى مما يتأذى منه بنو آدم . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على صحيح مسلم .

موجود ؤ (دده په زړه کې د نبي عليه السلام سره دومره محبت ؤ چې) هغه زر په خپلو شونډو سره دغه وينه صفا کړه او تيره يې کړه.

پيغمبر عليه الصلوة والسلام وفرمايل: چې د چا په وينه کې زما وينه يو ځای شي هغه د دوزخ اور نشي مسح کولی. (۱)

## ۱۲. حضرت ابن الزبير رضي الله عنه او د نبي عليه السلام وينه څکل

يو ځل پيغمبر عليه السلام ښکر اولږول، او کومه وينه چې را اووته، هغه يې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه ته ورکړه چې دا چيرته خخه کړه، هغه لاړ، د ځان سره يې سوچ وکړو چې د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم وينه په زمکه څنګه توی کړم؟ نو هملته يې اوڅکله، واپس راغی، او وې ويل چې خخه مې کړه.

نبي ﷺ ورنه پوښتنه وکړه: کوم ځای دې خخه کړه؟ ده ورته وويل: هغه خو ما اوڅکله. پيغمبر عليه السلام وفرمايل:

چې د چا بدن ته زما وينه لاړه شي هغه د دوزخ اور نشي مسح کولی. (۲)

## يوه ضروري مسئله: د نبي عليه السلام هر څه پاک ؤ

دا يوه شرعي مسئله ده او په دې کې هيڅ شک و شبه نشته چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ټول فُضلات (يعنی لوي يا وړوکي اودس ماتې، وينه وغيره) پاک دي، نو ځکه دې صحابي وينه اوڅکله. دغه شان د نبي عليه السلام لاړې او خراشکې ټول هر څه پاک دي، ددې وجه دادهَ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ټولو مخلوقاتو نه زيات طاهِر او پاک ؤ، د دوی هيڅ شی نجس نه ؤ، د احاديثو په کتابونو کې هغه واقعات هم ذکر دي

(۱) إِنَّ مَالِكَ بْنَ سِنَانٍ مَصَّ الدَّمَ مِنْ وَجْنَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ إِزْدَرَدَهُ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَسَّ دَمِيْ دَمَهُ لَمْ تُصِبْهُ النَّارِ. عمدة القاري ج۹ ص ۱۵۵ جز ۱۷ كتاب المغازي باب ليس لک من الامر شيء. الشامي نعمانيه ج۱ ص ۲۱۲ كتاب الطهارة مطلب في طهارة بوله صلى الله عليه وسلم، فتح الباري ج۷ ص ۲۶۲ كتاب المغازي باب ليس لک من الامر شيء، فتاوى محموديه ج۷ ص ۳۲۸ حاشيه نمبر ۱ ما يتعلق بالحديث.

(۲) خميس، فضايل اعمال لمولانا زكريا رحمه الله ص ۲۵۳.

چې په هغې کې يو صحابي او صحابيې د رسول الله ﷺ بول ( تشې متيازې ) څکلې دي .
البته نور انسانان به په دوی نشي قياس کولی ، ځکه دا د نبي عليه السلام د خصائصو نه وه
رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په خپله چاته دديِ بَولو يا وينې وغيره د څکلو حکم نه دی کړی ، او که چا د ډير محبت او عقيدت په وجه دا څکلي دي نو هغوی يې مُستحق د سزا نه دي ګرځولی ، بلکه د دَرد نه يې د شِفاء زيرې پرې ورکړی .(۱)

( **نوټ** : ددې مسئلې تفصيلي بيان به انشاء الله روستو په " فِقهي مسائِلو " کې راشي . ابوالشمس )

## ۱۳. د نبي عليه السلام د وفات په وخت د يو صحابي کيفيت

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره د هر صحابي دومره محبت ؤ چې د دوی د وفات په وخت په صحابه کرامو دومره غم او خفګان راغی چې د بَرداشت نه بهرؤ .

حضرت عثمان ﷺ د خفګان د وجې دې اَندازې ته رسيدلې ؤ چې د سلام جواب ورکولو طاقت يې نه لرلو .

يو صحابي " حضرت عبدالله بن زيد بن عبد ربّه " په خپل باغ کې کار کولو ، نو خپل ځوی ده ته د نبي عليه السلام د وفات خبر ورکړو ، دې صحابي چې دا خبره واوريده نو د پيغمبر عليه السلام سره د محبت په وجه په ده دومره خفګان راغی چې په هماغه ځای کې يې په دواړو سترګو باندې لاس کيښود ، او دا دُعا يې وکړه :

اې الله ! ستا په دې کائناتو او په دې دُنيا کې به ما په دې سترګو باندې نبي عليه السلام کتلو ، اوس چې کله حضور صلى الله عليه وسلم وفات شو نو ما ته د سترګو د نظر هيڅ ضرورت نشته ، نو اې الله ! زما د سترګو نظر واخله .

---

(۱) النبي صلى الله عليه وسلم لم يكن منه شيء يكره ولا غير طيب . كتاب الشفاء ج۱ ۵۸ الباب الثاني فصل في نظافة جسمه وطيب رائحته ./ اي فان النجاسةَ للاستقذار وكراهة التلوث ولم يكن منه صلى الله عليه وسلم شيء مكروه عند الطباع السليمة . نسيم الرياض شرح شفاء المطبعة الازهرية مصر ج ۱ ص ۳۵۵ . / تَنْبِيْهٌ : صَحَّحَ بَعْضُ اَئِمَّةِ الشَّافِعِيَّةِ طَهَارَةَ بَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَائِرَ فَضَلَاتِهِ ، وَبِهِ قَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ رحمهُ الله. شامي نعمانيه ج۱ ص ۲۱۲ كتاب الطهارة مَطلبٌ في طهارة بوله صلى الله عليه وسلم . فتاوى محموديه ج ۷ ص ۳۲۷ .

نو ددې صحابي په همدغه ځای کې د سترګو نظر ختم شو. (١)

فایده: دیته اعلیٰ درجه عِشق او محبت وایي، او همدې ته طَبعي مینه هم وایي چې د نبي علیه السلام د وفات نه پس چې په خپلو سترګو خپل پیغمبر نه ګوري نو ددې نظر ضرورت یې هم محسوس نه کړو.

## د غونډ تقریر خلاصه

د مذکوره آیتونو، احادیثو او واقعاتو نه دا خبره معلومه شوه چې د هر مسلمان د پاره دا ضروري ده چې دده په زړه کې به د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره د خپل ځان، مال، اَولاد، او هر شي نه ډیر محبت وي، او دده هر هر رګ به د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د محبت او عِشق نه ډک وي نو بیا به دده اِیمان هم کامِل وي، او بیا به ده ته د اِیمان حَلاوت او خوږوالي نصیبه کیږي.

او دا محبت هلته پیدا کیږي چې انسان د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په سُنتو باندې عمل وکړي، د دوی د اَقوالو او اَفعالو تابعداري وکړي، او د ژوند په هره مرحله کې د دوی په نقشِ قدَم باندې روان شي. ځکه د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اِقتداء کول د دوی سره د محبت د ټولو نه غټه نخه ده.

الله ﷻ دې زمونږ او ستاسو په زړونو کې هم د خپل پیغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره ریښتیني محبت پیدا کړي، او مونږ ته دې د هغوی په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق را نصیبه کړي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

---

(١) وذکر أنّ عبدالله بن زید بن عبد ربّه صاحبَ الآذان کان یَعْمَلُ فِي جَنَّةٍ لَهُ. فَأَتَاهُ اِبْنُهُ. فَأَخْبَرَهُ أَنّ النّبيّ صلی الله علیه وسلم توفي. فقال: "اَللّهمّ أذهب بصري حتی لا أری بعد حبیبي محمدٍ أحدًا" فکُفَّ بصره.. فتح الملهم بشرح صحیح المسلم ج١ ص ٤٢٧

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د نبي عليه السلام سره د عشق او محبت کولو متعلق نور معتمد واقعات :

د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره د عِشق او محبت کولو په باره کې درته نور يو څو معتمَد واقعات ذکر کوم ، مقررين حضرات د موقع مناسب ددې واقعاتو نه هم اِستفاده کولې شي :

## د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره د محبت کولو باره کې نور د عِشق نه ډک واقعات :

( **نوټ** : د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت او عِشق څه واقعات وړاندې بيان شو ، يو څو نور هم ستاسو د وړاندې نقل کوم ددې د پاره چې تاسو ته معلومه شي چې په ټولو صحابه کرامو کې چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه شان ډير اُوچت دی نو دا ځکه چې د دوی صَحابيت بې مثاله دی ، او د دوی د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره ډيره بې آندازې مينه وه ، نو ځکه الله رب العزت ورته غټ مقام ورکړې وُ ) .

## په نبي کريم ﷺ باندې خپل مال خرج کول

حضرت ابوهريرة رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يو کرت ارشاد اوفرمايه چې " د هيچا مال ماته دومره فايده نه ده رارسولې څومره چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه مال ماته نفع رارسولې ده " . ددې خبرې په اوريدو سره حضرت ابوبکر

صديق رضي الله عنه اوژړل، او عرض يې وکړو : اې د الله ﷺ رسوله ﷺ . . . : ما مال خو صرف ستاسو د پاره دی . (١)

## د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه عظيمه قرباني

تفسير عزيزي يوه عجيبه واقعه رانقل کړی : چې کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم د غزوه تبوک په موقع باندې د چندې اعلان وکړو ، او د چندې دا اِعلان حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه واوريده نو د کور ټول سامان يې راوړو ، او په چنده کې يې واچول .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د چندې آواز بيا وکړو . حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي : چې ما خپل پلار په کور کې وليده چې د کور په ديوالونو يې لاس وهلو . ما ورته وويل : پلاره ! څه شی کوی ؟ او څه ګوری ؟ د کور ټول سامان خو تاسو په چَنده کې ورکړو

هغوی راته وويل : لورې ! په دې ديوال کې ما يوه ستَنه ليدلې وه ، هغه ګورم ، هسې نه چې د ابوبکر په کور کې هغه پاتې شي .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي : ما ورته وويل : په ستن څه کوی ؟ هغه راته وويل : هغه ستن هم د نبي عليه السلام په چنده کې اَچوم ، ددې د پاره که چيرته يو مجاهد ته د جامو ګنډلو ضرورت راشي نو هغه به پرې جامې اُوګنډي .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې پلار مې هغه ستن هم چندې ته وې وړه .

کله چې حضور صلی الله عليه وسلم د چندې د پاره آخري اِعلان وکړو ، نو ابوبکر صديق رضي الله عنه خپلو جامو ته اُوکته ، د ځان سره يې وويل :

ابوبکره ! ستا جامې ډيرې قيمتي دي ، ستا پيغمبر د چندې اِعلان کوي ، هغوی ته د چندې ضرورت دی .

نو دې بازار ته لاړو ، کومې جامې چې يې اغوستې وی هغه يې په دوه ديرش ( ٣٢ ) دِرهمه خرڅې کړی ، او ځان له يې د ټاټ جامې واخيستی ، هغه يې واغوستی ، او کوم دِرهم چې پاتې شو هغه يې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته په چنده کې ورکړه .

---

(١) اسد الغابة ٣ / ٢٢٢ .

کله چې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ولیده چې د ټاټ جامې یې اغوستې دي ، نو پوښتنه یې ورنه وکړه :

ابوبکره ! تا خو د ټاټ جامې اغوستي ، هغه نورې دې څه کړې ؟ دې چپ پاتې شو . هیڅ جواب یې ورنه کړو .

په دې وخت کې حضرت جبریل علیه السلام راغی . او د مسجد نبوي په دروازه کې اودریده ، نبي علیه السلام چې ورته اوکته ، نو وې لیده چې ده هم د ټاټ جامې اغوستې وې. پیغمبر علیه السلام ورنه پوښتنه وکړه :

جبریل ! دا تا خو نن د ټاټ لباس اغوستې دی ، داولې ؟ هغوی ورته وویل :

اې د الله رسوله ! تا ته پته نشته ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه ستاسو په عشق او محبت کې خپلې جامې خرڅې کړي دي ، او په خپله یې د ټاټ جامې اغوستې دي . نن الله جل جلاله د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دې عمل دومره خوشحاله شوی ، او د الله جل جلاله رحمت دومره په جوش کې راغلی چې ( د آسمان ټولو فرښتو ته یې حکم کړې چې تاسو د حضرت ابوبکر غوندې لباس واغوندئ ، او) ما ته یې حکم وکړو :

اې جبریل ! د ځان سره اَویا زره ( ۷۰۰۰۰ ) فرښتې بوځه ، ټول د ټاټ لباس واغوندی ، د مدینې منورې په کوڅو کې اوګرځئ ، او د ابوبکر په سُنتو باندې عمل وکړئ ، او زما محبوب ( محمد رسول الله ﷺ ) ته مبارکي ورکړئ چې که چیرته ستا په اُمت کې د ابوبکر په شان کسان موجود وي نو د دُنیا یو طاقت به هم ستاسو مقابله اونه کړي ، او نه به تاسو ته شکست درکړي . (بل دا چې الله جل جلاله ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته سلام هم رالیږلې دی ) . (۱)

**فایده** : دیته کلک عِشق او محبت وایي چې د آسمان فرښتې هم د دوی په محبت باندې فخر کوي .

(۱) تفسیر عزیزي .

# ابوبکر صديق ؓ نبي ﷺ ته معمولي تکليف رسيدل نه برداشت کول

د هجرت په شپه چې کله پيغمبر عليه السلام د شپې ناوخته د خپل کور نه را اُووت، او د حضرت ابوبکر صديق ؓ کورته لاړ، نو دروازه يې اُوټکوله، او په قلاره يې سَلام واچول.

حضرت ابوبکر صديق ؓ فورًا بهر رااُووت، حالانکه په دې وخت کې د شپې ډيره حصه تيره شوې وه، نبي عليه السلام ورته وفرمايل:

اې ابوبکر! دا وخت خو ټول خلق اُوده دي، آيا تاسو د مخکې نه ويخ وئ؟

ابوبکر صديق ؓ ورته جواب ورکړو:

اې د الله ﷺ رسوله! ماته د څو ورځو نه اَندازه لږيدلې وه چې تاسو ته به دهجرت کولو حکم کيږي، او په زړه کې مې دا خبره هم وه چې کله تاسو هجرت کوئ نو ما به هم د ځان سره ملګرې کوئ، نو زما په زړه کې دا خيال راغلې وُ چې که چيرته تاسو ته د هجرت حکم د شپې اوشي، او تاسو زما دروازې ته راشئ او زه اُوده يم نو زما تر راويخيدو پورې به تاسو ته په دې دروازه کې د اُودريدو په وجه تکليف ملاؤ شي.

لهذا د کومې ورځې نه چې زما دا خيال ذهن ته راغلى نو د هماغې ورځې نه ما د شپې خوب پريخې دى چې هسې نه زما محبوب صلى الله عليه وسلم زما دروازې ته راشي او زه اُوده يم نو زما تر راويخيدو پورې به هغه ته په دروازه کې د اُودريدو په وجه تکليف ملاؤ شي، نو ځکه زه په هره شپه ويخ يم.

سبحان الله. ديته اعلى درجه عِشق او محبت وايي چې مسلسل څو شپې تر د سهار پورې د ويخ پاتې کيدو تکليف برداشت کوي خو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دروازه کې معمولي د اُودريدو تکليف نه برداشت کوي. (١)

---

(١) خطبات فقير ج٢ ص١٢٣، وجلد ١٣ ص٨١.

# ۳ . د حضرت ابوبكر صديق ﷺ ژړا

يو كرَت حضرت ابوبكر صديق ﷺ په خپل كور كې ناست وُ ، ژړل يې ، او دا دُعا يې غوښته :

اې الله ﷻ ! تا ماته مال راكړى ، اوس زه دا غواړم چې دا د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې پيش كړم ، مگر وركوونكې لاس پورته ( يعنى اَفضل ) وي ، او اخيستونكې لاس ښكته وي ، نو چې كله زه خپل مال نبي عليه السلام ته وركوم نو په دې كې يو قِسم بې اَدبي راځي چې زه دا نه شم برداشت كولى . نو اې الله ! ته په خپله د رسولُ الله ﷺ په زړه كې دا خبره واچوه چې هغوى د خپل مال غوندې زما مال هم استعمالوي .

په حديث كې راځي چې ددې نه پس به نبي كريم صلى الله عليه وسلم د حضرت ابوبكر صديق ﷺ مال د خپل مال غوندې استعمالول . (١)

## د حضرت ابوبكر صديق ﷺ محبوب شيان :

علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله په "منبهات" كې دا حديث رانقل كړى چې يو ځل رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو سره ناست وُ ، نو دوى وفرمايل :

حُبِّبَ إِلَيَّ مِنْ دُنْيَاكُمْ ثَلَاثٌ : اَلطِّيْبُ ، وَالنِّسَاءُ ، وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلٰوةِ .

ستاسو په دې دُنيا كې ماته درې ( ۳ ) شيان محبوب كړې شوي ( يعنى په دُنيا كې زما درې شيان ډير خوښ دي ) : خُوشبويي ، نيكې بيبيانې ، او زما د سترگو يَخ والې په مانځه كې ايخودل شوى .

د نبي اكرم صلى الله عليه وسلم سره چې كوم صحابه كرام ناست وو په هغوى كې حضرت ابوبكر صديق ﷺ هم وُ ، دوى وفرمايل :

صَدَقْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ، وَحُبِّبَ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا ثَلَاثٌ : اَلنَّظَرُ إِلٰى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، وَإِنْفَاقُ مَالِيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، وَأَنْ يَكُوْنَ إِبْنَتِيْ تَحْتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

(١) خطبات فقير ج۲ ص ١٢٥ ، وجلد ١۴ ص ٨٢ .

اې د الله ﷺ رسوله ! تاسو ريښتيا وويل : او ماته هم په دُنيا کښې درې شيان محبوب کړې شوي : اول د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم مخ مبارک ته کتل ۲. په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې خپل مال خرچ کول ۳. او دا چې زما لور ( حضرت عائشه رضي الله عنها ) د رسول الله ﷺ په نکاح کې ده . (يعنی زما اولاد ستاسو خدمت کوي ) .

**نوټ** : دغه نورو صحابه کرامو هم خپل خپل محبوب شيان ذکر کړه . پوره حديث په '' منبهات ابن حجر عسقلاني '' کې په ''باب الثلاثي'' کې ذکر دی ) .

## د نور صحابه کرامو او عامو مسلمانانو د نبي ﷺ سره د محبت واقعات :

دغه رنګې د هر صحابي په زړه کې د سَرورِ کونَين ، محمدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره د خپل ځان ، خپل اولاد ، خپل مور او پلار او ټولو خلقو نه زيات محبت او مينه وه . ددې يو څو نمونې درته بيانوم :

## د جنګ په ميدان کې نبي عليه السلام ته شا نه ګرځول

د صحابه کرامو په زړونو کې د ومره عظمت او محبت وُ چې د جنګ په دوران کې يې هم دوی ته شا ورګرځول نه غوښته .

په غزوهٔ اُحد کې چې کله کافرانو په نبي عليه السلام باندې د هر طرف نه د غشو او تورو ګوزارونه کول شروع کړه ، حضرت ابودجانه ﷺ چې دا اُوليده چې په نبي عليه السلام باندې د هر طرف نه د غشو باران دی ، نو ده اِراده وکړه چې د پيغبر عليه السلام مخې ته اُودريږي ، ددې د پاره چې دوی د غشو نه بچ شي .

اوس که غشو طرف ته خپله سينه مخامخ کوي نو نبي اکرم صلی الله عليه وسلم طرف ته يې شا کيږي ، او دا يې هم بې اَدبي ( او د عِشق خلاف ) ګڼړله .

لهذا حضور صلی الله عليه وسلم طرف ته يې خپله سينه اوګرځوله ، او خپله شا يې د غشو طرف ته اوګرځوله ، نو غشي به راتله او د دوی په مَلا باندې به لږيده .

**فايده** : د حضرت ابودجانه رضي الله عنه د خپل پيغمبر سره دومره محبت وُ چې د جنګ په دوران کې يې هم خپله شا نبي کريم صلی الله عليه وسلم طرف ته ګرځول بې اَدبي ګڼړله.

# د نبي ﷺ سره د محبت په وجه په څنده کې خپل وړوکې بچې پيش کول

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د صحابياتو هم ډير محبت وُ، د پيغمبر عليه السلام هر حکم ته يې لَبّيک ويل.

يو ځيره رسولُ الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل: چې د جهاد د پاره تياري وکړئ، او د جهاد د پاره يې د څَندې متعلق هم خبره وکړه.

د مدينې منوّرې په هر کور کې ښځو خپل سړي د جهاد د پاره تيارول. په يو کور کې يوه زَنانه وه، د هغې سره په کور کې څوک مشر کس نه وُ ځکه خاوند يې ددينه مخکې په جهاد کې شهيد شوې وُ، صرف وړوکې ځوي ورسره په غيږ کې وُ.

دې زَنانه دې خپل وړوکي بچي ته اُوکته او په ژړا شوه چې که چيرته زما په کور کې څوک غټ کس وی نو ما به هم تيار کړې وی، او د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم خدمت ته به مې ليږلې وی چې په جهاد کې ورسره شريک شوې وی.

د ژړا نه پس يې خپل وړوکې بچې په غيږ کې راواخيست، د خپلې سينې سره يې اُولږول، او د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضره شوه، خپل وړوکې بچې يې د پيغمبر عليه السلام په غيږ کې واچول، او ورته وې ويل:

اې د الله ﷻ رسوله! تاسو دا زما بچې د جهاد د پاره قبول کړئ.

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: دا خو وړوکې دی، جهاد خو نشي کولی.

دې ورته وويل: اې د الله ﷻ محبوبه! د کوم مجاهِد سره چې ډال نه وي، زما دا بچې هغه ته حواله کړه، هغه چې جهاد کوي او کافران وريانړدې د غشو ګوزارونه کوي نو دا مجاهد دې زما دا بچې د ډال په طور استعمال کړي. نو د دشمن د غشو نه به پرې بچ شي.(۱)

---

(۱) خطبات فقير ج ۱۴ ص ۸۸.

**فايده** : ديته د پيغمبر عليه السلام سره کلک محبت وايي چې د نبي عليه السلام د حکم په اَوريدو يې خپل وړوکي بچې د دوی په خدمت کې پيش کړو .ځکه په کور کې يې څوک غټ کس نهٔ چې جهاد له تللې وی . اګر چې ماشوم جهاد نه شي کولې خو دې يا هم د خپل عِشق ، محبت او اِخلاص مظاهره وکړه .

# د حضرت بلال ﷛ د رسولُ الله ﷺ سره محبت

د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د وفات نه پس کله چې حضرت بلال ﷛ ته په مدينه منوّره کې خپل پيغمبر په نظر نه راتلو نو په مدينه منوّره کې ورته ژوند تيرول ډير ګران معلوم شو نو ځکه شام ته لاړو .

څه ډيره موده پس يې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په خوب کې وليده ، ورته وې فرمايل اې بلال ! تا خو مونږ بالکل هير کړي يو ، چيرته د ملاقات د پاره هم نه راځې ؟

د خوب نه چې څنګه راپاڅيده نو په منډه منډه او ژړا ژړا مدينې منوّرې ته راغلو. کله چې مدينې منوّرې ته راورسيده نو صحابه کرامو ورته درخواست وکړو چې آذان وکړه . ده اِنکار وکړو ، خو د حسَنينو رضي الله عنهما په بار بار وينا سره د آذان د پاره اُودريده .

کله يې چې آذان شروع کړو نو صحابه کرامو ته د پيغمبر عليه السلام زمانه راياده شوه (ځکه د هغوی په ژوند کې به حضرت بلال رضي الله عنه آذانونه کول) ، ټول په ژړا شو ، او په مدينه منوّره کې يو جدا کيفيت پيدا شو .

کله چې حضرت بلال ﷛ د " أشهد أنّ محمدًا " لفظ وويلو نو د محمد صلی الله عليه وسلم د نوم اخيستو په وجه بې هوشه شو او په زمکه را اُوغورځيده خو آذان يې پوره نه کړې شو .

# د حضرت ثوبان ﷛ د پيغمبر عليه السلام سره محبت

په رواياتو کې راځي چې حضرت ثوبان رضي الله عنه ( کوم چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم غلام وُ ، ده ) به د رسولُ الله ﷺ سره سخت محبت کولو ، او د دوی د ليدلو نه بغير به يې صبر نه کيده .

يوه ورځ پيغمبر عليه السلام ته په داسې حالت کې راغی چې رنګ يې مُتغيّر شوې وُ ، ( جسم يې کمزورې شوې وُ ) ، او په مخ يې د غم آثار ښکاره کيده ، حضور صلی الله عليه وسلم ورنه پوښتنه وکړه :

مَا غَيَّرَ لَوْنَكَ ؟ دا ستا رنګ ولې بدل شوی ؟ ( آيا په تا کې څه بيماري ده ؟ يا څه تکليف درته دی چې دومره کمزورې شوې يې او رنګ دې هم بدل شوی ؟ )

هغه ورته ووېل : اې د الله ﷺ رسوله ! په ما کې نه څه مرض شته ، او نه راته څه دَردونه شته ، خو صرف دومره خبره ده چې ( زما په زړه کې د تاسو سره دومره محبت دی چې ) زه کله تاسو او نه ګورم نو (ددې نه ليدلو په وجه ) زه په سخت وحشت او يَره کې پرېوځم ، تر دې پورې چې زه ستاسو ملاقات وکړم ( نو بيا ماته اطمينان او سکون حاصل شي ) ، بيا ماته آخرت رایاد شي نو د ما سره دا يَره پيدا شي چې زه به تاسو هلته او نه ګورم ، ځکه که چيرته زه جنت ته داخل هم شم نو تاسو خو به د انبياء کرامو په اُوچتو درجو کې يې ، او زما مرتبه خو ستاسو د مرتبې نه کمه ده ( ځکه زه غلام يم او تاسو پيغمبر يې نو هلته به زه تاسو او نه ګورم ) . او که جنت ته داخل نه شم نو بيا خو به تاسو هيڅ کله او نه ګورم . نو بيا به زما څه حال وي ؟

( اې د الله ﷺ رسوله ! کله چې زه د آخرت متعلق دغه سوچ وکړم چې هلته به راته ستاسو ملاقات نه نصيبه کيږي نو په ما باندې غم او خفګان زيات شي ، ځکه ماته خو ستاسو د ملاقات نه بغير اطمينان او سکون نه حاصليږي ) .

پس الله ﷻ دا آيتونه نازل کړه :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾ . (١)

(١) النساء آيت ٦٩ .

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو دوی به (په جنت کې) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړې دی چې هغه پیغمبران ، صدیقین ، شهداء او صالحین دي ، او دا خلق ډیر ښه دي په ملګرتیا کې (یعنی دا خلق ډیر ښه ملګري دي) . (١)

## حضرت امیر معاویة رضي الله عنه او د نبي علیه السلام د ویښتانو تعظیم

حضرت امیر معاویة رضي الله عنه سره د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم څه ویښتان او څه نُوکان موجود وو ، کله چې دې وفات کیده نو وَصیت یې وکړو چې دا شیان زما په خُله او سترګو کې کیدئ ، او نوره زما معامله اَرحَمُ الرّاحمین ذات ته اُوسپارئ . (٢)

## د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه د نبي علیه السلام سره مینه

په احادیثو کې ذکر دي چې د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه د تَندي ویښتان دومره غټ شوي وو چې کله به دې ناست وُ او دا به یې راپریخوده نو زمکې ته به رارسیده .

خلقو ورته پوښتنه وکړه چې تا دا ویښتان ولې دومره غټ پریخي دي ؟ ولې یې نه کټ کوی ؟

ده ورته وویل : چې یو وخت د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم لاس مبارک ددې ویښتانو سره لږیدلې وُ نو ځکه ما تبرّګا دا پریخي دي ، او نه یې کټ کوم .

---

(١) قَوْلُهُ تَعَالٰی : ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ .... الاية ﴾ نَزَلَتْ فِيْ ثَوْبَانَ مَوْلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَكَانَ شَدِيْدَ الْحُبِّ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَلِيْلَ الصَّبْرِ عَنْهُ . فَاَتَاهُ ذَاتَ يَوْمٍ وَقَدْ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ يُعْرَفُ الْحُزْنُ فِيْ وَجْهِهٖ . فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا غَيَّرَ لَوْنَكَ ؟ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا بِيْ مَرَضٌ وَلَا وَجَعٌ غَيْرَ اَنِّيْ اِنْ لَمْ اَرَكَ اسْتَوْحَشْتُ وَحْشَةً شَدِيْدَةً حَتّٰی اَلْقَاكَ . ثُمَّ ذَكَرْتُ الْاٰخِرَةَ فَاَخَافُ اَنْ لَا اَرَاكَ ، لِاَنَّكَ تُرْفَعُ مَعَ النَّبِيّٖنَ . وَاِنِّيْ اِنْ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ كُنْتُ فِيْ مَنْزِلَةٍ اَدْنٰی مِنْ مَنْزِلَتِكَ ، وَاِنْ لَمْ اَدْخُلِ الْجَنَّةَ لَا اَرَاكَ اَبَدًا . فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ . تفسير بغوي ج١ ص ٢٥٩ حديث ٦٦٠ سورة النساء آيت ٦٩ . تفسير خازن سورة النساء آيت ٦٩ ، تفسير السراج المنير ج١ ص ٣١٢ تحت قوله تعالى ﴿ و إذا لآتيناهم من لدنا اجراً عظيما ﴾ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٥ .

(٢) تاريخ الخلفاء للسيوطي رحمه الله ، ندائے ممبر ومحراب ج٢ ص ٧٤ .

# د نبي عليه السلام د ليدلو شوق

د صحابه کرامو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره دومره مينه او محبت وُ چې کله به دوی په خپلو کورونو کې وو ، د شپې به چې کله راپاڅيده او د نبي عليه ديدار ته به يې زړه اوشو ، نو د شپې به د کور نه راروان شو او د پيغمبر عليه السلام د دروازې سره نزدې به اُودريده ، او په گِنتو گِنتو به يې د دوی اِنتظار کولو ، ددې د پاره چې کله سَهر پيغمبر عليه السلام بهر تشريف راوړي نو د ورځې اِبتداء به د دوی د مخ مبارک په ليدلو وکړي ، او خپلې سترگې به د دوی په دِيدار يخې کړي .

# د ژوند په آخِري وخت کې د نبي عليه السلام د دِيدار شوق

يو صحابي د جهاد په ميدان کې زخمي شو ، تر دې چې بيهوشۍ ته نزدې شو ، په دې دَوران کې يو بل صحابي راغی او دده نه يې پوښتنه وکړه :

اَلَکَ حَاجَةٌ ؟ آيا ستا څه ضرورت شته ؟ (چې زه هغه پوره کړم) .

ده ورته ووېل : آو زما زړه دا غواړي چې په دې آخِري وخت کې د خپل محبوب محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم دِيدار وکړم.

لهذا دې روغ صحابي دا زخمي صحابي په خپلو اُوږو باندې کينول او راروان يې کړو ، په يو ځای کې رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريف فرما وُ . ده دا صحابي د خپلو اُوږو نه راښکته کړو ، او ورته وې وېل :

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ستاسو مخې ته دی.دې زخمي صحابي چې څنگه د محمّدُ رّسولُ الله ﷺ نوم مبارک واوريده نو خپلې سترگې يې را اُوغړولې ، او د پيغمبر عليه الصلوة والسلام په ديدار سره يې خپلې سترگې يخې کړې، او بيا شهيد شو .[1]

**فايده** : دا اعلی درجه محبت دی چې د ژوند په آخِري وخت کې يې هم د خپل محبوب د ليدلو تَمنّا لرله.

(۱) عشق الهی ص ۷۴ ، خطبات فقير ج۱۴ ص ۷۸ .

# د رسولُ الله ﷺ سره د يو صحابي د محبت واقعه

يو پيره رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو سره تشريف فرما وُ ، صحابه کرامو ته يې وفرمايل :

که چيرته ما د چا سره څه زياتې کړې وي نو هغه دې راشي او د ما نه دې خپله بَدله واخلي کله چې پيغمبر عليه السلام دا خبره وکړه نو صحابه کرام خاموشه شو ، ځکه يو خو نبي عليه السلام د هيچا سره څه زياتې نه وُ کړې ، او دويم دا چې هيچا د نبي عليه السلام نه د بَدلې اخيستلو جُرأت نه کولو . مګر يو کس پاڅيده او وې ويل :

اې د الله رسوله ! زما په تاسو باندې يو حق دی لهذا زه د تاسو نه خپله بدله اخيستل غواړم . هغه حق دادی چې يو پيره تاسو په ميدانِ جهاد کې صفونه صحيح کول ، او په هاغه وخت کې ستاسو په لاس کې يو تيره باريک لرګې وُ ، تاسو ماته وويل :

لږ روستو شه . کله چې تاسو هغه لرګې زما بدن سره اُولږول نو په هغې سره ماته تکليف راورسيده . لهذا زما په تاسو باندې هاغه حق پاتې دی .

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : تاسو هم تيره لرګې راواخلئ او چې څنګه ما کړي وو هماغه شان تاسو هم وکړئ . ده ورته وويل : اې د الله ﷺ رسوله ! اوس خو ستاسو په بدن باندې کُرته ده ، او هاغه وخت زما په بدن باندې هيڅ کپړه نه وه ، نو زه څنګه بدله واخلم ؟

پيغمبر صلى الله عليه وسلم د خپلې ملا مبارکې نه کُرته لرې کړه .... صحابه کرام حيران دي چې ده په لاس کې لرګې نيولی ، او وايي چې زه د نبي عليه السلام نه خپله بَدله اخلم .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه غوښته چې زه دې کس ته ووايم چې د نبي عليه السلام په ځاې باندې زما بدن حاضر دی هر څو ګوزاره يې چې وهی نو وې وهه .

دغه رنګې حضرت عمر رضي الله عنه هم اُودريدل غوښته ، مګر د اَدب د وجې نه هيچا څه نه شو ويلی . او دا خبره هم د خلقو ذهن ته نه راتله چې دا صحابي څنګه د رسولُ الله ﷺ نه خپله بدله اخلي ؟ او نبي عليه السلام هم ورته تيار دی .

پس کله چې محمّدُ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د خپلې مَلا نه کُرته لرې کړه نو دا صحابي ورنزدې شو ، لرګي یې په زمکه اُوغورځول ، د نبي علیه السلام مُهرِنبوّت یې ښکل (چَپ) کړو ، او د دوی د شا مبارکې سره یې خپله سینه اُولږوله ، او وې ویل :

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! د ډیرې مودې نه زما دا تَمنّا وه چې ستاسو مُهرِ نبوّت ښکل کړم لیکن ماته به هیڅ موقع نه ملاویده . پس کله چې تاسو د بَدلې اخیستو خبره وکړه نو زما زړه ته خبره راغله چې نن زما بَخت راویښ شو ، او ماته د نبي علیه السلام د مُهرِنبوّت د ښکلولو موقع په لاس راغله . نو ځکه مې دا کار وکړو . ورنه زه دا جُراَت څنګه کولې شم چې د تاسو نه خپله بدله واخلم .

## د اُویس قرني رحمه الله د نبي علیه السلام سره د محبت واقعات

۱ . علامه فرید الدین عطّار رحمه الله په خپل کتاب " تذکرة الاولیاء " کې د اُویس قَرني رحمه الله په حالاتو کې لیکلي چې اُویس قرني رحمه الله تابعي وُ ، د خپل مور د خدمت په وجه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په صُحبت کې نه وُ شریک شوی .

کله چې په غزوه اُحد کې د پیغمبر علیه السلام دوه (۲) غاښونه مبارک شهیدان شو ، او اُویس قرني ر حمه الله ته دا خبر اُورسیده نو دده په زړه کې د خپل پیغمبر سره دومره محبت وُ چې ده دا برداشت نه کړې شوه چې زما د محبوب (رسولُ الله ﷺ) دا غاښونه دې نه وي او زما په خُله کې دې دا غاښونه موجود وي ، او زه دې پرې خوَند اَخلم ، نو خپل مخکیني غاښونه یې اُوویسته .

بیا ورته سوچ ورغی چې ما دا کوم خپل غاښونه ویسته کیدې شي د نبي علیه السلام دا غاښونه نه وي شهیدان شوي بلکه دا نور دوه یې شهیدان شوي وي نو ده دا نور دوه غاښونه اُوویسته .

همدغه شان په همدې سوچ به یې خپل دوه دوه غاښونه ویسته ، تر دې پورې چې خپل ټول غاښونه یې د پیغمبر علیه السلام سره د محبت په وجه اُوویسته .

**فايده** : اګر چې غابنونه ويستل څه شرعي مسئله او ضروري خبره نه ده خو چونکه دا خبره د عِشق او محبت سره تعلق لري نو ځکه يې خپل ټول غابنونه اُوويستل . او ديته کمال عِشق او محبت وايي . (١)

٢ . د اُويس قرني رحمه الله په حالاتو کې راځي چې د رسولُ الله ﷺ د وفات نه پس کله دې مدينې منوّرې ته د قبر د زيارت د پاره راروان شو ، کله چې مدينې منوّرې ته داخل شو . په سوَرلۍ باندې سور وُ ، نو چې ځنګه يې په ګُنبدِ خضراء باندې نظر اُولږيده فورًا د سورلۍ نه را اُوغورځيده او بې هوشه شو . کله چې په هوش کې راغی نو ورسره موجود کسانو ته يې وويل :

أَخْرِجُوْنِيْ أَخْرِجُوْنِيْ كَيْفَ يلذ بِيْ بَلَدٌ أَنَا فَوْقَهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدْفُوْنٌ تَحْتَ تُرَابِهِ .

ما ددې ښار نه زر اُوباسئ ، ما ددې ښار نه زر اُوباسئ ، زه به په دې ښار کې ځنګه خوشحاله شم چې زه ددې خاورو د پاسه ګرځم حالانکه زما محبوب نبي کريم صلی الله عليه وسلم ددې خاورو لاندې دفن دی .

فايده : دا هم څه شرعي مسئله نه ده خو د عِشق او محبت سره تعلق لري چې دا بې اَدبي ګڼي چې زه خو دې د خاورو د پاسه ګرځم او زما محبوب د خاورو لاندې دی .

## د نبي عليه السلام سره د محبت کوونکي کس مقام

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عمر ﵁ فرمايي د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې يو کس وُ ، خپل نوم يې عبدالله وُ خو خلقو به ورته ( دده د بې وَقوفتيا په وجه ) "حِمار" ( يعنی خَر ) ويل .

دَه به ( په خپلو خبرو سره ) نبي عليه السلام خندَولو . پيغمبر عليه السلام په دَه باندې د شرابو څکلو په وجه حَد جاري کړې وُ .

---

(١) تذكرة الاولياء لمولانا فريد الدين عطار رحمه الله حالات اُويس قرني رحمه الله .

يوه ورځ بيا دې د شرابو څکلو په جُرم کې نبي عليه السلام ته راوستې شو ، دوی ورباندې د حَد جاري کولو حکم وکړو ، نو هغه په کوړو باندې اُوهلې شو . په حاضرينو کې يو کس دده په باره کې وويل :

اې الله ! په ده باندې لعنت راوليږې ، ځکه دې څو څو پيرې د شرابو څکلو په جُرم کې راوستې شو . نبي عليه السلام وفرمايل :

لَاتَلْعَنُوْهُ فَوَاللهِ مَا عَلِمْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ. (١)

تاسو په ده باندې لعنت مه وايئ ، قسَم په الله ، ماته خو دده متعلق دا معلومه ده چې دې د الله ﷻ او د هغه د رسول سره محبت کوي .

**فايده** : اگر چې څو پيرې په ده باندې د شرابو حَد جاري کړې شو خو ليکن نبي عليه السلام بيا هم صحابه کرام په ده باندې د لعنت ويلو نه منع کړه ، ځکه چې دده په زړه کې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه وه .

## د عبدالرحمن جامي رحمه الله د نبي عليه السلام سره محبت

مولانا زکريا رحمه الله په خپله رساله '' فضائل درود شريف '' کې ذکر کړي چې د عبدالرحمن جامي رحمه الله په زړه کې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره ډير زيات عِشق او محبت ؤ ، او په فارسی کې يې د نبي عليه السلام په باره کې يوه بهترينه قصيده هم جوړه کړې وه . د دوی واقعه ډيره مشهوره ده چې :

يو ځل دې حج ته لاړ ، د حج د اَداء کولو نه روستو يې دا اِراده وکړه چې د نبي عليه السلام د روضې مخامخ به دا قصيده وايم .

(١) عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِسْمُهُ عَبْدَاللهِ ، وَكَانَ يُلَقَّبُ حِمَارًا وَكَانَ يُضْحِكُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ قَدْ جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ ، فَأُتِيَ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : اَللّٰهُمَّ الْعَنْهُ مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتٰى بِهِ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْعَنُوْهُ فَوَاللهِ مَا عَلِمْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ
بخاري كتاب الحدود باب ما يكره من لعن شارب الخمر وإنه ليس بخارج من الملة حديث ٦٧٨٠

امیرِ مکه په دغه شپه باندې خوب ولیده ، په خوب کې ورته رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : اې امیرِ مکه ! عبدالرحمن جامي مدینې منوّرې ته مه راپرېږده .

امیرِ مکه دې د مدینې د تګ نه منع کړو ، خو په ده باندې د حضور صلی الله علیه وسلم عِشق او محبت دومره غالِب وُ چې په پټه باندې مدینې منوّرې ته روان شو .

په دویمه شپه باندې بیا امیرِ مکه خوب ګوري ، په خوب کې ورته رسول الله ﷺ فرمایي: اې امیرِ مکه ! عبدالرحمن جامي خو راروان دی ، هغه مدینې ته مه راپرېږده ، بلکه وې ګرځوه .

کله چې دې، د خوب نه راپیدار شو نو خلق یې په تیزۍ باندې ورپسې ورولیږل . عبدالرحمن جامي رحمه الله یې د لارې نه راواپس کړو ، سختي یې ورباندې وکړه ، او په جیل (بَندي خانه ) کې یې واچول .

په دریمه شپه بیا امیرِ مکه خوب اُولیده ، په خوب کې ورته پیغمبر علیه السلام فرمایي: چې عبدالرحمن جامي خو څه مُجرم نه دی ( چې دا دومره سختي دې ورسره وکړه ) بلکه ده څه اَشعار جوړکړي او دا اِراده یې کړې چې دا اَشعار زما د روضې سره ووایي . او که ده دا اَشعار دلته ووېل نو زه به ورته د قبر نه د مُصافحې د پاره لاس رااُوباسم ، چې دا بیا زما د اُمت د پاره فِتنه جوړېږي . لهذا مولانا جامي د قید خانې نه خوشې کړه .

امیرِ مکه چې د خُوب نه راپاڅیده نو عبدالرحمن جامي رحمه الله یې د جیل نه راوویست او ډیر عزت او احترام یې دده وکړو . (١)

---

(١) فضائل درود شریف ص ١١٢ ط کتب خانه فیضي لاهور .

**نوټ** : د مولانا جامي رحمه الله پوره قصیده مولانا زکریا رحمه الله په فضائل درود شریف کې سره د ترجمې نقل کړې ده ، زه به درته صرف یو څلور کړۍ دلته ذکر کړم :

زمهجوری برآمد جانِ عالَم ❁ تَرَحَّمْ یَا نَبِيَّ الله تَرَحَّمْ .

تو آخر رحمةٌ لِلعَالَمِینِي ❁ ز محرومان چرا غافل نشیني

ز خاک اے لالۂ سیراب برخیز ❁ چو نرګس خواب چند از خواب بَر خیز

برون آور سر از بُردِ یَماني ❁ که روے تست صبح زندګاني .

**نوټ** : د پیغمبر علیه السلام د روضې مبارکې نه د مصافحې د پاره لاس رابهر کول څه مُستبعَده خبره نه ده ، ځکه علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله په خپل کتاب " الحاوي " کې د مشهور بزرګ او صوفي سید احمد رفاعي رحمه الله واقعه تفصیلي ذکر کړې ده چې کله دې په کال پنځه سوه او پنځه پنځوس ( ۵۵۵ ) هجري کې د نبي علیه السلام روضې مبارکې ته لاړ ، او دوه اَشعار یې وویل نو د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د روضې مبارکې نه ورته لاس رابهر شو ، ده هغه ښکل ( چُپ ) کړو . دا واقعه مولانا زکریا رحمه الله په رساله د " فضائل حج " کې د زیارتِ مدینه په واقعاتو کې هم نقل کړې .

دغه رنګې علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله په خپل کتاب " الحاوي " کې نور ډیر داسې واقعات هم نقل کړي چې په هغې کې د روضه اَقدس نه د سلام جواب ورکولو ذکر دی . (۱)

## د سلطان محمود غزنوي رحمه الله د نبي علیه السلام سره محبت

سلطان محمود غزنوي رحمه الله د وخت بادشاه وُ خو په زړه کې یې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره دومره محبت وُ چې بې اَودسه به یې د هغوی نوم مبارک هم نه اخیستو . دده په خاصو ملګرو او خادمانو کې د یو کس نوم " محمد " وُ ، ده به هغه ته په همدې نوم ( محمد ) باندې آواز کولو .

یوه ورځ ده هغه ته خلافِ عادت د " تاج الدین " په نوم آواز وکړو ، هغه راغې د حکم تَعمیل یې وکړو ، بیا کورته لاړ ، تر درې ( ۳ ) ورځو پورې د بادشاه دَربار ته حاضِر نه شو . بادشاه کورته وریسې کس ور ولیږل ، کله چې راغی نو د غیر حاضرۍ سبب یې ورنه معلوم کړو چې : دا درې ورځې ولې دربار ته رانغلې ؟

هغه ورته وویل : بادشاه سلامت ! تاسو به همیشه ماته زما په خپل نوم ( محمد ) باندې آواز کولو ، خو درې ورځې مخکې تاسو ماته خلافِ عادت د تاج الدین په نوم آواز وکړو ، نو زه پوهه شوم چې ستاسو به زما متعلق څه بَدګماني پیدا شوې وي نو ځکه دا درې ورځې

(۱) فضائل درود شریف ص ۱۱۳ لمولانا زکریا رحمه الله ط کتب خانه فیضي لاهور .

ستاسو مخې ته رانغلم ، او په کور کې مې دا درې ورځې ډير په خفګان تيرې کړی ( چې آخر د مانه کومه غلطي شوی چې بادشاه رانه خفه شوی ؟ ) .

سلطان محمود غزنوي رحمه الله ورته اطمينان ورکړو چې زما ستا متعلق بدګماني نه ده پيدا شوی ، خو په هاغه ورځ باندې چونکه زما اَودس نهٔ ، ماته حياء راتله چې د محمد نوم بې اَودسه واخلم ( ځکه دا زمونږ د خوږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم نوم مبارک دی ) نو تاته مې ځکه د تاج الدين په نوم آواز وکړو . (١)

سبحان الله . د بادشاهِ وقت په زړه کې د خپل پيغمبر سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره دومره محبت او اَدب وُ چې بې اَودسه يې د هغوی نوم مبارک هم اخيستل نه خوښول، حالانکه د نبي عليه السلام نوم اخيستلو دپاره اودس کول شرط نه دي ، خو ليکن د دوی د خپل پيغمبر سره دومره مينه وه چې بې اودسه يې د هغوی نوم اخيستل هم شرم او بې اَدبي ګڼړله .

# د انسانانو نه علاوه نورو مخلوقاتو هم د نبي عليه السلام سره محبت کولو

رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې عظيم پيغمبر وُ چې د انسانانو نه علاوه نورو مخلوقاتو ( جِنّاتو ، حيواناتو ، اُونو او نورو جَماداتو ) هم د دوی سره محبت کول ، او د دوی د نبوّت تصديق يې کولو .

ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې بيانوم :

## د ممبر په جوړيدو د اُونې د ژړا ( حَنانې ) ژړا

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به کله د جُمعې خطبه ورکوله نو د اُونې يا قجورې يوې تَنې ته به يې دَدَه وهله ، او د اَنصارو يوې زَنانه يا يو کس وويل :

(١) تاريخ فرشته ، ندای ممبر و محراب ج٢ ص ٧٥ .

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! آیا مونږ تاسو له ممبر جوړ کړو ؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل : که ستاسو خوښه وي نو جوړ یې کړه . نو دوی ممبر جوړ کړو . کله چې د راتلونکې جُمعې په ورځ رسولُ الله ﷺ ممبر ته اُوخت نو دې د قجورې ونې ( د نبي علیه السلام د فِراق او د ذِکرُ الله نه د لرې والي په وجه ) د ماشوم په شان ژړا شروع کړه .

بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم راښکته شو او د خپلې سینې سره یې اُونښوله . دې داسې ژړا کوله لکه ماشوم چې سلګۍ وهي او ژاړي . (۱)

## په نبي علیه السلام باندې د اُونو او کاڼو سلام اچول

د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنِّيْ لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّيْ لَأَعْرِفُهُ الْآنَ . (۲)

بیشکه زه د مکې هغه کاڼي پیژنم کوم به چې په ما باندې د نبوت نه مخکې سلام اچول (نبي علیه السلام دوباره تاکیدًا وفرمایل ) بیشکه زه هم هاغه کاڼړي پیژنم .

---

(۱) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْمُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَى شَجَرَةٍ أَوْ نَخْلَةٍ . فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ أَوْ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَنَجْعَلُ لَكَ مِنْبَرًا ؟ قَالَ : إِنْ شِئْتُمْ . فَجَعَلُوْا لَهُ مِنْبَرًا . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ رُفِعَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ صِيَاحَ الصَّبِيِّ . ثُمَّ نَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُ إِلَيْهِ . تَئِنُّ أَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِيْ يُسَكَّنُ . ( قَالَ : كَانَتْ تَبْكِيْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ عِنْدَهَا ) . بخاري باب علامات النبوة في الاسلام حديث ۳۵۸۴ . / او په یو روایت کې راځي : حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنهما فرمایي :

كَانَ الْمَسْجِدُ مَسْقُوْفًا عَلَى جُذُوْعٍ مِنْ نَخْلٍ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ يَقُوْمُ إِلَى جِذْعٍ مِنْهَا . فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ وَكَانَ عَلَيْهِ فَسَمِعْنَا لِذَلِكَ الْجِذْعِ صَوْتًا كَصَوْتِ الْعِشَارِ . حَتَّى جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهَا فَسَكَنَتْ . بخاري حديث ۳۵۸۵ .

وفي رواية : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ إِسْتَنَدَ إِلَى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ . فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ . فَاسْتَوَى عَلَيْهِ . إِضْطَرَبَتْ تِلْكَ السَّارِيَةُ كَحَنِيْنِ النَّاقَةِ حَتَّى سَمِعَهَا أَهْلُ الْمَسْجِدِ حَتَّى نَزَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَنَقَهَا . فَسَكَنَتْ . هذا حديث صحيح . شرح السنة للبغوي حديث ۳۷۲۴ .

(۲) مسلم شريف كتاب الفضائل باب فضل نسب النبي صلى الله عليه وسلم وتسليم الحجر عليه قبل النبوة حديث ۲۲۷۷ ، المعجم الكبير للطبراني حديث ۱۹۰۷ .

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي :

كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ فَرَخْنَا فِي نَوَاحِيْهَا خَارِجًا مِنْ مَكَّةَ بَيْنَ الْجِبَالِ وَالشَّجَرِ فَلَمْ يَمُرَّ بِشَجَرَةٍ وَلَا جَبَلٍ إِلَّا قَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ . (۱)

مونږ د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره په مکه کې وو نومونږ د مکې نه بهر اطرافو غرونو او اُونو طرف ته اُووتو ، پس نبي علیه السلام به چې په هره اُونه او هر غر باندې تیریده نو هغې به ( په نبي علیه السلام باندې سلام اچول ، او داسې به یې ) ورته ویل :

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ . سلام دې وي په تا باندې اې د الله رسوله .

## د اُحد غر خوزېدل

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د اُحد په غَر باندې اُوخَت ، او ورسره حضرت ابوبکر صديق ، حضرت عمر ، او حضرت عثمان رضي الله عنهم هم وو ، نو د اُحد دا غَر ( د ډېرې خوشحالۍ ، يا د بارِ نبوّت د دروندوالي نه ) اُوخوزېده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

اُثْبُتْ اُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيْقٌ وَشَهِيْدَانِ . (۲)

اې اُحده ! اُودرېږه ( خوزه مه ) ، ځکه په تا باندې يو پيغمبر ولاړ دی ، يو صديق دی ، او دوه شهيدان دي .

## خَر د نبي عليه السلام فِراق برداشت نه کړې شو

په رواياتو کې راځي چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم يو خَر ؤ ، کله چې نبي علیه السلام وفات شو نو دې خَر ځان د ډېر غم او خفګان نه کوهي ته اُوغورځول ، او مړ شو . (۳)

(۱) شرح السنّة للبغوي حديث ۳۷۱۹ باب جامع صفاته صلى الله عليه وسلم .

(۲) بخاري حديث ۳٦۷۵ ، ابوداؤد حديث ۲۰۹۷ ، ترمذي حديث ۳٦۹۷ بابٌ في مناقب عثمان بن عفان رضي الله عنه .

﴿صِدِّيْقٌ﴾ : المرادُ به ابوبكر رضي الله عنه . ﴿شَهِيْدَانِ﴾ : هما عُمر وعثمان رضي الله عنهما وقد ماتا شهيدان .

(۳) ... وَأَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم لَمَّا مَاتَ تردى (اى الحمار) فِي بِئْرٍ جَزَعًا وَحُزْنًا . فَمَاتَ . اخرجه الطبراني في الكبير ۱۱/۱۱ ، نزهة الناظرين كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم ص ۵۲ .

# يو وَحشي څناور او د نبي عليه السلام تعظيم كول

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په كور كې يو ځنګلي څناور وُ ، كله به چې رسول الله ﷺ بهر اُووته نو دې څناور به اخوا ديخوا مَنډې رامنډې او ټوپونه وهل ، خو چې كله به ده د رسولُ الله ﷺ د واپس راتلو آواز واوريده نو فورًا به په يو ګُنج (ګُټ) كې پټ كيناسته ، هيڅ آواز به يې نه كولو ، ددې د پاره چې چيرته حضور صلى الله عليه وسلم ته تكليف او نه رسي . (١)

**فايده** : د بعضې رواياتو نه معلوميږي چې دا هُوسۍ وه . اګر چې هوسۍ عام طور باندې صحيح تربيت نه اَخلي ، او كه بيا يو څناور په كور كې عادت شي نو بيا د خپل مالك په ليدلو خوشحالي كوي او ټوپونه وهي ، حالانكه دا څناور به بَرعكس د نبي عليه السلام په راتلو خاموشه شو ، په يو ګُټ كې به كيناست او ټوپونه به يې نه وهل . دا ددې د پاره چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته تكليف او نه رسي . (٢)

# اُونه د نبي عليه السلام د سلام د پاره راتلل

د مشكوة شريف حديث دى ، حضرت يعلى بن مُرة الثقفي رضي الله عنه فرمايي : چې يو كرَت مونږه د رسولُ الله ﷺ سره سفر كولو نو په يو ځاى كې مو قيام وكړو ، نبي عليه السلام اُوده شو ، (ما اُوكته چې) يوه اُونه راروانه ده ، زمكه يې څيرې كوله ، تر دې پورې چې نبي كريم ﷺ ته راورسيده ، په دوى باندې بَره راخوَره شوه (يعنى دوى يې په خپلو پاڼو كې پټ كړو) ، بيا واپس خپل ځاى ته لاړه .

كله چې نبي اكرم صلى الله عليه د خوب نه راويخ شو نو ما ورته د اُونې د راتلو خبره وكړه ، هغوى راته وفرمايل :

---

(١) مسند احمد ، ابويعلى ، البداية والنهاية ، ترجمان السنّة ج٣ ص ١٥٠ .

(٢) ترجمان السنّة ج٣ ص ١٥٠ .

هِيَ شَجَرَةٌ إِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا فِيْ أَنْ تُسَلِّمَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ فَأَذِنَ لَهَا. (١)

دا يوه اُونه وه، دې د خپل رب (الله ﷻ) نه اِجازت غوښتې وُ چې د الله ﷻ په رسول (يعني ما باندې) سلام واچوي، نو الله ﷻ ورته اِجازت ورکړو (نو ځکه زما د سلام د پاره راغلې وه او واپس لاړه).

## د اُوښانو د نبي عليه السلام سره مينه

په رواياتو کې راځي چې د حجّة الوداع په موقع باندې کله چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم قرباني کوله، او د قربانۍ د پاره اُوښان راوستې شو نو هر اُوښ به د بل نه د مخکې کيدلو کوشش کولو، ددې د پاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په څټ باندې اول چاړه راکاږي. (٢)

## خلاصه:

ددې آحاديثو معجزاتو او واقعاتو نه معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د انسانانو نه علاوه نورو مخلوقاتو هم محبت کولو.

نو چې کله دې شيانو دنبي عليه السلام سره محبت کول نو په کار ده چې مسلمان خو په طريقِ اولیٰ د خپل پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره محبت وکړي.

(١) قَالَ (يعلى بن مُرَّة الثقفي) ... ثُمَّ سِرْنَا حَتّٰى نَزَلْنَا مَنْزِلًا فَنَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتّٰى غَشِيَتْهُ، ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى مَكَانِهَا. فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ: هِيَ شَجَرَةٌ إِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا فِيْ أَنْ تُسَلِّمَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ فَأَذِنَ لَهَا... مشكوة شريف، شرح السنة للبغوي حديث ٣٧١٨ باب علامات النبوة

(٢) عَنْ عبدِالله بن قُرْطٍ: قُرِّبَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ. فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ. ابوداؤد حديث ١٧٦٥ بابٌ في الهدى إذا عَطِبَ قبل ان يَبلُغَ، المستدرك على الصحيحين للحاكم حديث ٧٥٢٢.

# د غربي مُفکرينو په نظر کې د رسول الله ﷺ عظمت

کله چې غَربِي مُفکّرِينو او مُصنّفِينو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ژوند ، حالاتو او کمالاتو باندې نظر واچول نو دوی په دې اِقرار باندې مَجبوره شو چې په خپلو کتابونو کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په باره کې د عَظمت او اَدب نه ډک مضمون وليکي .

اګر چې د اِسلام د حقانيت او د پيغمبر عليه السلام د عَظمت د پاره د دې غَربي مُفکّرينو د اِقرار او تائِيد هيڅ ضرورت نشته ، خو بيا هم د دوی د دې اِقرار نه دا معلوميږي چې د رسولُ الله ﷺ تعليمات او سُنت د ژوند تيرولو د پاره بهترين اُصول دي . او کمال هم دا دی چې ستا دُشمن هم د يو شي د حَقانيت اِقرار وکړي . مشهوره مَقوله ده : وَالْفَضْلُ مَاشَهِدَتْ بِهِ الْأَعْدَاءُ . اوس درته د يو څو غَربي مُفکّرينو اَقوال نقل کوم :

## د '' مَائکل هارټ '' وينا :

يو عيسائي اَنګريز د اَمريکې اُوسيدونکي '' مائکل هارټ '' يو کتاب ليکلې دی ، د هغې نوم دی '' دِيْ هَنْڈَرِدْ مِنْ '' يعنی سَل سړي .

په دې کتاب کې ده د هغه کسانو تَذکره کړې کوم چې دده په نزد بهترين شخصيات تير شوي ، او بهترينې کارنامې يې کړې دي .

په دې کتاب کې ده د يوولسو (۱۱) پيغمبرانو ، مشهورو بادشاهانو ، او نورو اِنقلابي لِيډرانو تذکره کړې . خو د ټولو نه اول يې زمونږ د پيغمبر محمّدُرّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ذکر کړی .

د کتاب په ديباچه (مقدّمه) کې ده ليکلي چې : زما دا کتاب خو به اول عيسايان ګوري (ځکه دې په خپله عيسائي وُ ) ، او په ما باندې به اول عيسايان دا اعتراض کوي چې :

تا خو اول د مسلمانانو د پيغمبر تذکره کړې ، او د حضرت عيسٰی عليه السلام ذکر دې روستو کړی ، دا ولې ؟

نو بيا ده په خپله د دې اِعتراض جواب ورکړی چې : دا يو حقيقت دی ، او دا زه پټولی نه شم چې د مسلمانانو په پيغمبر کې کومې خُوبۍ دي هغه په حضرت عيسٰی عليه السلام

کې نشته . او بیا دې انگریز ددې تفصیل په خپله داسې ذکر کړی چې :

✿ د حضرت عیسیٰ علیه السلام یقیني تاریخ محفوظ نه دی ،( ځکه دا کوم عیسائي تاریخ چې د حضرت عیسیٰ ﷺ د پیدائش نه راپه دیخوا چلیږي ، نو عیسایان مُحقّقین وایي چې په دې تاریخ کې هم د شپږو کالو فرق دی ) ، حالانکه د مسلمانانو د پیغمبر ټول صحیح تاریخ محفوظ دی .

✿ بیا لیکي چې : د مسلمانانو پیغمبر بادشاه ؤ ، لس لکه مُربع میل زمکه یې فتح کړې وه ، د هغوی د وفات نه روستو د هغوی شاگردانو ( یعنی خُلفائې راشدینو ) د هغه نِظام خور کړو ، خو حضرت عیسیٰ ﷺ بادشاهي نه ده کړې. دغه وجه ده چې عیسایان خپل نِظام په خپله جوړوي .

✿ بیا لیکي چې : حضرت عیسیٰ ﷺ واده نه ؤ کړی ، د دُنیا سره یې تعلق نه ؤ ، دَفتري ژوند یې نه دې تیر کړی . نو د کور واله سره ژوند ، د بچو سره ژوند ، او د گاونډیانو سره سلوک به د چا نه معلوموو ؟ حالانکه د مسلمانانو پیغمبر وَدُونه کړي وو ، بچي یې پیدا شوي ، او گاونډیتوب یې تیر کړی ، د ټولو سره د ژوند تیرولو اصول یې پریخې .

✿ بیا لیکي چې : حضرت عیسیٰ ﷺ جِهاد نه ؤ کړی ، حالانکه د مسلمانانو پیغمبر اُوه ویشت ( ۲۷ ) غزاگانې کړي ، اُولس لکه مُربّع میل زمکه یې فتح کړې ، او په هغه فتح شوې علاقو یې اِسلامي نِظام نافِذ کړې ؤ .

✿ بیا دغه عیسائي انگریز لیکي چې : کله د مسلمانانو په پیغمبر کې دومره خوبۍ موجودې وی نو ما ځکه د هغه تذکره اول اوکړه .

مائکل هارټ چې د پیغمبر علیه السلام په باره کې د تعظیم کوم الفاظ لیکلي ، د هغې څه حصه درته په عربۍ کې رانقل کوم ، ده لیکلي :

إِنَّ مُحَمَّدًا ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) هُوَ الإِنْسَانُ الوَحِيْدُ فِي التَّارِيْخِ ، الَّذِيْ نَجَحَ نَجَاحًا مُطْلَقًا فِي المَجَالِ الدِّيْنِيِّ وَالدُّنْيَوِيِّ . فَهُوَ قَدْ دَعَا إِلَى الإِسْلَامِ وَنَشَرَهُ كَوَاحِدٍ مِنْ أَعْظَمِ

الدِّيَانَاتِ . وَأَصْبَحَ قَائِدًا سِيَاسِيًّا وَعَسْكَرِيًّا وَدِينِيًّا . وَرَغَمَ مُرُوْرِ ثَلَاثَةَ عَشَرَ قَرْنًا عَلَى وَفَاتِهِ فَإِنَّ أَثَرَهُ لَايَزَالُ مُتَجَدِّدًا . (۱)

**د نبي عليه السلام د ژوند هر اړخ محفوظ دی** : او دا يقيني خبره ده چې د موجوده عيسايانو سره د حضرت عيسٰی ﷺ تعليمات يقيني بَاسَنَده او بَاثبوته نشته ، بلکه بې سَنَده او بې ثبوته فَرضي خبرې کوي ، حالانکه زمونږ د پيغمبر تعليمات بَاسَنَده او بَاثبوته ټول يقيني محفوظ دي . دا ځکه چې دا آخِري پيغمبر دی ، څوک په کې دا کمې محسوس نه کړي چې ګني بل پيغمبر په کار دی ، دغه وجه ده چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ژوند هر اَړخ محفوظ دی .

مثلاً د پيغمبر عليه السلام ټول اَحاديث اووه لکه او درې پنځوس زره (۷۵۳۰۰۰) دي ، ټول صحابه کرام د يو لک څوارلس زره (۱۱۴۰۰۰) نه نيولی تر د يو لک او څلويښت زرو (۱۴۰۰۰۰) پورې دي .

بيا چې د کومو صحابه کرامو اَحوال محفوظ دي هغه يوولس نيم زره (۱۱۵۰۰) دي : د هر صحابي نوم ، د پلار نوم . د کوم ځای ؤ ؟ د کومې قبيلې ؤ ؟ کله مسلمان شوې ؤ ؟ څومره اَحاديث ورته ياد وو ؟ د نبي عليه السلام سره يې صُحبت څومره وخت شوی ؟ څومره احاديث ورنه رانقل شوي ؟ کله وفات شوی ؟ چيرته وفات شوی ؟ او چيرته خَخ دی ؟ د هر صحابي دا ټول اَحوال په کاملې طريقې سره محفوظ دي . (۲)

(۱) الدکتور محمد عبده يمالي، علّموا أولادکم محبّة رسول الله صلى الله عليه وسلم دارالقبلة للثقافة الاسلامية جده ، مؤسسه علوم القرآن دمشق ص ۶۳، ۷۱

(۲) مثلاً حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د يَمن نه راغلې ؤ ، په يَمن کې د قبيله دوس [illegible] ونکې ؤ [illegible] دغه چې راغلو نو پيغمبر عليه السلام د خيبر جهاد له تللې ؤ ، په دې وخت کې ده عمر ۲۹ کاله ؤ [illegible] چپل نوم عبدالشمس ؤ خو رسول الله ﷺ ورله نوم بدل کړو ، د پلار نوم يې صخر ؤ ، د مور نوم يې اميمه وه . د نبي کريم ﷺ سره يې درې نيم کاله صُحبت شوی ، په صُفه کې به اُوسيده ، په نهه پنځوس (۵۹) هجري کې وفات شوی ، په مدينه منوره کې خَخ دی ، او پنځه زره درې سوه او څلور اَويا (۵۳۷۴) اَحاديث او رِوايات ورنه نقل دي . دغه رنګې د هر صحابي د ژوند پوره اَحوال محفوظ دي . خطباتِ حضرت شيخ (شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان المدني شهيد رحمه الله) مع الاختصار .

## د " كارليل " وينا

په غَربي مُفكّرينو کې يو انګريز " كار ليل " هم دی ، ده يو كتاب ليكلي دی ، د " الابطال " په نوم باندې . ده په دې كتاب کې هغه شخصيات راجَمع كړي كومو چې په دُنيا کې عظيمې كارنامې كړي ، او هِيرُو كِرداريې اَداء كړی . ده په دې كتاب کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په باره کې مُستقل باب قائم كړی ، چې په هغې کې يې د نبي كريم ﷺ صفتونه بيان كړي ، او خلقو ته يې دا تَنبيه او خبرداري وركړی چې :

" د اسلام په باره کې ، يا د رسولُ الله ( ﷺ ) په باره کې كومې د دروغو او غلطې خبرې چې خلقو خوَرې كړي نو تاسو د هغې تصديق مه كوئ ، او دا مه منئ ، ځكه اِسلام يو حَق دين دی ، او محمد صلى الله عليه وسلم بَرحق پيغمبرۇ " .

ده په دې كتاب کې چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د صفاتو په باره کې څه ليكلي ، زه به درته هغه په عربي کې رانقل كړم ، دې وايي :

لَقَدْ أَحْبَبْتُ مُحَمَّدًا لِخُلُوِّ نَفْسِهِ مِنَ الرِّيَاءِ وَالنِّفَاقِ . وَبَرَاءَتِهَا مِنَ التَّصَنُّعِ وَالطَّمَعِ وَحُبِّ الدُّنْيَا . لَقَدْ كَانَ مُنْفَرِدًا بِنَفْسِهِ الْعَظِيْمَةِ وَخَالِقِ الْكَوْنِ وَالْكَائِنَاتِ ، وَقَدْ رَأَى سِرَّ الْوُجُوْدِ يَسْطَعُ أَمَامَ عَيْنَيْهِ بِأَهْوَالِهِ وَمَحَاسِنِهِ . لَقَدْ كَانَ صَوْتُ مُحَمَّدٍ آتِيًا مِنْ قَلْبِ الطَّبِيْعَةِ الصَّحْرَاوِيَّةِ النَّقِيَّةِ الطَّاهِرَةِ ، وَلِهٰذَا دَلَفَ مِنَ الْآذَانِ إِلَى الْقُلُوْبِ وَاسْتَقَرَّتْ كَلِمَاتُهُ فِيْهَا . (۱)

## د رُوسي كاتِب " تولستوي " وينا

د رُوس يو ماهِر مُصنّف تولستوي هم په خپل كتاب کې په دې خبره زور وركړی چې د اِسلام او پيغمبر په باره کې چې خلق غلط نشريات او پروپيګندې كوي ، دا ټول بې ځايه دي. بيا دې د محمّد صلى الله عليه وسلم په باره کې ليكي :

(۱) الدكتور محمد عبده يمالي، علّموا أولادكم محبّة رسول الله صلى الله عليه وسلم دار القبلة للثقافة الاسلامية ، جده ، مؤسسة علوم القرآن دمشق ص ٦٣ ، ٧١

لَا رَيْبَ أَنَّ هٰذَا النَّبِيَّ مِنْ كِبَارِ الْمُصْلِحِيْنَ الَّذِيْنَ خَدَمُوا الإِنْسَانِيَّةَ خِدْمَاتٍ جَلِيْلَةٍ . وَيَكْفِيْهِ فَخْرًا أَنَّهُ هَدٰى أُمَّتَهُ بِأَكْمَلِهَا إِلٰى نُوْرِ الْحَقِّ . وَجَعَلَهَا تَجْنَحُ إِلَى السَّلَامِ وَتَكُفُّ عَنْ سَفْكِ الدِّمَاءِ . كَمَا يَكْفِيْهِ فَخْرًا أَنَّهُ فَتَحَ الطَّرِيْقَ إِلَى الرُّقِيِّ وَالتَّقَدُّمِ . هٰذَا عَمَلٌ جَلِيْلٌ لَا يَقُوْمُ بِهِ إِلَّا شَخْصٌ أُوْتِيَ قُوَّةً وَحِكْمَةً وَعِلْمًا فَوْقَ إِمْكَانِيَّاتِ الْبَشَرِ . وَلِهٰذَا فَهُوَ جَدِيْرٌ بِالتَّقْدِيْرِ وَالْإِحْتِرَامِ وَالْإِجْلَالِ . (١)

## د فرانس اَديب " ليمرتائن " وينا

همدغه رنګې د فرانس مشهور اَديب ليمرتائن هم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په باره کې بهترين مضمون ليکلی ، دې وايي :

تراوسه پورې هيڅ انسان هم په شعوري يا غيرشعوري طريقې سره د خپل ځان د پاره هم دداسې بهترين مقصد اِنتخاب نه دې کړی د کوم مقصد اِنتخاب چې رسولُ الله ﷺ کړې دی ، ځکه چې دا مقصد د انسان د طاقت نه بهر وُ ، نبي ﷺ خلق د توَهماتو او خرابو عقيدو نه راُوويسته ، او د الله ﷻ او انسانانو په مينځ کې چې کوم لرې والې او پردې وې هغه يې ختمې کړې ، انسان يې الله رب العزت طرف ته متوجّه کړو ، او د خلقو په زړونو کې يې د الله ﷻ سره مينه او محبت پيدا کړو .

رسولُ الله ﷺ چې په عربو کې په ډير کم وخت کې کوم اِنقلاب راوستې دی د هغې نه هيڅوک هم اِنکار نشي کولی ، ځکه هغوي دُښمني يې په دُوستۍ بدلې کړې ، مادِيت يې په رُوحانيت بدل کړو . د اَسبابو د کموالي باوجود په لږ وخت کې دومره غټه کارنامه کول د ځانله حيرانوونکې کاميابي او غټه مُعجزه ده . (٢)

(١) الدکتور محمد عبده يماني، علّموا اولادکم محبة رسول الله صلى الله عليه وسلم دار القبلة للثقافة الاسلامية ، جده ، مؤسسه علوم القرآن دمشق ص ٦٣ ، ٧١

(٢) السالبت کامُحسن اعظم الفرېز مولانا ابوالحسن علي ندوي رحمه الله ص ٦

## يُورپيانو او نورو غير مُسلمو هم د نبي ﷺ په سيرت کتابونه ليکلي

همدغه رنګې هِندوانو ، سِيکهانو ، او برهمو هم د پيغمبر عليه السلام په سِيرت باندې ليکل کړي دي .

بلکه په يُورپ کې په " لائف آف محمّد " باندې ډير کتابونه ليکل شوي .

ډيره موده مخکې د دمشق نه يوه رساله چاپ کيده ، د المقتبس په نوم باندې . په هغې کې ليکلي ووچې : تر اُوسه پورې په يُورپ کې په مختلفو ژبو کې د پيغمبر عليه السلام د سِيرت متعلق ديارلس سوه (١٣٠٠) کتابونه ليکل شوي دي . نو اوس خو به د هغې تعداد ډير زيات شوې وي .

په کال ١٨٧٠ ء کې جان ډيوډپورټ په اَنګريزۍ کې يو کتاب د نبي عليه السلام په سِيرت باندې وليکل ، د هغې نوم ؤ " اَپَالُوجِيْ فَارْ مُحَمَّدْ اينډ دِيْ قُرآن " ، ده خپل کتاب په دې الفاظو شروع کړی :

" په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې تر اُوسه څومره مُصنِّفين او فاتِحين تير شوي په دې کې د هيچا د ژوند دومره تفصيلي او يقيني اَحوال نه دي ذکر شوي څومره چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ژوند او سِيرت تفصيلي او رِښتيني اَحوال ذکر دي " .

دغه رنګې يو بل اَنګريز په کال ١٨٧۴ ء کې د پيغمبر عليه السلام په سِيرت باندې يو ټا اَهَمنا کتاب وليکل ، چې نوم يې " مُحمّد اينډ محمّد نِزَمْ " ، ده په دې کتاب کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سِيرت او اَخلاق په ډير بهترين اَنداز کې ذکر کړي .(١)

## د قانون دانانو د فهرست په سَر کې د نبي ﷺ نوم

په بَرطانيه کې مشهوره يونيورسټي ده ، د " لنکن ان يونيورسټي " په نوم باندې . په هغې کې په يو دِيوال باندې د دُنيا د مشهورو مُقنِّنينو ( قانون جوړوونکو شَخصياتو ) نومونه ليکل شوي دي ، په هغې فهرست کې د ټولو نه اول نوم زمونږ د خوږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ليکلې شوې دی .

---

(١) خطبات مدارس ص ٥٢ .

عبرت : د يورپ قانون دان هم دا اِعتراف کوي چې رسول الله ﷺ د دُنيا د ټولو نه اُوچت قانون دان تير شوې دی ، نو ځکه د فهرست په سَر کې يې د دوی نوم ليکلې دی .

## خلاصه

خلاصه دا چې الله رب العزت زمونږ خوږ پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته ډير اُوچت شان ورکړی دی ، بهترين اَخلاق او بهترين صفات يې ورکړي وو . تر دې پورې چې غير مذهبه مُستَشرِقين ، يورپيان ، عيسايان ، هندوان او سيکهان هم په دې باندې اِقرار کوي .

او ما مخکې دا خبره وکړه چې د اِسلام د حقانيت او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د عَظمت د پاره ددې غَربي مُفکّرينو د اِقرار او تائيد هيڅ ضرورت نشته ، خو بيا هم د دوی ددې اِقرار نه هم دا معلوميږي چې د رسولُ الله ﷺ تعليمات او سُنت د ژوند تيرولو د پاره بهترين اُصول دي . او کمال هم دا دی چې ستا دُشمن هم د يو شي د حَقانيت اِقرار وکړي

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# ضروري فقهي مسائل

**نوټ** : د دې موضوع متعلق درته يو څو ضروري فقهي مسائل ذکر کوم ، که موقع وه نو د وخت او ځای مناسب دا مسائل هم بيانولې شي . ابوالشمس عفي عنه

## په نبي عليه السلام کې هيڅ عيب نه ؤ

څومره بهترين صفات چې الله ﷻ بندګانو ته ورکړي دي هغه ټول صفات په نبي کريم صلی الله عليه وسلم کې موجود وو ، او په دوی کې هيڅ عيب نه ؤ .(١)

حضرت حسان رضي الله عنه د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په مدحه کې فرمايي :

خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ۞ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَآءُ . (٢)

اې پيغمبره ! تاسو د هر عيب او نقصان نه پاک پيدا شوي يې ، ګويا تاسو داسې پيدا شوي يې څنګه چې تاسو غوښتل .

## نبي عليه السلام سره په درجه او فضيلت کې هيڅوک برابر نشته

اګر چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم د الله ﷻ مخلوق او بَشر دی (٣)

خو په فضيلت ، قُرب او درجه کې د دوی سره هيڅوک برابر نشته . نه يو وَلي د دوی درجې ته رسيدې شي ، نه يوه فرښته د دوی درجې ته رسيدې شي ، او نه بل يو پيغمبر د دوی

(١) راجع كتاب الشفاء ج١ ص٥٣ ، شرح الشفاء ج١ ص ١٥٠ ، ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٢١٨ .

(٢) نفحة العرب ص ٢٤٣ ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٢١٩ حاشيه نمبر ١ .

(٣) لکه د قرآن کريم دا الفاظ په دې باندې دلالت کوي : إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ . سورة كهف آيت ١١٠ .

ترجمه : بيشکه زه خو ستاسو په شان يو بشر يم . بيان القرآن .

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي : أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ ....رواه مسلم ، مشكوة : ص ٥٦٨ باب مناقب اهل البيت ط ياسر نديم ديوبند ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٢٢١ .

درجې ته رسيدې شي . (١)

په حديث شريف کې دي : اَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ . (٢)

زه د حضرت آدم عليه السلام د اَولاد سردار يم او ماته هيڅ فخر نشته .

## د نبي عليه الصلاة و السلام هر څه پاک وو

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د ټولو مخلوقاتو نه ډير پاک ؤ ، د دوی هيڅ شی نجَس نه ؤ ، حتّی چې د پيغمبر عليه السلام وينه او د هغوی تش اودس ماتې هم پاک ؤ . (٣)

نبي عليه السلام به په نورو انسانانو باندې نشي قياس کولی ، ځکه پيغمبر عليه السلام طاهِر ، اَطهر ، مُزکّي او پاک ؤ .

قاضي عياض په خپل تصنيف "کتاب الشّفاء" کې هغه واقعه هم رانقل کړی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په يو لوخي کې بَول يعنی تشې مِتيازې کړې وی او هغه يوې زَنانه ( حضرت اُم اَيمن رضي الله عنها ) څکلې وی . (٤)

---

(١) لا يبلغ ولي درجةَ الأنبياء . (شرح عقائد ص ١٦٤ مكتبه تهانوي ديوبند) اى فى القُربِ الى الله سبحانه تعالى. ( نبراس ص ٣٣٥ ) . وأفضلُ الأنبياء محمّدٌ عليه السلام (شرح عقائد ص ١٤٠ ) قوله عليه السلام : إنّ اللهَ فضّلنِيْ على الأنبياء. ( رواه الترمذي ، النبراس ص ٢٨٦ مطبوعه امداديه ملتان ) فتاوى محموديه ج٣ ص ٢٢١ حاشيه نمبر ٢ .

و وطئه مَكَانًا مَا وطئه نَبِيٌّ مُرسَلٌ وَلَا مَلَكٌ مُقَرَّبٌ . الخصائص الكبرى ج٢ ص ١٨٥ باب اختصاص النبي صلى الله عليه وسلم بانّه اوّل النّبيّين خلقا و تقدم لبوته . طبع دارالكتب العلمية بيروت .

(٢) كنزالعمال ج١١ ص ٤٣٤ .

(٣) اَلنّبيُّ صلى الله عليه وسلم لم يكن منه شيءٌ يكره ولا غير طيب . كتاب الشفاء ج١ ٥٨ الباب الثاني فصل في نظافة جسمه وطيب رائحته . اي فانّ النّجاسةَ للاستقذار وكراهة التلوث ولم يكن منه صلى الله عليه وسلم شيء مكروه عند الطباع السليمة . نسيم الرياض شرح شفاء المطبعة الازهرية مصر ج ١ ص ٣٥٥ . فتاوى محموديه ج ٧ ص ٣٢٧ مايتعلق بالحديث حاشيه نمبر ١ .

(٤) وقد روي نحو من هذا عنه في إمرأة شربت بوله . فقال لها : " لَنْ تَشْتَكِيْ وَجَعَ بَطْنَكِ أَبَدًا " . ولم يأمرْ واحدًا منهم بِغَسْلِ فَمٍ ولانهاه عن عودة . وحديث هذه المرأة التي شربت بوله صحيحٌ الزم الدارقطني مسلمًا والبخاري اخرجه فى الصحيح . واسمُ هذه المرأة بركة . واختلف في نسبها ... كتاب الشفاء ج١ ص ٥٨ الباب الثاني فصل في نظافة جسمه وطيب رائحته طبعه بيروت . فتاوى محموديه ج ٧ ص ٣٢٧ مايتعلق بالحديث حاشيه نمبر ١ .

همدغه شان واقعه د علامه زرقاني رحمه الله په " شرح مواهب لدنيه اردو شرح شفاء شريف " کې هم ذکر ده .(١)

اګر چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په خپله چاته د دې بولو وغیره د څکلو حکم نه دې کړی ، او که چا د ډیر شوق او محبت په وجه دا څکلي دي نو هغوی ته یې په دې رټلې نه دي او نه یې مُستحِق د سزا ګرځولي دي ، بلکه د دَردُونو نه یې د شِفاء زیری پرې هم ورکړی .(٢)

البته نور انسانان به په دوی نشي قیاس کولی ، ځکه دا د نبي علیه السلام د خصائِصو نه وه ، چې صرف د دوی هر شی پاک ؤ .

قاضي عیاض په خپل تصنیف " کتاب الشفاء " کې د هغه صحابي واقعه هم ذکر کړې چې هغوی د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم بَول (یعنی تشې مِتیازې) څکلې وی .

واقعه داسې وه چې : یو کرَت حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په یو لوخي کې تَش بَول یعنی تشې مِتیازې وکړی ، او یو صحابي ته یې د غورځولو دپاره ورکړی ، دې چې بهر لاړ نو هلته یې اُوڅکلی . کله چې واپس راغی نبي علیه السلام ورنه پوښتنه وکړه چې اُودې غورځولی ؟ هغه ورته وویل : هغه ما اُوڅکلی ، زما په خیټه کې درد ؤ هغه هم د دې څکلو په وجه ښه شو . نبي کریم ﷺ چې دا خبره واوریده نو مُسکې شو او وې ویل :

اوس به نور ستاسو دا دَرد همیشه د پاره بالکل نه وي .

د نبي علیه السلام د هرشي د پاک والي خبره علامه زرقاني رحمه الله ، علامه شامي رحمه الله ، امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله او نورو ډیرو علماؤ نقل کړی ، او دا یې د پیغمبر علیه السلام د خصائِصو نه ګرځولې ده .(٣)

---

(١) په شرح مواهب اللدنیه کې دا عبارت هم ذکر دی : فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يَا أُمَّ أَيْمَنَ قُومِيْ فَأَهْرِقِيْ مَا فِيْ تِلْكَ الْفَخَّارَةِ . فَقُلْتُ : قَدْ وَاللهِ شَرِبْتُ مَا فِيْهَا ... المواهب اللدنيه ج٤ ص ٢٣١ كتاب الشمائل النبوة المقصد الثالث الفصل الاول طبع دارالمعرفة بيروت .

(٢) فتاوی محمودیه ج ٧ ص ٣٢٨ .

(٣) تَنْبِيْهٌ : صَحَّحَ بَعْضُ اَئِمَّةِ الشَّافِعِيَّةِ طَهَارَةَ بَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَائِرَ فَضَلَاتِهِ . وَبِهِ قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رحمهُ الله. شامي لعماليه ج١ ص ٢١٢ كتاب الطهارة مَطلبٌ في طهارة بوله صلى الله عليه وسلم . فتاوى محموديه ج ٧ ص ٣٢٧ .

په غزوه اُحد کښې يو صحابي د نبي عليه الصلوة والسلام د مخ مبارک د زخم وينه اُوچوسَله ، او وې څکله ، پيغمبر عليه السلام وفرمايل :

چې د چا په وينه کښې زما وينه يو ځای شي هغه د دوزخ اُور نشي مسح کولی . (۱)

( **نوټ** : ددې خبرې نور تفصيل په " آپ کے مسائل اور اُن کا حل " ج۱ ص ۱۸۱ د عنوان د " انبياء کرام کے فضلات کي پاکي کا مسئله " د لاندې ذکر دی ) .

## د رسولُ الله ﷺ په ذات او صفاتو باندې تنقيد کول د اِيمان منافي خبره ده

د دوارو جهانو سردار ، اِمامُ المُرسلين ، سيّدُالأوّلين والآخِرين محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم د الله ﷻ په نزد د ټولو مخلوقاتو نه مُقرّب ، محبوب او بهتر دې . (۲)

حضرت آدم عليه السلام او د دوی نه علاوه نور ټول مخلوقات به د دوی د جَنډې د لاندې

---

(۱) إِنَّ مَالِکَ بْنَ سِنَانٍ مَصَّ الدَّمَ مِنْ وَجْنَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ إِزْدَرَدَهُ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ مَسَّ دَمِيْ دَمَهُ لَمْ تُصِبْهُ النَّارِ . عمدة القاري ج۹ ص ۱۵۵ جز ۱۷ کتاب المغازي باب ليس لک من الامر شيء . الشامي نعمانيه ج۱ ص ۲۱۲ کتاب الطهارة مطلب في طهارة بوله صلی الله عليه وسلم ، فتح الباري ج۷ ص ۴۶۴ کتاب المغازي باب ليس لک من الامر شيء . فتاوی محموديه ج۷ ص ۳۲۸ حاشيه نمبر ۱ ما يتعلق بالحديث .

قَالَ النووي رحمه الله في شرح المهذب : وَاسْتَدَلَّ مَنْ قَالَ بطهارتها بِحَدِيْثَيْنِ الْمَعْرُوْفَيْنِ أَنَّ ابا طيبة الحجام حَجَمَهُ صلی الله عليه وسلم وَشَرِبَ ولم ينكر عليه . وأَنَّ امْرأةً شَرِبَتْ بَوْلَهُ صلی الله عليه وسلم فلم ينكر عليها . زرقاني على مواهب اللدنية ج۴ ص ۲۳۳ مطبوعة دار المعرفة بيروت ، جمع الوسائل ج۲ ص ۳ ، عمدة القاري ج۲ ص ۳۵ جز ۳ کتاب الطهارة بيان طهارة شعر النبي وفضلاته ، مرقاة ج۲ ص ۵۳ باب احکام المياه الفصل الاول فضلاته عليه الصلاة والسلام طاهرة فتاوی محموديه ج۷ ص ۳۲۹ حاشيه نمبر ۱ ما يتعلق بالحديث .

( **نوټ** : تفصيلي واقعه مخکښې په تقرير کښې د عنوان " حضرت مالک بن سِنان ﷺ او د نبي ﷺ وينه څکل " د لاندې تيره شوې ده ) .

(۲) و وطئه مَكَانًا مَا وطئه نَبِيٌّ مُرسَلٌ وَلَا مَلَكٌ مُقَرَّبٌ . الخصائص الکبری ج۲ ص ۱۸۵ باب اختصاص النبي صلی الله عليه وسلم بانه اول النبيين خلقا و تقدم نبوته . طبع دار الکتب العلمية بيروت . فتاوی محموديه ج۳ ص ۲۴۱ حاشيه نمبر ۱ رسالت ، نبوت ، ختم نبوت وغيره .

وي، او په لاس مبارک کې به ورسره " لِوَاءُ الْحَمْدِ " وي. (١)

د معراج په شپه "مقام ادنی" او " قاب قوسين " د دوی سره خاص دی. (٢)

" الوسيلة " " شفاعتِ کُبریٰ " د دوی حق دی. (٣)

ددې نه علاوه نور بې شماره صفتونه د نبي عليه السلام سره خاص دي.

لهذا د دوی په ذات او صفاتو کې عيبونه راويستل يا پرې تَنقيد کول د ايمان منافي خبره ده. (٤)

# د نبي ﷺ په باره کې د توهين او سَپکاوي کلمات ويل سبب د کفر او اِرتداد دی

د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په باره کې د توهين او سپکاوي کلمات ويل سبب د کُفر دی، د داسې کس د پاره توبه، تَجديد د اِيمان، او تجديد دنکاح ضروري دی. (٥)

او که دې توبه نه اُوباسي او همداسې د توهين او سپکاوي کلمات وايي نو دا سړی مُرتد او کافر دی، او د مُرتد سزا قتل ده. (٦)

---

(١) بِيَدِيْ لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ. آدمُ فَمَنْ دُوْنَهُ تَحْتَ لِوَائِيْ وَلَافَخْرَ. مسند احمد ج١ ص ٢٨١ مسند عبدالله بن عباس طبع دارالفكر بيروت، الخصائص الكبرى ج٢ ص ٢٢٤ باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بالمقام المحمود طبع دارالكتب العلمية بيروت، فتاوی محموديه ج٣ ص ٢٤١ حاشيه نمبر ٢.

(٢) اختصاصه صلى الله عليه وسلم بأنه اوّلُ النّبيّين و بِالاسراءِ والعلو الى قَابَ قَوْسَيْن. الخصائص الكبرى ج٢ ص ١٨٥ باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم باله اول النبين، و راجع روح المعاني سورة النجم ص ٢٧/٥٢.

(٣) اِخْتِصَاصُهُ صلّى اللهُ عليه وسلم بِالْمَقَامِ الْمَحْمُوْدِ وبِالشَّفَاعَةِ الْعُظْمَىٰ في فصل القضاء. باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بالمقام المحمود طبع دارالكتب العلمية بيروت.

(٤) ، فتاوی محموديه ج٣ ص ٢٤١ رسالت، نبوت، ختم نبوت وغيره.

(٥) قال الحصكفي: والكافر بِسَبِّ نَبِيٍّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ .... لكن صرّح في آخر الشفاء بأنّ حُكْمَهُ كالمرتدّ، وَمَفَادهُ قبول التّوبة .... ولفظ النتف: مَنْ سَبَّ الرّسولَ صلى الله عليه وسلم فإنّه مرتد. وحكمه حكم المرتدّ. ويفعل به ما يفعل بالمرتد. الدر المختار ج٣ ص ٣١٧، ٣١٩ مطلب مهم في حكم سباب الانبياء. فتاوی فريديه ج١ ص ٩٦ فصل في كلمات الكفر.

(٦) پوره تفصيل په فتاوی حقانيه ج١ کې د صفحه ٢٧٦ نه تر ٢٨٧ پورې ذکر دی، هلته دی اوکتې شي.

# د نبي ﷺ د بدن مبارک سره لږيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده

د اهل السنّة والجماعة دا اِجماعي عقيده ده چې په قبرِ اَطهر کې د پيغمبر عليه السلام د بدن مبارک سره لږيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده ، ځکه دا خو يقيني خبره ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ټولو مخلوقاتو کې افضل دی ، د دوی نه بل هيڅ شی افضل نشته .

او په يو حديث کې دي چې انسان د کومې خاورې نه پيدا شوې وي هم هلته به دفن کيږي . (١)

لهذا ددې حديث په رڼا کې نبي عليه السلام چې اوس په کوم ځای او کومه خاوره کې دفن دی نو د همدې نه پيدا شوې هم دی . اوس چې کله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم افضل د مخلوقاتو دی نو لازمي خبره ده چې د کومې خاورې نه پيدا شوی هغه به هم افضل د مخلوقاتو وي .

بل دا چې د قبر دغې خاورې ته چې د نبي عليه السلام د بدن مبارک سره د لږيدلو په وجه کوم سعادت حاصل دی دا سعادت عرش ، کرسي او کعبې ته نه دی حاصل .

علامه ابن تيميه رحمه الله هم فرمايي : چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د روضې مبارکې ځای د بيت الله شريف نه هم افضل دی .

وَالْمَسْجُوْدُ هُوَاللهُ دون الكعبة ، والتَّوَجُّهُ اِلَيْهَا لَا يَقْتَضِي الأَفْضَلِيَّةَ . فافهم . (٢)

---

(١) عن ابي سعيد الخدري قال : مَرَّ النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم بجنازة عند قبر . فقال : قبر مَنْ هذا ؟ فقالوا : فلان الحبشي يا رسولَ الله . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيْقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ إِلى تربته الَّتِيْ مِنْهَا خُلِقَ . مستدرک حاکم ج١ ص ٣٦٧ ، وفاء الوفاء ج١ ص ٣٢ طبع بيروت .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوْفُ بِبَعْضِ نَوَاحِي الْمَدِيْنَةِ وَاِذَا بِقَبْرٍ يُحْفَرُ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ : لِمَنْ هَذَا ؟ فَقِيْلَ لِرَجُلٍ مِنَ الحَبَشَةِ فَقَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ سِيْقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الأَرْضِ الَّتِيْ خُلِقَ مِنْهَا ، روى الترمذي الحكيم في نوادر الاصول . نزهة الناظرين... ص ٦١٧ .

(٢) فتاوى فريديه ج١ ص ٤٦٤ باب ما يتعلق بالنبي صلى الله عليه وسلم .

**سوال** : که د چا په ذهن کې دا سوال راځي چې د قبر ددې خاورې نسبت نبي عليه السلام طرف ته کيږي ، او د عرش ، کرسي او کعبې نسبت الله ﷻ طرف ته کيږي . نو بيا څنګه د قبر دا خاوره اَفضله شوه ؟

**جواب** :د قبر ددې خاورې د پيغمبر عليه السلام د بدن مبارک سره د مُلابست ( يو ځای لږيدو ) تعلق دی ، او د کعبې ، عرش او کرسي د الله ﷻ سره د ملابست تعلق نشته ، ځکه الله ﷻ د جسم نه پاک دی . لهذا د قبر دا خاوره افضله شوه .(۱)

## ټول اَنبياء قبلَ النبوّة او بَعدالنبوّة معصوم دي

په " عِلمُ الكلام " او د احاديثو په شروحاتو کې دا خبره ذکر ده چې د اهلُ السنّة دا عقيده ده چې ټول انبياء معصوم دي ، د دوی نه هيڅ ګناه نه کيږي ، نه وړه ګناه او نه غټه ګناه ، نه قبلَ النبوّة او نه بعدَ النبوّة . (۲)

---

(۱) فلا شكّ اَنّ مكّةَ لكونها من الحرم المحترم اجماعًا افضلُ من نفسِ المدينة . ما عدا التربة السكينة . فإنّها افضلُ من الكعبة . بل من العرش على ما قاله جماعة . شرح الشفاء ج۲ ص ۱٦۲ .

قال الراقم ( المحدث البنوري ) وإنْ شِئْتَ أَنْ تستأنس ذلک بدليلٍ مِنَ السُّنَّةِ فلاحظ إلى حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم : "انّ كلّ نفس تدفن فى التّربة الّتي خلقت منها " . كما رواه الحاكم في مستدركه . معارف السنن ج۳ ص ۳۲۴ .

(۲) قال الملا علي قاري : والأنبياء عليهم الصلاة والسلام ... منزّهون ... عن الصغائر والكبائر . اى من جميع المعاصي والكفر ... والقبائح . وفي نسخة : والفواحش ... وقد كانت منهم اى من بعض الأنبياء قبل ظهور مراتب النبوّة او بعد مناقب الرّسالة زلّاتٌ اى تقصيرات وخطيئات ... كما وقع لآدم عليه السلام في أكله من الشجرة على وجه النسيان . او ترک العزيمة واختيار الرخصة ظنًّا مِنْهُ اَنَّ المرادَ بالشجرة المنهيّة المشار اليها بقوله تعالى ﴿وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ﴾ هي الشخصيّة لا الجنسيّة . فأكل من الجنس لَا مِنَ الشخص بناءً على الحكمة الالهية ليظهر ضعف قدرة البشريّة وقوّة اقتضاء مغفرة الرّبوبيّة . شرح الفقه الاكبر للقاري ص ٥٦ و ٥٧ الانبياء منزهون عن الصغائر والكبائر . فتاوی فريديه ج۱ ص ۴۸۲ باب ما يتعلق بالانبياء عليهم السلام ./ امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله فرمايي : الانبياء عليهم الصلاة والسلام كلّهم منزهون عن الصغائر والكبائر والكفر والقبائح . شرح فقه اكبر ص ۸۸ ، ۹۸ بحث ان الانبياء ...

( د هغې مسئلې باقي پاتې بحث په راتلونکې صفحه کې لاندې حاشيه کې اوګورئ )

د حضرت آدم علیه السلام د ممنوعه اُوني خوراک ، او بیا د دوی ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا ...﴾ ویل. نو په دې ځای کې د " ظلم " نه مراد ترکِ اولی او زلّة (خوَیِیدَل) دي. (۱)

## نبي علیه السلام اَوّلین او آخِرین پیغمبر دی

چونکه د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم رُوح مبارک د ټولو روحونو نه اول پیدا شوی ، او جسم مبارک یې د ټولو انبیاء کرامو نه روستو په آخِر کې پیدا شوی نو ځکه ورته اَوّلین او آخِرین پیغمبر وایي. (۲)

## د اُمت اَعمال نبي علیه السلام ته پیش کولې شي

د پیر (سِه شنبې) ، او جُمعرات په ورځ د انسانانو اَعمال د الله ﷻ په دربار کې پیش کولې شي ، او د جُمعې په ورځ د اُمت اعمال په پیغمبرانو ، آباؤ ، او اُمّهاتو باندې پیش کولې شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَ يَوْمَ الْخَمِيْسِ عَلَى اللهِ تَعَالَى . وَ تُعْرَضُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَعَلَى الْآبَاءِ وَالْأُمَّهَاتِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَيَفْرَحُوْنَ بِحَسَنَاتِهِمْ ، وَيَزْدَادُوْنَ وُجُوْهُهُمْ بَيْضًا وَ نُزْهَةً ، فَاتَّقُوا اللهَ وَلَا تُؤْذُوْا مَوْتَاكُمْ . (نوادر الاصول ص ۲۱۳ ، فتاوی فریدیه ج۱ ص ۳۷۴)

---

علامه نسفي رحمه الله فرمایي : وفي عصمتهم عن سائر الذنوب تفصيلٌ وهو انهم معصومون من الكفر قبل الوحي وبعده بالاجماع ، وكذا عن تعمده الكبائر عند الجمهور . شرح عقائد النسفي ص ۹۸ . /

علامه ابن حزم ، امام ابواسحاق اسفرائني ، ابن فورک ، ابن برهان ، امام نووي ، او قاضي خان رحمهم الله دوی ټول د اهل السنة والجماعة مسلک په دې الفاظو بیانوي : إنهم معصومون عن الصغائر والكبائر جميعا . قال انه الذي ندين به وهو الصحيح . بحواله مکتوبات شيخ الاسلام ج۳ ص ۲۴۷ . فتاوی حقانیه ج۱ ص ۲۷۷ .

(۱) لِأَنَّ الظُّلْمَ وَضْعُ الشَّيْءِ فِيْ غَيْرِ مَحَلِّهِ ، وَهُوَ عَامٌ للكفر ، والكبيرة ، والصغيرة ، وترک الاولى والزلّة . فيحمل على الآخرين ، لئلا يقادم العقل . فتاوی فریدیه ج۱ ص ۳۸۳ . .

(۲) عن ابي هريرة قال قالوا : يا رسولَ الله ! مَتى وَجَبَتْ لَكَ النُّبوّة؟ قال : وآدمُ بين الرّوحِ والجسد . رواه الترمذي . وعن العرباض بن سارية عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال : إني عندَ الله مكتوبٌ خاتم النّبيّين و انّ آدم لمنجدلٌ في طينته ... مشکوة ج۲ ص ۵۱۳ باب فضائل سيد المرسلين ، فتاوی فریدیه ج۱ ص ۴۵۴ .

د پير (سِه شنبې يعنى د ګُل ) او جُمعرات (زيارت ) په ورځ الله ﷻ ته د انسانانو اعمال پيش کولې شي . او د جُمعې په ورځ باندې ( وفات شوي ) انبياء کرامو ، پلارانو او مورانو ته دا اعمال پيش کولې شي ، دوى ددې خلقو په نيکيو کولو باندې خوشحاليږي ، او ددوى د مخونو نُور وربانديې زياتيږي . پس تاسو د الله ﷻ نه اُويريږئ ، او خپلو مړو ته (د خپلو بَد اَعماليو په ذريعه ) ضرر مه رسوئ . (١)

همدا خبره علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله هم په شرح الصدور کې ذکر کړى . (٢)

## د نبي عليه السلام د نوم مبارک سره صرف (ص)، يا صرف (ع) ليکل مکروه دي

کله چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نوم مبارک ليکلې شي نود درود شريف پوره جمله يعنى " صلى الله عليه وسلم " " عليه الصلوة والسلام " او " عليه السلام " ليکل په کار دي . صرف " ص " ليکل ، يا صرف " ع " ليکل مکروهه دي .

---

(١) همدغه شان خبره په نورو احاديثو مبارکه وُ هم راغلى : عن انس رضي الله عنه قال : قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم : إنَّ أعمالَ أُمّتِيْ تُعْرَضُ عَلَيَّ فِيْ كُلِّ يَوْمِ الْجُمُعَةِ ، وَاشْتَدَّ غضبُ اللهِ على الزّناة . حلية الاولياء ج٦ ص ١٧٩ طبع دارالکتب العلمية بيروت .

د مسند احمد الفاظ داسې دي : عن انس بن مالک رضي الله عنه يقول : قال النّبيّ صلى الله عليه وسلم : إنّ أعمالَكُمْ تُعْرَضُ على اقاربكم وعشائركم مِنَ الأموات ، فإنْ كان خيرًا إستبشروا به ، وإنْ كان غير ذلک قالوا : اللّهمّ لَاتمتهم حتّى تَهْدِيَهمْ كما هَدَيْتَنَا . مسند احمد ج٣٦ ص ١٦٥ طبع بيروت ، مجمع الزوائد ج٣ ص ٥٤ باب عرض اعمال الاحياء على الأموات . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج١ ص ٣٢٣ تخريج شده ايڈيشن .

(٢) شرح الصدور باب عرض اعمال الاحياء على الموتى ، فتاوى محموديه ج٧ ص ٢٧٥ طبع مصري .

نوټ : نبي عليه السلام ته د اُمت اعمالو پيش کيدو باره کې احاديث په کنزالعمال ج١٥ ص ٣١٨ کې ، او حلية الاولياء ج٦ ص ١٧٩ کې ذکر دي . بلکه په خپلو خپلوانو باندې د اعمالو پيش کولو احاديث هم په مسند احمد ج٣ ص ١٦٥ ، او مجمع الزوائد ج٢ ص ٢٢٧ او ٢٢٨ کې ذکر دي . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج١ ص ٣٢٢ .

صرح به في مقدمة ابن الصلاح وغيرها. (١)

بلكه د تخفيف د پاره صرف " ص " يا صرف " ع " ليكل جاهلانه رَسم دى. (٢)

همدا خبره اشرف علي تهانوي رحمه الله هم نقل كړى، دى وايي:

كله چې د نبي كريم ﷺ نوم مبارک ليكلې شي نود نوم نه وروستو د درود شريف پوره صيغې ليكل په كار دي، بعضې خلک د " صلى الله عليه وسلم " په ځاې صرف (ص) يا: (صلعم) ليكي نودا صحيح نه دي، ځكه په دې سره نه خو د درود حكم اداء كيږي، نه ثواب حاصليږي او نه واجب ساقطيږي. (٣)

## د نبي عليه السلام د روضې مباركې نه د مصافحې د پاره لاس راويستل

د بعضې اولياءُ الله د پاره د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د روضې مباركې نه د مصافحې د پاره لاس راوتل شرعًا ممكن دي، هيڅ محال نه دي.

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل كتاب " الحاوي للفتاوى " كې يوه واقعه رانقل كړى، په هغې كې دا ذكر دي چې پيغمبر عليه السلام يو كس ته د مصافحې د پاره خپل لاس مبارک راويستې ؤ، او دې كس هغه ځكل (چَپ) كړې ؤ. (۴)

---

(١) فتاوى فريديه ج١ ص ۴٧١.

(٢) فتاوى فريديه ج١ ص ۴٦٧.

(٣) زاد السعيد لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ص ٢٣.

(۴) حجّ سيدي احمد الرفاعي. فلمّا وقف تجاه الحجرة الشريفة أنشد:

في حالة البعد روحي كنت ارسلها ۞ تقبل الأرض عني وهي نائبتي

وهذه دولة الاشباح قد حضرت ۞ فامدد يمينک كي تحظي بها شفتي

فخرجتِ اليدُ الشريفة من القبر الشريف فقبّلها. الحاوي للفتاوى ج٢ ص ۴۴٧ متعلقه فتاوى صوفيه تنوير الحلك في امكان رؤية النبي صلى الله عليه وسلم والملک. طبع مصري، فتاوى محموديه ج ٣ ص ٣٠٧ حيات انبياء وسماع موتى. والفتاوى محموديه ج٧ ص ٣٥٠ ما يتعلق بالحديث.

همدارنګې علامه تقي الدين سبکي ، علامه زرقاني او شيخ عبدالحق رحمهم الله په خپلو خپلو کتابونو کې دغسې واقعات رانقل کړي .(١)

ځکه په قبر کې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته حَیات (یعنی ژوند) ثابت دی .(٢)

(١) وقال التاج ابن عطاء الله عن شيخه الكامل العارف ابي العباس الموسى : صافحتُ بكفي هذه رسول الله صلى الله عليه وسلم ..... الى قوله ... والحكايات في ذلک عن اولياء الله كثيرة جدا . فتاوى حديثيه ص ٢٩٩ مطلب في حكاية غريبة، وان الانبياء اذن لهم في الخروج من قبورهم والتصرف في الملكوت . طبع دارالمعرفة بيروت لبنان ، فتاوى محموديه ج٧ ص ٣٥٠ ما يتعلق بالحديث .

(٢) راجع حديث اوس بن اوس ، وحديث ابي الدرداء مرفوعًا : إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ . فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ . ابن ماجه ص ١١٨ ابواب ما جاء في الجنائز باب ذكر وفاته ودفنه ص ٧٦ باب فضل الجمعة ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٣٠٨ حيات انبياء وسماع موتى تخرج شده ايديشن .

**نوټ** : د " حَيَاةُ النَّبِي " مسئله تفصيلي طريقې سره په فتاوى محموديه ج٣ ص ٢٩٢ کې ذکر ده ، په باب د " حياتِ انبياء وسماع موتى " کې ، هلته دې اوکتې شي .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ الحشر آیت ۷.

# د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل کولو سائنسيي، طِبّي، او دُنيوي فوائد

تاليف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی مردان

# د نبي عليه السلام په سُنتو باندې د عمَل کولو سائنسي، طِبّي، او دُنيوي فوائد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ،

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾. (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَخُذُوْهُ، وَمَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا. (٢)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

## تمهيدي خبره:

خوږو، قدرمنو مسلمانانو ورونو! په دې کې هيڅ شک و شبه نشته چې د سردارِ دوجهان، اِمامُ المُرسلين، سيّدُالأوّلين والآخرين محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په سُنتو باندې عمَل کولو سره انسان ته ډيرې اُخروي فايدې، اَجرونه او ثوابونه حاصليږي. (لکه ددې بيان په مخکينۍ موضوع "د نبي عليه السلام اِتباع او اِطاعت" کې په تفصيل سره تير شو).

دغه رنګې په شرعي اَحکاماتو او خاصکر د نبي عليه السلام په سُنتو باندې عمل کولو سره انسان ته ډيرې طِبّي، ډاکټري، سائنسي او دُنيوي فائدې هم حاصليږي.

(١) الاحزاب آيت ٢١.

(٢) سنن ابن ماجه باب اِتّباع سنّة رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث ١.

وفي رواية: مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهٖ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ. صحيح ابن حبان، ذكرُ البيان بانّ المناهي عن المصطفى صلى الله عليه وسلم والأوامر فرضٌ على حسب الطاقة على امته لايسعهم التخلّف عنه. حديث ١٨.

لهذا نن به درته د اِسلامي احکاماتو او خاصکر د سُنتو ژوندي کولو او په دې باندې د عمل کولو سائنسي ، طِبّي او دُنیوي فائدې بیانوم .

## ضروري تنبِیه :

## مسلمان به بغیر د چُون و چِرا نه په شرعي اَحکاماتو باندې عمل کوي

خو د ټولو نه مخکې په دې خبره ځان پوهوَل په کار دي چې مونږ مسلمانان چې په شرعي اَحکاماتو او د نبي علیه السلام په سُنتو باندې عمل کوو نو دا ددې د وجې پرې عمل کوو چې دا مونږ ته د الله ﷻ او د هغه د رسول " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " د طرفه ددې د کولو حکم شوی ، او ددې په عمَلي کولو یې زمونږ د پاره اَجرونه او ثوابونه مقرر کړي .

ددې د وجې په دې عمل نه کوو چې ګني ډاکټرانو او سائنس دانانو ددې اَعمالو طِبّي ، سائنسي او دُنیوي فوائد بیان کړي ، او ګني مونږ د هغې نه متأثِره شوي یو .

بلکه که مونږ ته په یو حکم کې د خپل قاصِرعقل مطابق څه سائنسي او طِبّي فائده یا مَصلحَت معلوم هم نه شي خو بیا به هم مونږ په دې باندې عمَل کوو .

ځکه د مسلمان د پاره مقصود او اَهم شی د شریعت او سُنتو اِتباع ده ، نه د سائنس او ډاکټري تحقیقاتو اِتباع .

وجه داده چې سائنسي ، طِبّي او ډاکټري تجربات خو وخت په وخت بدلې[illegible] بېرې نو اوس که چیرته یو شَرعي حکم او سُنت په یو سائنسي او طِبّي [illegible] باندې [illegible] دې شي نو کله چې څه وخت پس دغه سائنسي تجربه او طِبّي تحقیق بدل یا غلط ثابت شي نو بیا به خلق اصلِ حکم ( د شریعت او سُنت ) هم پرېږدي ، چې دا ځان له یو لوي نقصان دی .

دغه وجه ده چې کله زمونږ اَسلافو او مشرانو په دغه شرعي اَحکاماتو او سُنتو باندې عمَل کولو نو هم ددې وجې یې پرې کولو چې دا یې اِلٰهي او نَبوي حکمونه ګڼل ، او د دواړو جهانو سعادت او نیک بَختیا یې په کې لیده . په هاغه وخت کې خو دغه سائنسي او طِبّي تحقیقات د سره موجود هم نه وو چې ګني دوی ددې د وجې په دې احکاماتو عمَل کولو .

بل دا چې دا د مسلمان د شان سره هم لائِق او مناسب نه دي چې دې په يو شرعي حکم او سُنت باندې هله عمل کوي چې کله دې په کې ډاکټري ، سائنسي او دُنيوي فائده يا څه بل مَصلحَت او ګوري ، او که دا په کې او نه ګوري نو بيا پرې عمَل نه کوي.

بلکه مسلمان به دا تصوّر کوي چې زه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې سُنتو باندې عمَل کوم نو دا ددې د وجې نه چې دا راته د الله ﷻ او د رسولُ الله ﷺ د طرفه ددې د عمَلي کولو حکم شوی ، او په دې کې به يقيني زما د پاره د دواړو جهانو فايدې هم وي.

بل دا چې نبي عليه السلام کوم کار په کومه طريقه کړی ، او کوم صورت يې د کولو بيان کړی نو ددې کار د پاره بله بهترينه طريقه او د بل بهترين صورت تصوّر هم نه شي کيدی.

بل دا چې اِسلام يو کامِل او فِطري دين دی ، ددې په اَحکاماتو باندې د عمَل کولو د پاره دا دِين د سائنسي تحقيقاتو ، طِبّي او دُنيوي فايدو بيانولو هيڅ محتاج نه دی ، او نه ددې د اَحکامو د اَهميت او اِفاديَت د پاره د مَغربي او يورپي ډاکټرانو او سائنسدانانو د تصديق ضرورت شته.

## انسان طبعًا حريص دی

البته دا خبره ضرور شته چې انسان طبعًا حريص دی ، که چيرته د يو حکم او په سُنت باندې د عمَل کولو د پاره د اُخروي فوائدو بيانولو سره سره ددې حکم مَصالِح ، اَسرار ، طِبّي ، سائنسي او دُنيوي فايدې هم بيان کړې شي نو انسان فِطرةً خوشحاله او مُطمئِن شي ، هغې طرف ته متوجِّه شي ، او په هغې باندې بيا په شوق سره عمَل کوي.

دغه وجه ده چې د اُمت اکابرو علماؤ ( لکه امام غزالي ، خطابي ، او ابن عبدالسلام رحمهم الله ) په خپلو کتابونو کې د شرعي اَحکامو مَصالح او اَسرار ذکر کړي دي. (۱)

(۱) دغه رنګې حکيمُ الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم په خپل کتاب " احکامِ اسلام عقل کي نظر ميں " اردو ترجمه د " المصالحُ العقلية للاحکام الشرعية " کې هم د شرعي احکامو آسرار ، رموز ، او فوائد بيان کړي . دغه رنګې په دې موضوع باندې ماهِره ډاکټرانو او سائنسدانانو هم څه کتابونه ليکلي ، لکه : " طب نبوي اور جديد سائنس " " سُنتِ نبوي اور جديد سائنس " " قرآن اور سائنس " وغيره وغيره.
ابوالشمس عفي عنه

بل دا چې نن صبا هر كس دا كوشش كوي چې د يو عمل فوائد د طِبّي او ډاكټري تحقيقاتو په رڼا كې، او سائنسي نُكته نظر سره هم معلوم كړي.

لهذا په نن موضوع كې به زه تاسو ته د شرعي اَحكاماتو او بيا خاصكر د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سُنتو باندې د عمَل كولو سائنسي، طِبّي، ډاكټري او دُنيوي فوائد بيانوم

اگر چې د نبي عليه السلام سُنت هم زيات دي، او بيا د هر سُنت بې شماره فايدې دي خو زه به درته صرف د " مُشت نمونۂ خَروار " په طور د يو سُنتو او شرعي اَحكامو څه مشهور فوائد بيان كړم.

**نوټ** : اول به درته د رسول الله ﷺ سُنت او شرعي حكم د احاديثو نه ثابتوم، بيا به درته د سائنسدانانو، ډاكټرانو، طبيبانو او مُحقِّقينو تحقيقات نقل كوم، كومو چې دې اَحكاماتو سائنسي او طِبّي فايدې بيان كړي.

## د خوراك نه مخكې لاسونه وينځل: د احاديثو په رڼا كې

د خوراك نه مخكې لاسونه وينځل سُنت دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُكْثِرَ اللهُ خَيْرَ بَيْتِهِ فَلْيَتَوَضَّأْ إِذَا حَضَرَ غَدَاؤُهُ، وَإِذَا رُفِعَ. (١)

څوك چې دا غواړي چې دده په كور كې دې خَير زيات وي نو ده له په كار دي چې كله خوراك راشي نو لاسونه دې اُووينځي، او چې كله (د خوراك نه) فارغ شي نو هم لاسونه دې اُووينځي.

او دا د نبي اكرم صلى الله عليه وسلم عادتِ مباركه هم وُ چې د خوراك نه مخكې او روستو به يې لاسونه وينځل.

عالمگيري خو تر دې پورې ليكلي چې د لاسونو وينځلو په وخت صرف يو لاس يا يوه گوته وينځل كافي نه دي، بلكه د مَروَندونو پورې دواړه لاسونه وينځل سُنت دي. (٢)

---

(١) سنن ابن ماجه ج٢ ص ١٠٨٥ بابُ الوُضوء عند الطعام حديث ٣٢٦٠. په يو بل حديث كې داسې ذكر دي: بَرَكَةُ الطَّعَامِ اَلْوُضُوْءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوْءُ بَعْدَهُ. شرح السنّة للبغوي باب الوضوء عند الطعام ج١١ ص ٢٨٢ حديث ٢٨٣٣.

نوټ: دا دواړه احاديث اگر چې ضعيف دي خو په فضائلو كې معتبر دي. ابوالشمس عفي عنه

(٢) عالمگيري، سنتِ حبيب ص ١١٧.

بلکه فقهاؤ خو تر دې پورې لیکلي چې که یو کس غُسل وکړي ، یا اَودس وکړي ، یا مونځ وکړي او بیا د خوراک وخت راشي نو مُستقل لاسونه وینځل سُنت دي . (۱)

## د خوراک نه مخکې د لاسونو وینځلو سائنسي او طِبي فوائد

اوس دا خبره تسلیم شوی چې د خوراک نه مخکې لاسونه وینځل ضروري دي ، ځکه په روزمره ژوند کې د انسان لاس د مختلف شیانو سره لږي نو ممکنه ده چې جراثیم ( Germs ) ، یا نور زهریله او کیمیکل شیان دده د لاس سره نښتي وي .

اوس چې کله دې بغیر د لاس وینځلو نه خوراک شروع کړي نو یقیني خبره ده چې دغه جراثیم به د خوراک سره یو ځای دده معدې ته ځي ، چې دا د انسان د بیمارۍ سبب ګرځي ، بلکه ډیر کرَته د انسان دهلاکت سبب هم ګرځي .

## واقعه : د خوراک نه مخکې د لاسونو نه وینځلو نقصان

علماؤ یوه واقعه رانقل کړې چې د ټرَک یو ډریوَر ؤ ، هغه د خوراک کولو د پاره یو هوټل ته خپل ټرک اُودرول ، کله چې د ټرک نه راکوز شو نو د ټائرونو د هوا چیک کولو د پاره یې په ټائرونو باندې لاس ووهل ( او دا د ډرائیورانو عادت وي چې اکثر د هوا معلومولو د پاره د ګاډي په ټائرونو باندې لاس وهي ) .

ددې نه پس دا ډریوَر هوټل ته ورغی ، هلته یې خوراک رااُوغوښت ، او بغیر د لاسونو وینځلو نه یې خوراک شروع کړو . چې کله یې خوراک وکړو نو ناڅاپه رااُوغورځید ، اَو څه لږ وخت پس وفات شو .

خلق حیران شو چې دا څه اوشو ؟ دې خو روغ جوړ ؤ ، اَو دا په ده څه چل اوشو ؟

چا ویل چې : د زړه دَوره یعنې هارټ اَټیکورباندې راغی ، چا ویل چې د هوټل په خوراک کې زَهر وو ، خو بیا خلقو وویل چې که په خوراک کې زَهر وی نو بیا خو دې نورو

---

(۱) وغسل اليدين قبله وبعده. شامي زكريا ج۹ ص ۴۹۰ كتاب الحظر والاباحة قبيل فصل في اللبس ، مجمع الانهر ج۴ ص ۱۸۱ كتاب الكراهية فصل في الاكل .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : بَرَكَةُ الطَّعَامِ اَلْوُضُوْءُ قَبْلَهُ (اي تكريمًا له) وَالْوُضُوْءُ بَعْدَهُ. مرقاة ج۴ ص ۳۷۸ كتاب الاطعمة الفصل الثاني ، فتاوى محموديه ج ۲۷ ص ۳۰ کھانے کھانے کے آداب اور اس کے مکروہات .

خلقو هم خوراک وکړو په دې نوروېي، ولې اَثر او نه کړو ؟

د ډېر تحقیق نه پس معلومه شوه چې چیرته په لاره کې ترک په مار باندې ختلې ؤ، او د ټائر لاندې مار چیخړې شوې ؤ. کله چې دې ډریوَر د هوا چیک کولو دپاره په ټائر باندې لاس ووهل نو چونکه په ټائر باندې د مار تازه زَهر موجود وو هغه دده د لاس سره اُولږېده، اوس کله چې دهٔ بغیر د لاسونو وینځلو نه خوراک شروع کړو نو هغه زهر د خوراک سره یو ځای دده معدې ته لاړه، او دده دهلاکت سبب اوګرځیده.

پس معلومه شوه چې د نبي علیه السلام په سُنتو باندې عمل کولو کې ډیرې اُخروي او دُنیوي فائدې دي، او په پرېخودو کې یې ډیر نقصانات دي.

# د خوراک نه روستو د لاسونو وینځلو اَهمیت

دغه رنګې د خوراک نه روستو هم لاسونه وینځل سُنت دي، په دې کې د اُخروي ګټو سره سره دُنیوي ګټې هم شته: یوه په کې داده چې کله دخوراک نه روستو لاسونه اونه وینځلې شي نو د خوراک اَجزاء یعنی غوَړ والې، او خوږ والې دده په ګوتو پورې نښتې وي نو د خطره شته چې حشَراتُ الأرض او زَهریله شیان ددې غوَړ والي او خوږ والي په وجه دهٔ ګوتې اُوچیچي، او دهٔ ته تکلیف اورسوي.

د ابو داوُد شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ نَامَ وَفِيْ يَدِهٖ غَمَرٌ وَلَمْ يَغْسِلْهُ فَأَصَابَهُ شَيْءٌ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ. (١)

څوک چې په داسې حالت کې اُوده شي چې دده په لاس کې د خوراک څه اَثر او د هغې بُوي وي، او دې یې او نه وینځي، بیا دهٔ ته ددې په وجه څه ضرر اُورسي نو دادې خپل ځان ملامته کړي (او دا ضرر دې د خپلې غلطۍ او غَفلت نتیجه اوګڼړي، چې لاسونه یې د خوراک نه پس نه دي وینځلي).

بل دا چې که دا غوَړ لاسونه دده د جامو (کپړو)، یا سترګو سره اُولږي نو دا هم نقصاني خبره ده. لهذا د خوراک نه روستو په لاسونو وینځلو کې هم ډیرې فایدې دي.

---

(١) رواه ابوداؤد باب في غسل اليد من الطعام باب نمبر ١٨٠ حديث ٣٥٢، والترمذي وحسنه، وابن ماجه، وابن حبان في صحيحه، الترغيب والترهيب ١/ ١٨٥٦.

# په ګوتو خوراک کول، او د ګوتو څټل : د احاديثو په رڼا کې

په ګوتو خوراک کول او بيا ګوتې څټل سُنت دي ، د مسلم شريف حديث دی ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په باره کې راځي :

أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ ، فَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا . (١)

بيشکه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به په درې (٣) ګوتو خوراک کولو ، او چې کله به د خوراک نه فارِغه شو نو ګوتې به يې څټلې . (٢)

بل دا چې په ګوتو څټلو کې د خوراک برکت هم وي ، د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :

أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ ، وَقَالَ : إِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ أَيِّهِ الْبَرَكَةُ . (٣)

رسول الله صلی الله عليه وسلم د ګوتو او لوښي (يعنی د خوراک پليټ يا کاسه وغيره) دڅټلو حکم کړی ، او فرمايلي يې دي چې : تاسو ته پته نشته چې ستاسو په کوم خوراک (او کومه نوړی) کې برکت دی .

(١) مسلم شريف ج٢ ص ١٦٠٥ حديث ٢٠٣٢ باب استحباب لعق الاصابع ... په يو روايت کې راځي : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا . مسلم ج٣ ص ١٦٠٥ حديث ٢٠٣٢ .

د ابن ماجه په روايت کې ذکر دي : نبي عليه السلام فرمايي : لَا يَمْسَحْ أَحَدُكُمْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا . فَإِنَّهُ لَا يَدْرِيْ فِيْ أَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ . سنن ابن ماجه ج٢ ص ١٠٨٨ حديث ٣٢٧٠ باب لعق الاصابع ...

(٢) **نوټ** : نبي عليه السلام په پنځو (٥) ګوتو هم خوراک کړی . فتح الباري ص ٥٧٨ . / د ګوتو څټلو سُنت طريقه داده چې پيغمبر عليه السلام به اول د مينځ ګوته څټله ، بيا د شهادت ګوته ، او بيا به يې دا غټه ګوته څټله . حاشيه جمع الوسائل ص ١٨٩ .

(٣) مسلم حديث ١٢٣ (٢٠٣٣) باب استحباب لعق الاصابع والقصعة وأكل اللقمة الساقطة ...

﴿لَا تَدْرُوْنَ فِيْ أَيِّهِ الْبَرَكَةُ﴾: معناه ( والله اعلم ) أَنّ الطعامَ الّذي يحضره الانسانُ فيه بَرَكَةٌ ، ولايدري أَنّ تِلك البركة فِيْمَا أَكَلَهُ ، أَوْ فيما بَقِيَ على أصابعه ، او فيما بَقِيَ في أَسْفل القصعة ، اوفى اللّقمةِ السّاقطة ، فينبغي أنْ يحافظ على هذا كله لِتحصل البركةُ . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على الصحيح المسلم ./ وفي روايةٍ : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِيْ فِيْ أَيَّتِهِنَّ الْبَرَكَةُ . مسلم حديث ١٢٧ (٢٠٣٥) .

# په ګوتو د خوراک کولو، او د ګوتو څټلو سائنسي او طبي فایدې

اُوسني طِبّي او ډاکټري تحقیق هم دا دی چې په چمچه باندې د خوراک کولو په نسبت په ګوتو باندې خوراک ډیر فایده مَند دی، ځکه چې کله په ګوتو باندې خوراک کولې شي نو د ګوتو د مسَاماتو (یعنی د هغه باریکو سورو نه په کومو چې خوَله را اُوځي، ددې) نه د خوراک کولو په دَوران کې فایده مَند مَواد راوُوځي، یعني خوراک هضمونکې رطوبت (Digestive Secrilion) ورنه راووځي، کوم چې صرف په مائکروسکوپ Micros cope باندې لیدلې شي. او دا فایده مَند مواد د نوري سره شاملیږي.

اوس چې دا کله د نوري سره یو ځای، یا دګوتو څټَلو په وخت معدې ته لاړ شي نو دا د معدې او هضم د پاره ډیر فایده مند مواد دي.

تر دې پورې ډاکټرانو لیکلي چې که چیرته د خوراک نه روستو ګوتې اُوڅټلې شي نو ددې ښه اَثر په سترګو، دِماغو، زړه، او معده باندې هم غورځي.

یو فزیشن ډاکټر لیکلي چې: ما په دې باندې ډیره تجربه کړې ده یقیني چې ډیر فایده مند او یو علاج دی.

اوس که چیرته د چَمَچ په ذریعه خوراک وکړې شي، یا د خوراک نه روستو ګوتې او نه څټلې شي نو بیا دغه فوائد نه حاصلیږي.

## په ښي لاس خوراک کول

په ښي لاس باندې خوراک کول سُنت دي، د ابوداوُد شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ. (١)

په تاسو کې چې څوک خوراک کوي نو هغه دې په ښي لاس خوراک کوي.

(١) پوره حدیث دا سې دی: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ. ابوداود ٣/ ٣٤٩ ( ٣٧٧٦ باب الاکل بالیمین / د بخاري شریف حدیث دی، نبي علیه السلام عُمَر بن ابی سَلَمَة ته فرمایلي وو: يَا غُلَامُ! سَمِّ اللهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ. بخاري باب التسمية علی الطعام والاکل بالیمین ٧/ ٦٨ ( ٥٣٧٦.

**د جديد سائنس تحقيق** : اوس جديد سائنس هم داثابته کړې ده چې د خوراک په وخت د انسان د ښي لاس او چپ لاس دواړو نه داسې شُعاع (پلوشې) راوُځي چې هغه په سترګو نه ښکاري. (يعنی Invisible Rays).

بيا د ښي لاس او چَپ لاس په شعاؤ کې دا فرق دی چې د ښي لاس شعاع مُثبَت (Positive) دي او په دې کې شِفاء ده، او د چپ لاس شعاع منفي (Negative) دي، او په دې کې شِفاء نشته.

اوس چې څوک په ښي لاس باندې خوراک کوي نو يقيني خبره ده چې دغه فايده مَند شعاع به د خوراک سره يو ځای دده معدې ته ځي، چې دا دده دپاره شِفاء ده.

بل دا چې چَپ لاس خو د اِستِنجاء د پاره هم استعماليږي، اِمکان شته چې په دې کې څه جراثيم پاتې وي، نو په دې لاس خوراک کول صحيح نه دي.

## په احاديثو کې د مسواک استعمالولو تاکيد

مسواک اِستعمالول د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سُنت دي، او په احاديثو کې ددې ډير اَهميت بيان شوې دی. علماء ليکي چې دمسواک د فضيلت په باره کې څلويښت (۴۰) حديثونه وارِد شوي دي.

د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله ﷺ فرمايي:

لَوْ لَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ بِتَاخِيْرِ الْعِشَآءِ ، وَبِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ. (١)

که ما په خپل اُمت باندې دا خبره مُشکله نه ګنړلی نو ما به دوی ته حکم کړې وی چې د ماسخوتن مونځ روستو کوئ، او د هر مانځه (د اَودس) سره مسواک استعمالوئ.

يعنی که دما سره دا يَره نه وی چې زما اُمت به په تکليف کې مبتلاء شي نو ما به په دوی دا فرض ګرځولې وی چې د ماسخوتن مونځ روستو کوئ، او د هر مانځه د اَودس سره مسواک استعمالوئ، خو چونکه په فرض کيدو کې به مسلمانان په تکليف کې مبتلاء شي نو ځکه مې فرض نه کړو، بلکه سُنت مې اوګرځول.

---

(١) متفق عليه، مشکوة باب السواک الفصل الاول حديث ١ . دا حديث په دې الفاظو هم نقل دی: لَوْ لَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلٰوةٍ. سنن ابن ماجه ج١ ص ١٠٥ حديث ٢٨٧ باب السّواک.

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَاجَآءَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ إِلَّا أَمَرَنِيْ بِالسِّوَاكِ .لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ (۱)

حضرت جبرائيل عليه السلام چې کله هم ماته راغلی نو ماته يې د مسواک استعمالولو حکم کړی ، تر دې چې د ما سره دا يَره شوه چې د ډير مسواک استعمالولو په وجه چيرته زه دخپلې خُلې مخکينی حصه او نه ځيرَم .

د مسواک د فضيلت اَندازه ددې نه هم لږيدی شي چې علامه ابن عابدين شامي رحمه الله ذکر کړي چې د مسواک د اوياوُ (۷۰) نه زياتې فائدې دي ، يوه په کې داده چې مسواک استعمالونکي ته به د مرګ په وخت کلمه شهادت نصيبه کيږي ، چې ددې په وجه به دده آخِره خاتِمه يقيناً په خَير وي . (۲)

د مسواک استعمالولو په وجه د مانځه اَجر هم زياتيږي ، د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

تَفْضُلُ الصَّلٰوةُ الَّتِيْ يُسْتَاكُ لَهَا عَلَى الصَّلٰوةِ الَّتِيْ لَا يُسْتَاكُ لَهَا سَبْعِيْنَ ضِعْفًا . (۳)

هغه مونځ چې د هغې د پاره ( د اَودس په وخت ) مسواک استعمال کړې شي دا په فضيلت کې په هاغه مانځه باندې اويا (۷۰) درجې زيات فضيلت لري د کوم مانځه د پاره چې مسواک نه وي استعمال شوی .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مسواک په فوايدو کې دا هم ذکر کړي چې په دې سره خُوله صفا کيږي او الله ﷻ پرې راضي کيږي . (۴)

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم دصحت په حوالې سره د مسواک څه فوائد ذکر کړي ، چې په هغې کې څه دادي : د ورَيو مضبوطوالی ، د خُولې صفاوالی ، د پيپهړو او مری نه بَلغم راويستل ، او د غاښونو حفاظت .

---

(۱) رواه مسلم ، مشکوة باب السواک الفصل الثالث حديث ۹ .

(۲) مظاهر حق ج۱ باب السواک .

(۳) رواه البيهقي في شعب الايمان ، مشکوة ج۱ باب السواک الفصل الثالث حديث ۱۳ .

(۴) د بخاري شريف حديث دی : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلسِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ . رواه الشافعي واحمد والدارمي والنسائي ، وروى البخاري بلا اسناد ، مشکوة ج۱ باب السواک الفصل الثاني حديث ۵ .

د مسواک د فضیلت او اَهمیت اندازه ددینه هم لږیدی شي چې امام بخاري رحمه الله، صاحب د مشکوة، او نورو محدثینو ددې د پاره مستقل باب یعنی '' بَابُ السِّوَاک '' وضع کړی .

## د مسواک استعمالولو طِبّي او سائنسي فایدې

مسواک استعمالول لکه څرنګې چې یو سُنت عمل دی، دغه رنګې ددې سره سره په دې کې جِسماني طور باندې هم ډیرې فائدې شته .

جدید تحقیق هم دا ثابته کړی چې د مسواک په استعمالولو سره انسان د خُولې، غاښونو، معدې او نورو ډیرو بیماریانو نه محفوظه کیږي .

څکه چې کله د غاښونو په مینځ کې د خوراک اَجزاء پاتې شي، او مسواک استعمال نه کړې شي نو څه وخت پس دغه اَجزاء بَدبُویي پیدا کړي، او ددینه خطرناک جراثیم پیدا شي چې د انسان د غاښونو، ورَیُو، او معدې د پاره سخت نقصاني دي .

اوس که یو سړې مسواک استعمالوي نو په مسواک کې جراثیم کُش (*Anti Bacterial*) خواص موجود دي چې ددې په وجه د غاښونو موجوده جراثیم ختمیږي.

بل دا چې په بازار کې خرڅیدونکو ټوټه پیسټو کې اَهم جُز فلورائیډ (*Fluoride*) دی، چې دا دغاښونو جراثیمو ختمولو کې اَهم کِردار اَداء کوي، خو عام طور په بازاري ټوټه پیسټو کې مصنوعي فلورائیډ شاملولې شي، حالانکه دا فلورائیډ په مسواک کې قدرتي طور باندې په کامِلې طریقې سره موجود دي، چې ددې استعمال د غاښونو د پاره ډیر فایده مَند دی .

بل دا چې په هر مسواک کې یوه تیزابي ماده ( Tannic Acid) موجود ده چې دا خاصکر د غاښونو چینجي او جراثیم وژني .

تر دې پورې چې په مسواک کې داسې دافعِ تَعَفّن ( Anti Septic) مَواد موجود دي چې بعضې جراثیم خو صرف او صرف په همدغه د مسواک په اِستعمالولو سره ختمیږي، په بل هیڅ قِسمه دوایانو سره نه ختمیږي .

او ډول ډاکټران هم په دې متّفِق دي چې د غاښونو د پاره فايده مَند شی "کيلشم" او "فاسفورس" هم دي، چې غاښونو ته قوت ورکوي، او دغاښونو جراثيم ختموي. او دغه اَجزاء په مسواک کې په کامِلې طريقې سره موجود دي.

ځکه د تازه مسواک د استعمال په وخت چې کوم تريخوالي او تيزابي ماده د مسواک نه راوُځي دا همدغه "کيلشَم" او "فَاسفورس" دي چې غاښونه د هر قِسم مرضونو نه بچ کوي.

## واقعه : د مسواک په وجه د يو غير مُسلِمه اسلام قبول

د اَمريکې يو کس دخپل اسلام راوړلو واقعه داسې بيانوي چې : ماته د غاښونو او وَرِيُو داسې لاعلاجه بيماري پيدا شوې وه چې د هغه ځای ماهِر (او سَپيشَلِسټ) ډاکټران ددې د علاج نه عاجزه شوي وو.

آخِر دا چې د امريکې د غټو او تکړه ډاکټرانو يوه کميټي (بُورډ) په دې باندې کيناسته، او دما سره د انساني همدردۍ په بُنياد يې ماته څه دوائي تجويز کړه، او راله رايې کړه، چې ته دا استعمال کړه په دې سره به ستا په مرض کې څه نا څه تَخفيف راشي.

کله چې ما دا دوايي راواخيسته او کورته راروان شوم، نو په لاره کې مې د يو مسلمان دوست سره ملاقات اوشو، هغه رانه پوښتنه وکړه چې چيرته تللې وی؟ ما ورته ټوله واقعه او دا مرض بيان کړو، نو هغه زه نورو مسلمانانو ته بوتلم، کوم چې دغه وخت امريکې ته د اسلام خوَرولو د پاره راغلي وو.

مونږ د هغوی سره ناست وو، څه وخت پس دوی ټول د اَودس کولو د پاره پاڅيده، د ټولو سره مسواکونه وو، خپل غاښونه يې پرې صفا کول، ما چې د دوی سره دا مسواکونه وليدل نو زه ډير حيران شوم، پوښتنه مې ورنه وکړه: چې دا لرګي د څه شي دي؟ او د څه د پاره يې استعمالوئ؟

هغوی راته وويل: دا يو سُنت عمَل دی، په دې سره د مانځه اَجر زياتيږي، او نورې ډيرې اُخرَوي او دُنيوي ګټې دي په کې، او ورسره ورسره د غاښونو او ورِيُو د پاره هم ډير فائده مَند دی. هغوی ماله هم يو مسواک راکړو، ماهم استعمال کړو.

زه د دوی سره يو څو ورځې پاتې شوم، او دا مسواک به مې استعمالول. اته (٨) ورځې پس زما د غاښونو او ورِّيو بيماري تر ډيره حده ښه شوې وه.

چونکه دې ډاکټرانو راته ويلي وو چې اته (٨) ورځې پس به د معائنې د پاره دوباره راځې، نو زه هلته ورغلم، هغوی چې زما معائنه وکړه نو ډير خوشحاله شو چې زمونږ په دوائي سره د ډير خطرناک مرض نه درته شِفاء حاصله شوه.

ما چونکه د دوی دوايي د سره استعمال کړې نه وه نو هغه ټوله دوايي مې ورته په ميز کيښوده، هغوی چې دوايي هماغه شان سالِمه وليده نو حيران شو، پوښتنه يې وکړه چې:

کله تا دا دوائي استعمال کړې نه ده نو بيا دا شِفاء درته په څه شي حاصله شوه؟ ما د ځان سره مسواک وړې وُ هغه مې ورته اُوخوده، او ورته مې ووېل چې ما دا څو ورځې صرف او صرف همدا مسواک استعمال کړی چې ددې په وجه راته شِفاء حاصله شوه.

هغوی چې دا مسواک وليده نو نور هم ډير حيران شو، ددې تصويران يې واخيست، او په دې باندې يې سائنسي او طِبّي تحقيق شروع کړو: چې په دې مسواک کې کوم اَهم مواد دي چې د غاښونو او ورِّيو لاعلاجه بيماري ورسره ښه کيږي.

دغه کس وايي چې کله ما د اسلام دا پاکيزه مذهب وليده، او ددې په هر حکم کې مې دُنيوي او اُخروي فايدې وليدی نو ما هم اسلام قبول کړو. (١)

(١) ستاسو په عِلم کې د اِضافې په خاطر درته هغه يو څو اَجزاء اجمالاً ذکر کوم، کوم چې په مسواک کې موجود دي، داهر جُزء بې شماره فائدې لري او د غاښونو او ورِّيو په مختلفو مرضونو کې کار کوي، بيا د هر جُزء تفصيل ډير اُوږد دی، خو زه به درته صرف اجمالاً نومونه ذکر کړم:

١. ټرائي ميتهائل ايمين (Trimethylamine Amine).

٢. الکلائډ چې سلوادورين (Salvadorine) ورته وايي. ٣. کلورائيډز (Chlorides)

۴. فلورائيډ (Fluoride) او سليکا (Silica). ۵. ګندک (sulphero)

٦. حياتين "ج" (Vitamin c). ٧. ټينن (Tanins)، سيپونين (Saponins)، فليوونائډ (Flavonoids)، سټيرول (Sterols)، وغيره.

ددې هر جُزء بې شماره فائدې دي، که ددې فايدې بيانول شروع کړم نو بيا خبره ډيره اُوږديږي، او اصلِ موضوع بيا پاتې کيږي. ابوالشمس عفي عنه

## مسواک استعمالوونکي به د زړه، معدې او غاښونو د مرضونو نه محفوظ وي

قدرمنو! دا يوه مُسلّمه خبره ده چې کوم "بِيکټيريَا" (*Streptococcus*) د زړه په "والونو" (Valve) باندې حمله کوي، او دا ختموي نو دا هغه بِيکټيريَا دي چې د مسواک د نه استعمالولو په وجه د غاښونو په مينځ کې پيدا کيږي، او بيا دخُلې د لارې نه لاندې وجود ته ځي او د زړه په والونو حمله کوي.

اوس که يو سړې مسواک استعمالوي نو يقيني خبره ده چې دې به د زړه د ډيرو مرضونو نه هم محفوظ وي.

بل دا چې د موجوده ډاکټرانو تحقيق هم دادی چې په سلو کې آتيا فيصده مرضونه انسان ته د معدې او غاښونو د خراب والي په وجه پيدا کيږي. ځکه چې کله د مسواک نه استعمالولو په وجه د غاښونو په مينځ کې د خوراک اجزاء بَدبُويي پيدا کړي، او په وريّو کې ددې په وجه زخم پيدا شي، بيا دخوراک کولو يا د لاړو تيرولو سره دغه د زخم پيپ او نَوُونه معدې ته لاړ شي، چې ددې په وجه انسان ته د معدې مختلف بيمارياني پيدا کيږي. او ورسره ورسره دِماغي او نفسياتي مرضونه، او د سترګو مختلف مرضونه هم پيدا کيږي.

دغه وجه ده چې کوم کس مسواک نه استعمالوي نو هغه به خامخا د معدې په څه نا څه بيمارۍ کې ضرور مُبتلاء وي.

او چې څوک مسواک په پابندۍ سره استعمالوي نو هغه خو به يو د غاښونو، معدې، او نورو ډيرو مرضونو نه محفوظ وي.

بل دا چې د مسواک په استعمال سره بَلغم هم راخارجيږي چې دا د دِماغو د سپکوالي او آرامۍ سبب ګرځي. او ورسره ورسره انسان د دائمي نَزلې او مَرۍ دمرضونو نه هم محفوظ وي.

## د اُوده کيدو په وخت مسواک استعمالول: د احاديثو په رڼا کې

که د احاديثو په ذخيره باندې نظر واچوو نو د پيغمبر عليه الصلوة والسلام په معمولاتو کې دا هم ذکر دي چې دوی به د شپې د اُوده کيدو په وخت مسواک استعمالول. (۱)

(۱) سيرة الشامي ۷/ ۵۲۵.

او تر هاغه وخته پورې به نه اُوده کيده تر څو پورې چې به يې مسواک نه وُ استعمال کړی (١)

څکه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به په اَودس کې اُوده کيده ، او د اَودس سره به دوی مسواک هم استعمالول . (٢)

## د اُوده کيدو په وخت د مسواک استعمالولو سائنسي او طِبّي فوايد

د ډاکټرانو اُوسنې تحقيق هم دادی چې د اُوده کيدو په وخت د مسواک استعمالول ډير ضروري دي .

څکه دانسان غاښونه اکثره د شپې اُوده کيدو په وخت ډير خرابيږي ، وجه داده چې د ورځې انسان کله خوراک کوي ، کله څکاک کوي ، کله خبرې کوي ، يعنی خُوله يې خوَزي نو د غاښونو بِيکټيريا جراثيم خپل کارپوره نشي کولی .

او کله چې انسان اُوده شي نو دده خُوله بنده شي ، اوس چې ده مسواک نه وي استعمال کړی نو د غاښونو جراثيم خپل کار په اِطمينان سره شروع کړي ، او د غاښونو په مينځ کې چې د خوراک کوم اَجزاء پاتې شوي وي د هغې نه په زَرګونو بِيکټيريَا جراثيم جوړيږي .

لهذا د اُوده کيدو په وخت مسواک استعمالول لکه څرنګ چې د نبي عليه السلام سُنت دی دغه شان د غاښونو او صحت د پاره هم ډير فائده مند دی .

---

(١) شرح مواهب ٥ / ٣٢٩ ، سُنت حبيب ص ١٥٦ .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د پيغمبر عليه السلام معمول دا بيانوي : قَالَ ابن عباس : بِتُّ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنَّ . بخاري ج١ ص٥٨ باب السواک . ﴿فَاسْتَنَّ﴾ اَلإِسْتِنَانُ : إِسْتِعْمَالُ السِّوَاکِ .

(٢) نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې څنګه په خپله په اَودس کې اُوده کيده نو همدغه شان يې اُمت ته هم په اَودس کې د اُوده کيدو حکم کړی ، د بخاري شريف حديث دی ، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَکَ فَتَوَضَّأْ وُضُوْءَکَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّکَ الأَيْمَنِ .

کله چې ته دخُوب د پاره ځې نو د مانځه د پاره چې څنګه اَودس کوی هماغه شان اَودس وکړه ، بيا په خي اَړخ باندې اُوده شه . بخاري ج١ ص٥٨ حديث ٢٤٧ باب فضل من باب علی الوضوء ، سنن ابوداؤد ج٤ ص ٣١١ حديث ٥٠٤٦ باب ما يقال عند النوم ، وهکذا في صحيح مسلم حديث ٢٧١٠ باب ما يقول عند النوم واخذ المضجع .

**نوټ** : د اُوده کيدو نه مخکې اَودس کولو کې د وجود ډيرې فائدې دي لکه په دې سره بې خَوابي او بې سُکوني ختميږي ، په اَندامونو کې اِعتدال پيداکيږي،خفګان او ډِپريشَن ( *Depression* ) يعنی پريشاني ورسره ختميږي.

## د سپي جُوټه کړې لوښې په اوبو او خاوره صفا کول : د احاديثو په رڼا کې

کله چې سپې په يو لوښي کې خُوله اووهي نو په احاديثو کې د دې لوښي د وينځلو حکم راغلې دی ، او ورسره په خاوره باندې هم د دې لوښي د وينځلو او مږلو حکم راغلې دی .

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْإِنَاءِ فَاغْسِلُوْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَعَفِّرُوْهُ الثَّامِنَةَ فِي التُّرَابِ . (۱)

کله چې سپې په يو لوښي کې خُوله اووهي نو تاسو دا لوښې په اوبو باندې اووه ( ۷ ) پيرې اووينځئ ، او په اَتمه ( ۸ ) پيره يې په خاورو اومږئ ( او وې وينځئ ) . (۲)

لهذا په خاوره باندې د دې لوښي وينځل هم مستحب دي ، اگر چې لازم نه دي (۳)

---

(۱) مسلم ج۱ ص ۱۳۰ حديث ۲۳۵ بابُ حکم وُلوغ الکلب ، ابن ماجه ج۱ ص ۱۳۰ حديث ۳۶۵ باب غسل الاناء من ولوغ الکلب ، ابوداؤد ج۱ ص ۱۹ حديث ۷۴ .

(۲) د ابوداؤد شريف په حديث کې اول په خاوره د مږلو او وينځلو حکم راغلی دی ، نبي عليه السلام فرمايي : طُهُوْرُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيْهِ الْكَلْبُ أَنْ يُغْسَلَ سَبْعَ مِرَارٍ ، أُوْلَاهُنَّ بِتُرَابٍ . ابوداؤد ج۱ ص ۱۹ حديث ۷۱ .

د ترمذي شريف په حديث کې په اول يا آخر کې په خاوره د مږلو حکم راغلې دی ، نبي عليه السلام فرمايي : يُغْسَلُ الْإِنَاءُ إِذَا وَلَغَ فِيْهِ الْكَلْبُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُوْلَاهُنَّ أَوْ أُخْرَاهُنَّ بِالتُّرَابِ . ترمذي ج۱ ص ۱۵ حديث ۹۱ باب ما جاء في سؤر الکلب .

**فقهي مسئله** : سپې چې په کوم لوښي کې خُوله اووهي نو زمونږ د احنافو په نزد د دې لوښي درې ( ۳ ) پيرې وينځل واجب دي ، يعنی درې پيرې وينځلو سره دا لوښې پاکيږي ، نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

يُغْسَلُ الْإِنَاءُ مِنْ وُلُوْغِ الْكَلْبِ ثَلَاثًا . دارقطني کتاب الطهارة باب ولوغ الکلب في الاناء حديث رقم ۱۹۳ فصل في الآسار وغيره . د سپي د جوټه کولو په وجه به لوښې درې ( ۳ ) پيرې وينځلې شي .

وجه دا ده چې د سپي تشې مِتيازې د کوم شي سره اولږي نو هغه په درې ځله وينځلو سره پاکيږي نو جوټه خو به يې په درې پيرې وينځلو سره په طريقِ اولی پاکيږي .

او په احاديثو کې چې کوم اووه ( ۷ ) کرتې د وينځلو حکم راغلې دی نو دا په اِبتداء د اسلام کې وُ ، بيا روستو تخفيف وکړې شو او دا حکم منسوخ شو ، صرف درې کرتې وينځل لازمي شو . او په خاوره باندې وينځل اوس هم مستحب دي ، اگر چې لازمي نه دي . عنايه شرح هدايه فصل في الآسار وغيرها .

(۳) ويندب عندنا السّبع وکونُ إحداهنّ بالتّراب . طحطاوي حاشيه مراقي الفلاح ص ۲۳ فصل في بيان احکام السور ، فتاوی حقانيه ج۲ ص ۵۷۴ .

## سائنسي او طبّي وجه

اوس ډاکټران او سائنسدانان هم دا وايي چې په کوم لوخي کې سپۍ خُوله أووهي نو د اُوبو سره سره که په خاوره اُووينځلې شي نو هم بهتره ده ځکه په خاوره کې يو جُزء '' نوشادر '' دی ، چې دا د سپي د خُولې جراثيمو ختمولو کې ډير مؤثر دي ·

## واقعه : د يو جرمني ډاکټر اقرار

د جَرمن يو مشهور ډاکټر کرخ خپله واقعه داسې بيانوي چې : کله ما د پيغمبر عليه السلام هغه حديث اُوکته په کوم کې چې دوی خپل اُمت ته حکم کړی چې '' سپۍ کله په يو لوخي کې خُوله اُووهي نو تاسو هغه په اُوبو اُووينځئ ، او په آخره کې يې په خاوره هم اُومږئ (او وي وينځئ) ''.

دا ډاکټر وايي چې ما د ځان سره سوچ کولو چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې د دغې لوخي په خاوره باندې د مږلو حکم کړی نو په دې کې به خامخا څه راز او فائده وي ، ځکه پيغمبر عليه السلام هيڅ کله د بې فايدې کار کولو حکم نه دې کړی ·

نو ما د دې خبرې تحقيق شروع کړو ، او د خاورې ټول اَجزاء مې کِيميايي طريقې سره جدا جدا کړه ، او هر يو جُزء مې د سپي د خُولې په جراثيمو باندې استعمالول شروع کړه ، صرف دا مې معلومول چې په کوم جُزء سره د سپي د خُلې جراثيم ختميږي ·

کله چې د خاورې د يو جُزء '' نَوشادَر '' استعمالولو نمبر راغی نو په نوشادرو سره د سپي د خُولې جراثيم مکمل ختم شو ، پس ماته معلومه شوه چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم چې خپل اُمت ته په خاوره باندې د دغه لوخي د وينځلو حکم کړی نو دا ځکه چې په دې خاوره کې نَوشادَر دي ، او دا د سپي دخُولې جراثيمو ختمولو کې اَهم کِردار اَداء کوي ·

دا ډاکټر وايي چې ما بيا د ځان سره دا سوچ کولو چې پيغمبر عليه السلام خپل اُمت ته ولې دا حکم نه کولو چې تاسو دغه لوخي په نَوشادرو اُووينځئ ؟ بلکه د اُوبو نه روستو يې په خاوره د مږلو او وينځلو حکم کړی ، په دې کې حکمت څه دی ؟

د څه سوچ کولو نه روستو مې خبره ذِهن ته راغله چې که نبي عليه السلام خپ اُمت ته دا حکم کړې وی چې دغه لوخي د اُوبو د اِستعمال نه روستو په نوشادرو باندې اُوويـنځي نو بيا به چا نَوشادَر پيژنده ، او چا به نه پيژنده . يا په بعضو علاقو کې به پيدا کيده ، او په بعضو کې به نه پيدا کيده .

او خاوره چونکه په هر ځای کې موجوده وي ، او نوشادر هميشه په خاوره کې شامِل وي. نو ځکه نبي اکرم صلی الله عليه وسلم اُمت ته د اُوبو سره سره په خاوره باندې ددې لوخي د وينځلو حکم کړی .

د جَرمن دا ډاکټر وايي چې کله ما دا تجربه په خپله باندې وکړه نو د هاغه وخت نه راپه ديخوا زما په زړه کې د پيغمبر عليه السلام سره ډيره زياته مينه پيدا شوی ، او دا مې عقيده ده چې د حضرت آدم عليه السلام نه را په ديخوا د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په شان دومره هوښيار طبيب او حکيم په دُنيا کې نه دې تير شوی .

ځکه چې د سپي دخُولې جراثيمو ختمولو کې د نَوشادرو مؤثِر او علاج کيدل راته د پيغمبر عليه السلام د دغه حديثِ مبارکه نه معلوم شو . نو ځکه مې ورسره ډيره مينه او محبت پيدا شوی .

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل کتاب " المصالح العقلية للاحکام الشرعية " کې هم دا خبره ليکلي : په حديث کې چې د دغه سپي جُوټه کړې لوخي د اُوبو د استعمال نه روستو په آخر کې په خاوره باندې د وينځلو حکم راغلی نو دا ځکه چې د سپي د خُولې جراثيم ډير تيز او زهريله دي ، نو پيغمبر عليه السلام په تاکيد سره ددې د وينځلو حکم وکړو ، او په آخر کې يې په خاوره د وينځلو حکم وکړو ، ددې د پاره چې په خاوره کې نَمکينه ماده دغه زهريله جراثيم ختم کړي .(۱)

## په خي طرف اُوده کيدل سُنت دي

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم طريقه دا وه چې په خي طرف به اُوده کيده ، او اُمت ته يې هم په خي طرف د اُوده کيدو حکم کړی .

(۱) احکامِ اسلام عقل کي نظر ميں ( اُردو ترجمه د : المصالح العقلية للاحکام الشرعية ) ص ٦٣ باب المياه .

امام بخاري رحمه الله مُستقِل باب قائم کړی '' بَابُ الضَّجْعِ عَلَى الشِّقِّ الأَيْمَنِ ''

بيا يې ددې لاندې حديث رانقل کړی ، حضرت عائشه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ د شپې معمول بيانوي ، د حديث په آخر کې فرمايي :

ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ . (۱)

بيا نبي عليه السلام په خي طرف باندې اُوده شو .

د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَکَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَکَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّکَ الأَيْمَنِ . (۲)

کله چې ته د خُوب د پاره ځی نو د مانځه د پاره چې څنګه اَودس کوی هماغه شان اَودس وکړه ، بيا په خي اَړخ باندې اُوده شه .

## په خي طرف د اُوده کيدلو سائنسي او طِبي فوايد

په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې رسولُ الله ﷺ کوم کار په کومه طريقه کړی نو ددې کار د پاره په دُنيا کې بل بهترين صورت د سره ممکن نه دی .

کله چې د احاديثو نه دا خبره ثابته شوه چې د نبي اکرم ﷺ عادتِ مبارکه دا ؤ چې په خي طرف به څملاستو ، او اُمت ته يې هم ددې حکم کړی ، نو اوس سائنس او طِب هم د ډير تحقيق نه پس دا خبره ثابته کړې چې: د اُوده کيدو د پاره په ټولو کې بهترين صورت همدا دی چې انسان په خي طرف څملي . ځکه په خي طرف څملاستلو کې ډيرې سائنسي او طِبي فائدې دي .

(۱) بخاري باب الضجع على الشقّ الأيمن حديث ۶۳۱۰ .

په موطا مالک کې ذکر دي : فَإِذَا فَرَغَ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ . موطا مالک ج۱ ص ۱۲۰ حديث ۸ باب صلاة النبي صلى الله عليه وسلم في الوتر ، وحديث ۲۹۲ ص ۱۱۳ .

(۲) بخاري ج۱ ص ۵۸ حديث ۲۴۷ باب فضل من بات على الوضوء ، سنن ابوداؤد ج۲ ص ۳۱۱ حديث ۵۰۴۶ باب ما يقال عند النوم ، وهکذا في صحيح مسلم حديث ۲۷۱۰ باب ما يقول عند النوم واخذ المضجع .

يو څو مشهوري فائدې ستاسو دوړاندې ذکر کوم

## ۱ . انسان د زړه د بيماريو نه محفوظ وي

ځکه د انسان زړه چَپ ( ګس ) طرف ته دی ، نو چې دې په خپ طرف څملي نو په زړه باندې هيڅ بوج او پريشر نه وي ، بلکه په آسانه طريقې سره زړه ټول وجود ته وينه پَمپ کوي.

اوس که دې په چَپ طرف څملي نو په زړه باندې د معدې بوج راځي ، چې په دې سره د وينې ګردش ( Blood Circulation ) ، او د زړه په حرکاتو کې کمې راځي ، چې داد زړه او معدې د ډيرو بيمارو سبب ګرځي.

ددې داسې مثال دی لکه په دوه ( ۲ ) چَته بِلډنګ کې د اُوبو راخيجولو موټر (واټر پمپ) لاندې چَت کې لږيدلې وي ، نو يقيني خبره ده چې دا موټر کله بره دويم چَت ته اُوبه خيجوي نو په موټر باندې به ډير پريشر ( زور ) وي. او که د دويم چَت نه اُوبه ښکته راځي نو په دې کې هيڅ پريشر نه وي ، بلکه په خپله دا اُوبه په ښکته راروانې وي.

دغه شان انسان چې په چَپ ( ګس ) طرف ملاست وي نو په زړه باندې د معدې بوج وي ، اوس چې دا زړه نور وجود ته وينه پمپ کوي نو په زړه باندې ډير زور راځي . او که دې په خي طرف باندې څملي نو زړه پورته وي ، د معدې هيڅ بوج ورباندې نه وي نو په آسانۍ سره وينه پمپ کوي ، چې په دې سره د انسان زړه د ډيرو بيماريو نه محفوظ وي.

## ۲ . انسان ډير ډُوب او د غفلت په خُوب اُوده نه وي

صاحب د مدارج النبوة په خي طرف څملاستو کې دا حِکمت ذکر کړی چې کله انسان په خي طرف اُوده وي نو دده په زړه باندې هيڅ بوج او پريشر نه وي ، ځکه د انسان زړه مُعَلّق ( زوړند ) وي ، ډير ډوب او د غفلت په خوب اُوده نه وي ، بلکه په معمولي حرکت باندې انسان د خوب نه راپاځي ، او همداسې خوب محمود او ښه هم دی ، ځکه انسان د خپل ځان ، اَولاد او کور حفاظت په ښه طريقې سره کولې شي ، او د سهر لمانځه ته هم په آسانه راپاځيدې شي.

او که دې په چَپ طرف څملي نو په زړه باندې بوج زيات وي ، انسان په ډير ډوب او د غفلت په خوب اُوده وي ، په معمولي درَزار او حرکت سره نه راپاڅي ، داسې خوب کول بنه نه دي ، ځکه په دومره ډوب خوب کې انسان د غَل غدو نه د خپل ځان او کور حفاظت په آسانه طريقې سره نشي کولی ، همدارنګې د سهر مانځه ته هم انسان په آسانه نشي راپاڅيدی .

## ۳. خطرناک او يرووُنکي خُوبونه نه ګوري

کله چې انسان په خي طرف اُوده وي نو دې ويروونکي او خطرناک خوبونه نه ګوري ، ځکه په زړه هيڅ بوج نه وي ، او که دې په چَپ طرف څملي نو په زړه باندې چونکه د معدې بوج وي نو ځکه خطرناک او يروونکي خوبونه ګوري .

## ٤. دخوب کولو نه روستو انسان مُطمئِن او تازه وي

په خي طرف څملاستلو کې يوه دا فايده هم ده چې انسان د لږ خوب کولو نه پس هم مطمئِن او تازه وي ، داسې محسوسوي لکه چې ډير خوب يې کړې وي .

او که دې چَپ طرف اُوده شي نو اګر چې ډير خوب وکړي خو بيا به هم دې مطمئِن او تازه نه وي ، بلکه د راپاڅيدو نه روستو د څه وخته پورې به يې دِماغ صحيح کار نه کوي .

پس معلومه شوه چې په سُنت طريقې سره خوب کولو کې ډيرې فايدې دي .

ډاکټران او سائنسدانان اوس ددې حکمتونه او فائدې بيانوي حالانکه زمونږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې خپل اُمت ته په خي طرف د څملاستلو حکم کړی .

## مَچ په خوراک کې غورځيدل ، او بيا غوپه ورکول

کله چې د خوراک يا څکاک په څه شي کې مَچ اُوغورځيږي نو په کار ده چې انسان دې مَچ ته په دې کې غوپه ورکړي ( يعني ټول مچ دې په کې يو پيره ډُوب کړي ) بيا دې يې ورنه اُوغورځوي ، نو په دې سره به دا د خوراک يا څکاک واله شی قابل د استعمال اوګرځي ، زهريله آثرات به ورنه ختم شي . رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل اُمت ته ددې حکم کړی :

امام بخاري رحمه الله مستقل باب وضع کړی " بَابُ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي الإِنَاءِ " ، او ددې د لاندې يې د نبي کريم ﷺ دا حديث رانقل کړی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ ، ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ ، فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً وَفِي الْآخَرِ دَاءً . (۱)

کله چې ستاسو ديو کس (دخوراک يا څکاک) په لوښي کې مچ او غورځيږي نو په کار ده چې دا کس دا مچ ټول په دې لوښي کې ورډوب کړي ( او غوټه ورله په کې ورکړي ) ، بيا دې يې اُوغورځوي ، (دا غوپه ورکول ضروري دي) ځکه د مچ په يو وزر کې شِفاء ده ، او په بل کې بيماري ده .

# سائنسي او طِبّي وجه

اوس سائنسدانانو او ډاکټرانو هم دا خبره منلې ده چې د مَچ په يو وزَر کې خطرناک وائرس (يعنی جراثيم) وي ، پس کله چې دا په څه خوراک کې غورځيږي نو دغه د زَهرو واله وزَر مخکې کوي ، چې په دې سره دغه وائرس په دې خوراک کې فورًا خواره شي .

خو دده په دې بل وزَر کې "دافعِ وائرس" يا " اِنټي وائرس " ( Anti virus ) اجزاء هم موجود دي . اوس که چيرته دا مَچ غونډ په دې خوراک يا اُوبو کې غوپه کړې شي نو دغه "دافعِ وائرس " او فايده مَند اجزاء هم په دې خوراک کې شامل شي ، چې دا هغه مخکيني زهريله جراثيم ختم کړي ، چې په دې سره دا خوراک د استعمال قابل وګرځي ، او زهريله اَثرات ورنه ختم شي .

(۱) صحيح البخاري باب اذا وقع الذباب في الإناء حديث ۵۷۸۲ ، وحديث ۳۳۲۰ باب إذا وقع الذباب في شراب احدكم فليغمسه .

په سنن ابن ماجه کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی ، نبي عليه السلام فرمايي :
فِي أَحَدِ جَنَاحَيِ الذُّبَابِ سُمٌّ ، وَفِي الْآخَرِ شِفَاءٌ ، فَإِذَا وَقَعَ فِي الطَّعَامِ فَامْقُلُوهُ فِيهِ ، فَإِنَّهُ يُقَدِّمُ السُّمَّ وَيُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ . سنن ابن ماجه ج۲ ص ۱۱۵۹ حديث ۳۵۰۴ باب يقع الذباب في الإناء .
د مچ په يو وزر کې زهر وي ، او په بل کې شِفاء وي ، کله چې دا په خوراک کې اُوغورځيږي نو تاسو ورته په کې غوپه ورکړئ ځکه دې د زهر واله وزَر مخکې کوي ، او شِفاء واله وزَر روستو کوي .

خو سائنسدانانو او ډاکټرانو ددې خبرې اِنکشاف اوس وکړو حالانکه رسولُ الله صلی الله علیه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې خپل اُمت ته ددې خبر ورکړی چې:

کله مچ په خوراک کې اُوغورځيږي نو تاسو ورله غوپه ورکوئ ، ځکه دده په يو وزر کې زهر دي او په بل کې شِفاء ده ، او دې دغه زهريله وزَر مخکې کوي ، او د شِفاء والا روستو کوي ، نو تاسو يې په خوراک کې غونډ ډُوب کړئ چې د شِفاء والا وزَر هم په خوراک کې ننکته شي ، او خوراک د نقصان نه اُووځي.

## د پَرَنجي ( اَنګرِيشي ) کولو نه روستو ''اَلحَمدُلله'' ويل

د بخاري شريف حديث دی ، نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ : '' اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ : '' يَرْحَمُكَ اللهُ ''.

فَإِذَا قَالَ لَهُ : '' يَرْحَمُكَ اللهُ '' فَلْيَقُلْ : '' يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ '' . (١)

په تاسو کې چې څوک پرَنجي ( اَنګرِيشې ) وکړي نو دادې '' اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' ووايي ، بيا دده سره موجود دده ورور يا دده ملګرئ دې '' يَرْحَمُكَ اللهُ '' ووايي ، کله چې هغه '' يَرْحَمُكَ اللهُ '' ووايي نو دا دې هغه ته '' يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ '' اُووايي.

## د پَرَنجي کولو نه روستو د ''اَلحَمدُلله'' او نورو دُعاګانو ويلو حکمتونه :

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم خپل اُمت ته حکم کړی چې څوک اَنګرِيشې وکړي نو هغه دې د الله تعالی حمد او شکريه اداء کړي ، او '' الحمد لله '' دې اُووايي.

---

(١) بخاري شريف حديث ٦٢٢٤ بابُ إذا عَطَسَ کَيفَ يُشَمَّتُ .

په يو روايت کې راځي چې الله تعالی پرنجې خوښوي ، او اَسويلې (يعنی په وازه خُله ساه راخکل او اَسويلې کول) نه خوښوي ، پوره حديث داسې دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ . فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللهَ كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ : '' يَرْحَمُكَ اللهُ '' . وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ : فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ . فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ . فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ . بخاري حديث ٦٢٢٦ بابُ إذا تثاءبَ فليضع يده على فيه .

اګر چې په ظاهره به ده ته په دې " الحمد لله " ويلو کې څه فايده په نظر نه راځي ، خو که انسان ديته د بصيرت په سترګو او ګوري او ددې حقيقت ته سوچ وکړي نو ده ته به په دې کې ډير حکمتونه ، رازونه او فوائد په نظر راشي .

ځکه د ډاکټرانو تحقيق دادی : چې د پرنجي کولو په وخت د انسان زړه او دماغ دواړه په يو ځل کار پريږدي ( دغه وجه ده چې که يو کس څه خبره شروع کړې وي او دې په دې دوران کې پرنجې وکړي نو اکثر د پرنجي کولو نه روستو ورنه هغه خبره هيره شي ، بيا د خلقو نه پوښتنه کوي چې : " ما څه خبره شروع کړې وه ؟ " پس معلومه شوه چې د پرنجي کولو نه روستو زړه او دماغ دواړه په يو ځل کار پريږدي ) .

او دا دواړه اندامونه خو په وجود کې اَهم او بُنيادي اندامونه دي ، که چيرته انسان په همدې حالت باندې پاتې شي نو بيا خو ژوندې نه پاتې کيږي .

بل دا چې د پرنجي کولو په وخت د انسان د مخ شکل و شباهت ډير زيات خراب او بد صورته شي .

اوس چې کله د پرنجي کولو نه پس الله ﷻ دې بيا خپل اَصلي حالت ته راوَست ، او زړه او دِماغو يې روغ کار شروع کړو نو ده ته په دې باندې اوس د الله تعالی حمد او شکريه په کار ده ، چې : يا الله ! زه ستا حمد بيانوم چې تا ماته دوباره روغ صحت او ښکلې شکل راکړو . نو ځکه دې " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ " ووايي .

بيا چې څوک موجود کس دا واوري نو هغه دې ده ته دُعا وکړي ، او " يَرْحَمُکَ اللّٰهُ " دې ورته ووايي ، يعنی الله تعالی دې په تا باندې رحم وکړي ( او د نيک عمَل د پاره دې درته نور هم اُوږد عُمر درکړي ) .

پرنجي کوونکې به هغه ته هم دُعا وکړي چې " يَهْدِيْکُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَکُمْ " الله تعالی دې تاسو ته هم هدايت ( او استقامت ) نصيبه کړي ، او ستاسو حالت دې هم ښه کړي .

## واقعه : د يو انګريز ډاکټر اِقرار

يو انګريز ډاکټر وايي چې ما کله د پيغمبر عليه السلام دا حديث مبارک واوريده ( په کوم کې چې دوی پرنجي کوونکي ته د " الحمد لله " ويلو ، اَوريدونکي ته د " يرحمک الله "

ويلو ، او بيا پرَنجي کوونکي ته د '' يهديکم الله ... '' ويلو حکم کړی ) نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې په دې دومره وړوکي کار ( پرَنجي ) باندې نبي عليه السلام ولې د دومره ډيرو دُعاګانو کولو حکم کړی ؟ آخِر په دې کې حِکمت څه دی ؟

دا انګريز ډاکټر وايي چې ما ددې پرَنجي حقيقت معلومولو په باره کې تحقيق شروع کړو ، نو ماته د ډير تحقيق نه روستو دا خبره معلومه شوه چې :

کله د انسان د دِماغو په رګونو کې هوا بَنده شي نو الله ﷻ ددې هوا راويستلو د پاره دا اِنتظام کړی چې دا کس پرَنجې وکړي نو په ډير پريشَر سره دغه هوا د پوزې په لاره د دِماغو د رګونو نه راأووځي . ځکه که چيرته دغه هوا په دې دِماغي رګونو کې د څه وخت د پاره پاتې شي نو په دې سره د فالج راتلو خطره وي .

نو اوس چې انسان پرَنجې وکړي ، او د دومره خطرناکې بيمارۍ نه محفوظ شي نو ددې نِعمت په شکريه کې ده ته دا حکم شوی چې د الله تعالی حمد اداء کړه ، او '' اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ '' ووايه .

بل دا چې کله انسان په دُنيا کې ژوند تيروي نو بعضې ځايونه داسې وي چې هلته ګرد و غبار ، او جراثيم زيات وي ، نو کله چې دې هوا په پوزه باندې اَخلي نو دغه جراثيم او ګردونه هم دَننه وجود ته د نَنَوتو کوشش کوي . خو بل طرف ته د الله ﷻ دې عظيم قدرتونو ته ګوره چې د انسان د پوزې په ويښتانو کې يې دا صلاحيت پيدا کړی چې دا دغه جراثيم او ګردونه رامنع کوي ، او دَننَه وجود ته نَنوتلو ته يې نه پريږدي ، بلکه د پوزې په ويښتانو کې پاتې کيږي .

بيا چې کله انسان پرَنجې وکړي نو ددې پرَنجي دا هوا دومره تيزه او زُور داره وي چې د پوزې دغه ګردونه او جراثيم بهر راأوغورځوي ، چې په دې سره دده پوزه هم دګردونو او جراثيمو نه صفا شي .

ځکه که دا ګردونه او جراثيم همدلته پاتې شي ، يا دَننه لاړ شي نو دا د ډيرو بيماريو سبب ګرځي .

پس معلومه شوه چې پرَنجي ( يعنى اَنکرِيشې ) کول لکه څرنګه چې د انسان د دماغو د صحت علامه ده ، دغه شان په دې سره انسان د ډيرو بيماريانو نه هم محفوظ کيږي ، نوځکه رسولُ الله صلى الله عليه وسلم پرَنجي کوونکي ته د الله تعالى د حمد اداء کولو حکم کړی .

## د خَتنې ( يعنى ماشوم سُنتولو ) اهميت

خَتنه يعنى د ماشوم سُنتول سُنتِ مؤکد ( يعنى واجب ) دي ، او د اسلام په شعائرو کې داخل دي . (١)

د خَتنې په باره کې بې شماره احاديث راغلي :

د بخاري او مسلم شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ : اَلْخِتَانُ ، وَالْإِسْتِحْدَادُ ، وَتَقْلِيْمُ الْأَظْفَارِ ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ ، وَقَصُّ الشَّارِبِ . (٢)

پنځه شيان د فِطرت نه دي ( يعنى دا سُنتِ قديمه او د پيغمبر عليه السلام سُنت دي ، ګويا دا يو اَمرِ جِبِلّي او فِطري دى ) اول خَتنه کول ، دويم د نامه نه لاندې ويښتان خريل ، دريم نوکونه کټ کول ، څلورم د تخرګونو ويښتان ويستل ، او پنځم بريتونه لنډول .

اول خَتنه حضرت ابراهيم عليه السلام کړې ، د حضرت سعيد بن المُسَيِّب نه روايت دى :

اِنَّ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَوَّلُ مَنِ اخْتَتَنَ . (٣)

---

(١) قَالَ الْإِمَامُ رَحِمَهُ اللهُ : وَأَمَّا الْخِتَانُ ، وَإِنْ كَانَ مَذْكُوْرًا فِيْ جُمْلَةِ السُّنَنِ فَإِنَّهُ وَاجِبٌ عِنْدَ كَثِيْرٍ مِنَ الْعُلَمَاءِ . وَذٰلِكَ أَنَّهُ مِنْ شِعَارِ الدِّيْنِ ، وَبِهِ يُعْرَفُ الْمُسْلِمُ مِنَ الْكَافِرِ . شرح السنة للبغوي ج١ ص ٤٠٠ باب السواک .

(٢) په يو روايت کې لس ( ١٠ ) شيان د فِطرت ذکر شوي : د مسلم شريف حديث دى ، نبي عليه السلام فرمايي : " عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ : قَصُّ الشَّارِبِ ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ ، وَالسِّوَاكُ ، وَإِسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ ، وَإِنْتِقَاصُ الْمَاءِ " . قَالَ زَكَرِيَّا : قَالَ مُصْعَبٌ : وَنَسِيْتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ الْمَضْمَضَةَ .
مسلم شريف ج١ ص ٢٢٣ حديث ٢٦١ باب خصال الفطرة ، سنن ابن ماجه ج١ ص ١٠٧ حديث ٢٩٣ باب الفطرة .
لس شيان د فِطرت نه دي : ١. بريتونه کټ کول. ٢. ګيره پريخودل. ٣. مسواک استعمالول ٤. پوزې ته اُوبه اَچول او صفا کول. ٥. نوکونه پريکول. ٦. هغه ځايونه وينځل په کوم ځاى کې چې خِيرې جَمعه کيږي لکه د لاسونو د ګوتو د بندونو مينځ وينځل. ٧. د تخرګ ويښتان ويستل. ٨. زيرناف ويښتان خريل. ٩. اِستنجاء کول. مُصعب راوي وايي چې د مانه لسم څيز هير شوى ، خو هغه شى به مَضمضه يعنى خُولې ته اُوبه اَچول او صفا کول وي .

(٣) شرح السنة للبغوي ج١٢ ص ٩٦ حديث ٣١٨٢ ، جامع معمر بن راشد ج١١ ص ١٧٥ حديث ٢٠٢٤٥ .

ابراهيم عليه السلام اول هغه کس دی چا چې خَتنه وکړه .

او ابراهيم عليه السلام دا خَتنه د تبَرگي په ذريعه کړې وه ، چې په دې وخت کې د دوی عُمر اَتيا (٨٠) کاله وُ . د بخاري شريف حديث دی رسول الله ﷺ فرمايي :

إِخْتَتَنَ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِيْنَ سَنَةً بِالْقَدُّوْمِ .(١)

ابراهيم عليه السلام د اَتيا (٨٠) کالو په عُمر کې د تبَرگي په ذريعه خَتنه وکړه .

پس معلومه شوه چې اول خَتنه حضرت ابراهيم عليه السلام کړی ، او بيا د هغې نه پس ټولو رسولانو او د هغوی مُتبِعينو کړی ، او دا د اَنبياء کرامو سُنت او د شَعائِرو د دين نه ده ، په دې کې به خامخا ډيرې فايدې او حِکمتونه وي .

## د خَتنې کولو سائنسي او طِبّي فوائد

محترمو ! په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې په هر شَرعي حکم ، او په سُنتو باندې عمَل کولو کې به خامخا بې شماره مَصلحتونه ، رازونه او فايدې وي ، او د انسان د دُنيا او آخرت کاميابي هم په همدې کې ده .

خَتنه (يعنی د ماشومانو سُنت) کول لکه څرنګ چې د ټولو اَنبياء کرامو سُنت او فِطري شی دی ، د اُخروي فائدو سره سره په دې کې ډيرې دُنيوي فائدې هم شته ، چې انسان په دې سره د مختلف مرضونو نه نِجات مومي .

او په دې باندې اوس غير مُسلمو هم اِقرار کړی ، او د ډير تحقيق او رِيسَرچ نه روستو يې دا خبره منلې ده چې خَتنه کول د ماشومانو د پاره ډيره ضروري ده ، او د ماشوم د صِحت ضامِنه ده .

---

(١) بخاري شريف حديث ٣٣٥٦ باب قول الله تعالى وَاتَّخَذَ الله إبراهيمَ خليلا . د مسلم شريف په حديث کې دا سې الفاظ ذکر دي : إِخْتَتَنَ إِبْرَاهِيْمُ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِيْنَ سَنَةً بِالْقَدُوْمِ . مسلم شريف حديث ٢٣٧٠ باب من فضائل إبراهيم الخليل صلى الله عليه وسلم .

**نوټ** : قَدُّوْم : په تشديد د دال ، او تخفيف د دال يعنی قَدُوْم دواړه مستعمل دی ، شارحين ددې دا معنی کوي آلَةٌ يَسْتَعْمِلُهَا النَّجَّارُوْنَ . دا يوه آله ده چې ترکاڼان يې استعمالوي ./ او په بعضې رواياتو د خَتنې په وخت د حضرت ابراهيم عليه السلام عُمر يوسل او شل (١٢٠) کاله هم ذکر شوی .

دغه وجه ده چې کوم عيسائي او يُورپي غير مُسلمه ډاکټران او ماهرين د خَتنې کولو قائِل نه وو هغوی ټولو اوس په ډير شرمندګۍ سره دا خبره منلې، او په دې يې ډير تاکيد کړی چې د هر ماشوم د پاره خَتنه ډيره ضروري ده، ګني د خَتنې په نه کولو سره دا خطره زياته ده چې ماشوم په لاعلاجه مرضونو کې اَخته شي.

اوس درته د خَتنې کولو (يعنی ماشوم سنتولو) يو څو سائنسي، طبي او ډاکټري فوائد بيانوم

١. د خَتنې په وجه ماشوم د تشو متيازو نالۍ سوَزيدو بيمارۍ نه محفوظه کيږي، دغه وجه ده چې په کومو ملکونو کې د ماشومانو سُنتولو طريقه نشته نو هلته دا بيماري په ماشومانو کې زياته ده.

٢. د خَتنې کولو په وجه ماشوم د عضوهٔ تَناسُل د کينسَر او نورو ډيرو بيماريو نه محفوظه کيږي، ځکه چې کله ماشوم سُنت نه کړې شي نو د عضوهٔ تناسُل د سَر د پوستکي لاندې ډير جراثيم او ګند جَمعه کيږي، چې دا د کينسَر او نورو بيماريو سبب ګرځي.

٣. د سُنت ګيرۍ (خَتنې) په وجه دغه ماشوم آينده د ايډز د بيمارۍ نه محفوظه کيږي، ځکه کوم ماشوم چې سُنت نه کړې شي نو ډير خطر ددې شته چې دا کس آينده د ايډز او آتشک په بيمارۍ کې اَخته شي.

دا پاس کوم درې (٣) فوائد چې ما ذکر کړه دا هغه فوائد دي کوم چې د امريکې، بَرطانيې او انګليند مشهورو ماهِرينو ډاکټرانو او سائنسدانانو په خپلو خپلو مَقالو او کتابونو کې ذکر کړي.

سبحان الله. دا هم د اسلام د حقانيت واضحه دليل دی چې اسلام يو فِطري دين دی. (١) رسولُ الله صلی الله عليه وسلم خپل اُمت ته د ماشومانو د سُنتولو حکم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې ورکړی، او دا ډاکټران او ساينسدانان اوس ددې په حقيقت باندې پوهه شو، او اوس ددې فائدې ذکر کوي.

---

(١) الله ﷻ فرمايي: فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا... سورة الروم آيت ٣٠.

## د خنګرو (يعنی ګيټو) نه لاندې د پرتوګ او کپړو زوړندولو مُذمت

کله چې څوک خپل پرتوګ يا کپړې د خپو د خَنګرو نه لاندې ساتي، او په زمکه يې د تکبّر د وجې راکاږي نو په احاديثو کې ددې سخت مُذمت راغلی، د بخاري شريف حديث دی. رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

١. مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (١)

کوم کس چې د تکبّر د وجې خپلې کپړې (دومره اوږدې کړي چې) په زمکه يې راکاږي نو داسې کس ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ د رحمت په نظر او نه ګوري.

٢. د ابوداؤد شريف په روايت کې داسې الفاظ راغلي، نبي اکرم ﷺ فرمايي:

إِزْرَةُ الْمُسْلِمِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، وَلَا حَرَجَ ــ أَوْ لَا جُنَاحَ ــ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ. مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَهُوَ فِي النَّارِ. مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ. (٢)

د مسلمان لنګ به د نيمايي پنډۍ پورې وي، او څه حرَج (يا څه ګناه) نشته که دا لنګ دده د پنډۍ او د دواړو ګيټو تر مينځه وي، او کوم لنګ چې د ګيټو نه ښکته وي نو هغه به په اُور کې وي، او چا چې د تکبّر د وجې خپل لنګ راښکوده نو الله تعالی به ورته د رحمت په نظر او نه ګوري.

خلاصه دا چې کپړې، پرتوګ، او لنګ د ګيټو نه پورته ساتل په کار دي، د تکبّر د وجې پرتوګ يا لنګ دومره ښکته کول چې په زمکه راښکودلې شي ددې ډير مذمت بيان شوې دی.

---

(١) بخاري شريف حديث ٣٦٦٥. په يو بل حديث کې داسې الفاظ ذکر دي: لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَى مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ. بخاري حديث نمبر ٥٧٨٣ کتاب اللباس، وهذا الحديث اخرجه مسلم فی اللباس والزينة باب تحريم جر الثوب خيلاء رقم ٢٠٨٥، ٣٤٦٥.

(٢) ابوداؤد شريف حديث ٤٠٩٣ باب في قدر موضع الإزار، وهکذا في سنن ابن ماجه حديث ٣٥٧٣ باب موضع الازار اين هو؟، موطا امام مالک حديث ١٢ باب ما جاء في اسبال الرّجل ثوبه.

د ابوداؤد شريف حديث دی، نبي عليه السلام فرمايي: أَلْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ. مَنْ جَرَّ مِنْهَا شَيْئًا خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ابوداؤد شريف حديث ٤٠٩٤ بابٌ في قدر موضع الإزار.

## د خنگرو نه لاندې د لباس زوړندولو سائنسي او طبي نقصانات :

د اُوسني ماهرينو ډاکټرانو او طبيبانو تحقيق هم دادی چې پرتوګ وغيره د خَنگرو نه ښکته ساتل ډير نقصاني دي ، ځکه په دې سره انسان ته د خنگرو پړسوب ( وَرم ) ، د ځيګر داخلي پړسوپ ، او ليوَنتوب پيدا کيږي .

وجه داده چې د خَنگرو نه لاندې اَهم رګونه او شريانونه (Arteries) دي چې هغې ته هر وخت د تازه هوا ضرورت وي ، نو که چيرته هغه هر وخت په پينځه او کپړه کې پټ وي نو په وجود کې مذکوره بيمارياني پيدا کيږي .

## واقعه : د عيسائي ډاکټرانو اِقرار

يو کس خپله واقعه بيانوي چې يو ځل زه اَمريکې ته لاړم ، هلته د عيسايانو د صحت په باره کې يوه غټه تحقيقي اِداره وه (يعنی يو غټ هليتهـ سَنټر *Health center* وُ ) ، زه د يو بل ملګري سره په هغې کې ګرځيدم ، کله چې شعبهٔ لباس ته اورسيدم نو هلته په انګريزۍ کې ليکلي وو ( د هغې ترجمه داده : )

" لباس د خَنگرو نه پورته ساتئ ، ځکه څوک چې لباس د خَنگرو نه پورته ساتي هغه به د ځيګر او خَنگرو د پړسوب نه په اَمن وي ، دغه شان هغه به د ليوَنتوپ نه هم محفوظ وي " .

دا کس وايي چې کله ما دا اُوليده نو ما اول دا ګمان وکړو چې ګني دا د مسلمانانو د صِحت مرکز دی ، خو هغه بل ملګري راته وويل چې دا د عيسايانو د صحت د تحقيق اِداره ده .(١)

عبرت : د فکر مقام دی چې عيسائي ډاکټرانو ته د ډير تحقيق نه پس معلومه شوه چې د خَنگرو نه لاندې پَرتوګ يا کپړې ساتل نقصاني دي ، حالانکه زمونږ پيغمبر سردارِ دوجهان محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې خپل اُمت ته حکم کړی چې د خَنگرو نه ښکته لباس مه ساتئ .

(١) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج١ ص ١٥٢ .

پته اولږيده چې اسلام يو فطري دين دی ، ددې په هر يو حکم باندې عمَل کولو سره د انسان دُنيا او آخرت دواړه روښانه کيږي .

## په سترګو کې د رَانجو کولو اَهميت : د احاديثو په رڼا کې

د اُوده کيدو نه مخکې رانجه کول سُنت دي . (۱)

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به د اُوده کيدو په وخت د " اِثمِد رانجه " کول ، يعنی په هره سترګه کې به يې درې درې سَلايَان کول . (۲)

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره تور رانجه وو . (۳)

رسولُ الله ﷺ د رَانجو کولو فائده هم بيان کړی چې په دې سره د سترګو نظر تيزيږي ، د ابن ماجه حديث دی ، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

عَلَيْكُمْ بِالْإِثْمِدِ عِنْدَ النَّوْمِ ، فَإِنَّهُ يَجْلُوا الْبَصَرَ ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ . (۴)

د اُوده کيدو په وخت تاسو د اِثمد رانجه خامخا کوئ ځکه دا د سترګو نظر تيزوي ، او ويښتان را زرغونوي .

په يو حديث کې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) شمائل ترمذي ص ۵ .

(۲) شمائل ترمذي ص ۵ . حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ مُكْحَلَةٌ يَكْتَحِلُ مِنْهَا كُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثًا فِيْ هٰذِهِ ، وَثَلَاثًا فِيْ هٰذِهِ . الآداب للبيهقي ج۱ ص ۲۵۱ حديث ۶۱۳ بابٌ في الكحل .

(۳) سيرة الشامي ۷ / ۵۴۸ ، سنت حبيب ص ۱۷۳ .

(۴) ابن ماجه ج۲ ص ۱۱۵۶ حديث ۳۴۹۶ بابُ الكحل بالإثمد .

﴿ اثمد ﴾ : فى المصباح : الكحل الاسود . ويقال انه معرب قال ابن البيطار فى المنهاج : هوالكحل الاصفهاني . يؤيده قول بعضهم ومعادنه بالشرق ./ وفى القاموس : حجر الكحل . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على سنن ابن ماجه .

﴿الاثمد﴾ : حجر يدق ويتخذ كحلا . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

نوټ : ښه اثمد رانجه په مدينه منوره کې پيدا کيږي . ابو الشمس عفي عنه .

إِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الإِثْمِدُ فَإِنَّهُ يَجْلُوا الْبَصَرَ ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ . (٥)

بيشکه ستاسو په رَنجو کې بهترين رانجه د اِثمد دي ، ځکه دا د سترګو نظر تيزوي او ويښتان رازرغونوي .

## په سترګو کې د رَانجو کولو طِبّي او ډاکټري فَوائد

رانجه کول لکه څرنګې چې سُنت دي ، دغه شان د سترګو د ماهرينو ډاکټرانو او طبيبانو تحقيق هم دادی چې په دې کې بې شماره فائدې دي ، اوپه دې سره اِنسان د سترګو د ډيرو تکليفونو او مرضونو نه هم په اَمان وي .

يو څو غټ فوايد درته بيانوم :

۱ . رانجه کول د سترګو د زخم ، خارَښ او سوَزيدو د پاره ډير مفيد دي ، ځکه په دې سره د سترګو هر قِسمه متعدي جراثيم ( Contgidus Germs ) ختميږي .

۲ . په رانجو کولو سره انسان د سترګو د ګکروۍاوپه سترګو کې د دانو ( Lead infection ) نه هم محفوظه کيږي .

۳ . په رانجو کولو سره انسان د آشوبِ چشم ، او د سترګو د دَردونو نه هميشه د پاره محفوظه کيږي .

۴ . رانجه اعلٰى درجه دافعِ تَعَفّن ( Anti septic ) دي ، چې سترګې د هر قِسم خراَبيدو او ګنده ګيری نه محفوظ ساتي .

۵ . جديد سائنسي تحقيق هم دادی چې کله انسان رانجه کړي وي نو د نمر تيزې شعاوې (الټراوُئلټ ريز ) دده سترګو او د سترګو تورو کسو ( Retina ) ته نقصان نه رسوي .

او چا چې رانجه نه وي کړي نو د نمر تيزې شعاوې دده د سترګو کسو ته سخت نقصان رسوي .

۶ . د سترګو ماهِرين ډاکټران وايي چې په رَنجو کولو سره انسان د سترګو د هغه بيمارِيانو نه محفوظه کيږي د کومو بيمارِيو علاج چې په جديد سائنس او جديد ډاکټری کې نشته .

(۵) هذا حديث صحيح ، المستدرک على الصحيحين للحاکم حديث ۸۲۴۸ ، ابوداؤد حديث ۳۸۷۷ بابٌ في الأمر بالکحل .

پس معلومه شوه چې نن سائنس او ډاکټران د کوم شي فوائد بيانوي زمونږ خوږ پيغمبر محمد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې خپل اُمت ته د دې ترغيب ورکړی، او د دې فائدې يې بيان کړي.

## د نوکانو پريکولو اهميت: د احاديثو په رڼا کې

نُوکان پرېکول د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سُنت دي، ځکه د پيغمبر عليه السلام په معمولاتو کې دا هم راځي چې دوی به د جُمعې په ورځ نوکان پرېکول. (١)

امام بخاري رحمه الله مُستقل باب قائم کړی "بَابُ تَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ" او په دې کې يې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حديث رانقل کړی چې:

مِنَ الْفِطْرَةِ حَلْقُ الْعَانَةِ، وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ، وَقَصُّ الشَّارِبِ. (٢)

د نامه نه لاندې ويښتان خريل، د نوکانو کټ کول، او د بريتونه لنډول د فِطرت نه دي (يعنی دا سُنتِ قديمه او د پيغمبر عليه السلام سُنت دي، ګويا دا يو اَمرِ جِبِلّي او فِطري دی).

**مسئله**: د څلوېښتو ورځو نه زيات نوکان نه کټ کول ناجائز او مکروهه دي، بلکه د دې نه مخکې مخکې نوکان پرېکول په کار دي.

امام ترمذي رحمه الله مستقل باب قائم کړی: "بَابٌ فِي التَّوْقِيتِ فِي تَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ وَأَخْذِ الشَّارِبِ"(٣).

---

(١) قَالَ الزَّرْقَانِي: أَخْرَجَ الْبَيْهَقِيُّ مِنْ مُسْنَدِ أَبِي جَعْفَرِ الْبَاقِرِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُ مِنْ أَظْفَارِهِ وَشَارِبِهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رد المحتار.

(٢) بخاري شريف باب تقليم الأظفار حديث ٥٨٩٠.

(٣) او د دې باب د لاندې يې د حضرت انس رضي الله عنه دا حديث رانقل کړی، دې فرمايي: وُقِّتَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصَّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمَ الْأَظْفَارِ، وَحَلْقَ الْعَانَةِ، وَنَتْفَ الْإِبِطِ، لَا يُتْرَكُ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ يَوْمًا. ترمذي بابٌ في التوقيت في تقليم الاظفار و أخذ الشارب حديث ٢٧٥٩.

د مسلم شريف حديث دی ،حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

وُقِّتَ لَنَا فِيْ قَصِّ الشَّارِبِ ، وَتَقْلِيْمِ الأَظْفَارِ ، وَنَتْفِ الإِبِطِ ، وَحَلْقِ العَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً . (١)

زمونږ د پاره د بريتونو په کټ کولو ، نوکانو پريکولو ، د تخرګونو ويښتانو ويستلو ، او د نامه نه لاندې ويښتانو خريلو د پاره وخت مقرر کړې شوی ، هغه دا چې مونږ به دا د څلويښتو (٤٠) شپو نه زيات نه پريږدو ، (بلکه مخکې مخکې به يې لرې کوو) .

په ''در مختار'' کې ذکر دي :

وَكُرِهَ تَرْكُهُ وَرَاءَ الأَرْبَعِيْنَ ...

د څلويښتو ورځو نه زيات د مذکوره شيانو پريخودل (او نه لرې کول) مکروهه ګرځول شوي .

علامه شامي رحمه الله ددې په تشريح کې فرمايي :

قوله : ( وَكُرِهَ تَرْكُهُ ) اي تَحْرِيْمًا . يَقُوْلُ الْمُجْتَبٰى : وَلَا عُذْرَ فِيْمَا وَرَاءَ الأَرْبَعِيْنَ . (٢)

د څلويښتو ورځو نه زيات مذکوره شيان پريخودل مکروه تحريمي دي ، مجتبى وايي چې د څلويښتو ورځو نه په زياتو کې عُذر هم مقبول نه دی .

بل دا چې د چا نوکان غټ وي او نه يې پريکوي نو علماء ليکلي چې دداسې سړي رِزق به تنګ وي . درمختار واله ليکي :

لِأَنَّ مَنْ كَانَ ظُفْرُهُ طَوِيْلًا كَانَ رِزْقُهُ ضَيِّقًا . (٣)

ځکه چې د چا نوکان اوږده وي نو دده رِزق به تنګ وي .

بلکه بهتره دا ده چې په جُمعه کې يو ځل نوکان پريکړې شي ، په دُرمختار کې ذکر دي :

وَيُسْتَحَبُّ قَلْمُ أَظَافِيْرِهِ .... يَوْمَ الْجُمُعَةِ .

د جُمعې په ورځ د نوکانو کټ کول مستحب دي .

---

(١) مسلم حديث ٥١ (٢٥٨) بابُ خصال الفطرة .

(٢) الدر المختار و حاشيه ابن عابدين ج٦ ص ٤٠٧ .

(٣) الدر المختار و حاشيه ابن عابدين ج٦ ص ٤٠٥ .

# د نوکانو کټ کولو طبي او ډاکټري فائدې

نوکان کټ کول لکه څرنګه چې، د نبي علیه السلام سُنت دي ، او علماؤ ددې ډیرې فائدې ذکر کړي ( چې انسان به الله ﷻ د بَلاګانو ، غمونو او ډیرو بیماریانو نه محفوظ ساتي ، او دده ګناهونه به معاف کولې شي ) .

دغه رنګې د سائنس او ډاکټري اصولو مطابق نوکان پریکول هم ډیر ضروري دي ، او اُوږده پریخودل یې نقصاني دي .

ځکه د انسان په معده کې چې کوم مختلف قِسمه چینجي پیدا کیږي ددې سبب دادی چې ددې چینجو خاص قِسمه هګۍ (آنډې) وي ، او د چا چې نوکان غټ وي نو دا هګۍ او نور قِسمه خطرناک جراثیم په دې غټو نوکانو کې پټیږي . بیا چې کله انسان خوراک کوي نو د خوراک په وخت دا هګۍ او جراثیم دَننَه معدې ته لاړې شي ، او هلته ددې نه د چینجو پیدا کیدلو سلسله شروع شي .

اوس څوک چې په جُمعه کې یو ځل نوکان پریکوي نو دې به ددغې خطرناک مرض نه محفوظ وي .

بیا خاصکر د ډاکټرانو تحقیق دادی : کومې زَنانه چې نوکان غټ ساتي نو ددې په وجه دغو زَنانهٔ ته د وِینې د کم والي ناروغي پیداکیږي ، او په نفسیاتي مرض کې مبتلاء کیږي .

بلکه ماهرینو خو تر دې پورې لیکلي چې د نوکانو غټولو په وجه انسان په.داسې خطرناک نفسیاتي مرض کې مبتلاء کیږي چې ډیر کرَتې انسان خُودکُشۍ طرف ته مائله کوي .(١)

(١) سنت نبوي اور جديد سائنس ج١ ص ٢٥٠ .

# په اسلام کې د اَودس اهمیت

په اسلام کې د اَودس ډیر اَهمیت بیان شوی دی :

۱. اَودس د مانځه دپاره شرط او فرض دی ، ځکه بغیر د اَودس نه مونځ نه کیږي ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مِفْتَاحُ الصَّلٰوةِ الطُّهُوْرُ . (۱) د مانځه چابي اَودس دی .

یعنی لکه څرنګ چې قُلف شوې دَروازه بغیر د چابي نه نه خلاصیږي ، نو دغه شان مونځ هم بغیر د اَودس نه نه کیږي .

۲ . بل دا چې د اَودس حفاظت د مومِن خاصه ګرځولې شوې ده ،رسولُ الله ﷺ فرمایي:

وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوْءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ . (۲)

د اَودس حفاظت صرف مؤمِن کوي .

۳ . دغه رنګې په اَودس کولو سره د انسان جِسم د ګناهونو نه هم صفا کیږي . د بخاري او مسلم شریف حدیث دی ،نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهٖ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهٖ . (۳)

څوک چې اَودس وکړي ، او په ښه شان یې وکړي ( یعنی د هغې د فرائضو ، سُننو او مستحباتو لحاظ او ساتي ) نو دهغه (صغیره ) ګناهونه دده د بَدن نه اُوځي ، تر دې پورې چې د نوکانو نه لاندې ګناهونه هم دده نه اُووځي ( یعنی د صغیره ګناهونو نه پوره طریقې سره صفا کیږي ) .

۴ . بل دا چې په اَودس کولو سره پاکوالې او صفایي راځي ، او دې پاکیزګۍ ته نیم اِیمان ویل شوې دی ، پیغمبر علیه السلام فرمایي :

(۱) رواه احمد ،مشکوة ج۱ کتاب الطهارة الفصل الثالث حدیث ۱۳ .

(۲) رواه مالک و احمد و ابن ماجه والدارمي ،مشکوة کتاب الطهارة الفصل الثاني حدیث ۱۱ .

(۳) بخاري شریف ، ومسلم ج۱ ص ۲۱۶ حدیث ۲۴۵ بابُ خروج الخطایا مع ماء الوضوء مشکوة کتاب الطهارة الفصل الاول حدیث ۳ .

اَلطُّهُوْرُ نِصْفُ الْإِيْمَانِ. (١) پاك اُوسيدل نيم ايمان دى.
وجه داده چې په ايمان سره صغيره او كبيره ټول ګناهونه معاف كيږي، او په اَودس سره صرف صغيره (واړه) ګناهونه معاف كيږي. نو ځكه طهارت ته د ايمان نيمه درجه حاصله ده. (٢)

## د اَودس كولو سائنسي او طِبّي فوايد

لكه څرنګ چې اَودس د مانځه د پاره شرط او فرض دى، او په ډيرو اُخروي فوائدو مشتمل دى، نو دغه رنګې په اَودس كې ډير دُنيوي، سائنسي او طِبّي فوائد هم شته.
اوس په اَودس كې لكه څرنګ چې څلور فرائض دي نو دغه رنګې په دې كې سُنت، او مستحبات هم شته.
بيالكه څرنګه چې په سُنتو باندې عمل كولو سره په دې كې اُخروي، دُنيوي، سائنسي او طِبّي فوائد شته نو دغه رنګې په فرضو باندې عمَل كولو سره خو به دغه فوائد په طريقِ اولٰى حاصليږي.
اوس راځم چې ستاسو د وړاندې د اَودس يو څو هغه اَسرار، رموز او فوائد ذكر كړم كوم چې زمونږ اَسلافو علماؤ په خپلو كتابونو كې ذكر كړي، يا جديد سائنس، او ډاكټرانو ذكر كړي.

## د مولانا اَشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق

حكيمُ الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل كتاب " المصالح العقلية للاحكام الشرعيه " كې د اَودس لس (١٠) حِكمتونه په تفصيل سره ذكر كړي، زه به درته صرف يو څو اِجمالا ذكر كړم:

---

(١) رواه الترمذي، وقال: هذا حديث حسن، مشكوة كتاب الطهارة الفصل الثالث حديث ١٥.
په يو روايت كې " اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْإِيْمَانِ " هم راغلى. مشكوة كتاب الطهارة الفصل الاول حديث ١.
(٢) مظاهر حق شرح مشكوة ج١ كتاب الطهارة ص ٣٢٢.

١ . په اَودس سره انسان د الله تعالی محبوب جوړيږي ، ځکه په اَودس کولو سره د انسان پاکوالي راځي ، او الله تعالی پاکي حاصلوونکي خلق خوښوي . (١)

٢ . په اَودس کولو سره انسان د غفلت نه راپيداريږي .

٣ . په اَودس سره عقل زياتيږي ، ځکه په پاکي حاصلولو سره په طبعيت کې د عقل ماده زياتيږي .

۴ . په اَودس سره په اَندامونو کې روحاني نُورانيت او خوشحالي پيدا کيږي .

۵ . په اَودس سره انسان ته د فرښتو قُرب او نزديکت حاصليږي ، ځکه په طهارت سره انسان د شيطانانو لرې کيږي ، او د فرښتو مقرب ګرځي .

٦ . په اَودس سره د انسان په اَندامونو کې تقوِيَت او بيداري راځي ، د غفلت او بيهوشۍ اَثرات دده د وجود نه ختميږي . دغه وجه ده چې ماهِر طبيبان د بې هوشۍ ختمولو د پاره د انسان په مخ او خپو باندې اُوبه اَچوي ، چې په دې سره بې هوشي ختميږي . (٢)

## د اَودس متعلق د ډاکټرانو او سائنسدانانو تحقيق :

اوس ډاکټرانو او سائنسدانانو هم دا منلې ده چې د انسان وجود ته په کومه لاره ، او د کومو اندامونو په ذريعه مرضونه داخليږي نو په اَودس کې د دغه اَندامونو صفائي راځي ، چې په دې سره دا انسان د مختلفو مرضونو او جراثيمو نه محفوظه کيږي . ګويا اَودس د انسان د وجود د پاره بهترين محافِظ دی .

بل دا چې د اَودس دا اَندامونه ( يعنی مخ ، لاس ، خپې وغيره ) عام طور باندې ښکاره وي ، اوس په فِضاء کې چې کوم پلازما او جراثيم وي نو دا د انسان د دې ښکاره اَندامونو سره پيوست شي ، د الله ﷻ شان ګوره چې د اَودس کولو په وخت دغه اَندامونه هم صفا شي ، او انسان د بيماريو نه محفوظ شي .

(١) الله تعالی فرمايي : ﴿ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴾ . البقرة آيت ٢٢٢ .

(٢) " احكام اسلام عقل كي نظر ميں " اردو ترجمه د " المصالحُ العقلية للاحكام الشرعية " ص ١٧ باب الوضوء ، أسرار وضوء .

## اُودس سره د " بَلډ پرېشر "(يعنى فشار) علاج

ډاکټران وايي چې کله د يو چا بلډ پرېشر ( فِشَار ) پورته شي ، يا د زړه د مريض بلډپرېشر پورته شي نو که دې اُودس وکړي نو مُتصِل په دې سره دده بلډپرېشر رابنکته کيږي . بلکه د زړه يو سپيشلِسټ ډاکټر وايي چې ما څو څو پيرې په دې باندې تجربه وکړه چې ډيره کاميابه وه ، او مريض ته پرې ډير زر صِحت ملاؤ شوى .

## په اُودس سره د مايوسۍ او پريشانۍ علاج

په مغربي ملکونِ کې د مايوسۍ او ډِپرِيشن (Depression) مرض ډير عام دى ، اکثره خلق په نفسياتي بيماريو او پريشانيو کې مُبتلاء دي ، دغه وجه ده چې هلته پاګل خانې ډيرې دى ، او د نفسياتي مرضونو ډاکټران په کې ډير زيات دي . ډاکټرانو ډير کوشش وکړو چې دا مرض په څه طريقه کنټرول کړي خو هيڅ زور يې پرې او نه رسيده .

### په مغربي جرمن کې يو سيمِينار منعقد کيدل

په همدې مناسبت په مغربي جَرمن کې يو سيمِينار (يعنى مجلس) منعقّد شو ، د هغې موضوع دا وه چې :

" د مايوسۍ (يا ډِپرِيشن) علاج د دوايانو نه بغير په بله کومه طريقه ممکن دى ؟ "
نو هر يو ډاکټر به خپله تجرَبه بيانوله .

يو ډاکټر خپله تجربه دا بيان کړه چې ما د ډِپرِيشن (مايوسۍ) څه مريضانو ته دا حکم کړې وُ چې : " تاسو د ورځې څو کرَته خپل مخونه وينځئ " . نو هغوى چې مخ وينځل شروع کړه نو څه لږ وخت پس د دوى په مرض کې څه نا څه کمې راغى .

دا ډاکټر وايي چې ما ددې ډِپرِيشن مريضانو يو بل ګروپ جوړ کړو ، هغوى ته مې دا حکم وکړو چې : " تاسو به د ورځې پنځه پيرې خپل لاسونه ، مخونه او خپې وينځئ " هغوى چې دا عمل شروع کړو نو په دې سره هغوى ته ډيره فايده حاصله شوه ، او مرض يې کنټرول شو .

دا ډاکټر په خپله ددې اِقرار کوي : په مسلمانانو کې چې د ډِپریشن او مایوسۍ دا مرض کم دی نو دا ځکه چې دوی د ورځې پنځه پیرې د مانځه دپاره اَودس کوي ، او په اَودس کې خو خامخا ددې اَندامونو وینځل راځي . (۱)

## د اَودس د اَندامونو وینځلو فواید :

اَودس چونکه په فرائضو ، سُنتو او مُستحبو باندې مشتمل دی ، لهذا د " مُشت نمونهٔ خَروار " په طور درته د یو څو اَندامونو وینځلو سائنسي او طِبّي فوائد بیانوم :

## د لاسونو تر مَړوَندونو پورې وینځلو سائنسي او طِبّي فوائد

نن صبا خو مَشیني دَور دی ، هر انسان په څه نا څه کار کولو مصروف دي ، نو اکثر د لاس سره څه کِیمیکل یا خطرناک مواد اُولږي .

اوس که یو انسان ټوله ورځ لاس او نه وینځي نو دا دده د صِحت د پاره ډیره نقصاني ده ، ځکه په دې سره ده ته د پوستکي د سوزَش او نورې ډیرې خطرناکې بیمارياني پیدا کیږي .

او کله چې انسان د اَودس په وخت خپل لاسونه اُووینځي نو هغه جراثیم او خطرناک مواد ورنه لرې شي کوم چې دده د صِحت د پاره خطرناک وو .

بل دا چې د لاس وینځلو په وخت د انسان د ګوتو نه داسې شعاع (Rays) اُووځي چې په دې سره د انسان په وجود کې بَرقي نظام ته ډیره فایده رسي ، او د لاس د حُسن او تازګۍ سبب جوړیږي .

## د خُلې وینځلو سائنسي او طِبي فایده

کله چې انسان خوراک کوي نو د غِذا څه اَجزاء دده د غاښونو په مینځ کې پاتې کیږي ، اوس که دې خُله صفا نه کړي نو دغه د خوراک اَجزاء بَدبُویي پیدا کوي ، او په وریَو کې ددې په وجه زَخم جوړیږي .

بیا دخوراک کولو یا لاړو تیرولو په وخت دغه د زخم پیپ او نَورونه معدې ته ځي ، چې په دې سره انسان ته د معدې ، غاښونو ، مرۍ او خُلې مختلف قِسمه بیمارياني پیدا کیږي .

(۱) سنت نبوي اور جديد سائنس ج۱ ص ۳۷ .

اوس چې کله انسان د اَودس په وخت څله او وينځي او مسواک استعمال کړي نو په دې سره دا انسان د خُلې او مرۍ د مختلفو بيماريو نه محفوظه کيږي.

## د پُوزې وينځلو سائنسي او طِبّي فايدې

پوزه د انسان په وجود کې يوه اَهمه عضوه ده ، ځکه د هر انسان د پاره د تازه ، صفا او مُعتدلې هوا ضرورت وي . بيا په هوا کې مختلف قِسمه جراثيم ، مرضونه او گرد و غبار وي، نو انسان چې کله د پوزې په ذريعه هوا اَخلي نو پوزه يو خو دغه هوا مُعتدِله جوړه کړي. دويم دا چې دغه هوا د جراثيمو او گرد و غبار نه صفا کړي ، ځکه د پوزې په ويښتانو کې الله رب العزت دا صلاحيت پيدا کړی چې د انسان پيپهړو (پَپُوس) ته کومه هوا ځي او په هغې کې خطرناک جراثيم وي نو دغه ويښتان دا جراثيم را منع کړي ، او هلاک يې کړي.

اوس کوم انسان چې د ورځې پنځه پيرې په اَودس کې پوزه وينځي نو دده پوزه هم د جراثيمو او گردو غبار نه پوره صفا شي ، چې دا دده د صِحت د پاره ډيره اَهمه ده.

بل دا چې د پوزې په وينځلو سره انسان د دائمي نزلې ، د پوزې د زخم ، او نورو ډيرو خطرناکو بيماريو نه محفوظه کيږي.

## د مَخ وينځلو سائنسي او طِبّي فائدې

د مخ وينځل په اَودس کې فرض دي ، د اُخروي فايدو سره سره په دې کې ډيرې سائنسي او طِبّي فايدې هم شته ، چې يو څو په کې دا دي :

۱ . مَخ چونکه هر وخت ښکاره وي نو په هوا او گردو غبار کې چې کوم کِيميکل او خطرناک مواد موجود وي هغه د انسان په مخ باندې جَمع کيږي ،که چيرته دې دا مخ او نه وينځي نو په دې سره ده ته د څرمنې مختلف قِسمه بيمارياني پيدا کيږي.

اوس چې کله انسان د ورځې پنځه (۵) وخته په اَودس کې مخ وينځي نو په دې سره به دې د دغه خطرناکو بيماريو نه محفوظه وي.

دغه وجه ده چې جديد سائنس ، او ډاکټرانو هم ددې خبرې اِنکشاف کړی ، او دا خبره يې تسليمه کړې چې مسلمانانو ته چې په مخونو باندې د کِيمياوي لوشنو د اِستعمال ضرورت

نشته، او د مَخ د ډيرو بيماريانو نه محفوظ دي نو ددې أصل وجه هم داده چې دوی د ورځې څو کرته په أودس کې خپل مخونه وينځي، نو ځکه د ډيرو بيماريانو نه محفوظ دي.

۲. ډاکټران په دې مُتّفِق دي چې کوم کس د ورځې څو پيرې خپل مخ وينځي نو دې به د مَخ د اِلرجي مرض نه محفوظ وي. دغه رنګې که يو کس ته د مخ د اِلرجي مرض لېيدلې وي نو که هغه خپل مخ زر زر وينځي نو په دې سره هم د هغه مرض کميږي.

او په أودس کې خو د مخ وينځل فرضي رُکن دی نو کوم کس چې أودس کوي نو هغه به ددې مرض نه محفوظ وي.

۳. د مَخ په وينځلو سره د انسان په مخ کې قدرتي حُسن او ښائست پيدا کيږي، ځکه چې کله دې د مخ وينځلو په وخت لاسونه په مخ باندې راکاږي نو په دې سره د وِينې دَورانيه د مَخ په طرف شروع شي، چې په دې سره دده په مخ کې حُسن پيدا کيږي، او مخ يې د دانو او نورو ډيرو مرضونو نه محفوظه کيږي.

۴. د مخ په وينځلو سره انسان د سترګو د ډيرو مرضونو نه هم محفوظه کيږي، ځکه د ګردونو او لوګي په وجه د انسان سترګې هم خرابيږي، نود مخ وينځلو په وخت انسان د سترګو د ډيرو بيماريو نه هم محفوظه کيږي.

يو يُورپي ډاکټر مُستقِل په دې موضوع باندې ليکل کړي او ددې خبرې تاکيد يې کړی چې کوم کس دا غواړي چې زه دې دسترګو د هرقِسمه خطرناکو بيماريانو نه محفوظه شم نو هغه دې خپلې سترګې د ورځې څو پيرې په تازه أوبو باندې وينځي.

اوس چې کله يو مسلمان د ورځې پنځه وخته أودس کوي نو په اودس کولو کې دمخ وينځلو په وخت سترګې په خپله وينځلې شي. لهذا دې به د سترګو د مختلفو مرضونو نه محفوظه وي.

## تر څنګلو پورې د لاسونو وينځلو طِبّي فوائد

په أودس کې تر څنګلو پورې د لاسونو وينځل فرض، په دې کې لکه څرنګ چې بې شماره أخروي فائدې دي، دغه رنګې ددې په وينځلو کې ډيرې طِبّي او سائنسي فايدې هم شته:

یوه فایده په کې دا ده چې دَدې په وينځلو سره انسان د دِماغو او أعصابو د ډېرو خطرناکو بيماريانو نه محفوظه کيږي ، ځکه په دې لاس کې درې ( ۳ ) غټې رګونه ( Veins ) دي چې دَدې تعلق بالواسطه د زړه ، دِماغو ، او ځيګر سره دی .

اوس چې کله یو انسان د ورځې پنځه پيرې په أودس کې لاسونه تر مَروَندونو پورې وينځي نو په دې سره دده زړه ، دِماغو او ځيګر ته طاقت حاصليږي ، او دا د مختلف قِسمه مرضونو نه بچ کيږي .

همدغه رنګې ددې لاسونو په وينځلو سره دده د لاسونو عضلات نور هم قوي کيږي او مضبوطيږي .

## د څټ مَسحِ کولو سائنسي او طِبي فائدې

په أودس کې د سَر د څلورمې حصې مَسح کول فرض ده ، خو د څټ مَسح کول مُستحَب ده، زه به درته صرف د څټ د مَسحِ کولو څه طِبّي او ډاکټري فوائد ذکر کړم ، چې په دې سره به تاسو ته دا أندازه هم أولږي چې کله په يو مُستحب عمَل باندې د عمَل کولو دومره ډيرې فائدې دي نو بيا په فرض ، واجب یا سُنت باندې د عمل کولو سره خو به يقيني بې شماره فائدې حاصليږي .

محترمو ! ډاکټرانو او سائنسدانانو چې اوس کومه خبره د ډير تحقيق او تجربو نه پس ثابته کړې ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې دغه خبره خپل أمت ته خودلې ، او دهغې د کولو حکم يې ورته کړی :

مثلا د دِماغي أمراضو چې کوم ماهِرين او سَرجَن ډاکټران دي د هغوی تحقيق دا دی چې د انسان د دِماغو نه باريکه نرې نرې ډير رګونه رابنکته شوي ، او د څټ د لارې نه لاندې ټول وجود ته خواره شوي ، لهذا د څټ دغه شاته حصه ډيره أهمه او حَساسه ده .

اوس که چيرته د څټ دغه حصه ( په کومه کې چې د دِماغو دا نرې رګونه لاندې تللي ) أوچه او خُشکه أوساتلې شي نو په دې سره په دې رګونو او پَټو کې هم خُشکي پيدا کيږي ، چې دا په دِماغو او پَټو باندې ډير غلط آثر غورځوي ، بلکه ډير کرَته ددې په وجه بيا د انسان دِماغ هم کار پريږدي .

ددې د وجې د ډاکټرانو د تحقیق مطابق د څټ دغه شاته حصه د ورځې یو څو کرَته په اوبو باندې لمدوَل په کار دي چې په دې سره به انسان د دِماغو او پَټو د مختلف قسمه بیماریانو نه محفوظه وي.

سبحاَن الله. ډاکټرانو ته اوس ددې خبرې اِنکِشاف اوشو حالانکه زمونږ پیغمبر محمد رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ډیر مخکې خپل اُمت ته د اَودس طرِیقَه ښُوذلی، او په اَودس کې د نورو اَندامونو وینځلو سرهٔ سره د څټ مَسح هم شته، چې په دې سره د ورځې پنځه پیرې د څټ دغه شاته حصه هم لمدیږي.

## واقعه: د څټ په مسحې سره انسان د لیوَنتوب او دِماغي بیماریو نه محفوظه کیږي

یو عالِم په خپل کتاب کې د خپل یو ملګري واقعه رانقل کړې، دده دغه ملګري وایي چې زه یو ځل فرانس ته لاړم، هلته د مانځه وخت شو نو ما اَودس کولو، ماته مخامخ یو کس ولاړ وُ چې په ډیر غَور سره یې ماته راکتل، کله چې زه د اَودس نه فارغه شوم، هغه رانه پوښتنه وکړه: ته څوک یې؟ او دا تا اوس څه عمل کولو؟

ما ورته ووېل: زه مسلمان یم، او دا مې اَودس کولو.

هغه رانه بیا پوښتنه وکړه چې: ستاسو د مسلمانانو په ملک کې پاګل خانې (د لیوَنیانو هسپتالونه) موجود دي؟ ما ورته ووېل: ډیر کم دي.

هغه راته ووېل: زه دلته په فرانس کې د دِماغي اَمراضو په هسپتال کې سَرجَن یم، او د ډیرې زمانې نه را په دیخوا ددې خبرې تحقیق کوم چې: دا خلق ولې دومره ډیر لیوَنیان کیږي؟ او په دِماغي بیماریو کې ولې دومره ډیر اَخته کیږي؟

خو د ډیر تحقیق نه روستو زه په دې نتیجه اُورسیدم چې د انسان د دِماغو نه چې کوم باریکه رګونه لاندې وجود ته راخواره شوي نو هغه د څټ شاته حصې په لاره باندې رابنکته شوي. اوس که چیرته د څټ دغه حصه اُوچه وي، او ډیر وخته پورې په اُوبو لمده نه شي نو ددې په وجه د دِماغو په دغه رګونو کې خُشکي پیداکیږي، او په پَټو کې هم

کشيدګي پيدا کيږي ، چې په دې سره انسان ته د دِماغو مختلف قِسمه بيمارياني او حتّی چې ليوَنتوب هم پيدا کيږي .

دې ډاکټر وويل چې ماته اصلِ سبب ددې ليوَنتوب او دِماغي بيماريانو همدا معلوم شو چې " خلق د څټ دغه حصه اُوچه او خُشکه ساتي " . لهذا که يو انسان د څټ دغه حصه د ورځې څو پيرې په اُوبو لمده اوساتي نو د دغه مرضونو نه به محفوظ وي .

او همدا رنګې د " ګردن تور بُخار " (سختې تبې او سَرسام بيمارۍ) نه به هم محفوظ وي .

بيا دې ډاکټر وويل : د مسلمانانو په ملکونو کې چې دا ليوَنتوب او دِماغي بيمارياني کمې دي نو ددې وجه هم داده چې دوی د ورځې پنځه (٥) پيرې په اَودس کې د څټ دغه حصه لمدوي (يعنی د څټ مَسح کوي) .

**د عبرت مقام** : محترمو مسلمانانو ! انسان ته دا سوچ په کار دی چې د دِماغو يو تَکړه سَرجَن ډاکټر خپل ټول عُمر په تحقيق او تلاش کې تير کړو خو صرف د يو مستحب عمل فائده يې معلومه کړه ، حالانکه نبي اکرم صلی الله عليه وسلم خپل اُمت ته چې کوم اَودس خودلی په هغې کې د څټ مَسح هم شته ، چې په خپله د څټ د دغه حصې لمدَول په کې راځي .

نو چې کله په يو مُستحب عمَل کې دومره لويه فايده ده نو بيا په يو فرض او سُنت باندې عمَل کولو سره خو به ډيرې زياتې فائدې وي .

## د خپو وينځلو طِبّي او ډاکټري فايدې

خپې وينځل په اَودس کې فرض دي چې د اُخروي فايدو سره سره په دې کې ډيرې دُنيوي او طِبّي فايدې هم شته .

اوس غير مُسلمه ډاکټرانو او سائنسدانانو هم دا منلې ده چې کوم کس د ورځې څو کرَتې خپې وينځي ، اوپه خپو باندې لاس راکاږي (يعنی مالِش کوي يې) نو دا به د شُوګر د بيمارۍ نه محفوظه وي ، او که د شوګر بيماري يې وي نو په خپو وينځلو سره به ده ته ددې بيمارۍ نه صحت نصيبه کيږي .

ځکه د انسان په خپو کې چې د وِینې کوم رګونه دي هغه د شوګر په وجه تنګیږي، وِینه په کې په آسانۍ سره نه ځي، چې د دې په وجه دده خپې بې حِسه کیږي.

دغه وجه ده چې ډاکټران اکثر د شوګر مریضانو ته د خپو د مالِش کولو او وینځلو حکم کوي، او ورته وایي چې تاسو به په خصوصي طور باندې د خپو لحاظ ډیر ساتئ.

اوس چې کله یو مسلمان د مانځه د پاره د ورځې پنځه کرَتې اَودس کوي نو په اَودس کې په خپله باندې د خپو وینځل او مالِش راځي.

بل دا چې د خپو په وینځلو سره انسان د بې اِطمینانۍ، مایوسۍ (ډِپرِیشن Depression)، د دِماغو د خُشکۍ، او د خوب د کمي بیماریو نه هم محفوظه کیږي.

**فایده**: یقیني خبره ده چې کله یو مسلمان په اسلامي تعلیماتو، او د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په مُبارکو سُنتو باندې عمل کوي نو په خپله به دې د هر قِسمه بیماریانو او تکلیفونو نه محفوظه وي.

همدغه وجه ده چې نن صبا کفري دُنیا هم د پیغمبر علیه السلام په سُنتو کې ډیرې دُنیاوي فایدې ګوري، او دې د خپلولو کوشش کوي، حالانکه یو مسلمان خو په شرعي اَحکاماتو او د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په سُنتو باندې عمل ددې وجې کوي چې دا د دالله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حکم دی، او مونږ ته ددې عمَلي کولو لازمي دي.

بلکه که مونږ ته په یو شَرعي حکم کې څه دُنیاوي فایده په نظر نه راځي خو مونږ به بیا هم په هغې باندې عمل کوو. ځکه دا زمونږ یقین دی چې په دې به خامخا زمونږ د پاره د اُخروي فایدو سره سره دُنیاوي فایدې هم وي خو زمونږ قاصِر ذهن ورته رسیدګي نه کوي

## د اَودس نه پاتې شوې اُوبه څکل سُنت دي

د احادیثو په کتابونو کې ذکر دي چې د اَودس نه پاتې شوې اُوبه په ولاړه څکل سُنت دي، او په دې کې شِفاء هم ده.

یو کرَت حضرت علي رضي الله عنه اَودس اوکړو، هر اَندام یې درې درې پیرې ووینځل، او بیا یې د اَودس باقي مانده اُوبه په ولاړه اوڅکلې، او وې ویل:

صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا صَنَعْتُ . (١)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم همداسې کړي وو لکه څرنګه چې ما اوکړه .

## د اُودس نه د پاتې شوې اوبو څکلو سائنسي او طِبّي فائدې

اوس ډاکټرانو هم دا خبره منلې ده ، او د ډير تحقيق نه روستو يې دا خبره ثابته کړې ده چې د اَودس کولو نه پس کومې اُوبه پاتې شي او انسان دا اُوڅکي نو په دې کې ډيرې فائدې دي ، يو څو مشهورې په کې دادي :

١ . انسان ته د ګُردو د بيمارۍ نه صِحت نصيبه کيږي ، او تَشې مِتيازې يې بغير د څه رُکاوَټ او تکليف نه کيږي .

٢ . د تشو مِتيازو نه روستو چې کوم قطرات دانسان نه څي ، ددې بيمارۍ نه به هم په اَمان وي .

٣ . د څيګر ، معدې ، او مَثانې ګرمائش او خُشکي به يې ختمه شي .

۴ . ناجائز شَهوتونه به يې ختم شي ، او دا تجربه شوې هم ده .

## د حيوان ذبح کولو سائنسي او طِبّي فائدې

د حلالو حيواناتو د غوښې قابلِ خوراک جوړولو ، او د دوی د غوښې اِستعمالولو د پاره په مختلفو وختونو کې مختلف طريقې اِيجاد شوي ، خوپه آسماني شريعت او خاصکر په اِسلام کې چې د حيوان د ذبح کولو کوم صورت راغلی دا ډير بهترين او اعلیٰ صورت دی .

ځکه د حلال حيوان په ذبح کولو کې حيوان ته هم ډير تکليف او آذيت نه وي ، او د ذبح شوي حيوان غوښه هم خوَنده وره ، مزيداره ، او د صِحت د پاره فائده مَنده وي ،دغه رنګې دا غوښه تر ډيره وخته پورې نه خرابيږي ، او نه بَدبُويه کيږي .

(١) پوره حديث داسې دی : .... عَنْ أَبِي حَيَّةَ قَالَ : رَأَيْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا . ثُمَّ قَامَ فَشَرِبَ فَضْلَ وَضُوْئِهِ . وَقَالَ : صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا صَنَعْتُ . نسائي ج١ ص ٨٧ حديث ١٣٦ باب الانتفاع بفضل الوضوء . قال الالباني : هذا حديث صحيح .

او کوم حیوان چې د ذبح نه علاوه په بله طریقه مړ کړې شوې وي نو د هغې غوښه بې مزې، بَدبُویه، او د صحت د پاره ضَرَرناکه وي، او تر ډیره وخته پاتې کیږي هم نه، بلکه ډیره زر خرابیږي، او بَدبویه کیږي.

## د ذبحې نه علاوه نور صورتونه:

اوس ستاسو د وړاندې د ذبح نه علاوه یو څو نور صورتونه او د هغې نقصانات ذکر کوم، کوم چې غیر مُسلمه د حیواناتو مړه کولو د پاره اِستعمالوي، او په آخِر کې به درته د حیوان په اسلامي طریقې سره د ذبح کولو فوائد هم بیان کړم، چې دا درته معلومه شي چې د اسلام په هر حکم کې بې شماره فائدې او حِکمتونه دي:

۱. **د ژوندي څاروي نه غوښه پرېکول**: د اسلام نه مخکې به بعضې خلقو د ژوندي څاروي (لکه د چیلۍ او اُوښ) نه څه حصه راپرېکړه، او هغه به یې بیا پخوله او خوړله.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله دا طریقه اُولیده نو ددې نه یې منع اوکړه، او دا غوښه یې مرداره اُوبلله.

ځکه د ژوندي څاروي نه څه حصه پرېکولو سره به حیوان ته هم سخت تکلیف رسیده، او دا به د حیواناتو سره د بې رَحمۍ معامله وه.

بل دا چې بیا به د حیوان باقي مانده زخم نه جوړیده، او حیوان به مکمل معذوره شو، نو ځکه پیغمبر علیه السلام ورنه منع وکړه، او دا غوښه یې مرداره اوګرځوله. لکه په احادیثو کې ددې تذکره شته.

۲. **حیوان مُسلسل په کانړو ویشتل**: بعضې خلقو به د حیواناتو مړه کولو او ددې غوښې استعمالولو د پاره دا طریقه استعمالوله چې دا حیوان به یې مسلسل په کانړو ویشتلو، چې کله به مړ شو نو بیا به یې د هغې غوښته استعمالوله.
نو دا طریقه هم صحیح نه وه، ځکه په دې طریقې سره حیوان ته سخت تکلیف رسیده، بیا خاصکر غټ حیوان خو به زر نه مَر کیده، نو د هغه د پاره به دا طریقه ډیره سخته نقصاني وه.
بل دا چې طِبّي او ډاکټري لحاظ سره هم ددې حیوان غوښه د انسان د صِحت د پاره ضَرَرناکه وه، ځکه د حیوان په زخمي کولو او ویشتلو سره دده په بدن کې هستامین پیدا

کېږي ، او د ډير دَهشَت او يَرې په وجه د داسې حيوان د بدن نه پوره وِينه او نه وُوځي ، چې په دې سره ددې حيوان غوښه بې مَزې ، بَدبويه ، او زر خرابېدونکې وي ، او د انسان د صِحت د پاره نقصاني وي .

۲ . **د څټ د طرفه په تُوره وهل** : په بَرِ صغير کې به سِيکهانو دا طريقه کوله چې حيوان به يې اُودرول ، او د بَره ( څټ د ) طرف نه به يې پرې د تُورې تيز ګوزار وکړو چې په دې سره به ورنه څټ جدا شو ،او حيوان به رااُوغورځيده . دې طريقې ته دوی په خپله ژبه کې جَټکا ويله .

دا طريقه هم نقصاني وه ، ځکه په دې طريقې سره به د حيوان څټ دده د بدن نه جدا شو ، دده عضلات به بې حرکته شو ، د دِماغو به د باقي جِسم سره تعلق ختم شو . ځکه د دِماغو تعلق چې د جِسم سره جوړ وي نو هغه د مَلا د تِير او حرام مَغز په ذريعه جوړ وي . او س چې د څټ شاته حصه کټ شي نو د دِماغو تعلق د جسم سره ختم شي .

دا طريقه ځکه نقصاني ده چې په دې صورت کې د حيوان عضلات بې حرکته شي ، خپې او اَندامونه ډير نه خوزَوي نو په بدن کې وِينه هماغه شان پاتې شي ، صرف هغه وِينه رااُووځي کومه چې خواؤ شا نزدې وي ، او اکثره وِينه په بدن کې پاتې شي ، چې په دې سره ددې حيوان غوښه بې مَزې ، بې رَنګه او بې خوَنده وي ، او د پخولو په وخت ورنه بَدبويي راخيجي ، او اکثر ډير زر دا غوښه خرابه شي .

په يُورپي ملکونو کې هم ډيره موده دغه طريقه روانه وه ، خو دوی به د حيوان دا څټ د يو غټ مشين په ذريعه وهلو ، چې هغې ته Guillotion ( مشينِ ګردن زَني ) وايي .

دوی به ځاروې د مشين مخې ته اُودرول ، او د بَره نه به يې پرې ناڅاپه په تيزئ سره غټه تيره چاړه راښکته کړه ، چې په دې سره به ددې حيوان نه سَر جدا شو .

خو د دوی دا طريقه هم ناکامه شوه ځکه دوی ورباندې تجربه وکړه چې په دې طريقې سره د ځاروي غوښه ډيره زر خرابيږي او بَدبويه کيږي . وجه داده چې په دې طريقه کې هم د حيوان نه ډيره وِينه نه راوُوځيّ ، بلکه صرف خواؤ شا نزدې وِينه ورنه راوُوځي ، او اکثره په کې پاتې شي .

**٤. په سر وهل، یا د بجلۍ تیز کرنټ ورکول** : په یُورپي ملکونو کې د څاروي ذبح کولو د پاره یوه نوې طریقه او نوې مشین ایجاد شوی، دې مشین ته دوی B botaire وایي، په دې طریقه کې دوی څاروي مشین ته دننه کړي، هلته د څاروي په سَر باندې د بَره نه درُوند وزَن دار څټک (یا غټه اُوسپنه) راأوغورځوي، یا د څاروي دِماغو ته د بجلۍ تیز کرَنټ (یعنی شاټ) ورکړي، چې په دې دواړو صورتونو کې دا څاروي بې هوشې شي، بیا دوی دا څاروي اُلټه د خپو نه رازوَړند کړي، بیا د مشین په ذریعه په تیزه چاړه باندې دده مرۍ تر نیمایي پورې کټ کړي.

دا طریقه هم صحیح نه ده، ځکه په دې طریقې سره ددې څاروي غوښه حرامیږي، وجه داده چې په سَر باندې وهلو سره، یا په سَر د بجلۍ کرَنټ ورکولو سره دا حیوان د حرامو شیانو په فهرست کې داخلیږي، کوم چې الله ربّ العزت د سورة مائدې په دریم نمبر آیت کې ذکر کړي. (١)

یعنی دا څاروې د "مَوقوذې" (یعنی هغه څاروي چې د ګوزار خوړلو، او ویشتلو په ذریعه مړ شوې وي)، او "نَطِیحې" (یعنی هغه څاروې چې د ښَکر وهلو، او په ډَغره خوړلو سره مړ شوې وي) په فهرست کې داخلیږي.

او په دې دوه طریقو سره چې څاروې مړ شي نو د هغې غوښه حرامه او ناجائز ده. لهذا ددې نوي مشین (B botaire) په ذریعه د مړ شوي څاروي غوښه هم حرامه او ناجائز ده.

دویم دا چې په دې طریقې سره د حیوان په مړ کولو کې اګر چې دده نه وِینه راأوځي خو بیا هم ددې غوښه بې مَزې، بې خوَنده او بې لِذته وي.

دریم دا چې په اسلامي طریقې سره د حیوان ذبح کولو په نسبت په دې نوې مشیني طریقې باندې وخت هم ډیر لږي، چې دا ځان له نقصاني خبره ده.

---

(١) آیت داسې دی :. حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ . ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ... المائدة آیت ٣.

# په اسلامي طریقې د حیوان ذبح کولو فایدې

په اسلامي طریقې سره چې حیوان په کومه طریقه ذبح کولې شي نو دا طریقه د حیوان د پاره هم ډیره آرام ده، او آسانه ده، او غوښه یې هم بې نقصانه او فائده مَنه ده.

ځکه په اسلامي طریقې سره ذبح کولو کې بُنیادي شرط دادی چې د حیوان د بدن ټوله وینه بهر راوُوځي، او د ټولې وینې راوتلو د پاره همدا اسلامي طریقه د ذبحې ډیره موزون ده.

ځکه د ذبح په وخت چې کله د څاروي د مرۍ څلور غټې رګونه او شه رګ ټول یو ځای کټ شي نو په دې سره حیوان بې هوشه شي، بیا اګر چې زُورونه کوي خو په دَردونو نور نه پوهیږي. په دې طریقه کې اوس هم د جسم د دِماغو سره د حرام مغز او د مَلا د هډوکي په واسطه تعلق پاتې وي، چې په دې سره دا حیوان په تیزۍ سره خپې او لاسونه وهي او زُورونه کوي، نو دده په بدن کې چې په هر ځای کې وینه موجود وي هغه ټوله رااُووځي.

ځکه د زړه نه چې دِماغو ته د وینې کوم غټ دوه رګونه تللي وي هغه د ذبحې په وخت کټ شي، نو د ټول وجود وینه په دې زور کولو او لاس خپې وهلو سره په دې رګونو باندې رااُووځي.

لهذا په دې طریقې سره د حیوان په ذبحه کولو کې په حیوان باندې تکلیف هم کم وي، او د وجود ټوله وِینه ورنه هم بهر رااُووځي، چې په نتیجه کې یې غوښه د هر قِسم ضَرر، نقصان او جراثیمو نه پاکه شي. رنګ او خوَند یې هم ښه شي، د پخَولو په وخت بَدبویي هم نه پیدا کوي، زر خرابیږي هم نه، او د انسان د جِسم د پاره هم فائده مَنه او ګرځي.

اوس خو ډاکټرانو او سائنسدانانو د لیبارټرۍ د ټِسټونو او تجربو په ذریعه هم معلومه کړې چې کوم حیوان ذبحه نه شي نو د هغې غوښه د انسان د صِحت د پاره سخته نقصاني ده، چې د ډیرو بیماریو او مرضونو سبب ګرځي.

پس معلومه شوه چې د اسلام په هر حکم کې بې شماره مصلحتونه او فائدې دي، او د اسلامي طریقې نه علاوه چې نورې کومې طریقې دي په هغې کې خامخا ډیر نقصانونه شته، چې د انسان د دُنیا او آخرت دواړو د پاره ضَرري دي.

## خلاصه:

خلاصه دا چې د مسلمان شان دادی چې دې به د شریعت هر حکم بغیر د څون و چرا نه په سَر سترګو مني ، او دا به يې عقيده وي چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په هر سُنت او د شريعت په هر حکم کې خامخا ډير حِکمتونه ، رازونه ، او د دُنيا او آخرت بې شماره فائدې دي . بلکه اوس خو سائنسدانانو ، ډاکټرانو او حتّی چې غير مُسلِمو او د اسلام دُشمنانو هم دا اِقرار کړی ، او دا يې تَسلميه کړی چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سُنت ، او د شريعت په هر حکم کې بې شماره فائدې او مصلحتونه دي ، او د ژوند تيرولو د پاره بهترين مِعيَار دی . وَالْفَضْلُ مَا شَهِدَتْ بِهِ الْأَعْدَاءُ .

لهذا مونږ ته په کار دي چې د ژوند په هره مَرحله کې د خپل خوږ پيغمبر ، د دواړو جهانو سردار ، اِمامُ الْمُرسلين ، سيّدُالأوّلين والآخِرين محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په نَقشِ قدَم باندې روان شو ، او د هغوی ښائسته تعليمات د خپل ځان د پاره مَشعلِ راه اوګرځوو .

## دُعا

الله رب العزت دې زمونږ په زړونو کې د اِسلامي اَحکاماتو او د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د هر سُنت قَدر و عَظمت پيدا کړي ، او په دې باندې دې راته د عمَل کولو توفيق هم رانصيبه کړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ﴾

النور آیت ٦٣.

# د ځمکې پرېښودلو اهمیت، او د خرڅولو یا قبضې نه د کمولو سزاګانې

تألیف:


اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

# ګيره خريل يا د موټې نه کمول ولې عام شو؟

بعضې علماء د شخصي ګټو په خاطر، يا د خلقو نه د يَرې په وجه، يا د خلقو د نه خَفه کولو په وجه، يا د بعضې نورو وجوهاتو په بِناء باندې د ګيرې خريلو، يا د موټې نه د کمولو مذمّت، ګناه والې او سزاګانې نه بيانوي، چې د دې په وجه په معاشره کې خلقو ته ګيره خريل يا د قَبضې نه کمول د سره ګناه نه معلومېږي، بلکه دا يې د ګناهونو د فِهرست نه مکمل اِيستې ده، چې په نتيجه کې ډير خلق په دې عظيمه ګناه کې مبتلاء دي، او ښه په فخر سره ښکاره ګيره خرَايي.

او بعضې خلقو ته د دې مسئلې پوره معلومات نه وي چې ګني ګيره پرېښودل واجب او ضروري دي، بلکه هغوی يې صرف د ثواب کار ګنړي، او دا يې نظريه وي چې: که انسان ګيره پرېږدي نو الله ﷻ به ثواب ورکړي، او که آو يې خرَي نو صرف د ثواب نه به محرومه شي. حالانکه داسې نه ده، بلکه ګيره پرېښودل واجب دي، او خريل يا د موټې نه کمول يې حرام او ګناهِ کبيره ده.

چونکه دې خلقو د ګيرې متعلق پوره مسائل نه وي آوريدلې، نو چې کله يو چاته د يوې مسئلې آهميت پوره معلوم نه وي نو هغه به پرې عمل څنګه وکړي؟

لهذا په دې خاطر مې د ګيرې دا موضوع ډيره په تفصيل سره بيان کړه، چې خلقو ته د ګيرې پرېښودو آهميت، حيثيت، فضيلت او فوائد هم معلوم شي، او ورسره ورسره د خريلو حُکم، نقصانات او سزاګانې هم معلومې شي.

اګر چې په بعضې ځای کې لِهجه لږه سخته او تيزه استعمال شوې خو مقصد مې صرف او صرف د الله ﷻ رَضا، د مخلوقِ خدا خيرخواهي او اِصلاح ده، د هيچا سپکاوې او اِهانت مې مقصود نه دی.

په آخر کې مې د ګيرې متعلق څه شُبهات او د هغې تفصيلي جوابات، او ورسره د ګيرې متعلق ضروري مسائل د مختلفو فتاوٰ او معتمدو کتابونو نه هم رانقل کړي.

**ابوالشمس عفې عنه**

# نوټ

'' د ږيرې پريخودلو اَهميت ، او د خريلو يا قبضې نه دکمولو سزاګانې'' دا موضوع مې په څلورو (۴) غټو عنواناتو تقسيم کړې :


۱. د ږيرې پريخودلو اَهميت او فوائد......................صفحه : ۲۸۰

۲. د ږيرې خريلو يا د قبضې نه د کمولو سزاګانې او نقصانات...صفحه : ۲۹۲

۳. د ږيره خريونکو د پاره مختلف شبهې ، بهانې او دلائل ( پنځلس شبهات او د هغې تفصيلي جوابات )...........................صفحه : ۳۳۸

۴. د ږيرې متعلق ضروري فِقهي مسائل ( يو ويشت ضروري او اَهم مسائل )...: ۳۵٤


ابوالشمس عفي عنه

# د ږيرې پرېښودلو اهميت. او د خريلو يا قبضې نه د کمولو نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ﴾.(١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾.(٢)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ: وَفِّرُوا اللِّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ.(٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

## مسلمان به د شريعت په هر حکم باندې عمل کوي

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو! د مسلمان د پاره دا ضروري ده چې دې به د شريعت په هر حکم باندې عمل کوي، که هغه د قرآن کريم احکامات دي، يا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل اُمت ته کوم احکامات بيان کړي دي، دا ټول به انسان ښه په کلکه عملي کوي.

(١) النور آيت ٦٣.

(٢) النساء آيت ٥٩.

(٣) بخاري كتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ٥٨٩٢. مشكوة ج٢ ص ٣٨٠ باب الترجل. و في رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنْهِكُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللِّحٰى. بخاري كتاب اللباس باب إعفاء اللحى حديث ٥٨٩٣. و في رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللِّحٰى. خَالِفُوا الْمَجُوْسَ. مسلم باب خصال الفطرة حديث ٥٥ (٢٦٠).

اسلام داسې يو جامع دين دی چې په دې کې د انسان د اِجتماعي او اِنفرادي ژوند د ټولو اعمالو او احوالو په باره کې تفصيلي احکامات او راهنمايي موجود ده.
داسې نه ده چې ګني اسلام صرف د عباداتو مجموعه ده، بلکه په دې کې د عباداتو سره سره د اِعتقاداتو، معاملاتو، اَخلاقو او آدابو په باره کې هم واضح احکامات موجود دي.
تر دې پورې چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم د خپل اُمت د باطِن اِصلاح سره سره د ظاهِر اِصلاح هم کړی، او د مسلمان د ظاهري لباس، وضع قطع، او شکل و صورت په باره کې يې واضحه اِرشادات بيان کړي.

## د ګيرې پريخود اهميت او فوائد

**د ګيرې پريخودو حکم**: د شريعت په احکاماتو کې يو حکم "د ګيرې پريخودو او بريتونو کټ کولو هم دی" چې مسلمان به خپله ګيره پريږدي، او د يو موټي نه به يې نه کموي او نه به يې خرابي.
څکه ګيره پريخودل واجب دي، او خريل يا د موټي نه کمول يې په اِتفاق سره ګناهِ کبيره، حرام او نا جائز دي. (١)
ددې په باره کې درته يو څو احاديثِ مبارکه ذکر کوم:
١. د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ: وَفِّرُوا اللُّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ. (٢)
تاسو د مشرکينو مخالفت وکړئ: ګيرې اُوږدې کړئ، او بريتونه کټ کړئ.
٢. په يو روايت کې دي، نبي عليه السلام فرمايي:
أَنْهَكُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللُّحٰى. (٣)
تاسو د بريتونو په کټ کولو کې مبالغه وکړئ (يعنی ښه يې کم کړئ)، او ګيرې اُوږدې کړئ.

(١) نوټ: ددې مسئلې پوره تفصيل او تشريح به روستو په بحث د "فقهي مسائلو" کې راشي. ابوالشمس
(٢) بخاري كتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ٥٨٩٢.
(٣) بخاري كتاب اللباس باب إعفاء اللّحى حديث ٥٨٩٣.

۳. د مسلم شريف حديث دی، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ أَحْفُوا الشَّوَارِبَ، وَأَوْفُوا اللُّحٰى. (۱)

تاسو د مشرکينو مخالفت وکړئ، بريتونه کم کړئ، او ګيرې پوره پرېږدئ.

۴. د مسلم شريف په يو بل روايت کې داسې الفاظ نقل دي، نبي کريم ﷺ فرمايي:

جَزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللُّحٰى. خَالِفُوا الْمَجُوْسَ. (۲)

تاسو بريتونه کټ کړئ، او ګيرې غټې کړئ، د مجوسو مخالفت وکړئ.

دا خو ما درته صرف يو څو احاديث ذکر کړه، که د احاديثو په ذخيره باندې نظر واچولې شي نو د ګيرې د پرېښودو او بريتونو د کټ کولو په باره کې دومره ډير احاديث راغلي دي چې د شُهرت درجې ته رسيدلي دي، بلکه د تواترِ معنوي درجې ته رسيدلي دي.

لهذا ګيره پرېښودل د دين په فرائضو او د اسلام په شعائرو کې داخله ده، او د هر مسلمان د پاره ګيره پرېښودل واجب دي.

## د ګيرې په باره کې د راغلي الفاظو تحقيق:

د ګيرې په باره کې چې څومره الفاظ راغلي دي د هغې ټولو مطلب د ګيرې پرېښودل او اوږدول دي.

علامه نووي رحمه الله د دې ټولو الفاظو په باره کې ليکي:

وَمَعْنَاهَا كُلِّهَا تَرْكُهَا عَلٰى حَالِهَا.

د دې ټولو معنی داده چې ګيره په خپل حالت باندې پرېښودې شي.

حافظ ابن حجر رحمه الله د " وَفِّرُوا اللُّحٰى " مطلب دا بيان کړی چې:

" أُتْرُكُوْهَا وَافِرَةً " ګيره پرېږدئ، په داسې حالت کې چې دا وافره يعنی پوره وي. (۳)

---

(۱) مسلم باب خصال الفطرة حديث ۲۵۹.

(۲) مسلم باب خصال الفطرة حديث ۵۵ (۲۶۰).

(۳) فتح الباري ج۱ . وَفِّرُوْا: ای أُتْرُكُوْهَا مُوَفَّرَةً. يعنی پوره يې پرېږدئ. تعليق مصطفى البغا على البخاري.

عرب وايي: وفّر عليه حقه توفيرًا. يعنی هغه ته خپل حق پوره ورکړه.

د " أَعْفُوا اللُّحَى " مطلب يې دا بيان کړی چې : ګيرې اُوږدې او زياتې کړئ . (١)

د " أَوْفُوا اللُّحَى " مطلب يې دا بيان کړی چې أَتْرُكُوْهَا وَافِيَةً . ګيرې پرېږدئ ، په داسې حال کې چې پوره وي .

او د " أَرْخُوا اللُّحَى " مطلب يې دا بيان کړی : أَطِيْلُوْهَا . ګيرې اُوږدې کړئ . (٢)

# اَمر حقيقتًا د " وجوب " د پاره راځي

د ګيرې په باره کې چې دا څومره الفاظ راغلي دي دا ټول د اَمر صيغې دي ، او د اَمر حقيقي معنی وجوب ده ، يعنی امر حقيقتًا د وجوب د پاره راځي .

لهذا ګيره پرېښودل واجب دي ، ځکه دلته داسې څه قرينه نشته چې هغه په دې دلالت وکړي چې ګني دلته د اَمر نه وجوب مراد نه دی .

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي :

إِنَّهُ أَمَرَ بِإِحْفَاءِ الشَّوَارِبِ وَإِعْفَاءِ اللِّحْيَةِ . (٣)

نبي عليه السلام د بريتونو دکمولو او دګيرې د اُوږدولو حکم کړی .

فائده : په دې حديث کې د أَمَرَ د لفظ نه هم د ګيرې وجوب ثابت شو .

---

(١) امام بخاري رحمه الله د إِعْفَاء ترجمه په کثرت او ډير والي سره کوي ، هغه فرمايي : عَفَوْا (النساء آيت ٩٢) كَثُرُوْا وَكَثُرَتْ أَمْوَالُهُمْ . بخاري باب اعفاء اللحية .

( وَأَعْفُوا اللُّحَى ) : إعفاء اللحى معناها توفيرها ، وهو معنى " أَوْفُوا اللُّحَى " فى الرواية الاخرى . شرح محمد فؤاد عبدالباقي على صحيح المسلم .

عرب هم وايي : عَفَا الشَّعْر . د هغه ويښتان زيات شو . علامه ابن دقيق العيد وايي : تَفْسِيْرُ الْإِعْفَاءِ بِالتَّكْثِيْرِ مِنْ إِقَامَةِ السَّبَبِ مَقَامَ الْمُسَبَّبِ . لِأَنَّ حَقِيْقَةَ الْإِعْفَاءِ : التَّرْكُ . وَتَرْكُ التَّعَرُّضِ لِلِّحْيَةِ يَسْتَلْزِمُ تَكْثِيْرَهَا . فتح الباري ج١ ، اختلاف اُمت اور صراط مستقيم ص ٢٥٢ .

(٢) فتح الباري ج١ ، اختلاف اُمت اور صراط مستقيم ص ٢٥٤ .

(٣) مسلم باب خصال الفطرة ٥٣ (٢٥٩) ،/ علامه نووي رحمه الله په شرحه د مسلم کې ټول هغه الفاظ راجمع کړي کوم چې د ګيرې د غټولو په باره کې په احاديثو کې راغلي دي .

# ګیره پرېښودل یو "فطري شی" او د ټولو پیغمبرانو طریقه ده

ګیره پرېښودل او بریتونه کټ کول فِطري شی دی، یعنی طبیعتِ سَلیمه دا خوښوي، او دا د یو لک او څلیر یشت زره (کم و زیات) پیغمبرانو مُتّفقه طریقه هم ده، یعنی په ټولو شریعتونو کې د ګیرې د پرېښودو او بریتونو د کټ کولو حکم راغلې دی، یو پیغمبر هم چیرته ګیره نه ده خرَولې، او نه یې د قَبضې نه کمه کړې ده.

د مسلم شریف حدیث دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَإِسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَإِنْتِقَاصُ الْمَاءِ". قال زكريا: قال مُصعبٌ: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ. (١)

لس شیان د فِطرت نه دي: ١. بریتونه کټ کول. ٢. ګیره پرېښودل. ٣. مسواک استعمالول ٤. پوزې ته اُوبه اَچول او صفا کول. ٥. نوکونه پرېکول. ٦. هغه ځایونه وینځل په کوم ځای کې چې خِیرې جَمعه کیږي لکه د لاسونو د ګوتو د بندونو مینځ وینځل. ٧. د تخرګ ویښتان ویستل. ٨. زیرِناف ویښتان خریل. ٩. اِستنجاء کول.

مُصعب راوي وايي چې د مانه لسم څیز هیر شوی، خو هغه شی به مَضمضه یعنی خُولې ته اُوبه اَچول او صفا کول وي. (چا لسم شی اِستنجاء خودلی).

**د فِطرت تشریح**: اِمام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کې فرمایي چې: د فِطرت نه مراد د ټولو اَنبیاء کرامو سُنّت او طریقه ده. (٢)

(١) مسلم شريف ج١ ص٢٢٣ حديث ٢٦١ باب خصال الفطرة، سنن ابن ماجه ج١ ص١٠٧ حديث ٢٩٣ باب الفطرة.

(٢) قال النووي: وأمّا الفطرةُ. فقد اختلف في المراد بها ههنا.... قالوا: ومعناه: أنها مِن سُنَنِ الْأَنْبِيَاءِ صلواتُ الله وسلامُه عليهم. شرح مسلم للنووي ج١ ص١٢٨.

وفي المرقات: اَلْفِطْرَةُ أي فطرة الإسلام خمس. قال القاضي وغيره فسرت الفطرة بالسّنّة القديمة الّتي اختارها الأنبياء واتفقت الشرائع وكأنها أمرٌ جبليٌّ فطروا عليه. قال السيوطي: وهذا أحسن ما قيل في تفسيرها وأجمعه. مرقات شرح مشكوة ج٢ ص٣٥٥ باب الترجل طبع بمبي.

همدارنګې صاحب د " مجمع البحار " هم ددې حديث په تشريح کې فرمايي چې د فطرت نه مراد د ټولو انبياوُ سُنت او طريقه ده.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چې د فِطرت نه مراد د انبياء کرامو هغه خصلتونه دي د کومو د اِتباع چې رسولُ الله ﷺ (او مونږ) ته حُکم شوی. الله تعالى فرمايي:

﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ﴾. (١)

ترجمه: دا (مذکوره پيغمبران) هغه خلق وو کومو ته چې الله هدايت کړې ؤ، نو (اې پيغمبره!) ته هم د دوی په لاره باندې چليږه.

بعضې علماء وايي چې د فِطرت نه مراد د حضرت ابراهيم عليه السلام هغه سُنت دي، په کومو باندې چې هغوی عمَل کولو، او انسان فِطرةً په هغې باندې پيدا شوې دی.

يا د حضرت ابراهيم عليه السلام هغه سُنت مراد دي د کومو چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د اِتباع حکم شوې ؤ. الله تعالى فرمايي:

﴿ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ﴾. (٢)

ترجمه: (اې پيغمبره!) بيا مونږ تا ته دا وحي وکړه چې ته د ابراهيم (عليه السلام) د دين پيروي وکړه، کوم چې يو مَخيزې ؤ.

کله چې حضور صلی الله عليه وسلم د ګيرې پريخودو او بريتونو کټ کولو ته فِطرت وويل نو ددې نه دا معلومه شوه چې ګيره خريل او بريتونه غټ پريخودل خلافِ فطرت عمَل دی. او د يو مسلمان د پاره د فِطرتِ صحيحه مطابق عمَل په کار دی، د خلاف فطرت کار نه پرهيز په کار دی. (٣)

ګيرې پريخودو ته " سُنَّةُ الْمُرْسَلِين " يعنې د ټولو پيغمبرانو سُنت او طريقه ويل شوی، دا صرف د شريعتِ محمّدي سره خاص نه ده، بلکه ټولو پيغمبرانو ګيرې پريخې وی، په يو

(١) الانعام آيت ٩٠.

(٢) النحل آيت ١٢٣.

(٣) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣٠٨ دارهي.

آسماني کتاب او صحيفې کې چيرته هم د ګيرې خريلو يا لنډولو ذکر نشته ، نو ځکه ګيره خريل حرام او ګناه ده .

## ګيره د انسان د پاره زينت دى

ګيره د هر انسان دپاره زِينَت دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې : په آسمان کې د فرښتو يوه ډله داسې ده چې هغوى هر وخت دا تسبيح وايي :

سُبْحَانَ مَنْ زَيَّنَ الرِّجَالَ بِاللُّحٰى ، وَالنِّسَاءَ بِالزَّوَائِبِ . (١)

پاکي ده هغه ذات لره چاچې سړي په ګيرو ښائسته کړي ، او ښځې يې د سَر په ويښتانو (يعنى کمڅو ) باندې ښائسته کړي .

معلومه شوه چې ګيره د انسان د پاره ښائست دى ، خو ډير خلق د الله ﷻ په دې ښائست باندې راضي نه دي او ګيرې خرَي يا يې د موټي نه کموي .

## ګيره د نارينه کيدو غټه نخه ده

ګيره لکه څرنګې چې د سړي دپاره زِينَت دى نو همدغه شان د نارينه کيدو غټه نخه هم ده، چې په دې سره د نارينه او زَنانه په مينځ کې فرق کيږي .

او اِنساني عقل هم دا غواړي چې د سړي شکل دې بارُعبه او باوَقاره وي ، د هِيجړاګانو په شان شکل دې يې نه وي ، او دا ښکاره خبره ده چې د ګيرې سره انسان بارُعبه ، شُجاع او بهادر معلوميږي .

او څوک چې ګيره خرَي نو هغه بِعينه د هِيجړاګانو او ښځو په شان معلوميږي .

## د ګيرې په مکمل ختمولو سره پوره دِيَت لازميدل

د ګيرې د اَهميت اَندازه ددينه هم معلوميږي چې فقهاؤ دا مسئله بيان کړې : که يو کس د بل چا ګيره په داسې څه طريقې سره کټ کړه چې هغه بيا را او نه خته ، مثلاً څه خطرناکه دوايي يې ورله ورپورې اُومږله ، يا يې ورنه اُوويسته او بيا دوباره را اُو نه خته ، نو دې

---

(١) کنز الحقائق عن المستدرک .

ګيره کټ کوونکي چونکه ددې کس زِينَت مکمل ختم کړو ، نو لهذا په ده باندې اوس پوره دِيت يعنى سل (١٠٠) اوښان لازم دي .

ځکه ده د مسلمان شکل مَسخه کړو ، د هغه زِينَت يې ختم کړو ، د هغه د نارينه کيدو نخه يې ختمه کړه ، ګويا ده هغه قتل کړو نو ځکهورباندې پوره دِيت لازم دی .

حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمايي :

فِي الشَّعْرِ دِيَةٌ إِذَا لَمْ يَنْبُتْ . (١)

په وېښتانو کې پوره دِيت دی کله چې هغه دوباره را اونه خيجي .

فقهاؤ د همدې روايت نه اِستدلال کړی چې که يو کس د بل د سَر يا ګيرې وېښتان په داسې څه طريقې سره اُوخريل يا يې ورنه کټ کړه چې دوباره را او نه خَت نو په ده باندې پوره دِيَت دی .

خو که څوک د چا سترګه رَنده کړي ، يا غوږ يا لاس خپې ترې کټ کړي نو په دې کټ کوونکي باندې نيم دِيَت دی ، خو که ګيره يې ورنه کټ کړه او بيا را او نه ختّه نو په ده باندې پوره دِيَت دی .

## جادُو ګرو ته د حضرت موسی عليه السلام د مشابهت په وجه اِيمان نصيب شو

کله چې د حضرت موسی عليه السلام او جادُوګرو مقابله مقرر شوه نو فرعون هم ددې مقابلې کتلو اِراده وکړه ، هغه وخت دا دَستورۇ چې د مقابله کوونکو دواړو ډَلو لباس به يو شان و ، حکومتي خلقو په حضرت موسی عليه السلام باندې زور راوست چې د جادو ګرو غوندې لباس جوړ کړي ، خو حضرت موسی عليه السلام اِنکار وکړو .

آخِر حکومتي خلق مجبور شو ، او د مجبوريت نه جادوګرو د حضرت موسی عليه السلام غوندې لباس جوړ کړو .

کله چې مقابله شروع شوه نو جادو ګرو حضرت موسی عليه السلام ته اول د آمسا غورځولو پيش کش وکړو ، خو حضرت موسی عليه السلام ورته وويل : اول تاسو شروع وکړئ . نو

---

(١) المحلي للحافظ ابي محمد علي بن حزم الاندلسي الظاهري ٥٢٥/٧ باب الشعر المسئلة ٢٠٣٣ .

جادوګرو چې د ځان سره کومې رسۍ او پړې راوړي وو هغه يې چې څنګه په زمکه اوغورځول نو د دوی د سِحر په وجه خلقو ته دا داسې معلومېده لکه چې دا ماران دي او منډې وهي . (۱)

خو چې کله حضرت موسی عليه السلام خپله اَمسا په زمکه اوغورځوله نو د هغې نه يوه لويه اَژدها جوړه شوه ، او د جادوګرو ټول ماران يې تير کړه .

په دې معجزې ليدلو سره ټول جادوګر مسلمانان شو . او داسې پاخه مسلمانان شو چې فرعون ورته دَهمکي ورکړه چې زه به ستاسو لاس ، خپې غوڅ کړم ، او په سولۍ به مو کړم ، خو دوی ورته په واضحه الفاظو کې وويل :

ددې واضحه دليلونو او د الله جل جلاله په مقابله کې مونږ تاته هيڅ ترجيح نه درکوو ، پس ته چې څه فيصله کوی هغه وکړه (خو مونږ ايمان نه پرېږدو) . (۲)

**د سوچ او عبرت خبره** : بهر حال جادوګرو ايمان راوړو ، او ډير پوخ ايمان يې راوړو ، خو دلته دسوچ او عِبرت خبره داده چې آخِر دا څه وجه وه چې جادوګرو ته الله جل جلاله د مضبوط ايمان راوړلو توفيق ورکړو ، ليکن فرعون ايمان رانه وړو ؟

حالانکه حضرت موسی عليه السلام د فرعون په تربيت کې غټ شوې و ، ډير وخت يې ورسره تير کړې و ، او مُستقِل الله جل جلاله د فرعون د پاره ور وليږل . الله رب العزت حضرت موسی عليه السلام ته فرمايي :

---

(۱) په قرآن کريم کې هم ددې تذکره شته ، الله تعالی ددې بيان داسې کوي : قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ . قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ . سورة طه آيت ۶۵ ، ۶۶ .

(۲) د سورة طه په دې آيتونو کې ددې بيان شته : وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ . فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ . قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ . قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا . إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ . سورة طه آيت ۶۹ تر ۷۳ .

﴿ اِذۡهَبۡ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴾ .(١)
ترجمه : اې موسى ! ته فرعون ته ورشه ، ځكه هغه (ډير ) سركشه شوى دى .

الله ﷻ حضرت موسى عليه السلام ته د فرعون نوم واخيست چې ده ته ورشه ، او دَعوت ورته وركړه ، ليكن بيا هم فرعون اِيمان را نه وړو ، او جادوګرو اِيمان راوړو ، دا څه وجه ده ؟

جواب : انسان ته هدايت خو دالله ﷻ په توفيق سره نصيبه كيږي ، ليكن مفسرينو د جادوګرو د ايمان راوړو د پاره ظاهري سبب يو دا بيان كړى چې يو خو جادوګرو د مقابلې په شروع كې د اَدب مظاهَره وكړه چې حضرت موسى عليه السلام ته يې اول د اَمسا غورځولو پيش كش وكړو .

دويم دا چې دې جادو ګرو چونكه د حضرت موسى عليه السلام په شان لباس اچولې و ، نو د حضرت موسى عليه السلام سره ددې ظاهري مُشابهت په وجه د الله ﷻ رحمت په جوش كې راغى او دوى ته يې هدايت نصيبه كړو .

**فايده** : قدرمنو ! تاسو ديته سوچ وكړئ چې دې جادوګرو د مجبوريت په وجه د حضرت موسى عليه السلام په شان لباس جوړ كړې و ، نو الله ﷻ ورته صرف ددې ظاهري مُشابهت په وجه مضبوط ايمان نصيبه كړو .

نو اوس چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم يو اُمّتي د دوى د محبت په وجه د خپل پيغمبر شكل و صورت جوړ كړې وي ، ګيره يې په سُنت طريقې سره پريخې وي ، او د هغوې په نقشِ قدم باندې روان وي نو الله ر ب العزت به په ده باندې څومره ډير اِنعامات كوي ؟ او ده ته به څومره د ايمان حلاوَت او خوږ والې نصيبه كوي ؟

يقيني چې رب كريم به په ده باندې ډير انعامات كوي ، او ده ته به د ايمان داسې حلاوت نصيبه كوي چې دې به د هغې اَثرات په خپله محسوسوي .

---

(١) سورة طه آيت ٢٤ .

## د محبوب سره مُشابهت لرونکي کس سره هم محبت کول

**د يوې بُوډۍ واقعه** علماؤ د يو بزرګ واقعه رانقل کړی ، دې وايي چې کله زه وړوکې ووم ، او مدرسې ته به کومه لاره تللم ، نو په دې لاره کې د يوې د يوې بوډۍ کور ؤ .

زه يوه ورځ مدرسې ته روان ووم ، دا بوډۍ په دروازه کې ناسته وه ، کله يې چې زه وليدم نو ماته يې آواز وکړو : اې بچيه ! دلته راشه . زه چې ورغلم نو زما يې ډير عزت او اِحترام وکړو : خوراک او څکاک يې راباندې وکړو ، او نور ډير نِعمتونه يې راباندې اُوخواړه ، بيا يې راته وويل :

بچيه ! کله چې ته په دې لاره باندې تيريږې ، نو لږ وخت د ماسره کينه ، زه به دربانديې خوراک او څکاک کوم ، نو زما زړه ته به سکون حاصليږي .

دا بزرګ وايي چې زه به هم په هره ورځ چې مدرسې ته تلم نو دا بوډۍ به تياره په دروازه کې ناسته وه ، څه لږ وخت به ورسره کيناستم ، دې به راباندې ښه ښه خوراکونه اُوخواړه ، بيا به يې ډير په عزت سره رُخصت کړم .

آخِر يوه ورځ ما ورنه پوښتنه وکړه چې : اَبې ! زما او ستا خو په مينځ کې هيڅ تعلق ، رِشته او پيوَند ګلو نشته ، نو ته زما دومره قدر و عزت ولې کوی ؟

نو ددې بوډۍ په سترګو کې اُوښکې راغلی ، او راته وې ويل : بچيه ! څه ډيره موده شي چې زما يو ځوي ورک شوې دی ، زه د هغه د ليدلو پسې سَمه رَنده شوم . خو چې کله مې ته اُوکتې نو چونکه ستا شکل د هغه په شان معمولي معمولي يو شان دی ، نو ماته ستا په ليدلو خپل ځوي راياد شي ، او ستا په ليدلو مې زړه ته سکون او قرار راشي ، نو ځکه د تاسره محبت کوم ، او په تا باندې ښه ښه خوراکونه کوم .

**فايده** : ډيره د عِبرت خبره ده چې کله يوه بوډۍ د پرَدي هلک سره صرف ددې په وجه محبت کوي چې ددې هلک شکل و صورت څه نا څه ددې د بچي په شان دی ، نو اوس چې څوک د الله ﷻ د محبوب محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په شان شکل و صورت جوړ کړي ، ګيره پريږدي ، او د هغوی په شان اَعمال کوي ، نو آيا الله ﷻ به د داسې کس سره څومره محبت کوي ؟ يقيني چې ډير محبت به کوي .

# د ګیرې پریخودو فوائد او حکمتونه

که انسان دیو شرعي حکم په فوائدو او حِکمتونو باندې پوهه شي او که پوهه نه شي خو دې به پرې عمل کوي . ځکه په هر شَرعي حکم کې خامخا ډیرې فائدې او حِکمتونه دي .خو بعضې وخت انساني عقل دغې فوائدو ته رسیدګي نشي کولی . په ګیره پریخودو کې هم ډیرې فائدې او حِکمتونه دي ، یو څویې دادي :

په دې سره د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د حکم منل راځي .

د اَنبیاؤ او صالحینو سره مشابهت راځي .

د مُشرکینو، مجوسو، یهودو ، او نصاریٰؤ مخالفت راځي.

انسان د ښځو او هیجراګانو د مُشابهت نه بچ کیږي.

د الله او د رسول د لعنت نه بچ کیږي .

د تَغیُر فِي خَلقِ الله نه بچ کیږي .

د انسان زِینَت او مَردانګي بَرقرار پاتې کیږي .

د مسلمان شَخصیت او اِمتیاز محفوظ پاتې کیږي .

مال او وخت یې نه ضائع کیږي .

او د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د خوشحالۍ سبب ګرځي .

بل داچې د سږو د ګیرو په ویښتانو کې او د ښځو د سَر په ویښتانو کې الله ﷻ دا صلاحیت پیدا کړی چې دا د خُلې زیاتې رُطوبتونه جذَب کوي ، دغه وجه ده چې دچا ګیره ګنه وي نو دده غاښونه او وری به د هغه چا په نسبت ډیرې مضبوطې وي د چاچې ګیره کمزورې وي . همدغه وجه ده چې په مغربي ملکونو چونکه ډیر خلق ګیرې خریٔ نو ددې په وجه دوی د وری او غاښونو په مرضونو کې هم ډیر اَخته دي ، اګر چې ښه ښه ټوته پیسټ استعمالوي خو بیا یې هم دا مرضونه او د خُلې بَدبُویې نه ختمیږي .

ددې نه علاوه د ګیرې په پریخودو کې نورې هم ډیرې فایدې شته .

# د ګیرۍ خرېلو یا قبضې نه د کمولو نقصانات

د ټول اُمت فُقهاء په دې مُتفق دي چې د قرآن کریم د آیتونو، او د احادیثو په رڼا کې د ګیرۍ پریښودل واجب دي، او دا د اِسلام په شعائرو کې داخله ده. او ګیره خرېل یا د موټي نه کول حرام او ګناهِ کبیره ده چې په احادیثو کې ددې د پاره سخت وعیدونه او سختې سزاګانې ذکر شوې.

خو زه به د رته صرف یو څو مشهورې سزاګانې او نقصانات ذکر کړم:

## ګیره خرېل یا د موټي نه کمول د الله ﷻ او د رسول ﷺ نافرماني ده

په هر مسلمان باندې د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ حکم منل لازم دي، الله تعالی فرمایي:

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾. (١)

ترجمه: اې د ایمان خاوندانو! تاسو حکم اومنئ د الله، او حکم اومنئ (د هغه) د رسول.

بل ځای الله رب العزت فرمایي:

﴿وَمَآ آتَـٰكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَـٰكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا﴾. (٢)

ترجمه: او رسول (صلی الله علیه وسلم) چې تاسو ته څه درکوي هغه واخلئ، او د څه شي نه چې تاسو منع کړي د هغې نه منع شئ.

**فایده**: په دې آیتونو کې الله ﷻ د رسول الله ﷺ د اِتباع او اِطاعت حکم کړی. همدغه شان د وړاندې ذکر شوي احادیثو نه هم ثابته شوه چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خپل اُمت ته د ګیرۍ پریښودو او بریتونو د کمولو حکم کړی، او د خرېلو یا قبضې نه د کمولو نه یې مَنع کړی.

(١) النساء آیت ٥٩.

(٢) الحشر آیت ٧.

لهذا اوس چې څوک ګیره خرَايي ، یا یې د قَبضې نه کموي نو دا سړی په حقیقت کې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم مُخالفت او نافرماني کوي ، او د دوی مخالفت کول ګناه او حرام دي ، او د انسان د جهنم د تللو سبب ګرځي . ربِّ کریم فرمايي :

﴿ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو بیشکه د ده د پاره د جهنم اور دی ، دوی به په هغې کې تَل تر تله همیشه وي .

همدغه رنګې د نبي اکرم ﷺ مخالفت کول د مصیبت او دَرد ناک عذاب سبب ګرځي . خالِقِ کائنات فرمايي :

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : پس څوک چې د الله د حکم ( یا د پیغمبر علیه السلام د حکم (۳) ) مخالفت کوي نو دوی له په کار دي چې دوی اُویرېږي ددینه چې ( په دُنیا کې ) دوی ته مصیبت اورسیږي ، یا ( په آخرت کې ) ورته درد ناک عذاب اورسیږي .

## ګیره خریل " تَغْيِيْرٌ فِيْ خَلْقِ اللهِ " دی

د قرآن کریم په " سورة النساء " کې ددې بیان شته چې شیطان لعین ډیر په تاکید سره اللهرب العزت ته وویل :

﴿ وَلَأٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللهِ ﴾ . (۴)

(۱) الجن آیت ۲۳ . په یو بل آیت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخالفت ، او په غیرو لارو باندې د تللو سزا جهنم ته داخلېدل خودل شوي ، الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرًا ﴾ . النساء آیت ۱۱۵

(۲) النور آیت ۶۳ .

(۳) ( يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖ ) : في هاءِ الكناية قولان : احدهما : انها ترجع الى الله عز وجل . قاله مجاهد . والثاني : الى رسول الله صلى الله عليه وسلم . قاله قتادة . تفسير زاد المسير ج۳ ص ۳۱۰ سورة النور آیت ۶۳ .

(۴) النساء آیت ۱۱۹ .

ترجمه : او زه به خامخا دوی ته حکم ( او تعليم ) ورکړم نو دوی به د الله تعالی پيدا کړي صورت ( کوم چې الله دوی ته ورکړی ) بدَل کړي ( او په دې کې به ناجائز بدلون راولي ) .

**تفسير** : مولانا اَشرف علي تهانوي رحمه الله په بيان القرآن کې ددې آيت په تفسير کې ليکلي چې په تَغْيِيْرِ فِيْ خَلْقِ الله کې ګيره خريل هم داخل دي، او دا د شيطان طريقه ده . (۱)

همدغه رنګې په " تفسيرِحقاني " او نورو تفسيرونو کې هم د تَغْيِيْرِ فِيْ خَلْقِ الله په صورتونو کې د ګيرې خريل يا د قبضې نه کمول هم ذکر شوي . (۲)

پس ګيره د سړي د مَخ د پاره فِطرتًا زِينت دی . او س څوک چې ګيره خرَی يا يې د قبضې نه کموي نو دا سړې د شيطاني وسوسې او ګمراهۍ په وجه د خپل مَخ حُسن او فِطرت مَسخ کوي . (۳)

او د شيطان تابعداري کول ځان له غټه ګمراهي او نقصان دی، چې دا د انسان د جهنم د تللو سبب ګرځي .

## ګيره خريل يا د قبضې نه کمول د مُشرکينو او مجوسو طريقه ده

ګيره خريل او بريتونه غټ پرېښودل چونکه د مشرکينو او مجوسو طريقه ده، نو ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل اُمت د دوی د مُشابهت نه مَنع کړو، او ورته وې وفرمايل :

خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ : وَفِّرُوا اللُّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ . (۴)

تاسو د مشرکينو مخالفت وکړئ : ګيرې اُوږدې کړئ، او بريتونه کټ کړئ .

په يوه بله موقع يې وفرمايل :

(۱) بيان القرآن ج۱ ص ۴۱۰ النساء آيت ۱۱۹ .

(۲) تفسير حقاني ج۳ ص ۲۸۴ النساء آيت ۱۱۹ .

(۳) فقهاؤ په ډيرو واضحو الفاظو کې ليکلي ، حَلْقُ اللِّحْيَةِ مُثْلَةٌ فِيْ حَقِّ الرِّجَالِ . وَالْمُثْلَةُ حَرَامٌ . فَحَلْقُ اللِّحْيَةِ حَرَامٌ . هداية بحواله نورالضحى في ما يتعلق باللحى ص ۲۵ ، وفي الهداية : أَنَّ حَلْقَ الشَّعْرِ فِيْ حَقِّهَا مُثْلَةٌ كَحَلْقِ اللِّحْيَةِ فِيْ حَقِّ الرِّجَالِ . هداية ۱ / ۲۵۵ باب الاحرام كتاب الحج ، فتاوی محموديه ج۲۷ ص ۲۹۳ ، ۲۸۴ .

(۴) بخاري کتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ۵۸۹۲ .

جَزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللُّحٰى ، خَالِفُوا الْمَجُوْسَ . (۱)

تاسو بريتونه کټ کړئ ، او ږيرې غټې کړئ ، د مجوسو مخالفت وکړئ .

دا احاديث صراحتًا په دې دلالت کوي چې ږيره خريل او بريتونه غټ پرېښودل د مُشرکينو او مجوسو طريقه ده ، پيغمبر عليه السلام خپل اُمت ته حکم وکړو چې تاسو د دوی مخالفت وکړئ : ږيرې پرېږدئ ، او بريتونه کټ کړئ . ددې د پاره چې د دوی مخالفت راشي ، او د انبياء کرامو سره مو مُشابهت پيدا شي .

**د ملا علي قاري رحمه الله وينا** : ملا علي قاري رحمه الله ليکلي :

قَصُّ اللِّحْيَةِ كَانَ مِنْ صَنِيْعِ الْأَعَاجِمِ . وَهُوَ الْيَوْمَ شِعَارُ كَثِيْرٍ مِّنْ أَهْلِ الشِّرْكِ وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ كَالْافْرنج ، وَالْهُنُوْدِ ، وَمَنْ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الدِّيْنِ مِنَ الْفِرْقَةِ الْمَوْسُوْمَةِ بِالْقَلَنْدَرِيَّةِ فِيْ زَمَانِنَا . (۲)

ږيره خريل د عجمو طريقه وه ، او نن صبا دا د مشرکينو ، فرنګيانو ، هندوانو او هغو خلقو طريقه ده دکومو خلقو چې په دين کې هيڅ حصه نشته لکه نن صبا زمونږ په دې زمانه کې داد قليندريه په نوم دلې غټه نخه ګرځيدلې ده .

**د مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله وينا** : مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله د ابوداوُد شريف په شرح " بَذلُ المجهود " کې همدا خبره ليکلې : چې ږيره دموټي نه کمول يا خريل د عجمو طريقه ده ، او نن صبا دا د مشرکينو ، انګريزانو او هندوانو غټه نخه ګرځيدلې . (۳)

**د امام نووي رحمه الله وينا** : امام نووي رحمه الله ليکلي دي :

وَكَانَ مِنْ عَادَةِ الْفُرْسِ قَصُّ اللِّحْيَةِ . فَنَهَى الشَّرْعُ عَنْ ذٰلِكَ . (۴)

(۱) مسلم باب خصال الفطرة حديث ۵۵ (۲۶۰) .

(۲) مرقاة ج۱ ص ۳۰۲ کتاب الطهارة باب السواک الفصل الاول ، درمختار على الشامي ۳/۳۹۸ کتاب الصوم مطلب في الأخذ من اللحية ، فتح القدير ۲/۳۴۷ کتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة ، فتاوی محموديه ج۲۷ ص ۴۸۵ .

(۳) بذل المجهود شرح ابوداؤد ۱/ ۱۳۰ .

(۴) شرح مسلم ص ۱۲۹ .

د فارسيانو (مجوسيانو) دا عادت و چې دوی به ګيرې د موټي نه کمې کټ کولی، نو شريعت ددې نه مَنع وکړه.

علماؤ ليکلي چې ځنې مجوسيانو به ګيرې کمولی، او ځنو به خريلی. علامه عيني رحمه الله هم ليکلي:

لِأَنَّهُمْ كَانُوا يُقَصِّرُونَ لُحَاهُمْ . وَمِنْهُمْ مَنْ كَانَ يُحَلِّقُهَا . (۱)

ځکه دې مجوسيانو به ګيرې د موټي نه کمولی، او بعضې په کې داسې وو چې هغوی به ګيرې خريلی.

## ګيره د يو موټي نه کمول د مغربي خلقو او مُخَنّثو طريقه ده

لکه څرنګې چې ګيره خريل حرام دي نو همدغه شان د قبضې نه کمول يې هم حرام دي، فقهاء کرامو ليکلي چې ګيره د يو موټي نه کمول د مغربي خلقو (يعنی د اِسلام دُشمنانو اَنګريزانو)، او مُخَنّثو (يعنی ځان په زوره هِيجړا جوړوونکو خلقو) کار دی.

په "فتحُ القدير" او "درمختار" کې ذکر دي:

وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُوْنَ ذٰلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَ مُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ . وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْدِ الْهِنْدِ وَمَجُوْسِ الْأَعَاجِمِ . (۲)

ګيره د يو موټي نه کمول ددې جواز هيچا نه دې ورکړی (يعنی په يو مذهب کې هم ددې جواز نشته)، او دا کار د مغربي خلقو (اَنګريزانو)، او مُخَنّثو سړو (يعنی هِيجړاګانو) دی. او ټوله ګيره خريل د هندوستان د يهوديانو، او د عجمو مجوسيانو کار دی.

**د مفتي رشيد احمد صاحب تحقيق**: مفتي رشيد احمد صاحب په دې ځای کې ډيره عجيبه خبره ليکلی چې فقهاء کرامو د موټي نه ګيره کمول د دوه قِسمه خلقو کار ګرځولې دی

يو د مغربي خلقو، کوم چې د اسلام سخت ترين دُشمنان دي، يعنی اَنګريزان.

او دويم د مُخَنّثو، کومو چې په زوره د ځان نه هِيجړا جوړ کړې وي.

(۱) اختلاف اُمت اور صراط مستقيم ص ۲۵۳.

(۲) فتح القدير ج۲ ص ۷۷ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة طبع مصر، شامي طبع جديد ج۲ ص ۴۱۸، اختلاف امت اور صراط مستقيم ص ۲۳۸، ۲۶۵، بحر الرائق ج۲ ص ۳۰۲.

مفتي صاحب ليکي چې په عربي کې دوه (٢) الفاظ دي، او د دواړو معنی جدا جدا ده:
يو "خُنثیٰ"، او بل "مُخَنَّث".
خُنثیٰ هغه چاته وايي چې نه نَر وي او نه ښځه. بلکه د نَر او ښځې دواړو علامات په کې موجود وي، کوم ته چې خلق هيجړا وايي، د هيجړا په خپل خِلقت کې هيڅ قصور نه وي. ځکه الله تعالی دې پيدائشي همداسې پيدا کړې وي، نو دده خو هيڅ قصور او جُرم نشته.

او مُخَنَّث هغه چاته وايي چې دې خو الله تعالی نَر پيدا کړې وي، خو دا د الله ﷻ په دې فيصله راضي نه وي، بلکه تمنّا يې دا وي چې "کاش، زه الله ﷻ ښځه پيدا کړې وی" نو ځکه يا د ښځو په شان شکل و شباهت جوړوي، خپله ګيره خرَی، پرتوګ د ګيټو نه ښکته ساتي، سُرخي او پُودَر استعمالوي، او چال چَلن د ښځو په شان کوي، ددې د پاره چې د ښځو په شان ښکاره شم.

## ګيره خريل د ښځو سره مُشابهت کول دي

الله تعالی نارينه او زَنانه دواړه په جدا جدا اَنداز، او جدا جدا شکل پيدا کړي، په دواړو کې يې په مختلفو طريقو سره اِمتياز پيدا کړی، د دواړو په آوازونو کې يې فرق پيدا کړی، سړې يې قوي او ذِمه دار جوړ کړی، او ښځه يې ضعيفه او نازکه ګرځولې، او د ټولو نه غټ فرق يې دا مقرر کړی چې د سړي د پاره يې ګيره زِينَت او د نارينه کيدو نخه ګرځولې، او د ښځو د پاره يې د سَر ويښتان ښائست ګرځولي.

اوس چې څوک ګيره خرَی يا يې د قبضې نه کموي نو په حقيقت کې دې د ښځو سره مُشابهت کوي، حالانکه د ښځو سره په مُشابهت کوونکي باندې په احاديثو کې لعنت راغلې دی، د بخاري شريف حديث دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ . وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ. (١)

---

(١) بخاري بَابُ اَلْمُتَشَبِّهِيْنَ بِالنِّسَاءِ . وَالْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ . حديث ٥٨٨٥ / (اَلْمُتَشَبِّهِيْنَ) في اللباس الخاص . والزينة . والاخلاق . والافعال ونحو ذلک . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت لیږلی دی په هغه سړو باندې چې د ښځو سره ځان مُشابِه کوي، او په هغه ښځو باندې چې د سړو سره ځان مُشابِه کوي.

په مذکوره حدیث کې په هغه خلقو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لعنت ذکر شوی کوم چې د ښځو سره ځان مُشابه کوي، او په یو روایت کې په داسې خلقو باندې د الله لعنت هم راغلی دی.

لَعَنَ اللهُ الْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ . وَلَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ . (١)

الله ﷻ لعنت لیږلی دی (یا دا مطلب چې: د الله ﷻ لعنت دې وي (٢)) په هغه سړو باندې چې د ښځو سره ځان مُشابِه کوي، او الله لعنت لیږلی په هغه ښځو باندې چې د سړو سره ځان مُشابِه کوي.

علامه ذهبي رحمه الله په خپل کتاب الکبائر کې "د سړو مشابهت د ښځو سره یا د ښځو مشابهت د سړو سره" په ګناهِ کبیره کې شمار کړي دي. (٣)

**عبرت**: که چیرته د یو مسلمان په زړه کې څه نا څه ایمان او غیرت موجود وي، او هغه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په دې حدیث باندې سوچ وکړي په کوم کې چې هیجړاګانو او ښځو سره ځان مُشابِه کوونکو خلقو باندې لعنت راغلی نو هغه به هیڅ کله د ګیرې خریلو دا عظیمه ګناه او نه کړي، په کومې سره چې انسان په دُنیا او آخرت دواړو کې د الله او د رسول د لعنت مُستحِق ګرځي.

## نبي علیه السلام هیجړا د مدینې منوّرې نه اُوویسته.

د "شامي" او "فتح القدیر" واله عبارت تیر شو چې ګیره کمول یا خریل د مُخنّثو (یعنی ځان په زوره هیجړا کوونکو خلقو) کار دی، کوم چې په زوره ځان د ښځو سره مُشابِه کوي.

---

(١) المعجم الکبیر للطبراني حدیث ١١٦٤٧.

(٢) "لَعَنَ اللهُ" یَحتَمِلُ الإخبار والدّعاء مرقاة شرح مشکوة ج٤ ص ٤٦٠ باب الترجل. آپ کے مسایل اور ان کا حل ٨ ص ٢٩٧. ملاعلي قاري رحمه الله لیکلي چې دا "لَعَنَ اللهُ" خبرې (بد دُعا) هم کیدې شي، یعنی په داسې خلقو دې د الله ﷻ لعنت وي. او دا جمله خبریه هم کیدې شي، یعنی په داسې خلقو الله ﷻ لعنت لیږي.

(٣) کتاب الکبائر للذهبي کبیره نمبر ٢٣ ص ١٣٩.

او هيجړا توب هغه قبيح کار دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينې منوّرې نه هيجړا ويستې و.

د ابوداؤد شريف حديث دی چې: رسول الله ﷺ ته يو هيجړا راوستې شو، کوم چې په لاسونو او خپو باندې (بِلا ضرورته) نکريزې ايښې وی، نبي اکرم ﷺ وفرمايل:

مَا بَالُ هٰذَا؟ په ده څه شوي؟ (چې په لاس او خپو يې نکريزې ايښې دي).

چا ورته وويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ. اې دالله رسوله! دې ځان د ښځو سره مُشابِه کوي.

نبي عليه السلام دده په باره کې د مدينې منوّرې نه د ويستلو، او نقيع مقام ته د شړلو حکم وکړو. (نقيع: د مدينې منورې په اطرافو کې يو ځاې وُ چې هلته به څاروي څَرولې شو).

صحابه کرامو عرض وکړو:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَلَا نَقْتُلُهُ؟ اې د الله رسوله! آيا مونږ دې او نه وژنو؟ (يعنی اِجازت راکړئ چې د ښځو سره د مُشابهت په وجه مونږ دې قتل کړو).

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

إِنِّيْ نُهِيْتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّيْنَ. (١)

(دا اِيجړا چونکه مونځ هم کوي او) بيشکه زه د مونځ ګزارو د قتل نه منع شوې يم.

په يو روايت کې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته د هيجړاګانو په باره کې حکم وکړو:

أَخْرِجُوْهُمْ مِنْ بُيُوْتِكُمْ. (٢)

تاسو دا مُخَنّثين (يعنی ځان په زوره هِيجړا کوونکي) د خپلو کورونو نه اُوباسئ.

---

(١) ابوداؤد کتاب الادب باب في الحکم في المخنثين حديث ٤٩٢٨.

(٢) ابوداؤد کتاب الادب باب في الحکم في المخنثين حديث ٤٩٣٠، ٤٩٢٩.

**دعبرت مقام** : قدرمنو ! تاسو دیته سوچ وکړئ چې دا هيجړا باوجود ددينه چې مونځ ګزار هم وُ خو چونکه صرف د ښځو سره یې مُشابهت کولو ، په لاس او خپو یې نکريزې بلا ضرورته ایښې وی نوځکه نبي علیه السلام د مدينې منورې نه اُوشړل ، او بیا صحابه کرامو دده د قتل کولو اِجازت اوغوښتو .

نو چې کله د یو مونځ ګزار هيجړا دومره سخت حکم دی ، نو اوس چې کوم سړي ګيره خرابي ، د یهودو عیسایانو مشرکينو مجوسو او د ښځو سره مُشابهت کوي نو دده به څومره لويه ګناه وي ؟ الله ﷻ هر انسان ته ددې نه پناه ورکړي . (۱)

## د کفارو سره د مُشابهت حکم :

اسلام چونکه داسې يو جامع دين دی چې مسلمانانو ته یې د عقائدو او عباداتو سره سره د يو ځان له مُمتاز شکل و صورت جوړولو حکم هم کړې دی ، داسې نه ده چې ګنې مسلمان په خپل شکل و صورت جوړولو کې آزاد دی ، بلکه حضور صلی الله علیه وسلم په سختی سره مسلمانان د غير مُسلمو (یعني مشرکينو ، یهودو ، عيسايانو ، مجوسيانو او هِندوانو) د شکل ، او دهغوی سره د مُشابهت نه مَنع کړې دي ( لکه په مخکيني حديثونو کې چې تير شو : خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ .... خَالِفُوا الْمَجُوْسَ ... وغيره )

نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

لَيْسَ مِنَّا مَنْ عَمِلَ بِسُنَّةِ غَيْرِنَا . (۲)

هغه کس دمونږ نه ندې کوم چې ( زمونږ طريقې پرېږدي او ) د نورو قومونو په طريقو باندې عمل کوي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا . (۳)

---

(۱) مکانة اللحية في الاسلام .

(۲) المعجم الکبير للطبراني حدث ۱۱۳۳۵ .

(۳) ترمذي کتاب الإستيذان باب ماجاء في کراهية إشارة اليد بالسلام حديث ۲۶۹۵ .

هغه کس زمونږ په ډله کې نه دی چا چې د مونږ نه علاوه د نورو قومونو سره مشابهت وکړو.

په خاصکر څوک چې د يو قوم سره د هغوی په مخصوصو اعمالو کې د هغوی مشابهت کوي نو دا سړی د هم هغوی نه شمارلې شي.

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ.(١)

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو اَعمالو کې) مُشابهت وکړو نو دې به د هماغه خلقو په ډله کې شمارېږي (ځکه ده د هغوی په شکل وصورت جوړولو سره د هغوی ډله زياته کړه).

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د مُشابهت نه مراد عام دی که هغه په اَخلاقو کې وي، که په جامو کې وي، او که په شکل وصورت جوړولو کې وي.

اوس ګيره خرېل يا د قبضې نه کمول، او بريتونه غټ پرېښودل هم د مُشرکينو او مجوسو شعار او طريقه ده، نو څوک چې د هغوی مُشابهت کوي نو په کار ده چې په خپل ځان باندې اُوېرېږي. ځکه خُدا نه خواَسته هسې نه چې د قيامت په ورځ د ده حشر د همدغه مشرکينو او مجوسو سره اُوشي، چې دا د مسلمان د پاره سراسر هلاکت او نقصان دی.

بل دا چې د ګيرې پرېښودو عِلت هم همدا دی چې انسان د مشرکينو او مجوسو د مُشابهت نه بچ شي. لهذا په صورت او سيرت دواړو کې د غير مسلمو مشابهت مَنع دی.

## نبي عليه السلام خپل اُمت د غير مسلمو سره د مُشابهت نه منع کړی

که چېرته مونږ د احاديثو په ذخيره باندې نظر واچوو نو دا به راته واضحه شي چې رسولُ الله ﷺ موقع په موقع خپل اُمت د غير مُسلمو او کافرانو د مشابهت نه منع کړی.

(١) رواه ابوداؤد في كتاب اللباس بابٌ في لُبس الشّهرة حديث ۴۰۳۱، و رواه احمد في مسنده ۲/ ۵ . ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکي: مَنْ شبه نفسه بالكفار في اللّباس وغيره، او بالفساق أو الفجّار أو باهل التصوف والصلحاء الأبرار فَهُوَ مِنْهُمْ اى في الإثم والخير قال الطيبي هذا عامٌ في الخَلق والخُلق والشّعار ... مرقاة شرح مشكوة ج۸ ص ۱۵۵ كتاب اللباس.

بلکه نبي عليه السلام او صحابه کرامو به په يو مُستحب کار کې هم د غير مُسلمو د مُشابهت نه ځان ساتل. ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې بيانوم:

١. د مسلم شريف حديث دی، حضرت عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ فرمايي چې رسولُ الله ﷺ زما په بدن باندې دوه د زيړ رَنګ واله جامې وليدی، نو راته وې فرمايل:

إِنَّ هٰذِهٖ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهَا. (١)

دا قِسمه جامې د کافرانو وي، بيا دا مه اَغونده.

٢. د مسلم شريف حديث دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې: کله رسولُ الله ﷺ دعاشورې په ورځ (يعنی د محرم الحرام په لسم تاريخ) روژه اونيوه، او مسلمانانو ته يې هم ددې د نيولو حکم وکړو، نو صحابه کرامو ورته وفرمايل:

يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّهُ يَوْمٌ تُعَظِّمُهُ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى.

اې د الله رسوله ! د عاشورې دا ورځ خو داسې ورځ ده چې يهود او نصارى هم ددې تعظيم کوي (او په دې ورځ روژه نيسي، نو که مونږ يې نيسو نو بيا خو د دوی سره مُشابهت راځي).

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل:

فَإِذَا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ إِنْ شَاءَ اللهُ صُمْنَا الْيَوْمَ التَّاسِعَ. (٢)

آينده کال به انشاء الله مونږ ورسره د نهمې ورځ روژه هم نيسو. (ددې د پاره چې د يهودو او نصارىٰ سره مُشابهت رانه شي).

---

(١) پوره حديث داسې دی: أَنَّ عَبْدَاللهِ بْنَ عَمْرِوبْنِ الْعَاصِ أَخْبَرَهُ. قَالَ رَأَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ: إِنَّ هٰذِهٖ مِنْ ثِيَابِ الْكُفَّارِ فَلَا تَلْبَسْهَا. مسلم باب النهي عن لُبس الرجل الثوب المعصفر حديث ٢٠٧٧. (مُعَصْفَرَيْنِ): اى مَصْبُوْغَيْن بعصفر. (والعصفر): صبغ اصفر اللون. شرح محمد فؤاد عبدالباقي على المسلم

(٢) صحيح مسلم باب اىّ يوم يُصام في عاشوراء حديث (١٣٣) ١١٣٤. وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَئِنْ بَقِيْتُ إِلٰى قَابِلٍ لَأَصُوْمَنَّ التَّاسِعَ. مسلم باب اىّ يوم يُصام في عاشوراء حديث (١٣٤) ١١٣٤. قَالَ: فَلَمْ يَأْتِ الْعَامُ الْمُقْبِلُ حَتّٰى تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

خو د آينده کال راتلو نه مخکې رسولُ الله ﷺ وفات شو.

۳. د ترمذي شريف حديث دی، نبي اکرم صلّی الله عليه وسلم فرمايي:

لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا. لَا تَشَبَّهُوْا بِالْيَهُوْدِ وَلَا بِالنَّصَارَى. فَإِنَّ تَسْلِيْمَ الْيَهُوْدِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيْمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ. (۱)

هغه کس د مونږ نه ندی څوک چې د مونږ نه علاوه د نورو (کفارو) سره مُشابهت کوي، (اې مسلمانانو!) تاسو د يهودو او عيسانانو سره مُشابهت مه کوئ، يقينًا د يهودو سلام په ګوتو سره اِشاره کول دي، او د عيسايانو سلام د لاس په وَرغوي سره اِشاره کول دي.

فايده: پس معلومه شوه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپله هم د غير مُسلمو د مُشابهت نه ځان ساتل، او خپل اُمت يې هم منع کړی.

الله ﷻ دې مونږ ټول د غير مُسلمو د مُشابهت نه اُوساتي، او د خپل محبوب پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په نقشِ قدم باندې دې راته د تللو توفيق رانصيبه کړي، آمين.

## د کافرانو سره مُشابهت خطرناک دی

فقهاؤ خو تر دې پورې ليکلي چې که يو سړې قصدًا د کافرانو مُشابهت اِختياروي، د يهودو او عيسايانو طريقې خپلوي، او په دې باندې راضي هم وي نو بيا دا کس کافِر دی. او که په دې راضي نهٔ نو بيا صرف ګناهګار دی. د يو څو کتابونو عبارات در ته نقل کوم:

۱. د احنافو په مشهور کتاب "معين الفقي" کې ذکر دي:

څوک چې قصدًا د کافرانو مُشابهت اِختيار کړي، يا دعيسايانو طريقې خپلې کړي، يا د هغوی د صَليب نَخه په غاړه کې واچوي، يا د مجوسيانو ټوپۍ په سَر کړي نو په دې سره دا سړې کافر کيږي.

(۱) ترمذي باب ما جاء في كراهية اشارة اليد بالسّلام حديث ۲٦۹٥. هذا حديثٌ اسناده ضعيفٌ، و روى ابنُ المباركِ هذا الحديثَ عن ابنِ لَهِيعَةَ فلم يَرفَعهُ. وقال الالباني: حَسَنٌ

البته علامه ابومسعود رحمه الله او حموي رحمه الله ورسره دا قيد لګولی چې که دغې کارونو د کولو سره سره يې د اِسلام د سپکاوي اِراده هم وه نو بيا دا سړی کافر دی، او که داسلام د سپکاوي اِراده يې نه وه نو بيا ګناهګار دی. (١)

٢. د حنابلهؤ په کتاب " الإنتصار " کې ذکر دي چې چا د کافرانو طريقه خپله کړه، د هغوی لباس يې واغوست، يا يې د هغوی مخصوص پټه اُوتړله، يا يې صَليب په سينه باندې رازوړند کړو، نو دا کارونه ټول حرام دي، بلکه علماؤ پرې د کفر فتویٰ ورکړې. (٢)

٣. شيخ خليل المالکي رحمه الله په " المختصر " کې ليکلي دي:
مسلمان په هغه وخت کې کافر کيږي چې کله دې (نَعوذُ بالله) حضرت عُزير عليه السلام ته د الله ﷻ ځوي اُووايي، يا نور کفري الفاظ ووايي، يا داسې کفري کارونه وکړي چې هغهَ د کافرانو سره خاص وي، لکه دکافرانو مخصوصه پټه زوړندول، يا د يهودو او عيسايانو خاص ټوپۍ استعمالول. (٣)

## نبي عليه السلام ګيره خرَيونکي ته کتل هم خوښ نه کړه

ګيره خريل داسې بَدترينه ګناه ده، او درسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورنه دومره نَفرت ؤ چې دوی ګيره خرَيونکي کس ته کتل هم خوښ نه کړه، او مخ يې ورنه اُوګرځول.

علامه ابن کثير رحمه الله په " البداية والنهاية " کې، او علامه ابن اثير رحمه الله په خپل کتاب " الکامل فی التاريخ " کې يوه واقعه رانقل کړې:

چې کله نبي کريم ﷺ د مختلفو ملکونو بادشاهانو ته د اسلام د دعوت په باره کې خطونه وليږل، نو په دې کې يې يو خط د فارس بادشاه کِسریٰ ته هم د حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه په لاس ور وليږل، چې په هغې کې ده ته هم د اسلام دعوت ورکړې شوې ؤ.

کله چې هغه د نبي عليه السلام خط اوکته نو وې شلول، او وې ويل:

زما غلام او ماته داسې خط ليکل؟

---

(١) معين المفتي، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٦.

(٢) الانتصار، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٧.

(٣) المختصر للخليل المالکي باب الردة، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٧.

يا ده خپل ګورنر " بازان " ته خط وليږل کوم چې د يمن ګورنر ؤ ، ده ورته ليکلي وو ، چې دوه مضبوط کسان حِجاز (يعنى مدينې منوّرې) ته وليږه ، چې دغه حِجازي کس ماته راولي ، کوم چې ماته خط راليږلې دی .

نو بازان دوه مضبوط کسان (بابويه او خرخسره) د پيغمبر عليه السلام پسې ور وليږل کله چې دا دوه کسان مدينې منوّرې ته راغله او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو ، دوی چونکه ګيرې خريلې وی او بريتونه يې غټ پريخي وو :

فَكَرِهَ النَّظَرَ إِلَيْهِمَا . پيغمبر عليه السلام دوی ته کتل هم خوښ نه کړه (او مخ يې ورنه اوګرځول) ، او ورته وې ويل :

وَيْلَكُمَا مَنْ أَمَرَكُمَا بِهٰذَا ؟ تاسو لره هلاکت دی ، تاسو ته ددې ګيرې خريلو حکم چا کړی ؟

هغوی ورته وويل : أَمَرَنَا رَبُّنَا ، يَعْنِيَانِ كِسْرٰى . مونږ ته خپل رب يعنى کسرىٰ بادشاه ددې حکم کړی . (عجمي خلقو به خپل بادشاه ته رَب ويل) .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

وَلٰكِنْ رَبِّيْ أَمَرَنِيْ بِإِعْفَاءِ لِحْيَتِيْ وَقَصِّ شَارِبِيْ . (۱)

ليکن ماته خو زما رب د ګيرې د غټولو او بريتونو د کټ کولو حکم کړې دی .

(نوټ : دا اُوږده واقعه ده خو ما صرف مطلبي ځای ورنه رانقل کړو . ابو الشمس)

**فايده** : په دې واقعه کې يو څو خبرې د سوچ قابلې دي : اوله دا چې دا دوه کسان د بادشاه قاصدان وو ، او د هر قاصِد احترام کولې شي اګرچې هغه کافر او دُشمن هم وي .

دويم دا چې دا دواړه ميلمانه وو ، او نبي عليه السلام به د ميلمنو ډير قدر کولو .

خو باوجود ددينه د ګيرې خريلو په وجه رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دوی ته هيڅ توجّه ورنه کړه ، او دوی ته يې کتل هم خوښ نه کړه .

(۱) البداية والنهاية ج۳ ص ۲۶۹ ، حياة الصحابة ج۱ ص ۱۱۵ ، الكامل فى التاريخ لابن الير الجزري ۲ / ۹۷ طبع دارالكتب العلمية بيروت، كتاب الوفاء بأحوال المصطفى ، مكانة اللحية فى الاسلام ۲۵ ، اختلاف امت اور صراط مستقيم ص ۲۳٦ ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۲۹٦ .

ددينه به تاسو ته د ګيرې خرېلو د ګناه اَندازه هم لږيدلې وي چې دا څومره عظيمه ګناه ده.

بل دا چې څوک په دُنيا کې د حضور صلى الله عليه وسلم په شان خپل شکل و صورت جوړول نه خوښوي نو هغه به د پيغمبر عليه السلام د شفاعت اُميد څنګه او ساتي؟

څکه چې په دُنيا کې رسول عليه السلام ګيره خرَيونکي ته کتل خوښ نه کړه نو په قيامت کې به د هغه شفاعت څنګه وکړي؟

## ګيره خريونکې هر وخت او په هر ځاى کې مسلسل ګناهګار وي

عام ګناهونه (لکه زِنا، لِواطت، شراب څکل، سود خُوري وغيره) داسې دي چې تر څو پورې انسان په دې ګناهونو کې اَخته وي نو دې ګناهګار وي، او دايمان نور دده نه جدا وي، خو چې د ګناه نه فارغ شي نو بيا د اِيمان نور ورته واپس راشي، او د ګناه کولو سزا ورپسې نور ليکل بند شي.

د مسلم شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَزْنِي الزَّانِيْ حِيْنَ يَزْنِيْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ. وَلَا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِيْنَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ. (۱)

زاني چې کله زِنا کوي نو په دې وخت کې دې مومِن نه وي، هم دغه رنګې غَل چې کله غَلا کوي نو په دې وخت کې دا مومِن نه وي.

يعنى ددې ګناهونو کولو په وخت کې دده اِيمان کامِل نه وي، او د اِيمان نُور دده نه جدا وي، خو چې کله د ګناه نه فارِغ شي نو نُورِ اِيماني ورته واپس راشي، او د ګناه ليکل دده پسې نور بند شي.

خو ګيره خرېل داسې بَدترينه ګناه ده چې تر څو پورې ده ورنه توبه نه وي ويستي هر وخت دې ګناهګار وي، او ګناه ورپسې مسلسل ليکلې شي: که انسان روان وي نو هم ګناهګار دى، که ناست وي نو هم ګناهګار دى، که مونځ کوي نو هم ګناهګار دى، که روژه يې نيولې وي نو هم ګناهګار دى، که د بيتُ الله طواف کوي نو هم ګناهګار دى، که حجرِ أسود څُکلوي نو هم ګناهګار دى، که د نبي عليه السلام د رَوضې مبارکې مخامخ درود و سلام وايي نو هم ګناهګار دى، حتّى چې د هر عبادت کولو په وخت دې ګناهګار دى.

(۱) مسلم باب بيان نقصان الايمان بالمعاصي ... حديث ۵۷، وهكذا ذكر البخاري في صحيحه، مشكوة ص ۱۷.

ځکه د ګيرې خرېلو دا ګناه دائمي ده ، څليريشت ( ٢۴ ) ګنټې د ده په مَخ باندې د ګناه اَثر وي ، او دا مَسخ شوې صورت يې هر وخت د نبي عليه السلام د طريقې خلاف ښکاري .

ګويا هر وخت دا انسان دا ګناه نوې نوې کوي ، نو د ګيرې خريلو دا ګناه مسلسل ده پسې ليکلې شي .

او ددې سره دا خبره لازمي ده چې ده ايمان به کامل نه وي ، او د ايمان نُور به ده نه هميشه لرې وي ، چې په نتيجه کې به يې ايمان ناقص او کمزورې وي .

علماؤ ليکلي دي : دا خو ښکاره خبره ده چې څوک عينِ د عبادت کولو په وخت کې د الله تعالى نافرماني کوي نو دده عبادت به څه قبول شي ؟ او ګيره خريل يا د موټې نه کمول خو داسې ګناه ده چې هر وخت د انسان سره يو ځاى وي . (١)

لهذا انسان دې د ځان سره سوچ وکړي او د خپل عقل نه دې پوښتنه وکړي چې کله د يو کس په مَخ باندې د عبادت په دَوران کې هم د الله ﷻ د نافرمانۍ نخه ( ګيره خريل يا د موټې نه کمول ) موجوده وي ، او دا کس په دې باندې پښيمانه او ملامَته هم نه وي ، او ددې ګناه نه توبه هم نه اُوباسي ، نو آيا دغه عبادت به قبول شي او که نه ؟ (٢)

خلاصه دا چې دا نور ګناهونه يو مَحدود وخت لري ، په هماغه وخت کې د انسان پسې ددې ګناه ليکلې شي ، خو د ګيرې خريلو ګناه دائمي ده ، هر وخت انسان په ګناه کې اَخته وي، او تر څو پورې يې چې ورنه توبه نه وي ويستې هر وخت دده پسې دا ګناه مسلسل نوې نوې ليکلې شي .

بل دا چې د انسان په وجود کې مُشرَف اَندام مخ دى . اوس چې د انسان دغه مُشرَف او مبارک مخ هم لائق د لعنت وي ، او د رسولُ الله ﷺ د طريقې خلاف وي نو دا خو د انسان د پاره غټه بَدبختي ده .

(١) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣١٥ تخريج شده ايڈيشن .

(٢) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣٢٠ تخريج شده ايڈيشن .

# ګيره خريل ښکاره ګناه . او ښکاره بغاوت دی

محترمو ! ګناهونه په دوه (٢) قِسمه دي : يو قِسم هغه ګناهونه دي چې انسان يې په پټه باندې کوي ، او دويم قِسم هغه ګناهونه دي چې انسان يې بَر سَرِ عام ښکاره کوي .

پس کومه ګناه چې انسان په پټه باندې کوي نو اُميد شته چې ده ته معافي وکړې شي .

ليکن کومه ګناه چې انسان ښکاره کوي ، نه د الله ﷻ نه شَرميږي ، او نه د انسانانو نه شرميږي نو دداسې کس د پاره دمعافۍ دروازه هم بنده وي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ... (١)

زما هر يو اُمتي قابل د معافۍ او بخنې دی ( چې الله ﷻ يې په خپل فضل او رحم سره ټول ګناهونه معاف کړي ) مګر څوک چې ښکاره ګناهونه کوونکي وي هغوی ته الله ﷻ معافي نه کوي ( تر څو پورې يې چې ددې ښکاره ګناه نه توبه نه وي ويستې ، او ددينه منع شوې نه وي ) .

مُجاهرين هغه چاته وايي چې بَر سَرِعام ښکاره ګناه کوي ، نه د الله ﷻ نه شرميږي او نه د بندګانو نه .

اوس ګيره خريل يا د موټې نه کمول هم ښکاره ګناه ده ، چې په هر ځای کې يې خلق ښکاره کوي ، د هيچا نه نه شرميږي ، بيا دګيرې خريلو نه روستو دا ګير خريلي ددې مَسخ شوې صورت سره په ښکاره باندې په معاشره کې ګرځي راګرځي ، حالانکه دده په مخ باندې د ګناه آثر ښکاره موجود وي .

ګويا دا ګير خريلي بَزَبانِ حَال خلقو ته دا واضحه کول غواړي چې اوګورئ ما څنګه په ښکاره طريقې سره د الله او د رسول حکم مات کړو ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم

---

(١) بخاري باب ستر المومن على نفسه حديث ٦٠٦٩ ، مسلم الزهد والرقائق باب النهي عن هتك الانسان ستر نفسه حديث ٢٩٩٠ .

﴿ مُعَافًى ﴾: اى يَعْفُوا اللهُ عَنْ زَلَّتِهِ بِفَضْلِهِ وَرَحْمَتِهِ . ﴿ اَلْمُجَاهِرِيْنَ ﴾: المعلنون بالمعاصي والفسوق . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

ښائسته سُنت او واجب عمل مې د خپو لاندې کړو ، او د رسولُ الله ﷺ د شکل و صورت بَرخلاف د مشرکينو او مجوسيانو شکل مې جوړ کړو .

نو ځکه ګيره خريل غټه ګناه ده .

بلکه که مونږ د دُنيا قانون ته اوګورو نو کوم مُجرم چې په پټه باندې جُرم کوي نو حکومتِ وقت د هغه سره د نرمۍ معامله کوي ، او اُميد شته چې هغه معاف کړي .

ليکن کوم مُجرم چې ښکاره مقابلې ته راشي ، او د بَغاوت جَنډه اُوچته کړي نو د دُنيا په هيڅ قانون کې هم دا مُجرم د معافۍ حَقدار نه دی ، بلکه د اکثرو په نزد د سزاے موت حقدار دی . نو چې کله د دُنيا د يو وړوکي قانون ښکاره باغي ته دومره سخته سزا ده ، نو اوس چې کوم کس ښکاره ګيره خرَی ، او په ښکاره طريقې سره د الله او د رسول نافرماني کوي نو آيا ددې کس د پاره به څومره سخته سزا د الله ﷻ په نزد مقرر وي ؟

او همدغه مطلب د رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې حديث مبارک دی چې :

كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ .

## ګيره خريل د حضرت لوط عليه السلام د قوم عمَل دی

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير " اَلدُّرُّالْمَنْثُوْر فِي التَّفْسِيْرِ بِالْمَأْثُوْر " کې ليکلي دي چې : الله ﷻ د کومو ګناهونو په وجه د حضرت لوط عليه السلام قوم تباه کړې وُ ، په هغې کې د يوې ګناه ذکر خو قرآن کريم کړی : چې په دوی کې د لِواطت بيماري وه ، يعنی د هلکانو سره به يې بَدفعلي کوله ، او د نورو ګناهونو ذکر رسولُ الله صلی الله عليه وسلم کړی چې : دوی به ګيرې خريلی ، د خپو ګيتې به يې پټې ساتلی ، او په سَندرو (ګانو بجَانو) کې به اَخته وو . (۱)

او دوی به دا ګيرې ځکه خريلی چې دوی کې به کومو کسانو لِواطت کولو نو هغوی به د خلقو ځان طرف ته مائله کولو د پاره ګيرې خريلی ، يا به يې لنډولی ، ددې د پاره چې د بَدکِرداره خلقو ورته ميلان پيدا شي . (۲)

---

(۱) تفسير درمنثور .

(۲) از افادات مفتي رشيد احمد صاحب .

## د ګیرې په خرېلو یا د موټې نه په کمولو سره نبي علیه السلام خفه کیږي

په احادیثو کې ذکر دي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته د اُمت اَعمال پیش کولې شي . اوس چې کله د یو مسلمان دګیرې خریلو عمَل پیغمبر علیه السلام ته پیش شي نو هغوی به پرې څومره خفه شي .

د دُنیا قانون دادی چې هیڅ کله عاشِق خپلې معشوقې او مَحبوبې ته تکلیف ورکول نه غواړي ، او هیڅوک خپل مُحسِن خفه کول نه غواړي .

نو رسول الله ﷺ خو دخپل اُمت دپاره ډېر تکلیفونه برداشت کړي ، هر وخت او په هر ځای کې یې د اُمت د بخښې د پاره الله ﷻ ته ډېر سوالونه ، زارۍ او ژړاګانې کړي .

اوس چې کله د یو اُمتي دګیرې خریلو عمل هغوی ته پیش شي نو په دې سره به د هغوی زړه ته څومره تکلیف اُورسي ؟ چې دا خو زما هغه اُمتیان دي چې د دوی د هدایت او بخښې د پاره ما شپه او ورځ الله ﷻ ته سوالونه کول ، لیکن دوی ته زما شکل و صورت جوړول هم خوښ نه دي ، بلکه دوی زما د شکل سره داسې نَفرت لري چې زما د شکل جوړولو په ځای دوی د اسلام د دُښمنانو یعنی مشرکینو او مجوسو شکل جوړ کړې دی .

الله ﷻ دې په هر مسلمان کې دا اِحساس پیدا کړي چې داسې عمل او نه کړي په کوم چې عظیم مُحسِن ، سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم خفه کیږي .

## د میرزا قتیل واقعه :

میرزا قتیل د دِهلي ( هندوستان ) یو مشهور شاعِر تیر شوی دی ، د پیغمبر علیه السلام په شان او صفت کې یې اُوږدې اُوږدې قصیدې او اشعار جوړ کړي ، د اِیران یو کس دده دا اَشعار واوریده نو ډیر متأثِره شو ، او په زړه کې یې د میرزا قتیل سره د ملاقات شوق راپیدا شو ، ځکه دده داګمان وُ چې ګني دا به ډیر لوي عالِم او بزرګ انسان وي ، نو د اِیران نه دده د ملاقات د پاره روان شو ، کله چې دِهلي ته اورسیده ، نو په پوښتنه پوښتنه یې دده کور پیدا کړو ، دده پوښتنه یې وکړه ، کور واله ورته وویل چې بهر وتلی دی ، دې د هغه د تلاش پسې رااُووت ، د نایي ( حجام ) په دُکان کې یې ولیده چې ګیره یې خریله .

دې بزرګ چې کله ميرزا صاحب په دې حالت کې وليده نو حيران شو چې دا خوهغه شخصيت دی چې ده د پيغمبر عليه السلام په باره کې بهترينې قصيدې او اَشعار جوړ کړي حالانکه دې خو ګيره خری ، نو بې اِختياره يې د خُولې نه اُووت :

آغا ريش مے تراشي؟

صاحبه ! ته خو ګيره خری ، دا ولی ؟

دا شاعِر حاضِرجوابې وُ ، دې کس ته يې جواب ورکړو :

ريش را مے تراشم ولے دلِ کسے نه مے خراشم .

ګيره خريم خو ليکن د چا زړه نه زخمي کوم (يعنی چا ته تکليف نه ورکوم) .

د شاعر مقصد دا وُ چې ګني ګيره خريل دومره غټه ګناه نه ده ، بلکه د مسلمان زړه آزاره وَل او خفه کول غټه ګناه ده .

نو دې کس ورته عجيبه جواب ورکړو :

آرے دلِ رسول الله را مے خراشي .

( اې ظالِمه ! دا صحيح ده چې ته د چا مسلمان زړه نه زخمي کوی خو د سُنتو په پريخودو سره ) ته خو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم زړه زخمي کوی .

يعنی کله چې ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سُنت پريږدی او ستا دا عمل پيغمبر عليه السلام ته پيش شي نو په دې سره رسول الله ﷺ خفه کيږي .

کله چې دې شاعر دا خبره واوريده نو ډير غټ اَثر يې ورباندې وکړو ، او د بې هوشۍ عجيبه کيفيت ورباندې راغی ، کله چې په هوش کې راغی نو د ګيرې خريلو نه يې پَخه توبه اُوويسته ، او دې بزرګ ته يې وويل :

جَزَاکَ الله که چشمم باز کردي ٭ مارا باجانِ جان همراز کردي

الله تعالی دې تا ته خير درکړي چې تا زما سترګې کلاوُ کړی ، او تا زما رابطه زما د محبوب سره جوړه کړه .

**فايده** : پس معلومه شوه چې کله نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ته د مسلمانانو د ګيرې خريلو عمل پيش شي نو يقيني چې ډير به ورباندې خفه کيږي .

## په کوم زړه کې چې د نبي ﷺ د شکل مبارک سره نفرت وي په هغې کې ايمان باقې نه پاتې کيږي

کله چې د يو مسلمان په زړه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شکل و صورت سره نَفرت وي ، او دا ورته ښه نه ښکاري ، بلکه د مشرکينو او مجوسو دشکل سره يې محبت وي، او د دوی په شان خپل شکل جوړوي نو په داسې زړه کې اِيمان هيڅ کله باقي نه پاتې کيږي .

ځکه چې د چا په زړه کې يقيني د پيغمبر عليه الصلوة والسلام سره محبت وي نو هغه خامخا د دوی شکل هم جوړوي .

دا خو عجيبه خبره ده چې يو طرف ته په خُله باندې د رسول الله ﷺ دمحبت دعویٰ کوي ، او بل طرف ته د هغوی د شکل سره دومره نَفرت لري چې ګيره نه پريږدي ، بلکه د يهودو ، مجوسيانو ، عِيسيَانو او مشرکينو په شان يې ګيره خريلې وي ، نو داسې کس خو په خپله دعویٰ کې خالصه دروغجن دی .

آخِر داسې څه مجبوريت دی چې مسلمان د خپل خوږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله ﷺ شکل پريخود ، او د غير مُسلمو په شان يې خپل صورت جوړ کړو ؟

الله ﷻ دې په هر مسلمان کې دا فکر او اِحساس پيدا کړي چې په هر کار کې د نبي عليه السلام اِتباع وکړي .

## ګيره خريونکې به قيامت کې په کومو سترګو د نبي ﷺ سره مخامخ کيږي ؟

حديث کې راځي چې انسان په کوم حالت کې وفات شي نو په همدغه حالت کې به د قيامت په ورځ دده حشَر کيږي . مثلاً د زِنا ، غلا ، او شرابو څکلو په حالت کې وفات شي نو په همدغه حالت کې به د قيامت په ورځ راپاځي . او که د نيک کار کولو په وخت انسان وفات شي نو هم په همدې حالت کې به دده حشَر کيږي .

اوس چې کوم انسان ګيره خريلې وي ، يا يې د موتې نه کمه کړې وي ، او دې په دې حالت کې وفات شي نو د قيامت په ورځ دده حشر به هم په همدې ګيره خريلو حالت کې کيږي .

نو دا انسان به څنګه د شفاعت د پاره د نبي علیه السلام سره مخامخ شي ؟ ځکه ده خو د هغوی په شان خپل شکل و صورت نه دې جوړ کړی ، بلکه د مشرکینو او مجوسو شکل يې جوړ کړې دی.

حالانکه پيغمبر علیه السلام په دُنيا کې ګيره خريونکي ته کتل هم نه دي خوښ کړي ، او مخ مبارک يې ورنه ګرځولې دی.

نو انسان که په دې مَسخ شوي صورت کې د رسولُ الله ﷺ سره مخامخ شي ، او خُدا نَخَواسته نبي علیه السلام ورنه مخ مبارک واړوي ، او ورته ووايي چې :

ما خو په دُنيا کې د خپل اُمت د پاره ډير تکليفونه برداشت کړي وو ، د دوی د بخښنې د پاره مې تَوله شپه الله ﷻ ته ژړا او زاري کوله، او په هر حالت کې مې خپل اُمت ياد ساتلی ، خو اې انسانه ! تاته زما شکل و صورت جوړول هم خوښ نه وو ، چې زما په شان ګيره دې پريخې وی ، بلکه د مجوسو او عيسايانو په شان شکل دې جوړ کړی دی.

نو چې کله رسول علیه السلام انسان ته دا خبره وکړي نو بيا به د انسان د پاره بله کومه آسره پاتې شي چې دده په کار راشي ؟

لهذا انسان ته په دُنيا کې د خپل محبوب محمدرّسولُ الله صلی الله علیه وسلم په شان شکل و صورت جوړول په کار دي چې صبا د قيامت په ورځ خو هغوی سره سترګې مخامخ کولی شي.

## په ګيره خريونکي به نبي ﷺ څنګه د اُمتي کيدو ګمان وکړي ؟

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي چې زه به په حوضِ کوثر باندې يم او خپل اُمت ته به اُوبه ورکوم ، او څوک چې ددې نه اُوبه اُوڅکي هغه به بيا هيڅ کله نه تږې کيږي.

خو څه کسان به داسې وي چې هغوی به حوضِ کوثر ته راتلل اوغواړي ، خو فرښتې به يې منع کړي ، نه به يې پريږدي ، زه به ورته ووايم :

إِنَّهُمْ أُمَّتِيْ. دوی خو زما اُمّتيان دي.

فرښتې به عرض وکړي : إِنَّكَ لَاتَدْرِيْ مَا أَحْدَثُوْا بَعْدَكَ.

تاته پته نشته چې دوی د تاسو نه روستو څومره بِدعات اِيجاد کړي .(يعنې په ظاهره خو دا تاسو ته خپل اُمتيان ښکاري ، خو دوی په دين کې نوې نوې خبرې ايجاد کړې وی ) .

نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي چې زه به ووايم :

سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِيْ . (۱)

چا چې زما نه پس دين بدل کړی هغوی د پاره هلاکت او لرې والې دی ، دا د مانه لرې کړئ .

فايده ..... د عبرت مقام دی چې کله ددې بدعتيانو شکل و صورت د مسلمانانو په شان وُ ، ګيرې يې پريخې وی ، ځکه خو نبي اکرم ﷺ ورباندې د اُمتي کيدو شک راغی ، او فرښتو ته يې وويل چې دا خو زما اُمّتيان دي ، ولې يې منع کوئ ؟ خو چې کله ورته د هغوی حقيقت معلوم شو نو پيغمبر عليه السلام وفرمايل : د دوی د پاره هلاکت او لرې والې دی ، دا د مانه لرې کړئ او جهنم ته يې بوځئ .

اوس چې چا د مُشرکينو او مجوسيانو غوندې ګيره خرېلې وي ، او بريتونه يې غټ پريخي وي ، د مسلمان شکل يې د سره نه وي جوړ کړی ، نو آيا په ده باندې به نبي عليه السلام د اُمّتي کيدو ګمان وکړي ؟ آيا دا کس به فرښتې حوضِ کوثر ته راپرېږدي ؟

الله ﷻ مو دې د داسې بدحالت نه اوساتي . لهذا مسلمان ته د اوس نه سوچ په کار دی او د اوس نه خپل شکل د رسولُ الله ﷺ غوندې جوړول په کار دي ، ددې د پاره چې د قيامت په ورځ د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم د حوضِ کوثر اُوبه او شفاعت خو راته نصيبه شي .

# ګيره خريل او بيا د نبي ﷺ روضې مُبارکې ته حاضري کول ؟

محترمو مسلمانانو ! ډيره د اَفسوس خبره ده چې ډير خلق داسې دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم روضې مبارکې ته هم په داسې حالت کې حاضري کوي چې ګيره يې پاکه خريلې وي ، او د نبي ﷺ طريقې خلاف يې خپل شکل جوړ کړې وي.

نو کم از کم انسان ته دا سوچ په کار دی چې زه په دې حالت کې د خپل خوږ پيغمبر روضې مبارکې ته حاضرېږم ، نو آيا نبي عليه السلام به په دې نه خفه کيږي چې ما د هغوی د شکل و صورت خلاف د اِسلام د دُشمنانو ، د مشرکينو او مجوسو شکل جوړ کړی ؟ آيا دا د پيغمبر ﷺ په شان کې بې اَدبي نه ده ؟

لهذا انسان ته په کار دي چې کله د سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم روضې مبارکې ته حاضرېږي نو کم از کم چې دا خپل مَسخ شوې شکل و صورت خو صحيح کړي ، د نبي ﷺ د سُنتو موافق ګيره پرېږدي ، ددې ګناه نه توبه اُوباسي ، او آينده ددې نه دبچ کيدلو پوخ عزَم او پخه اِراده وکړي .

او که داسې او نه کړي نو خُدا نَه خَواسته هسې نه چې په دې حاجي باندې د شيخ سعدي رحمه الله دا شِعر صادق شي ، هغه وايي :

خَرِ عيسیٰ اګرش به مکه رود ❁ چو بيايد هنوز خَر باشد

د حضرت عيسی عليه السلام خَر که چيرته مکې ته هم لاړ شي ، خو چې واپس راشي نو هماغه خَر به وي . (١)

قدرمنو ! چې کله د يو انسان په زړه کې د نبي کريم ﷺ د شکل مبارک سره نَفرت وي ، او د هغوی شکل جوړول نه غواړي نودې به د هغوی سِيرت څنګه خپل کړي ؟

او چې د چا شکل او سِيرت دواړه د پيغمبر خلاف وي نو د هغه په زړه کې به د نبي عليه السلام سره محبت څنګه راشي ؟ ځکه که دده په زړه کې يقيني د هغوی سره محبت وی نو بيا به يې د هغوی هره اَداء خپلوله .

او کله چې په زړه کې د رسولُ الله ﷺ سره محبت نه وي نو بيا د انسان اِيمان هم کامِل نه وي . ځکه پيغبر عليه السلام فرمايي :

لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَ وَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْن . (٢)

---

(١) اختلاف اُمت اور صراط مستقيم ص ٢٣٢ .

(٢) رواه البخاري كتاب الايمان باب حبّ الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان حديث ١٥ ، واخرجه مسلم في الايمان بابُ وجوب محبة رسول الله صلى الله عليه وسلم أكثر من الاهل والولد والوالد رقم ٤٤ .

په تاسو کې یو کس تر هغه وخته پورې کامِل مؤمن نشي جوړیدی تر څو پورې چې ده ته زه د خپل پلار، خپلو بچو او ټولو خلقو نه زیات محبوب نه شم.

او محبت هلته راځي چې انسان د هغوی شکل و صورت، او د هغوی سیرت خپل کړي.

## په اَربونو روپی روزانه د ګیرې په خرېلو خرچ کیږي

عزت منذو ! دا څومره د افسوس خبره ده چې په هر اسلامي ملک کې د ورځې په کروړونو او اَربونو روپی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سُنتو ختمولو ( یعنی ګیره خرېلو ) باندې خرچ کیږي، که د میاشتې یا کال حِساب وکړې شي نو هغه د شمار نه هم بهر دي. حالانکه که دا روپی په غریبانو، کونډو، او یتیمانو باندې خرچ کیدی، یا په یو دیني کار کې خرچ کیدی نو څومره به ښه وُ.

خو مسلمان د غفلت په خوب اُوده دی، د دُنیا او آخرت دواړو نقصان یې کیږي خو دې یا هم نه راپیداریږي.

## د ګیرې خرېلو سائنسي، طِبي، او ډاکټري نقصانات

په ګیره پرېخودو کې لکه څرنګې چې بې شماره دُنیوي او اُخروي فائدې دي نو همدغه رنګې د ګیرې په خرېلو کې هم ډېر نقصانات دي. یو څو نقصانات ستاسو د وړاندې ذکر کوم:

۱ . **مردانه قوت کمزورې کیدل** : ټول ماهِر ډاکټران او طبیبان په دې مُتفِق دي چې کله د ګیرې خرېلو په وخت پَترې ( بلیډ ) په مخ راښکلې شي، نو دې سره مردانه قوت کمزورې کیږي.

تر دې پورې چې که په یو خاندان کې د اُووه ( ۷ ) پُشته پورې مسلسل ګیره اُوخرېلې شي ( یعنی د یو کس څامن، نیا دده نمَسي، کړوَسي ... وغیره همداسې د اُووم پُشت پورې مسلسل ګیره اُوخرئ ) نو اَتم ( ۸ ) پُشت به داسې پیدا کیږي چې په هغوی کې به مردانه قوت بالکل نه وي، او د مادهٔ مَنوِیه نه به بالکل محروم وي، ځکه د ګیرې د ماده مَنوِیه سره قوي تعلق دی.

۲ . **جلدي امراض (Skin diseseases) پیدا کېدل** : څوک چې ګیره خرَي نو د بلېډ په استعمال سره دده د مخ پوستکي ته سخت نقصان رسي ، ځکه په دې سره دده د مَخ پوستکې حساس ( Sensitive ) شي ، او ډېرې بیمارۍ ورته پیدا کیږي .

همدغه رنګې د بلېډ په استعمال سره دده د مَخ په پوستکي داسې زخم پیدا کیږي چې په سترګو نه ښکاري خو د سوَزېدو اِحساس سرې ته کیږي ، یا چې کله په دې ځه ښَارخ پیدا شي نو مختلف قِسمه خطرناک جراثیم ددې د لارې نه وجود ته داخلیږي ، او انسان ته د پوستکي مختلف قِسمه بیماریانې پیدا کیږي .

۳ . **د سترګو نظر کمزورې کېدل** : د ګیرې خرېلو په وخت چې کله بلېډ یا چاړه په مخ وهلې شي نو په دې سره د سترګو رګونه متأثره کیږي ، دغه وجه ده چې څوک ګیره خرَي نو د ځوانۍ نه د هغه د سترګو نظر کمزورې وي .

٤ . **د مرۍ او سینې رګونه متأثر کېدل** : په مَخ باندې د پَترې راښکلو په وجه د انسان د مَرۍ او سینې رګونه متأثره کیږي ، چې ددې په وجه انسان د سینې په مختلف بیماریانو کې اَخته کیږي .

۵ . **اَعصابي او جِنسي نظام متأثره کېدل** : د مسلسل ګیرې خرېلو په وجه د انسان په غده نخامیه ( Pituatary gland ) ډېر غلط اَثر غورځي ، چې ددې په وجه د انسان اَعصابي نظام ( Nervous system) او جِنسي نظام هم ډېر متأثره کیږي .

## د ګیرې په باره کې د یو عیسائي ډاکټر (چارلس هومر ) تحقیق

د امریکې یو مشهور عیسائي ډاکټر ( چارلس هومر ) ته ګیره خرَیونکو ځوانانو یو خط ولیږل ، په دې خط کې دې ځوانانو د ډاکټر نه دا مطالبه کړې وه چې ته داسې یو اِنجِکشَن (ستَن ) اِیجاد کړه چې د هغې په لږولو سره یا په ټول عُمر کې د انسان په مخ باندې ګیره نه راخیجي، ځکه هر وخت د ګیرې په خرېلو سره زمونږ قیمتي وخت او قیمتي سَرمایه خرچ کیږي . ډاکټر چارلس هومر ورته جوابي خط ور ولیږل (د هغې مضمون ستاسو د وړاندې ذکر کوم) :

" څه خلقو د مانه دا مطالبه کړې چې داسې يو انجکشن ايجاد کړه چې د هغې په لګولو دوباره ګيره نه راخيږي او د هغوی قيمتي وخت او مال بچ شي ، ليکن زه نه پوهيږم چې دا خلق دد ې ګيرې نه ولې دومره يَرېږي ؟ دوی خو د سَر ويښتان ښه اُوږده اُوږده پرېږدي نو د ګيرې په پرېښودو کې بيا څه عيب دی چې دوی يې نه پرېږدي ؟

کله چې د انسان د سَر ويښتان او غوږونه او نور خپل ځان ورته ګنجي معلوميږي او پرې شرميږي ، خو ډيره عجيبه خبره داده چې خپله ګيره په خپل لاس صفا کوي خو بيا هم څه شَرم او پښيمانتيا نه محسوسوي . سره ددينه چې ګيره د نارينه کيدو غټه نخه ده ، په دې سره مردانه قوت زياتيږي ، په دې سره په انسان کې شجاعت ، بهادري او رُعب پيدا کيږي ، او د سړي او ښځې په مينځ کې فرق کوونکې ده ، د ګيرې په وجه انسان د مخ او څرمې د ډيرو بيماريو نه محفوظه کيږي ، د ګيرې په وجه انسان د خپل عزت خيال ساتي .

يو ځوان به څنګه دا آرزو وکړي چې دده مخ دې د ښځو يا ماشومانو په شان شي ، ځکه ګيره خو د سړي د مَخ د پاره زينت دی ، او څوک چې د ګيرو پورې خاندي نو دا په حقيقت کې د حضرت مسيح (يعنی حضرت عيسی ) عليه السلام پورې خاندي ، ځکه د هغوی ګيره مبارکه هم اُوږده وه " . (١)

**فايده** : قدرمنو ! تاسو واوريده چې دې عيسائي ډاکټر د ګيرې آهميت په څومره بهترينې طريقې سره واضح کړو ، او د خپل پيغمبر حضرت عيسی عليه السلام سره يې څومره د قدر او احترام مظاهره وکړه .

لهذا مسلمان ته خو په طريقِ اولی په کار دي چې د خپل پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ښائسته تعليماتو لحاظ اوساتي ، د هغوی په نقشِ قدم باندې روان شي ، او د اسلام آهم حکم يعنی ګيره په سُنت طريقې سره پرېږدي .

٦ . **په مخ باندې دانې راختل** : بعضې وخت د ګيرې خريلو په وجه په مَخ باندې ورې ورې دانې را اُوخيږي چې په دې سره انسان ته د پوستکې د سوزيدو يعنی Sycosis barbae غوندې خطرناکه جلدي بيماري پيدا کيږي .

(١) مكانة اللحية في الاسلام .

۷. **نورې مختلف قسمه بيمارۍ پيدا کېدل** : د ګيرې خريلو په وجه د مذکوره بيماريو نه علاوه نورې ډيرې د پوستکي بيمارياني انسان ته لېيدې شي ، مثلاً :

د مخ داني *Acne vulgaris*

د مخ د پوستکي خُوشکي *Dandruf seborrhoes*

د مخ ميخونه *Ance rosacea*

د مخ اِلرجي *Allergy*

اِيکزيما *Eczema*

عامې داني *Boils*

## ګيرې خريلو ته ګناه نه ويل ډير خطرناک دي

ډيرو خلقو ته دګيرې خريل د سره ګناه نه معلومېږي ، بلکه دا يوه عامه خبره ګڼي ، حالانکه د ټولو نه غټه ګمراهي داده چې يو انسان په ګناه کې اَخته وي ، او دده سره دا اِحساس هم نه وي چې ګڼي زه ګناه کوم ، بلکه اُلټه ددې د جواز د پاره دلائل ذکر کوي ، نو دا بيا ډيره خطرناکه خبره ده ، ځکه په داسې کس باندې د الله ﷻ قهر او غضب نازلیږي ، او داسې کس ته الله رب العزت د توبې توفيق هم نه ورکوي .

البته که يو کس ګناه کوي خو دده سره دا اِحساس هم وي چې زه د الله ﷻ نافرماني کوم، په خپل زړه کې ورباندې پښيمانه وي نو اميد شته چې داسې کس ته الله ﷻ د توبې توفيق ورکړي .

## د حضرت آدم عليه السلام د توبې قبليدو وجه

په قرآن کريم کې د حضرت آدم عليه السلام واقعه ځای په ځای ذکر ده ، چې کله الله ﷻ دې پيدا کړو نو په جنت کې يې ورته د هر شي د خوراک اِجازت ورکړو خو صرف د يوې اُونې (غنم) د خوراک نه يې منع کړو .

کله چې د حضرت آدم عليه السلام نه د شيطان د وَسوسې په وجه دا اُونه اوخوړل شوه نو الله رب العزت ورته وفرمايل :

﴿ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : آيا ما تاسو دواړه ددې اونې ( د خوراک ) نه نه وئ منع کړي ؟ آيا دامې درته نه وو ويلي چې شيطان ستاسو ښکاره دشمن دی ؟ ( دده خبره اونه منئ ) .

نو حضرت آدم علیه السلام د خپل عِجز او خطائي اِقرار وکړو ، په تير کار پښيمانه شو .

او الله ﷻ ته يې عرض وکړو :

﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ .(۲)

ترجمه : اې ربه زمونږه ! مونږ په خپلو ځانونو باندې زياتې کړې ، او که چيرته ته مونږ ته بخښنه اونکړې ، او په مونږ رحم اونکړې ، نو خامخا مونږ به د تاوَانيانو نه شو .

نو چې کله حضرت آدم عليه السلام د خپلې خطايي اِقرار وکړو ، او توبه يې وُويسته نو الله ﷻ يې توبه هم قبوله کړه .

## د اِبليس د لعنتي کيدو وجه :

اوس بل طرفته اوګوره ، چې کله الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام پيدا کړو ، نو فرشتو او ابليس ته يې حکم وکړو :

﴿ أُسْجُدُوا لِآدَمَ ﴾ .(۳)

ترجمه : تاسو حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړئ .(۴)

---

(۱) الاعراف آيت ۲۲ .

(۲) الاعراف آيت ۲۳ .

(۳) الاعراف آيت ۱۱ ، البقرة آيت ۳۴ .

(۴) مراد د سجدې نه سجده د عبادت نده ، بلکه سجده د تعظيم مراد ده ، کومه چې په پخواني شريعتونو کې جائز وه ، لکه د حضرت يوسف عليه السلام په واقعه کې راځي ، ﴿ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ﴾ . سورة يوسف آيت ۱۰۰ البته اوس په شريعتِ محمدي کې چاته سجده د تعظيم جائز نه ده بلکه منسوخ شوې ده ، اوس د بل چا د تعظيم د پاره صرف د سلام ، مصافحې او معانقې اجازت دی . دا تفصيل ابوبکر جصاص الرازي په احکام القرآن کې او مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې ذکر کړي .

نو ټولو فرشتو سجده وکړه، خو ابليس اونکړه.(۱)

الله ﷻ ورنه پوښتنه وکړه:

﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾.(۲)

ترجمه: کله چې ما درته حکم وکړو، نو ته د سجدې کولو نه څه شي منع کړې؟ (او سجده دې ولې اونکړه؟)

نو په ځای ددې چې ده د خپلې ګناه اقرار کړې وی، ګناه ته يې ګناه ويلې وی، او معافي يې غوښتې وی. خو ده داسې اونکړه، بلکه تکبر يې وکړو، او اُلټه يې دليلونه شروع کړه چې: ﴿ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴾.(۳)

ترجمه: زه خو دده نه غوره يم، تا زه د اُور نه پيدا کړې يم، او دا دې د خټې نه پيدا کړې (نو زه څنګه ده ته سجده اوکړم؟)

نو الله ﷻ د قيامته پورې ملعون او مردُود کړو. اګر چې ډير زيات عبادتونه يې کړي وُ، خو چې د الله ﷻ حکم يې اونه منل، د ګناه احساس يې اونکړو، او اُلټه يې دلايل شروع کړه، نو الله ﷻ يې ټول عبادات هم ختم کړه، او د هميشه د پاره يې مردود او لعنتي کړو.(۴)

## د مريض مثال:

ددې خبرې د ښه وضاحت د پاره درته يو مثال پيش کوم:

که چيرته يو کس مريض وي، خو ده ته دا احساس وي چې زه مريض يم، علاج طرفته متوجه وي او دوائې خوري، نو اميد شته چې دې روغ شي، او دا مرض يې ختم شي.

---

(۱) ﴿ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ ﴾. الاعراف آيت ۱۱، البقرة آيت ۳۴.

(۲) الاعراف آيت ۱۲.

(۳) الاعراف آيت ۱۲.

(۴) وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الدُّوْرِيِّ رحمه الله: شَقِيَ إِبْلِيسُ بِخَمْسَةِ أَشْيَاءَ: لَمْ يُقِرَّ بِالذَّنْبِ، وَلَمْ يَنْدَمْ عَلَيْهِ، وَلَمْ يَلُمْ نَفْسَهُ، وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَى التَّوْبَةِ، وَقَنَطَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ. وَسَعِدَ آدَمُ بِخَمْسَةِ أَشْيَاءَ: أَقَرَّ بِالذَّنْبِ، وَنَدِمَ عَلَيْهِ، وَلَامَ نَفْسَهُ، وَأَسْرَعَ فِي التَّوْبَةِ، وَلَمْ يَقْنَطْ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ. منبهات ابن حجر عسقلاني باب الخماسي.

خو که ده ته د سره دا احساس هم نه وي چې ګنې زه مریض یم، او علاج نه کوي، نو داسې یو وخت به راشي چې دده دا مرض به زیات شي، او دده د مرګ سبب به او ګرځي.

دغه شان که یو انسان ګناه کوي، خو ده ته د ګناه احساس وي، او پرې پښیمانه هم وي، نو یو ورځ به ورته الله ﷻ د توبې توفیق ورکړي، او ګناهونه به یې معاف کړي.

او که ده ته د سره د ګناه احساس هم نوي، توبه نه اُوباسي، نو دا ددې انسان دپاره د هلاکت سبب ګرځي، داسې کس ته الله ﷻ د توبې توفیق هم نه ورکوي.

قدرمنو! همدغه شان چې کله یو کس ګیره خرائي، یا یې د موټې نه کموي، او دا ورته د سره ګناه هم نه معلومیږي نو دا بیا دَبَل ګناهونه شو: یو د ګیرې خریلو ګناه، او بل دیته ګناه نه ویل. او داسې کس ته بیا الله ﷻ د توبې توفیق هم نه نصیبه کوي.

## ګیره خریل یا د موټې نه کمول سَراسر نقصان دی

که انسان سوچ وکړي نو په ګیرې خریلو سره انسان په ډیرو ګناهونو کې آخته کیږي، دې دا ګمان کوي چې ګنې زه معمولي ګناه کوم، خو په حقیقت کې دې د شریعت ډیر آحکامات د خپو لاندې کوي، او په ډیرو غټو ګناهونو کې آخته کیږي، مثلاً:

په ګیرې خریلو سره د انسان نه الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ناراضه کیږي.
کراماً کاتبین فرښتې خفه کیږي.
د انسان زِینت ختمیږي.
مال یې بې ځایه خرچ کیږي.
وخت یې خرچ کیږي.
مسلسل په هر حالت کې دده پسې نوې نوې د ګیرې خریلو ګناه لیکلې کیږي.
په ګیرې خریلو سره د یو لک او څلیریشت زره (کم و زیات) پیغمبرانو مخالفت کیږي.
د صحابه کرامو، تابعینو، تبع تابعینو او دأمت د بزرګانو مخالفت کیږي.
د مشرکینو، مجوسو، یهودو او عیسایانو سره مشابهت راځي.
د ښځو او هیجړاګانو سره د مشابهت په وجه د الله او د رسول د لعنت مستحق ګرځي.
تَغِیر فِي خَلقِ الله راځي.

د شيطان تابعداري راځي .

د ګناه کبيره او حرامو مُرتکب ګرځي .

د واجبو د پرېښودو مرتکب ګرځي .

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ښائسته سُنتو او بهترينې طريقې خلاف وَرزِي راځي .

حالانکه پيغمبر عليه السلام فرمايي :

فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ . (١)

پس څوک چې زما د سُنتو نه اِعراض وکړي نو هغه زما د ډلې نه ندی .

نو چې کله يو هوښيار کس دومره سخت وعيدونه واوري نو هغه به هيڅ کله دا زړوَرتيا او نه کړي چې ګيره اُوخري ، يا يې د موټي نه کمه کړي .

## غټې غټې برېتونه پرېښودل منع دي

لکه څرنګه چې ګيره پرېښودل د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم او ټولو پيغمبرانو طريقه ده نو همدغه شان برېتونه کټ کول د نبي ﷺ او ټولو انبياءِ کرامو سُنت دي . يعنی په ټولو شريعتونو کې لکه څرنګې چې د ګيرې پرېښودو حکم راغلی نو همدغه شان ورسره د برېتونو کټ کولو حکم هم راغلی .

د بخاري شريف حديث دی ، نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ . (٢)

د برېتونو کټ کول د فِطرت نه دي (يعنی دا د ټولو اَنبياء کرامو طريقه ده ، بلکه دا يو اَمر جِبِلّي او فِطري دی . (٣) ) .

---

(١) بخاري باب الترغيب في النكاح حديث ٥٠٦٣ ، فتح الباري ٩ / ١٠٢ .

(٢) بخاري باب قصّ الشارب حديث ٥٨٨٨ . همدارنګې د مسلم شريف حديث مخکې تير شو ، نبي عليه السلام فرمايي : عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ : قَصُّ الشَّارِبِ ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ .... مسلم شريف ج١ ص ٢٢٣ حديث ٢٦١ باب خصال الفطرة ، سنن ابن ماجه ج١ ص ١٠٧ حديث ٢٩٣ باب الفطرة .

(٣) الفطرة : السنّة القديمة التي اختارها الأنبياء عليهم السلام واتّفقت عليها الشرائع فكأنّها أمرٌ جبليٌّ فطروا عليه . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

بل دا چې بريتونه غټ پرېخودل او ګيره خرېل د مشرکينو او مجوسو طريقه ده ، او پيغمبر ﷺ خپل اُمت ددې نه منع کړی. (لکه ددې خبرې تفصيل مخکې تېر شو (١) )

د غټو بريتونو پرېخودو په باره کې حضور صلی الله عليه وسلم ډېر سخت وعيد فرمايلی دی ، د ترمذي شريف حديث دی ، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

مَنْ لَمْ يَأْخُذْ مِنْ شَارِبِهِ فَلَيْسَ مِنَّا . (٢)

څوک چې خپل بريتونه نه کټ کوي هغه د مونږ نه ندی .

لهذا د مشرکينو ، مجوسو ، سيکهانو او پهلوانانو غوندې غټ غټ بريتونه پرېخودل په شريعت کې منع دي ، بلکه دا د رسول الله ﷺ د دين خلاف دي . (٣)

ګيره پرېخودل او بريتونه کټ کول د نبي عليه السلام او ټولو پيغمبرانو طريقه ده . د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُصُّ أَوْ يَأْخُذُ مِنْ شَارِبِهِ . قَالَ : وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ خَلِيْلُ الرَّحْمٰنِ يَفْعَلُهُ . (٤)

نبي عليه السلام به خپل بريتونه کټ کول ، او حضرت ابراهيم عليه السلام به هم همداسې کول (يعنی هغوی به هم خپل بريتونه کټ کول)

اوس چې يو سړی د پيغمبر عليه السلام طريقه پرېږدي او د اِسلام د دُشمنانو (مشرکينو او مجوسو) طريقه خپلوي ، يعنی غټ غټ بريتونه پرېږدي نو دا يقيني چې د اِيماني تقاضو خلاف ده .

(١) خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ : وَفِّرُوا اللُّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ . بخاري كتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ٥٨٩٢ ./ جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللُّحٰى ، خَالِفُوا الْمَجُوْسَ . مسلم باب خصال الفطرة حديث ٥٥ (٢٦٠) .

(٢) ترمذي بابُ ما جاء في قصّ الشارب حديث ٢٧٦١ ، سنن النسائي قص الشارب حديث ١٣ ، المعجم الكبير للطبراني حديث ٥٠٣٣ .

(٣) ويأخذ من شاربه حتى يصير مثل الحاجب . كذا في الضيائية . عالمكيري ج٥ ص ٣٥٨ كتاب الكراهية ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣١٢ .

(٤) ترمذي باب ما جاء في قصّ الشارب حديث ٢٧٦٠ .

# د بریتونو وړولو مقدار

د بریتونو په باره کې په احادیثو کې د " أَحْفُوا الشَّوَارِبَ " او " أَنْهَكُوا الشَّوَارِبَ " الفاظ راغلي دي ( کوم چې مخکې تیر شو (۱) ) ، ددې دواړو مطلب دادی چې د بریتونو په کټ کولو کې مبالغه وکړئ ، یعنی په بیخ کې یې کټ کړئ .

او په کټ کولو کې مبالغه مَندوب او مستحب هم ده ، ځکه په بخاري شریف کې د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په باره کې نقل دي :

وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُحْفِيْ شَارِبَهُ حَتّٰى يُنْظَرَ إِلٰى بَيَاضِ الْجِلْدِ ... (۲)

ابن عُمر رضي الله عنهما به د بریتونو په کټ کولو کې دومره مبالغه کوله چې د پاس شونډې د څرمنې سپینوالي به په نظر راتلو .

که بریتونه په قینچۍ باندې په بیخ کې کټ شي نو په دې سره هم ددې مبالغې واله صورت پیدا کیږي ، ډیرو صحابه کرامو په دې باندې عمل کولو ، او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هم همدا صورت غوره کړې وُ .

په احادیثو کې د بریتونو د پاره د " قَصُّ الشَّارِبِ " لفظ هم راغلي دی . (۳)

چې ددې معنی ده : بریتونه کټ کول ( خو چې په کټ کولو کې مُبالغه نه وي ) .

اوس که یو سړې د بریتونو په کټ کولو کې مبالغه او نه کړي ، او داسې اَنداز کې یې کټ کړي چې د پورته شونډې د څرمنې سپینوالي نه ښکاري ، بلکه بریتونه ښکاري ، نو دا هم جائز ده ، ځکه د لفظ د " قَصّ " نه همدا مطلب معلومیږي . او بعضې ائمه وُ دا صورت غوره کړې دی .

---

(۱) أَحْفُوا الشَّوَارِبَ ..مسلم باب خصال الفطرة حدیث ۲۵۹ ./ أَنْهَكُوا الشَّوَارِبَ . بخاري کتاب اللباس باب إعفاء اللحی حدیث ۵۸۹۳ .

(۲) بخاري باب قصّ الشارب .

(۳) امام بخاري رحمه الله مستقل باب قائم کړی : بَابُ قَصِّ الشارب ، او بیا یې په دې کې دا حدیث رانقل کړی : مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ . بخاري باب قص الشارب حدیث ۵۸۸۸ .

خو ددې د پاره دا ضروري ده چې برېتونه به د مجوسیانو، سیکانو، او پهلوانانو غوندې داسې غټ غټ نه وي چې په خُله کې دننه ننوځي، یا یې پورته طرف ته د بدمعاشانو غوندې تاؤ کړي وي. (۱)

**نوټ**: برېتونه خرېل او کټ کول دواړه جائز دي، خو د خرېلو په نسبت یې کټ کول بهتر دي. (ددې مسئلې پوره تشریح روستو په بحث د فقهي مسائلو کې راروانه ده. ابوالشمس).

## مسلمانانو ته دخپلو اسلامي شعائرو حفاظت په کار دی

محترمو مسلمانانو! که چیرته مونږ د دُنیا غیر مسلمه قومونه اوګورو نو په دوی کې بعضې قومونه (لکه سیکهان او انګریزان) اوس هم داسې دي چې د خپلو مذهبي نَخو او خصوصیاتو پوره حفاظت کوي، اګر چې دوی په باطل دین دي خو بیا هم خپل تَشَخّص د لاسه نه ورکوي، او خپل مخصوص شعائر نه پرېږدي.

### واقعه:

د هندوستان د یو سِیکه نه یو ګیر خرېلي مسلمان پوښتنه وکړه چې:
دا په سَر کې مو دا لکۍ (یعنی سَرَی) ډیره بده ښکاري، ځکه لکۍ خو د ځناورو وي، نو تاسو ولې پرېنځی؟

هغه سِیکه ورته جواب ورکړو: دا چونکه زمونږ بامبرانو (مذهبي مشرانو) پرېښي وی، اوس دا زمونږ دِیني غیرت دی چې خپل سَر پرېکولو ته تیار یو خو ددې لکۍ (سَرَی) لرې کولو ته تیار نه یو.

---

(۱) **نوټ**: په هره جُمعه برېتونه او نوکان کټ کول په کار دي، د څلوېښتو ورځو نه زیات برېتونه پرېښودل او نه کټ کول مکروهه دي، او دا سړی د وعید مستحق ګرځي. د مسلم شریف حدیث دی حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمِ الأَظْفَارِ، وَنَتْفِ الإِبِطِ، وَحَلْقِ العَانَةِ أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً.
مسلم حدیث ۵۱ (۲۵۸) بابُ خِصال الفطرة.

په "درمختار" کې ذکر دي: وَكُرِهَ تَرْكُهُ وَرَاءَ الأَرْبَعِينَ... علامه شامي رحمه الله ددې په تشریح کې فرمايي: قوله: (وَكُرِهَ تَرْكُهُ) اي تَحْرِيمًا. يَقُوْلُ الْمُجْتَبٰى: وَلَا عُذْرَ فِيمَا وَرَاءَ الأَرْبَعِينَ. الدر المختار و حاشيه ابن عابدين ج٦ ص ٤٠٧.

بیا دې سیکهـ دې ګیر خریلي مسلمان ته پوښتنه وکړه : چې ستاسو پیغمبر ( محمّدٌ رّسولُ الله ﷺ ) خو هم ګیره پرېښې وه ، او تاسو ته یې هم د ګیرې پرېښودو اَمر کړی . نو بیا دا ته په څه خبره د خپل پیغمبر نه مَرَوَر شوې یې چې د هغه لحاظ نه ساتې او ګیره خرې ؟

دې ګیر خریلي مسلمان سره هیڅ جواب نه وُ ، زیرې سترګې یې نیولې وی ، سَریې ښکته کړو او ورنه روان شو .

افسوس د مسلمان په حال باندې ، چې یو سیکهـ خو د خپلو مشرانو لحاظ ساتي ، خو لیکن مسلمان د دې هیڅ لحاظ نه ساتي .

غیرمُسلِمه اګر چې په باطل دین باندې دي خو بیا هم دوی د خپلو مذهبي نَښو ، او مخصوصو شعائرو لحاظ ساتي او خپل تَشَخّص د لاسه نه ورکوي نو مسلمان ته په کار دي چې دې خو په طریقِ اولی سره خپل اِسلامي تشخّص د لاسه ورنه کړي ، خپل لباس او خپل شکل و صورت د غیر مسلمو غوندې جوړ نه کړي .

## دُعا

الله جل جلاله دې مونږ ته دا توفیق راکړي چې د خپل خوږ پیغمبر ، سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم په نقشِ قدم باندې روان شو ، د هغوی په شان خپل شکل و صورت او لباس جوړ کړو ، او د هغوی په شان اَخلاق په ځان کې پیدا کړو .

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن .

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# د ګيرې خريونکو د پاره مختلف شبهې، بهانې او دلائل

محترمو ! ډير خلق داسې دي چې د هغوی سره په ذهنونو کې د ګيرې پريخودو متعلق ډير شکوک او شُبهات دي، او د ګيرې خريلو دپاره ورسره مختلف حيلې او بهانې دي .

که څوک نيک کس ورته د ګيرې پريخود نصيحت کوي نو په ځای ددې چې ددې ګناه نه توبه اُوباسي بلکه اُلټه د ګيرې خريلو د پاره د ځان نه جوړ شوي خُود سَاخته دلائل بيانوي، چې ددې په وجه هميشه د پاره په دې عظيمه ګناه کې اَخته وي، او الله ﷻ ورته د توبې توفيق هم نه ورکوي .

د دغه بې دِينه او خواهِش پَرستو خلقو يو څو شُبهات او د هغې تفصيلي جوابات ستاسو د وړاندې ذکر کوم ددې دپاره چې انسان د ګمراهۍ او ددې عظيمې ګناه د اِرتکاب نه بچ شي .

## اوله شُبهه : د ګيرې حکم په قرآن کريم کې نشته

بعضې خلق دا وايي چې که د ګيرې پريخودل ډير ضروري وی نو بيا به خامخا په قرآن کريم کی ددې حکم راغلې وی، حالانکه په قرآن کريم کې د ګيرې پريخودو حکم نشته، لهذا دګيرې پريښودل څه ضروري نه دي .

نوټ : ددې شُبهې به درته څلور (۴) جوابونه ذکر کړم :

## اول جواب :

په قرآن کريم کې په مختلفو ځايونو کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د اِطاعت حکم راغلی دی، الله تعالی فرمايي :

﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوٓا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ ﴾ .(۱)

---

(۱) النساء آيت ۹۵ .

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو حكم اومنئ د الله ، او حكم اومنئ (د هغه) د رسول.

بل ځای الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾ . (۱)

ترجمه : او رسول (صلى الله عليه وسلم) چې تاسو ته څه دركوي هغه واخلئ ، او د څه شي نه چې تاسو منع كړي د هغې نه منع شئ.

**فائده** : د آيت الفاظ چونكه عام دي نو اَقوالو او اَفعالو دواړو ته شامل دی . يعنى رسول عليه السلام چې تاسو ته د كوم شي حكم كوي هغه قبول كړئ ، او د څه شي نه مو چې منع كوي د هغې نه منع شئ.

په قرآن كريم كې د نبي عليه السلام اِطاعت لازم ګرځولې شوې دی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ اَطَاعَ اللهَ ﴾ . (۲)

ترجمه : څوک چې د پيغمبر (عليه السلام) اِطاعت وكړي (يعنى د هغه خبره اُومني) نو بيشكه ده د الله اِطاعت وكړو.

او د پيغمبر عليه الصلوة والسلام په خپله هم ګيره وه ، اُمت ته يې هم د ګيرې پريخودو حكم كړی ، او د ګيرې خريلو نه يې په سختۍ سره منع كړی .

بل دا چې كه يو سړی دا وايي چې " مونږ به صرف په هغه اَحكاماتو باندې عمل كوو كوم چې په قرآن كريم كې ذكر دي او د دينه علاوه په نورو باندې عمل لازم نه دی " نو دا سړی په اِجماع د اُمت سره كافر دی . (۳)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه كاله مخكې اُمت ته د دې خبر وركړی چې داسې يوه فتنه به پيدا كيږي چې هغوی به حُجت او دليل صرف كتابُ الله مني ،

---

(۱) الحشر آيت ۷.

(۲) النساء آيت ۸۰.

(۳) وَلَوْ أَنَّ اِمْرَأً قَالَ : لَا نَأْخُذُ إِلَّا مَا وَجَدْنَا فِي الْقُرْآنِ لَكَانَ كَافِرًا بِإِجْمَاعِ الْأُمَّةِ . بتصرف من الاحكام في اصول الاحكام (۲ / ۷۹، ۸۰) الطريق الى الجنة ۵۷۷ .

ددينه علاوه د نبي عليه السلام احاديث به حُجت نه مني ، نو دا خلق په اُمت كې گمراهي خوَروونكي دي .

د ابوداوُد شريف حديث دى ، سردارِ دوجهان محمدُ رّسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلَا إِنِّي أُوْتِيْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ . اَلَا يُوْشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلَى أَرِيْكَتِهِ يَقُوْلُ : عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوْهُ . وَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوْهُ . وَإِنَّ مَاحَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ كَمَا حَرَّمَ اللهُ . (١)

خبردار ( ځان آگاه كړئ ) ماته ( د الله ﷻ د طرفه د هدايت د پاره ) قرآن راكړې شوى ، او ددې سره ددې په شان بل شى هم راكړې شوى ( يعنى احاديث هم راته د الله ﷻ د طرفه راكړې شوي ) ، خبردار ! دير زر به داسې ډک خېټي ( يعنى په خېټه ماړه او مالدار ) خلق پيدا شي چې ( د تكبّر د وجې به ) په خپل ځپَركټ كې پروت وي ، او خلقو ته به وايي : تاسو بس همدا قرآن كريم په ځان لازم كړئ ( يعنى صرف په همدې باندې عمل كوئ ) ، او كوم شى چې تاسو په قرآن كريم كې حلال بيامومى هغه حلال اوگڼى ، او څه چې په قرآن كريم كې حرام بيامومى هغه حرام اوگڼى ( يعنى حلال او حرام صرف هغه دي كوم ته چې په قرآن كريم كې حلال يا حرام ويل شوي وي ، د قرآن كريم نه علاوه كه په احاديثو كې يو شي ته حلال يا حرام ويل شوي وي نو هغې ته اِعتبار نشته . بيا پيغمبر عليه السلام ددې گمراه نَظريې رَد وكړو او وې فرمايل : ) حقيقت دادى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم كوم شيان حرام كړي دي دا هم د هغه شيانو په شان حرام دي كوم چې الله ﷻ په قرآن كريم كې حرام كړي .

( بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم د حديث په آخر كې د مثال په طور د يو څو شيانو تذكره وكړه چې ددې حُرمت په قرآن كريم كې نشته خو ما دهغې حرمت بيان كړى ، او ددينه

(١) رواه ابوداؤد كتاب السنّة ( ٤٦٠٤ ) ، والدارمي ، وهكذا في الترمذي كتاب العلم ٢٦٦٤ ، وابن ماجه في مقدمة سنه ( ١٢ ) ، واحمد ١٦٧٤٢ ، مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ٢٤ ، معارف الحديث ج٨ ص ٥٠ .

ځان ساتل واجب دي لکه کورنۍ خَر ، داړې لرونکې ځناور کوم چې په داړو سره ښکار کوي لکه شرمخ ، زمرې وغيره ) .

پس معلومه شوه چې د نبي عليه السلام حکم مثل هم په اُمت باندې فرض دي ، او د پيغمبر عليه السلام په خپله هم ګيره وه او امت ته هم د ګيرې پريخودلو حکم کړی ، او د خريلو نه يې منع کړی .

## دويم جواب :

دويم جواب دادی چې د ګيرې ثبوت په قرآن کريم کې هم شته : کله چې حضرت موسی عليه السلام د کوهِ طور نه واپس راغی ، او د خپل قوم بعضې خلق يې په ګمراهۍ کې مُبتلاء اُوليده ، حالانکه د تللو په وخت ده خپل ورور حضرت هارون عليه السلام خپل نائب مقرر کړې و، نو ده داګمان وکړو چې ګني ده سستي او لاپَرواهي کړی نو ځکه دا قوم بعضې ګمراه شوی ، نو د ډير غصې نه يې حضرت هارون عليه السلام د ګيرې او سَر د ويښتانو نه ونيوه . حضرت هارون عليه السلام ورته وفرمايل :

﴿ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي... ﴾ . (۱)

ترجمه : اې زما د مور ځويه (يعنی زما وروره ) زما ګيره او زما د سَر ويښته مه نيسه .

فايده : دا آيتِ کريمه دګيرې په اُوږديدو او پريخودو باندې واضحه دليل دی ، ځکه ګيره هلته نيوې شي چې کم از کم د موټې برابر وي ، او يا زياته وي .

نو د قرآن کريم نه هم د ګيرې ثبوت اوشو ، او دا هم معلومه شوه چې ګيره د پيغمبرانو عمل دی ، ځکه لکه څرنګ چې د حضرت موسی عليه السلام ګيره وه نو همدغه شان د يو لک او څليريشت زره (کم و زيات) پيغمبرانو هم ګيرې وی .

الله رب العزت په سورة انبياء کې د پيغمبرانو دتذکرې نه پس رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته د دوی د اِقتداء حکم کوي :

---

(۱) سورة طه آيت ۹۴ . ای لَا تَأْخُذْ بِشَعْرِ لِحْيَتِي وَلَا بِشَعْرِ رَأْسِي . انظر تفسير القاسمي ۱۱ / ۱۸۷ ، وَفِيْه وكانَ قبض عليهما يجرّه إليه مِنْ شِدَّةِ غَضَبِهِ .

﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ﴾ .(١)

ترجمه : دا پېغمبران هغه خلق دي کوموته چې الله هدايت کړی و ، نو (اې پېغمبره ! ) ته هم د دوی په لاره ځه .

نو چې کله نبي ﷺ ته د دوی د اِقتداء حکم دی نو مونږ ته خو به په طريقِ اولی سره دا حکم وي چې د هغوی غوندې ګيرې هم پرېږدو او د هغوی په شان اَعمال وکړو .

## دريم جواب :

دريم جواب دا دی چې په قرآن کريم کې خو دا هم نشته چې د ماسپخين مونځ څلور رکعته دی ، د ماښام مونځ درې رکعته دی ... وغيره .

نو لکه څرنګ چې په دې کې مونږ د رسولُ الله ﷺ خبره مَنو نو همدغه رنګې د ګيرې په باره کې هم د رسولُ الله ﷺ صريح اَحکامات موجود دي چې :

" أَعْفُوا اللُّحَى " ، " أَوْفُوا اللُّحَى " ، " أَرْخُوا اللُّحَى " او " وَفِّرُوا اللُّحَى " (٢)

نو دا خو غټ زِنديقيَت او بې ديني ده چې انسان د رسول الله ﷺ بعضې خبرې مني او د بعضو په باره کې دا وايي : دا ځکه نه منم چې د دې صريح حکم په قرآن مجيد کې نشته .

## څلورم جواب :

څلورم جواب دا دی چې اَدِله د شَرعې څلور دي :

١ . کتابُ الله ٢ . سُنتِ رسول ٣ . اِجماعِ اُمت ٤ . قياس .

نو لکه څرنګې چې يو شَرعي حکم په کتابُ الله سره ثابتيږي نو همدغه شان د رسولُ الله ﷺ په سُنتو او اَحاديثو سره هم ثابتيږي .

د ګيرې پرېخودو اَهميت او تاکيد هم په احاديثو کې په صراحت سره ذکر دی ، او ګيره خرېل د مجوسو او مشرکينو عمل ګرځولې شوی .

(١) الانعام آيت ٩٠ .

(٢) حوالې او معناګانې يې مخکې تيرې شوې .

نو چې يو شرعي حکم په دې څلورو دلائلو کې په هر دليل سره ثابت شي په مسلمان باندې دهغې مَنل لازمي او ضروري دي.

په قرآن کريم کې خو چيرته هم دا نه دي ذکر چې ګني مسلمان به صرف هغه حکم مني کوم چې په قرآن کريم کې ذکر وي، بلکه په قرآن کريم کې بار بار د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اِتباع او اِطاعت حکم شوی.

بل دا چې په قرآن کې بعضې ځای اِجمال ذکر وي نو رسول الله ﷺ په خپل قول او عمل سره د هغې تشريح کړې ده. اوس که يو سړی دا وايي چې زه صرف په هغه احکاماتو باندې عمل کوم کوم چې په قرآن کريم کې ذکر دي نو بيا خو به دې د شريعت د ډيرو اَحکاماتو نه لاس اُووينځي.

لهذا لکه څرنګې چې په دې نورو اَحکاماتو کې د نبي عليه السلام اِتباع ضروري ده نو همدغه رنګې په ګيره پريخودو کې هم د رسولُ الله ﷺ اِتباع او اِطاعت ضروري دی.

## دويمه شُبهه: نبي ﷺ د خپل قوم د رَسم و رِوَاج مطابق ګيره پرېښې وه

بعضې جاهِل او بې دِينه خلق دا وايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د څه شَرعي حکم په وجه ګيره نه وه پريخې، بلکه د خپل قوم د رَسم و رِوَاج مطابق يې ګيره پريخې وه. يعنې په هاغه وخت کې د عربو دا رِواج وُ چې ګيره به يې پريخوده، نو پيغمبر عليه السلام هم د هغوی د رِواج او عادت موافق ګيره پريخې وه. اوس چونکه زَمانه بَدله شوې ده، نن صبا د خلقو عادت ګيره خريل دي، نو ځکه مونږ ګيره خرايو.

او بيا ډير بې دِينه په کې دا هم وايي چې که (نَعوذُ بالله) په دې دَور کې پيغمبر ﷺ موجود وی نو هغوی به هم ددې زَمانې د عادت د وجې ګيره خريلې وی (استغفرالله).

نوټ: ددې شُبهې به درته دوه جوابونه ذکر کړم:

## اول جواب:

که يو مسلمان په هغه دلائلو او نصوصو باندې نظر واچوي کوم چې د ګيرې پريخودو په باره کې راغلي دي نو ده ته به معلومه شي چې ګيره پريخودل د عربو عادت نه دی بلکه د الله تعالى حکم او د دين حصه ده، او خريل يې حرام او ګناهِ کبيره ده.

لهذا دا يو جاهِلانه او اَحمقانه خبره ده چې نبي عليه السلام ګيره د عربو د عادت د وجې پريخې وه .

## دويم جواب :

د اَنبياء کرامو بَعثت ددې د پاره شوې وي چې دوی غلط رَسمونه او رِواجونه ختم کړي . نه دا چې د خلقو سره په باطل رِواجونو کې شريک شي .

عربو خو به ژوندۍ لورانې خخَولې ، شراب به يې څکل ، سود به يې اخيسته ، په بَربَنډه به يې طوافونه کول ، جواري به يې کوله . پيغمبر عليه السلام دا ټول کارونه حرام کړه ، او خپل اُمت يې ددې نه په سختۍ سره منع کړو .

نو که چيرته رسولُ الله ﷺ د خلقو سره په هر رِواج کې شريکيدی نو بيا ولې خپل قوم يې دُشمن او ګرځيده ؟ بيا ولې دومره مجبور شو چې مدينې منوّرې ته يې هِجرت وکړو ؟ بيا ولې يې د کافرانو دلاسه دومره تکليفونه برداشت کړه ؟

معلومه شوه چې نبي عليه السلام د خپل قوم سره په هر باطل رِواج کې نه شريکيده .

البته په عربو کې بعضې خبرې د دينِ ابراهيمي نه په اَصلي حالت کې راپاتې وی ( ځکه عرب د حضرت ابراهيم عليه السلام د نَسل نه وو ) نو بعضې کارونه په کې د حضرت ابراهيم عليه السلام نه په اَصلي شکل باندې پاتې وو لکه : د ماشوم سُنتول ، نکاح کول ، ګيره پريخودل ، او بريتونه واړه کول . او چونکه پيغمبر عليه السلام ته هم د دينِ ابراهيمي د پيروی حکم شوی وُ ، الله تعالى فرمايي :

﴿ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ﴾ . (۱)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) بيا مونږ تا ته دا وحي وکړه چې ته د ابراهيم ( عليه السلام ) د دين پيروي وکړه ، کوم چې يو مَخيزې وُ .

نو کوم شيان چې رسولُ الله ﷺ په خپل حالت باندې باقي پريخي وو ، چې په خپله يې وړباندې هم عمل کولو ، او اُمت ته يې هم ددې د عملي کولو حکم کړې وُ نو دا ځکه چې دا

(۱) النحل آيت ۱۲۳ .

شیان د دینِ ابراهیمي نه په خپل اَصلي حالت راپاتې وو ، او مونږ ته ددې د پیروۍ حکم شوی ، دا نه چې ګني نبي ﷺ د عربو د رِواج لحاظ ساتلی .

که حضور صلی الله علیه وسلم خالِصه د رِواج لحاظ ساتلی نو بیا خو عربو شراب هم څکل ، ژوندۍ لورانې یې هم خَخولی نو بیا به یې دا هم بَرقرار ساتلي وی ؟

پس معلومه شوه چې محمّدُ رّسولُ الله ﷺ ګیره د عربو د رَسم و رِواج مطابق نه وه پرېښې ، بلکه دا د ټولو اَنبیاءِ کرامو او خاصکر د حضرت ابراهیم ﷺ سُنت او طریقه ده ، او د شریعت اَهم حکم دی .

او دې بې دینه خلقو ته دا ویل په کار دي چې که تاسو دا وایۍ چې د نن صبا زَمانې خلقو عادت ګیره خرېیل دي ، نو مونږ وایو چې ګیره خرېیل خو اصلاً د مشرکینو ، مجوسو ، یهودو ، عیسایانو او هیجړاګانو عادت دی ، دا خو د وخت په تیریدلو سره مسلمانانو دهغوی پیروي وکړه نو ځکه دا عادت په مسلمانانو کې راخور شو ، حالانکه مسلمانان د غیر د مُسلمو د اِتباع نه په سختۍ سره منع شوې دی .

## دریمه شُبهه : ډیر عرَب او د مِصَر عُلماء هم ګیرې خرَی

بعضې خلق د ګیرې خرېیلو د پاره دا دلیل پیش کوي چې که ګیره پرېخودل ضروري وی نو بیا به د عربو ډیرو مسلمانانو ګیرې نه خرېیلی ، ځکه اسلام خو د هماغه ځای نه راغلی .

یا د مِصر ډیر علماء ګیرې خرَی ، همدغه رنګې د تُرکو بعضې مسلمانان هم ګیرې خری . معلومیږي دا چې د ګیرې پرېخودل ضروري نه دي .

## جواب :

په دې خبره ځان پوهه کول غواړي چې د مسلمانانو دپاره شَرعي دلیل قرآن کریم او اَحادیث دي ، د قرآن کریم د اَحکاماتو او د رسولُ الله ﷺ د واضحه اِرشاداتو په مقابله کې د بل هیچا عمَل هیڅ حیثیت نه لري ، او نه ددې په مقابله کې د بل چا عمل حُجت کیدې شي . که هغه عرَب وي ، که تُرک وي ، او که د مِصر واله .

تر دې پورې چې که د مکې مُعظمې او مديني منوّرې خلق د نبي عليه السلام د طريقې خِلاف يو عمل وکړي نو هغه به هم د چا د پاره حُجت نه وي، او نه بيا د دوی اِتباع ضروري ده که هر څوک د شريعت خلاف عمل کوي هغه به فاسِق و فاجِر وي، که هغه عرَب وي او که عجَم وي.

بيا خاصکر د مِصر، تُرکو او ځنې اسلامي مملکتونو مسلمانان خو د يُورپي تَهذيبونو نه ډير متأثِره دي چې هُو بَهُو د هغوی په نقشِ قدم باندې روان دي نو د دوی عمل خو دهيچا د پاره حُجت نه دی، بلکه د مسلمانانو د پاره دقرآن کريم، د خپل پيغمبر، او صحابه کرامو اِتباع ضروري ده.

دې بې دِينه خلقو ته داويل په کار دي چې په دې عربو، مِصر او تُرکو کې خو ډير بزرگان، اَولياءُ الله، او مُخلِصه علماء هم شته چې هغوی د نبي عليه السلام د سُنتو مطابق ګيرې پريخې دي، نو تاسو ولې د هغوی اِتباع نه کوئ چې ددې بعضې ګيرخريلو اِتباع کوئ؟ خو د فارسي ژبې يوه مَقوله ده او ريښتيا خبره هم ده چې " خُويي بَد را بَهَانه بِسيَار". د بَد خُويي د پاره ډيرې بهانې وي.

## خلورمه شُبهه: که ګيره پريږدو نو خلق به راپورې بيا ټوقې کوي

ډير خلق د ګيرې خريلو دپاره دا بَهَانه جوړوي چې که مونږ ګيره پريږدو نو بيا به راپورې خلق ټوقې او مَسخرې کوي، او پيغورونه به راکوي. نو ځکه ګيره نه پريږدو.

## جواب:

چې کله يو سړې کامِل مومِن وي، او د رسولُ الله ﷺ پوره مُتّبِع وي، نو دده پسې به خامخا بې دِينه خلق او د شيطان ملګري ټوقې کوي او دده اِستِهزاء به کوي.
عام مسلمان خو پريږده چې اَنبياء کرام هم ددې بې دِينه خلقو دټوقو نه ندي بچ شوي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ...﴾. (۱)

(۱) الرعد آيت ۳۲، الانبياء آيت ۴۱، الانعام آيت ۱۰.

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) بیشکه د تا نه وړاندې ( د نورو ) پیغمبرانو پورې هم ټوقې شوې دي .

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : دې مخکيني اُمتونو ته چې به هر پیغمبر راتلو نو دوی به د هغه پورې ټوقې کولی .

بلکه نبي کريم ﷺ ته په خپله په دُنيا کې ساحِر ، مجنون او لیوَنې ويل شوی .

نو چې کله د پیغمبرانو پورې ټوقې شوي نو دعام مسلمان پسې خو به خامخا کیږي ، او دا د قرآن کريم پيشګويي هم ده ، الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه چا چې جُرمونه کړي دي دوی به د مومنانو پورې خَندا کوله .

لهذا چې کله د يو مسلمان په زړه کې اِيماني غيرت وي نو هغه به هیڅ کله د چا د خبرو او ټوقو پَرواه او نه ساتي .

## پنځمه شُبهه : که ګیره پرېږدو نو د نورو قومونو په نظر کې به سپک شو

بعضې خلقو ته دا ښه معلومه وي چې ګیره خريل حرام دي خو ددې د وجې نه ګیره نه پرېږدي چې بيا به د دُنيا د نورو قومونو ( يهودو ، نصارىٰ او نورو کافرانو ) په نظرونو کې سپک شي .

## جواب :

اَسْتَغْفِرُالله . دا څومره د بې وقوفتيا خبره ده چې يو مسلمان د کافرو د خوشحالۍ د پاره د خپل محبوب پیغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " د شکل سره نَفرت کوي ، او خپله ګیره خرَی .

(۱) الحجر آيت ۱۱ .

(۲) المطففين آيت ۲۹ .

په حقيقت کې عزت مَند هغه کس دی چې څوک د الله ﷻ په نزد عزت مَند وي ، او کافر خو د الله ﷻ په نزد ذليله وي ، ده ته به په دوزخ کې په ذِلت سره عذاب ورکولې شي . الله تعالى د کافر په باره کې فرمايي :

﴿... وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴾ . (۱)

ترجمه : ... او دا کافر به هميشه په دې عذاب کې ذليله شوې پروت وي .

بل دا چې عزت ورکوونکې خو الله ﷻ دی ، کافر به چاته څه عزت ورکړي ؟ الله رب العزت فرمايي :

﴿ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴾ . (۲)

آيا دوی د کافرانو سره عزت لټوي ، حالانکه ټول عزتونه د الله سره دي .

﴿ وَتُعِزُّ مَن تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَاءُ ﴾ . (۳)

ترجمه : ( اې الله ! ) ته چې چاته اوغواړې نو عزت ورکوی ، او چاته چې اوغواړی نو ذِلت ورکوی . ( يعنی ذليله کوې يې ) .

په سورة منافقون کې الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ . (۴)

ترجمه : او عِزت خو صرف د الله ﷻ د پاره ، دده د رسول د پاره ، او د مومنانو د پاره دی ، خو ليکن منافقان په دې نه پوهيږي .

بل دا چې که مسلمان خپله گيره ددې دپاره خرَی چې کافران رانه خوشحاله شي نو دده دا خيال غلط دی ، ځکه کافر تر هغه وخته پورې د مسلمان نه نه خوشحاليږي تر څو پورې يې

(۱) الفرقان آيت ٦٩ .

(۲) النساء ايت ۱۳۹.

(۳) آل عمران آيت ۲٦ .

(۴) المنافقون آيت ۸ .

چې مسلمان د خپل دين نه نه وي اَوړيدلى ، او د کافر د دين اِتباع يې نه وي کړى . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصَارٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾ . (۱)

ترجمه : (اې پيغمبره ! ) هيڅکله به د تا نه يهود او نصارىٰ راضي نه شي ، تر دې پورې چې ته د دوى د دِين پيروي وکړى . (نو بيا به راضي شي) .

بل دا چې دا خو څه د هوښيارتيا خبره نه ده چې انسان دى کافران او دوزخيان خوشحاله کړي ليکن دګيرې په خرېلو سره دې الله او د هغه رسول خفه کړي .

قدرمنو ! مسلمان ته دا سوچ په کار دى چې کله يو کافر په خپلو کفري اَعمالو باندې نه شرميږي او ښه په فخَر سره يې کوي ، اګر چې دغه جهنم ته بوتلونکي اَعمال وي ، نو بيا ولې مسلمان په اِيمان او نيکو اَعمالو باندې شرميږي ؟ حالانکه دا خو دده د پاره جنت ته بوتلونکي اَعمال دي .

حضرت عبد الله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي :

أَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ . فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ . (۲)

الله ﷻ مونږ ته په اِسلام سره عزت راکړې دى ، پس اوس که مونږ د اسلام نه علاوه په بل شي سره عزت طلب کوو نو الله ﷻ به مونږ ذليله کړي .

دير خلق دخپلو ښځو د يَرې نه يا د ښځو د خوشحالولو د پاره ګيرې خرَى . نو دا هم غټه بې اِيماني ده چې انسان د خپلې ښځې د خوشحالولو دپاره الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ خفه کوي . دا خو عجيبه اِنصاف دى چې انسان صرف د خپلې ښځې په خاطر د محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صورتِ مبارکه نه اِعراض کوي ، او د مشرکينو او مجوسو صورت جوړوي .

---

(۱) البقرة آيت ۱۲۰ .

(۲) هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ، المستدرک على الصحيحين للحاکم حديث ۲۰۷ . وفي روايةٍ : فَقَالَ عُمَرُ : إِنَّا قَوْمٌ أَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَلَنْ نَبْتَغِيَ الْعِزَّةَ بِغَيْرِهِ . المستدرک على الصحيحين للحاکم حديث ۲۰۸ .

بهر حال مخلوق خوشحاله کول او خپل خالق و مالک خفه کول غټه بې وقوفتيا ده ، همدغه رنګې د دُنيا دعزت لحاظ ساتل او د آخرت د ورځې د ذِلت او رَسوايي پَرواه نه ساتل غټ حَماقت دی .

## شپږمه شُبهه : ګيره پريخودل زيات نه زيات سُنت دي

بعضې خلق د ګيرې خريلو د پاره دا دليل بيانوي چې ګيره زيات نه زيات سُنت ده ، او د سُنتو په پريخودلو سره سړی نه ګناهګارېږي ، بلکه صرف ملامته کېږي .

بل دا چې لکه څرنګ چې د مونږ نه نور بې شماره سُنت پاتې کېږي نو که ګيره پاتې شوه نو هم څه غټ جُرم نه دی .

## جواب :

ګيره پريخودل په اِعتبار د دَرجې سره واجب ده ( او واجب هم په اِعتبار د عمل سره د فرضو په شان وي ، يعنې لکه څرنګ چې د فرضو په پريخودلو سره انسان ګناهګار ، فاسِق و فاجِر ګرځي نو همدغه شان د واجبو په پريخودلو سره هم انسان ګناهګار ، فاسق و فاجر ګرځي . البته په فرضو او واجبو کې دا فرق دی چې د فرضو نه مُنکِر کافر وي ، او د واجبو نه مُنکِر کافر نه وي ، باقي لکه څرنګ چې په فرضو عمل کول ضروري دي نو همدغه رنګې په واجبو عمل کول هم ضروري دي )

او ګيره پريخودل څکه واجب دي چې د ګيرې په باره کې ټول احاديث په صيغې د اَمر سره راغلي دي، نبي عليه السلام فرمايي :

" أُعْفُوا اللُّحٰى " ، " أَوْفُوا اللُّحٰى " ، " أَرْخُوا اللُّحٰى " او " وَفِّرُوا اللُّحٰى " (١)

او دا ټولې صيغې د اَمر دي ، او اَمر د وجوب د پاره وي . لهذا ګيره پريخودل هم واجب دي .

بل دا چې نبي عليه السلام لکه څرنګې چې اُمت ته د ګيرې د پريخودو حکم کړی نو همدغه رنګې په خپله باندې يې هم هميشه ګيره پريخې وه ، هيچرې يې نه وه خريلې ، او نه

---

(١) حوالې او معناګانې يې مخکې تيرې شوي .

يې د موټي نه کمه کړې وه ، خُلفائ راشدينو او نورو صحابه کرامو هم په اِهتمام سره ګيرې پريخې وی هيچا نه وه خريلی ، ددينه هم دګيرې پريخودو وجوب معلوم شي . همدغه رنګې په څلورو وارو مذهبونو کې ګيره پريخودل واجب دي .

**ګيرې ته د سُنت ويلو وجه** : پاتې شوه دا خبره چې د ګيرې په باره کې کومه خبره مشهوره ده چې دا سُنت ده نو په دې ځان پوهه کړئ چې ددينه د سُنتو مشهوره معنٰی او فِقهي حکم مراد نه دی ، بلکه دلته د سُنتو نه مراد ''طريقه محمدي'' ده .

يعنی ګيره پرېخودل طريقه محمّدي ( يعنی د نبي ﷺ طريقه ) ده . لکه عام طور مونږ وايو چې مونځ کول او آذان کول سُنت يعنی طريقه محمّدي ده ، او ټلی غړول د عيسايانو طريقه ده .

همدغه شان ګيره پريخودل هم سُنت يعنی طريقه محمّدي ده ، او خريل يا کمول يې د مجوسو ، مشرکينو او کافرانو طريقه ده .

پس معلومه شوه چې ګيره پريخودل په اِعتبار د درجې سره واجب ده ، او په دې عمل نه کوونکې فاسق و فاجر او ګناهګار دی .

او که د سُنتو نه همدا مشهوره معنٰی واخلو نو انسان ته دا سوچ په کار دی چې دا ګيره پريخودل خو چيرته د الله ﷻ د دُشمن سُنت نه دي بلکه د مَحبوبِ ربّ العالمين محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم سُنت دي . د ايمان تقاضا داده چې مسلمان به د نبي کريم ﷺ په سُنتو باندې عمل کوي ، پرېږدي به يې نه .

بل دا چې د هر مسلمان په زړه کې د رسول ﷺ سره د هر چانه زيات محبت په کار دی او د محبت تقاضا داده چې د محبوب د شکل و صورت او د هغه د هر عمل سره به د انسان محبت وي ، داسې نه چې د هغې نه نفرت کوي ، او د مشرکينو ا و مجوسو شکل و صورت جوړوي .

## اوومه شُبهه : ډير د ګيرو واله خلق دَهوکه باز دي

بعضې بَدبخته د ګيرې خريلو د پاره دا بهَانه جوړوي چې مونږ ګيرې ځکه نه پريږدو چې ډير د ګيرو واله دَهوکه باز وي ، ګيرې يې صرف ددې د پاره پريخي وي چې خلق ورباندې دَهوکه شي .

## جواب :

دا يوه شيطاني دَهوکه ده ، نبي عليه السلام چې د ګيرې پريخود و حکم کړی نو دا خو عام دی د هر کس د پاره ددې مَنَل لازمي دي .

اوس که يو چا ګيره د دَهوکې د پاره پريخي وي نو ددې په وجه خو نورو خلقو ته ګيره خريل نه جائز کيږي . که هغه ګيره د دَهوکې د پاره پريخې وي نو ته يې د الله ﷻ د رَضا او د نبي ﷺ د اِتباع په وجه پريږده ، خلق به ستا اِتباع وکړي .

خُدَا نَخَواسته که بعضې مونځ ګزار دَهوکه کول شروع کړي نو آيا ته به بيا مونځ هم پريږدی ؟ چې زه دا مونځ ځکه نه کوم چې ډير مونځ ګزار دَهوکه باز دي ؟

همدغه شان که ته صبا ته يو مسلمان په دَهوکه کولو اوګورې نو آيا ته به اسلام هم پريږدی ؟

## اتمه شُبهه : که ګيره پريږدو نو د ګناه کولو په وخت به بيا خلق پيغور راکوي

بعضې خلقو ته شيطان دا وَسوَسه وراَچوي چې که ګيره پريږدی ، او بيا څه غلط کار وکړی : مثلاً دروغ أووايې ، يا دَهوکه وکړی ، نو بيا به خلق پيغور درکوي چې " سره د ګيرې دروغ وائي ، او سره د ګيرې دَهوکه کوی ، ګيره دې د دَهوکې د پاره پريخې ده " .

لهذا ددې پيغورونو نه د بچ کيدو د پاره دابنه ده ده چې ګيره أوخريم ، چې ( نعوذُ بالله ) دا د شرَم او حَياء آده مکمل ختمه شي او مَخه مې آزاده شي .

## جواب :

مسلمان ته په کار دي چې داسې د ګناه کار او نه کړي چې د هغې په وجه بيا ده ته خلق پيغور ورکوي ، بلکه ددې پيغورونو په وجه دې خپل ځان اِصلاح کړي ، او د ګناهونو نه دې مَنع شي .

او که يو کس د خلقو د پيغورونو نه دومره يَرېږي نو که صبا ده ته څوک دا پيغور ورکړي چې " ته مسلمان هم يې او دُهوکه هم کوی ، يا دروغ هم وايې " نو آيا دا سړې به ددې پيغور نه د بچ کيدو د پاره اِسلام پرېږدي ؟ هرګز نه . بلکه دې به دا ګناهونه پرېږدي .

دغه رنګې که ده ته څوک ووايي چې "دومره ښې جامې دې اغوستې دي خو کارونه د ليوَنو کوی " نو آيا دا کس به ددې پيغور نه د بچ کيدو په وجه خپلې جامې اُوباسي ؟ هرګز نه . همدغه شان دلته هم د خلقو د پيغورونو په وجه ګناه پرېښودل په کار دي ، نه دا چې غصه په ګيره سرَوَل ، او ګيره خريل .

## نهمه شُبهه : که ګيره پرېږدو نو د ګناه کولو په وجه بيا ګيره او اِسلام بَدناميږي

ډير خلق د ګيرې خريلو د پاره دا عُذر بيانوي چې که مونږ ګيره پرېږدو او بيا يوه ګناه (مثلاً دروغ ، دُهوکه وغيره) کوو نو په دې سره د ګيرې بې عِزتي کيږي او مسلمان بَدناميږي . لهذا د ګيرې د عِزت په خاطر او د مسلمان دبَدنامۍ نه بچ کولو په خاطر مونږ ګيره نه پرېږدو ، چې چيرته زمونږ په جه مسلمان بَدنام نه شي .

## جواب :

قدرمنو ! دا يوه شيطاني وَسوسه ده چې ددې په وجه ډير خلق د ګيرې خريلو په دې عظيمه ګناه کې اَخته دي .

که چيرته انسان ته شيطان په ذِهن کې دا وَسوسه وَر واچوي چې " ستا دګناهونو په وجه غونډ اسلام او مسلمانان بَدناميږي ، لهذا د اسلام د عزت په خاطر او دمسلمانانو د

بَدنامي نه د بچ کولو په خاطر ته اِسلام پرېږده او سيکهـ شه " نو آيا دا کس به اسلام پرېږدي او که دا گناهونه به پرېږدي ؟

دې به گناهونه پرېږدي خو اِسلام به پرې نه ږدي . همدغه شان د کيرې د عزت په خاطر او د مسلمانانو د بَدنامې نه د بچ کولو په خاطر گناهونه پرېخودل په کار دي ، نه دا چې انسان خپله گيره اُوخرَئ .

## نهمه شُبهه : گيره خرَيل وړه گناه ده

بعضې خلق وايي : " مونږ دا منو چې گيره خريل گناه ده ، خو داگناهِ صغيره ( يعنى وړه گناه ) ده ، غټه گناه نه ده چې په خريلو يې انسان گناهگار شي " .

## جواب :

دا خبره غلطه ده چې گيره خريل وړه گناه ده ، بلکه دا گناهِ کبيره ده ، ځکه گيره پرېخودل واجب دي ، او د واجبو خلاف وَرزي کول گناهِ کبيره وي .

بل دا چې په گناهِ صغيره باندې اِصرار ( او هميش والي ) کولو سره دا صغيره گناه نه پاتې کيږي ، بلکه ددينه کبيره گناه جوړيږي .

بل دا چې په شريعت کې د صغيرې گناه کولو اِجازت هم نشته ، د مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فرمايي :

کوم گناهونه چې معمولي گڼړلې شي تاسو د هغې نه هم بچ شئ ، ځکه دالله تعالى د طرفه په دې باندې هم مؤاخذه شته .(١)

مخکې دا خبره په تفصيل سره تيره شوې چې گيره خريل داسې بَدترينه گناه ده چې تر څو پورې ده ورنه توبه نه وي ويستې نو گير خريلې هر وخت او په هر ځاى کې گناهگار وي ، او مسلسل دده پسې د کيرې خريلو گناه ليکلې شي : که انسان روان وي نو هم گناهگار وي ، که ناست وي نو هم گناهگار وی ، که مونځ کوي نو هم گناهگار وی ، که روژه يې نيولې وي نو هم گناهگار وی ، که د بيتُ الله طواف کوي نو هم گناهگار وی ، که حجرِ اَسود ښکلوي نو

---

(١) مشکوة المصابيح ص ١٤٥٨ از ابن ماجه .

هم ګناهګار وی ، که د نبي عليه السلام د رَوضې مبارکې مخامخ درود و سلام وايي نو هم ګناهګار وی ، حتّی چې د هر عبادت کولو په وخت دې ګناهګار وی .

ځکه د ګيرې خريلو دا ګناه دائمي ده ، ځليريشت ( ۲۴ ) ګنټې دده په مَخ باندې د ګناه اَثر وي ، او دا مَسخ شوې صورت يې هر وخت د نبي عليه السلام د طريقې خلاف ښکاري .

ګويا هر وخت دا انسان نوې نوې دا ګناه کوي ، نو دګيرې خريلو دا ګناه مسلسل دده پسې نيکلې شي .

نو چې کله ګيره خريل دومره عظيم جُرم دی نو دا بيا څنګه ګناهِ صغيره شوه ؟ بلکه دا په ګناهِ کبيره ؤ کې داخله ده .

## لسمه شُبهه : په شريعت کې د ګيرې مِقدار نه دی ذکر

ددې دوَر اکثر بې دِينه ، خواهِش پرست ، اوبې عِلمه خلق دا خبره کوي چې " په شريعت کې دګيرې مِقدار نه دې ذکر ، بَس صرف دومره ګيره پريخودل ضروري ده چې د لرې نه په نظر راځي ، او د سرې او ښځې په مينځ کې فرق پرې کيدې شي " دغه وجه ده چې ډيرو خلقو ورې ورې ګيرې پريخې وي .

## جواب :

که په احاديثو او د سِيرَت په کتابونو کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ګيرې متعلق تفصيل اُوکتې شي نو د هغې نه دا خبره واضحه معلوميږي چې د نبي ﷺ ګيره مبارکه ډيره موټې نه زياته وه ، ددې نه کمه نه وه .

ځکه په بعضې رواياتو کې راځي د نبي عليه السلام په باره کې راځي چې : " کَثِيرُ شَعْرِ اللِّحْيَة " . يعنی د پيغمبر عليه السلام په ګيره مبارکه کې ويښتان ډير وو . (۱)

په بعضو رواياتو کې راځي چې : کَثُّ اللِّحْيَة . د دوی ګيره مبارک ګنړه وه . (۲)

(۱) د مسلم شريف حديث دی : وکان کثير شَعْر اللِّحية . د نبي ﷺ په ګيره مبارکه کې ويښتان ډير وو .

(۲) په شمائل ترمذي کې دي : کان رسولُ الله صلی الله عليه وسلم کثّ اللّحية . نبي ﷺ د ګنړې ګيرې واله ؤ .

په بعضو رواياتو کې د دوی په باره کې راځي : عَظِيْمُ اللِّحْيَةِ. (١) يعنی ږيره مبارکه يې غټه وه.

په بعضو کتابونو کې راځي چې د نبي عليه السلام ګڼې ږيرې د دوی مُنوّره سينه ډکه کړې وه. (٢)

د سيرت په کتابونو کې همدا خبرې د خُلفاي راشدينو په باره کې هم نقل دي :

شيخ عبدالحق محدّث دِهلوي رحمه الله په مدارج النبوة کې ليکلي دي :

لِحيه امير المؤمنين علي پُر مي کرد سينه را ، و هم چنين لِحيه امير المؤمنين عمر و عثمان رضي الله عنهم اجمعين.

ترجمه : د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه ږيرې مبارکې د دوی سينه ډکه کړې وه ، همدغه رنګې د امير المؤمنين حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهما ږيرو مبارکو هم د دوی سينې ډکې کړې وی. (يعنی ږيرې يې غټې وی).

د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کې نقل دي :

كَانَ كَثَّ اللِّحْيَةِ. (٣) دوی د ګڼې ږيرې واله وُ.

د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کې نقل دي : كَانَ عَظِيْمَ اللِّحْيَةِ. دوی د غټې ږيرې واله و.

---

(١) علامه ابن جوزي رحمه الله د حضرت علي رضي الله عنه نه نقل کړي دي :
كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَظِيْمَ اللِّحْيَةِ. ذكره ابن جوزي في الوفاء باحوال المصطفى صلى الله عليه وسلم. رسول الله ﷺ د غټې ږيرې مبارکې واله وُ.

(٢) په بخاري شريف کې ذکر دي چې د حضرت خباب رضي الله عنه نه د دوی يو شاګرد پوښتنه وکړه : تاسو ته به څنګه معلوميده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ماسپخين او مازيګر په مانځه کې قراءت کوي؟ ده ورته ووېل : مونږ ته به د نبي عليه السلام د ږيرې مبارکې د حرکت نه دا معلوميده چې دوی قرآت کوي. بخاري شريف، ابوداؤد شريف. فايده: د دينه هم معلومه شوه چې د رسول الله ﷺ ږيره مبارکه د موټې نه زياته وه.

(٣) الاستيعاب.

ددې پاس ټولو اَقوالو نه معلومه شوه چې د نبي عليه السلام او خُلفاء راشدينو ږيرې مبارکې دومره غټې او ګڼې وې چې په هغې باندې د عظيم ، او کثير الفاظ صادقيدل . نو خامخا به دا د يو موټې د مِقدار نه زياتې وې .

بل دا چې پيغمبر عليه السلام په کومو احاديثو کې اُمت ته د ږيرې پريخودو حکم کړی په هغې کې د " اُعْفُوا اللُّحٰى " ، " اَوْفُوا اللُّحٰى " ، " اَرْخُوا اللُّحٰى " او " وَفِّرُوا اللُّحٰى " (١)

دا ټول الفاظ د ږيرې په غټولو او اُوږدولو باندې دلالت کوي .

بل دا چې حضرت حسان ﷺ د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې فرمايي :

وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ .

ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلی چې د خپلې ږيرې مبارکې خِلال يې کولو .

او خِلال خو په هغه ږيره کې کيږي کومه چې ګڼه وي . نو ددې نه هم دا معلومه شوه چې د پيغمبر عليه الصلوة والسلام ږيره مبارکه د يو موټې نه زياته وه .

لهذا ددې ټولو خبرو نه معلومه شوه چې ږيره پريخودل واجب دي ، او د قبضې نه کمول يې حرام دي . په در مختار کې ذکر دي :

يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ وَفِيْهِ السُّنَّةُ فِيْهَا الْقَبْضَةُ . (٢)

د سړي د پاره ږيره کټ کول حرام دي ، او په دې کې مقدار مسنون يو موټې ده .

بلکه فقهاؤ ليکلي چې ږيره د يو موټې نه کمول د مغربي خلقو او هيجړاګانو طريقه ده .

په " فتحُ القدير " او " درمختار " کې ذکر دي :

وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُوْنَ ذٰلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَ مُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ ، وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْدِ الْهِنْدِ وَ مَجُوْسِ الْأَعَاجِمِ . (٣)

---

(١) حوالې او معناګانې يې مخکې تېرې شوې .

(٢) در مختار ج٢ ص ٢٢٣ .

(٣) فتح القدير ج٢ ص ٧٧ طبع مصر ، شامي طبع جديد ج٢ ص ٤١٨ ، اختلاف امت اور صراط مستقيم ص ٢٣٨ ، ٢٦٥ ، بحرالرائق ج٢ ص ٣٠٢ .

ګيره د يو موټي نه کمول ددې جواز هيچا نه دې ورکړی (يعنی په يو مذهب کې هم ددې جواز نشته)، او دا کار د مغربي خلقو (اَنګريزانو)، او مُخَنثو سړو (يعنی هِيجړاګانو) دی. او ټوله ګيره خريل د هندوستان د يهوديانو، او د عجمو مجوسيانو کار دی.

شيخ عبدالحق محدّث دهلوي رحمه الله په اشعة اللمعات کې ليکلي دي:

حلق کردن لحيه حرام است، وګزاشتن آن بقدر قبضه واجب است. (١)

د ګيرې خريل حرام دي او ديو موټي په مقدار پريخودل يې واجب دي.

لهذا د دينه معلومه شوه چې د ګيرې شرعي مقدار کم از کم يو موټې دی. (٢)

## يولسمه شُبهه: په ګيرې سره سړې بَدرَنګ او عجيبه معلوميږي

بعضې ځوانان دا وايي چې مونږ ګيره ځکه نه پريږدو چې په ګيره سره سړي بَدرَنګ، بَد صورته، او عجيبه معلوميږي، نو مونږ د حُسن پيدا کولو د پاره خپلې ګيرې خَريو.

## جواب:

دا خو عجيبه خبره ده چې يو سړې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په ښائسته سُنتو باندې عمَل کوي، او د نبي عليه السلام په شان شکل و صورت جوړوي نو دادې بَدرَنګ ښکاري. او څوک چې د مُشرکينو، مجوسو، يهودو، عيسايانو او هِيجړاګانو په شان شکل و صورت جوړوي نو هغه دې ښائسته ښکاري؟ دا خو عجيبه قضاوَت دی.

الله ﷻ په ټولو مخلوقاتو کې ډير ښائست پيغمبرانو ته ورکړې وي، نو که چيرته څوک په ګيره پريخودو باندې بَدرنګ او عجيبه معلوميدی نو بيا به (نعوذُ بالله) پيغمبرانو ته د ګيرې خريلو حکم شوې وی، حالانکه د ټولو پيغمبرانو ښائسته ګيرې وی.

د حضرت يوسف عليه السلام او نبي کريم صلی الله عليه وسلم حُسن خو مشهور دی، حالانکه د دوی هم ګيرې وی.

---

(١) اشعة اللمعات ج١ ص ٢٢٨.

(٢) هدايه کتاب الصوم.

......................

پس معلومه شوه چې په ګيرې سره د انسان په حُسن او نُورانيت کې نوره هم اِضافه کيږي.
وجه داده چې اَصلي حُسن او نُورانيت په انسان کې د عباداتو په کولو او تقویٰ سره پيدا کيږي . لهذا د ګيرې په خرېلو او د ګناهونو د سپيره توب په وجه خو انسان نور هم بَدرنګه ، بَدصورته او پيکه معلوميږي .

## دولسمه شُبهه : که ګيره پريږدو نو بيا به راته حکومتي نوکرۍ او غټې عُهدې نه ملاويږي

ډير خلق د ګيرې خرېلو د پاره دا جواز بيانوي چې که مونږ ګيره پريږدو نو بيا به راته حکومتي نَوکرۍ ، غټې غټې عُهدې او تَرَقي نه ملاويږي ، ځکه دا اِنقلابي دوَر دی ، په دې کې اُوچتو او حساسو مرتبو ته د ګيرې واله نشي رسيدی .

## جواب :

د ټولو نه اول په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې په شريعت کې د دې اِجازت نشته چې انسان دې ځان ګناهګار کړي او دا دې نوکري يا غټې عُهدې حاصلې کړي ، يا دې د ګناه په ذريعه رِزق طلب کړي .

د مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَحْمِلَنَّكُمْ إِسْتِبْطَاءُ الرِّزْقِ أَنْ تَطْلُبُوْهُ بِمَعْصِيَةِ اللّٰهِ ... (١)

په تاخير سره رِزق ملاويدل دې تاسو په دې بَرانګيخته ( او آماده ) نه کړي چې تاسو دا رِزق د الله ﷻ په نافرمانۍ ( او ګناه ) سره طلب کړئ .

يعنی د الله ﷻ په نافرمانۍ کولو سره رِزق مه طلب کوئ .

بل دا چې انسان ته غټې عُهدې او ترقي په کمال باندې ملاويږي ، يعنی چې دې خوَاري وکړي ، څه کمال او مهارت حاصل کړي نو بيا ده ته غټې عُهدې او ترقي ملاويږي .

---

(١) مشکوة المصابيح باب التوکل ، المعجم الکبير للطبراني حديث ٧٦٩٤ ، شرح السنّة للبغوي حديث ٤١١٢ بابُ التوکل علی الله عزّ وجلّ .

ګيره د ترقۍ د پاره مانِع او رُکاوټ نه ده ، دغه وجه ده چې په دُنيا کې ډير دګيرو واله ډاکټران ، اِنجينران او سائنس دانان موجود دي ، او په ډيرو غټو غټو عُهدو باندې مقرر دي. حتّی چې په کُفري ملکونو کې هم د ګيرو واله په غټو غټو عُهدو مقرر دي .

که په ګيره باندې څوک د ترقۍ نه منع کيدی نو په کار ده چې سيکهانو هيڅ ترقي نه وی کړی ، ځکه هغوی دګيرو سره بريتونه هم پريخي وي . حالانکه بيا هم د هندوستان په نورو قومونو کې سيکهان ډير ترقي يافته او په غټو غټو عهدو پاندې مقرر دي .

پس معلومه شوه چې ګيره د ترقۍ د پاره مانِع نه ده ،يو کس چې ترقي کوي نو هغه په محنت او مهارت سره ترقي کوي ، نه په ګيره خريلو سره .

## واقعه : د ګيرې خريلو باوجود نوکري ورته ملاؤ نه شوه

ډير کرّتي داسې هم شوي چې يو انسان د سَرکاري نوکرۍ حاصلولو د پاره خپله ګيره خريلې وي خو بيا هم ورته نوکري نه وي ملاؤ شوي .

مشهوره واقعه ده چې د ګيرې واله يو کس د نوکرۍ حاصلولو د پاره اِنټَروي ورکولو د پاره لاړ ، هلته ناست آفسر ورته ووېل : دلته دګيرې سره نوکري کول مشکل دي ، لهذا ګيره خريل به لازمي وي . دې کس چې دا خبره واوريده نو حيران شو چې اوس څه وکړم ؟

په آخر کې يې د ځان سره دا فيصله وکړه چې دا ګيره به اُوخريم نو نَوکري خو به راته ملاؤ شي . لهذا ده خپله ګيره اُوخريله . بيا دوباره هغه آفسر ته راغی ، هغه ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه راغلی ؟ ده ورته ووېل : تاسو راته ويلي وو چې ګيره اُوخری نو بيا به درته نَوکري ملاؤ شي . ما خپله ګيره اُوخريله ، اوس دوباره راغلم .

هغه ورنه پوښتنه وکړه : آيا ته مسلمان يې ؟ ده ورته ووېل : آو ، زه مسلمان يم . هغه ورنه بيا پوښتنه وکړه : آيا تا دا ګيره پريخودل ضروري ګڼل يا غير ضَروري ؟ ده ورته ووېل: ګيره پريخودل ما د الله ﷻ او د رسول ﷺ حکم ګڼلو ، او ضروري مې ګڼله ، ځکه خو مې پرېښې وه .

هغه آفسر ورته ووېل : کله چې تا ته دا ښه پته وه چې ګيره پريخودل د ا لله او د هغه د رسول حکم دی ، او تا ضروري ګڼله ، خو بيا دې هم صرف زما په وينا باندې دخپل رَب او خپل رسول حکم مات کړو او ګيره دې اُوخريله ، ددې مطلب دادی چې ته د الله او د رسول

وَفادار نه يي . او څوک چې د خپل رَب او خپل رسول وَفادار نه وي هغه د خپل اَفسر هم وفادار نه شي کيدی ، لهذا مونږ تاته نوکري نه شو درکولی .

نو دا بَدبخته دګيرې خريلو په ګناه کې هم راغی ، او نوکري هم ورته ملاؤ نه شوه . خَسِرَ الدّنيا والآخرة .

## دِيار لسمه شبهه : زمونږ زړه او باطن صَفا دی ، لهذا ګيرې ته ضرورت نشته

بعضې جاهِله خلق دا خبره کوي چې اَصل شی د زړه اِصلاح ، د باطِن صفائي ، او د رُوح تَزکيه ده ، او هغه مونږ ته حاصله ده ، لهذا ګيرې پريخودو ته هيڅ ضرورت نشته .

يا دا چې اَصل شی تقویٰ ده ، او د تقویٰ محَل زړه دی نو که ګيره نه وي نو هيڅ پَرواه نشته .

## جواب :

چې د چا زړه او باطِن صفا وي هغه د الله ﷻ او د رسول ﷺ تابِعدار وي ، هغه خو د ګيرې خريلو غوندې عظيمه ګناه نه کوي .

دا خو عجيبه خبره ده چې انسان د نبي عليه الصلوة والسلام د صورتِ مُبارکه سره نفرت لري ، د مشرکينو او مجوسو شکل يې جوړ کړی وي ، خو بيا هم دده زړه او باطِن صَفا وي ، او بيا هم په ده کې تقوی وي ؟ دا خو نَا اَشنا منطِق دی .

ځکه تقویٰ خو په انسان کې هلته راځي چې دده ظاهر او باطن دواړه په شريعت برابر وي .

## څوار لسمه شُبهه : آيا دا اِسلام صِرف په ګيره کې دی ؟

بعضې خلق دا وايي چې آيا دا اِسلام صرف په ګيره کې دی ، چې تاسو د ګيرې پريخودو ته دومره ډير زور ورکړې دی ؟

## جواب :

آو ، د هر شرعي حکم په منَلو کې اِسلام دی ، که هغه فرض وي ، که واجب وي ، که سُنت وي او که مُستحب وي .

چې كله په سُنت طَريقې سره اِستِنجاء کولو او په سُنت طريقې سره خوراک څکاک کولو کې اِسلام دی ، نو ږیره پرېښودل خو واجب دي ، د اِسلام او مسلمانۍ اَهمه نخه ده نو ددې په پرېښودو کې خو به خامخا اِسلام وي .

## پنځلسمه شُبهه : ږیره هم د سَر د ویښتانو په شان ده

بعضې خلق وايي چې نبي اکرم ﷺ څنګه ږیره پرېښې وه نو همدغه شان يې د سَر ویښتان هم پرېښي وو ، نو لکه څرنګ چې د سَر ویښتان خرېل او کمول دواړه جائز دي همدغه شان د ږيرې خرېل او کمول دواړه جائز کېدل په کار دي .

## جواب :

د سَر د ویښتانو په باره کې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه قَولي او فِعلي دواړه قِسمه احاديث نقل دي ، چې دا خرېل او کمول دواړه جائز دي .

د سَر په باره کې د نبي ﷺ قَولي حديث دادی کوم چې په ابوداوُد شريف کې ذکر دی ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

اِحْلِقُوْهُ كُلَّهُ اَوِ اتْرُكُوْهُ كُلَّهُ . (١)

يا ټول سَر اُوخرئ ، او يا ټول پرېږدئ .

د سَر په باره کې د پيغمبر عليه السلام فِعل دادی چې د حجّة الوداع په موقع باندې نبي عليه السلام خپل سَر مبارک خرېلې وُ ، او ویښتان يې په صحابه کرامو باندې تقسيم کړي وو .

(١) پوره حديث داسې دی ، حضرت ابن عمر ﷺ فرمايي : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى حَبَشِيًّا قَدْ حُلِقَ بَعْضُ شَعْرِهِ وَتُرِكَ بَعْضُهُ . فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ وَقَالَ : اِحْلِقُوْهُ كُلَّهُ اَوِ اتْرُكُوْهُ كُلَّهُ . ابوداؤد ، نسائي حديث ٣٨ الرخصة في حلق الراس ، صحيح ابن حبان حديث ٥٥٠٩ ذكر البيان بان القزع مباح ... وَفِي رِوَايَةٍ : عَنِ ابْنِ عُمَرَ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى غُلَامًا قَدْ حَلَقَ بَعْضَ رَأْسِهِ . وَتَرَكَ بَعْضَهُ . فَنَهَاهُمْ عَنْ ذَلِكَ وَقَالَ : احْلِقُوْهُ كُلَّهُ أَوْ ذَرُوْا كُلَّهُ . جامع معمر بن راشد حديث ١٩٥٦٢ باب القزع .

ليکن د ګيرې په باره کې داسې هيڅ قِسمه قولي يا فِعلي حديث نشته چې ګني رسولُ الله ﷺ يا صحابه کرامو ګيره خريلې وي ، يا يې د موټې نه کمه کړې وي ، او يا يې اُمت ته ددې د خريلو حکم کړې وي.

## حِيلې او بهَانې پريخودَل په کار دي

محترمو مسلمانانو ! انسان ته په کار دي چې دغه خُود سَاخته حِيلې ، بهَانې او دلائل پريږدي ، او د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په شان خپل شکل و صورت جوړ کړي ، او د دوی په هر حکم باندې عمَل وکړي ، ځکه د انسان د دوارو جهانو کاميابي د پيغمبر عليه السلام په کامله اِتباع کې ده ، او کامِله اِتباع هلته راځي چې مسلمان خپل ظاهِر او باطِن دواړه د نبي عليه السلام په طريقه برابر کړي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ږيرې متعلق ضروري فقهي مسائل

**نوټ** : د ږيرې متعلق درته يو څو ضروري فِقهي مسائل ذكر كوم ، كوم مې چې په ډيرې خوارۍ سره د مُعتمدو كتابونو نه راجمع كړي دي ، لهذا مقرّرين حضرات دې د دې نه ځانته اِنتخاب وكړي ، او د موقعې مناسب اَهم مسائل دې خلقو ته بيان كړي . ابوالشمس عفي عنه

## اوله مسئله : ږيره پريخودل واجب دي

ږيره پريخودل واجب دي ، او د يو موټي نه كمول يا خريل يې حرام دي ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د ږيرې پريخودو اَمر كړى :

خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ : وَفِّرُوا اللُّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ . (۱)

تاسو د مشركينو مخالفت وكړئ : ږيرې اُوږدې كړئ ، او بريتونه كټ كړئ .

همدارنګې په بخاري شريف او نورو د احاديثو په كتابونو كې د ږيرې متعلق چې څومره احاديث راغلي دي هغه ټول د اَمر په صيغې سره راغلي دي ، او اَمر دوجوب د پاره وي .

اوس كه چيرته دا اَمر د سُنّيَت د پاره وى نو بيا خو به چيرته يو پيره يا دوه پيرې د نبي عليه السلام نه د ږيرې خريل يا كمول نقل وى ، حالانكه نه په قولي حديث كې د ږيرې د خريلو جواز شته ، او نه په فِعلي حديث كې . لهذا دا دَوام او مواظَبَت بِلا تَرک د وجوب كيدو قوي دليل دى . (۲)

ږيره پريخودل واجب دي . (۳)

---

(۱) بخاري كتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ۵۸۹۲ . مشكوة ج۲ ص ۳۸۰ باب الترجل .

و في رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنْهِكُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللُّحٰى . بخاري كتاب اللباس باب إعفاء اللحى حديث ۵۸۹۳ . و في رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَأَرْخُوا اللُّحٰى . خَالِفُوا الْمَجُوْسَ . مسلم باب خصال الفطرة حديث ۵۵ ( ۲۶۰ ) .

(۲) فتاوى محموديه ج۲۷ ص ۳۸۲ .

(۳) كفاية المفتي ج۹ ص ۱۷۵ ، كشف الباري كتاب اللباس ص ۲۵۰ .

## دویمه مسئله : ګیره خریل یا د قبضې نه کمول حرام او ګناه کبیره ده

ګیره خریل ، یا د موټي نه کمول په اتفاق سره حرام ، ناجائز او ګناهِ کبیره ده ، ځکه پیغمبر علیه السلام د ګیرې غټولو او پریخودلو اَمر کړی ، او دغټولو ضد خریل یا کمول دي . او دا مشهوره قاعده ده چې " د یو شي اَمر کول دهغې د ضد نه نَهي وي " مثلاً په مانځه باندې اَمر کول د مانځه د پریخودو نه نَهي ده .

او دلته د ګیرې په باره کې اَمر د وجوب د پاره دی ، پس کله چې اَمر د وجوب د پاره شو نو خامخا به د دې د ضد نه نَهيَ د تحریم د پاره وي . (١)

فقهاؤ په صراحت سره د ګیرې خریلو حُرمت ذکر کړی :

حَلْقُ اللِّحْيَةِ مُثْلَةٌ فِيْ حَقِّ الرِّجَالِ ، وَالْمُثْلَةُ حَرَامٌ . فَحَلْقُ اللِّحْيَةِ حَرَامٌ . (٢)

ګیره خریل د سړو په حق کې مُثله ده ، او مُثله حرامه ده لهذا ګیره خریل هم حرام دي .

وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُوْنَ ذٰلِکَ کَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَ مُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ ، وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْدِ الْهِنْدِ وَمَجُوْسِ الْأَعَاجِمِ . (٣)

ګیره د یو موټي نه کمول ددې جواز هیچا نه دې ورکړی ( یعنی په یو مذهب کې هم ددې جواز نشته ) ، او دا کار د مغربي خلقو ( اَنګریزانو ) ، او مُخَنثو سړو ( یعنی هیجړاګانو ) دی . او ټوله ګیره خریل د هندوستان د یهودیانو ، او د عجمو مجوسیانو کار دی .

---

(١) انّ الأمر يقتضي كراهة الضدّ ولو ايجابًا . والنّهي كونه سنّة مؤكّدة ولو تحريمًا الى ما قال قول العامة مِنْ أَنَّ الْأَمْرَ بِالشَّيْءِ نَهْيٌ عَنْ ضِدِّهِ إِنْ كان واحدًا وإلّا فَعَنِ الْكُلِّ .... تيسير التحرير ١ /٣٧٣ الامر يقتضي كراهة الضد ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٣٨٢ .

(٢) هداية بحواله نورالضحى في ما يتعلق باللّحى ص ٢٥ ، وفي الهداية : أَنَّ حَلْقَ الشَّعْرِ فِيْ حَقِّهَا مُثْلَةٌ كَحَلْقِ اللِّحْيَةِ فِيْ حَقِّ الرِّجَالِ . هداية ١ / ٢٥٥ باب الاحرام كتاب الحج ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٣٩٣ ، ٣٨٣ .

(٣) فتح القدير ج٢ ص ٣٨ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة طبع دارالفكر بيروت ، درمختار على الشامي زكريا ج٣ ص ٣٩٨ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم مطبوعه امداديه ملتان ، بحرالرائق ج٢ ٣٠٢ ، مرقاة شرح مشكوة ١ / ٣٠٢ كتاب الطهارة باب السواک ، حاشية الشلبي ١ / ٣٣٢ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم .

يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ . (١) د سړي دپاره ګيره کټ کول حرام دي .

ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي :

قَصُّ اللِّحْيَةِ كَانَ مِنْ صَنِيْعِ الْأَعَاجِمِ ، وَهُوَ الْيَوْمَ شِعَارُ كَثِيْرٍ مِّنْ أَهْلِ الشِّرْكِ وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ كَالْأَفْرنج ، وَالْهُنُوْدِ ، وَمَنْ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الدِّيْنِ مِنَ الْفِرْقَةِ الْمَوْسُوْمَةِ بِالْقَلَنْدَرِيَّةِ فِيْ زَمَانِنَا . (٢)

ګيره خريل د عجمو طريقه وه ، او نن صبا دا د مشرکينو ، فرنګيانو ، هندوانو او هغو خلقو طريقه ده د کومو خلقو چې په دين کې هيڅ حصه نشته لکه نن صبا زمونږ په دې زمانه کې داد قليندريه په نوم دلې غټه نخه ګرځيدلې ده .

شيخ عبدالحق محدّث دهلوي رحمه الله په " اشعة اللمعات " کې ليکلي دي :

حلق کردن لحيه حرام است ، وګزاشتن آن بقدر قبضه واجب است . (٣)

د ګيرې خريل حرام دي او ديو موټې په مقدار پريخودل يې واجب دي .

لهذا د ګيرې مَسنون مقدار يو موټې دی ، کوم چې په " عالمګيري " ، " طحطاوي " او " بذل المجهود " کې په تفصيل سره ذکر دی .

﴿ **نوټ** : د ګيرې متعلق تفصيلي بحث په دې لانديني کتابونو کې ذکر دی : درک المأرب في احکام اللّحٰی والشوارب ، هداية النور في احکام الاظفار والشعور ، نورالضحٰی في ما يتعلق باللّحٰی . بذل المجهود في شرح ابوداؤد ج٥ ص٧٩ کتاب الترجل باب في أخذالشوارب و ج١ ص ٣٣ کتاب الطهارة باب السواک من الفطرة . فتح القدير ج٢ ص ٣٤٧ کتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والکفارة ، العناية شرح هداية ، ردالمحتار ج٢ ص ١٧٤ فصل في مفسدات الصوم مطلب في الأخذ من ﴾ .

(١) در مختار ج٩ ص٥٨٣ کتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٨ ص ٣١٧ .

(٢) مرقاة ج١ ص ٣٠٢ کتاب الطهارة باب السواک الفصل الاول ، درمختار على الشامي ٣٩٨/٢ کتاب الصوم مطلب في الأخذ من اللحية ، فتح القدير ٣٤٧/٢ کتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والکفارة ، فتاوى محمودية ج٢٧ ص ٢٨٥ .

(٣) اشعة اللمعات ج١ ص٢٢٨ .

## دريمه مسئله : د موټي نه زياته ګيره کټ کول جائز دي

اګر چې په احاديثو کې د " أُعْفُوا اللُّحٰى " . " أَوْفُوا اللُّحٰى " . " أَرْخُوا اللُّحٰى " او " وَفِّرُوا اللُّحٰى " (١) الفاظ راغلي دي

او دې ټولو تقاضا داده چې ګيره په خپل حالت پرېخودې شي او هيڅ ورنه کټ نه شي ، مګر د حديث راوي ( حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما ) دا معمول وُ چې ګيره به يې د يو موټي نه زياته شوه هغه به يې کټ کوله .

دا حديث امام محمد رحمه الله په کتاب الآثار کې نقل کړی ، او دا يې د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب ګرځولی دی .

عن ابن عمر رضي الله عنهما أنه كان يقبض على ليحته ثم يقص ما تحت القبضة . قال محمد وبه نأخذ ، وهو قول ابي حنيفة . (٢)

---

(١) دا ټول الفاظ په مشکوة شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې موجود دي . مشكوة كتاب اللباس باب الترجل ص ٣٨٠ ، مسلم ١ /١٢٩ كتاب الطهارة باب خصال الفطرة .

(٢) كتاب الآثار ص ١٩٨ باب حف الشعر من الوجه مطبوعه كراچي ، زيلعي ١ /٣٣٢ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم ومالايفسده ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٤٩١ .

**د قبضې نه د زياتې ګيرې کټ کولو په باره کې د علماؤ اختلاف** : د موټي نه زياتې ګيرې کټ کولو په باره کې د علماؤ اختلاف دی : امام نووي رحمه الله وايي چې دا به نشي کټ کولی ، بلکه په خپل حالت به پرېخودلې شي . شرح مسلم للنووي كتاب الطهارة باب خصال الفطرة ١ / ١٢٩ ، كشف الباري كتاب اللباس باب اعفاء اللحى ص ٢٣٩ .

او د بعضو علماؤ په نزد د قبضې نه زياتي حصه کټ کول مباح دي ، او دبعضو په نزد مستحب دي . الابواب والتراجم ٢ / ١١٠ .

صاحب د دُرمختار نه نقل دي چې يو موټې ګيره ساتل مسنون دي : والسنّة فيها القبضة . الدرالمختار كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ٥ /٢٨٨ .

د همدې عبارت د لاندې علامه شامي ليکلي : وهو أن يقبض الرجل لحيته فما زاد منه على قبضة قطعه . كذا ذكره محمد في كتاب الآثار عن الامام . قال : وبه نأخذ . كشف الباري كتاب اللباس ص ٢٣٩ . ( باقي حصه په آينده صفحه لاندې حاشيه کې او ګوره )

امام بخاري رحمه الله ذکر کړي :

کان ابن عمر إذا حجّ او عتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه . (١)

ابن عُمر رضي الله عنه به چې کله حَج یا عُمره کوله (او کله به یې احرام کلاوُول) نو ګیره به یې په قبضه کې اُونیوه ، پس کومه حصه چې به د قبضې نه زیاته وه هغه به یې کټ کوله .

علامه طبري رحمه الله په خپل سَند سره هغه حدیث هم نقل کړی په کوم کې چې ذکر دي چې حضرت ابوهریرة رضي الله عنه به هم ګیره د موټي نه زیاتي حصه کټ کوله . (٢)

چونکه د ګیرې پریخودو حدیث هم د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دی . (٣)

او د قبضې نه د زیاتي حصې کټ کول هم د همدوی نه نقل دی . (٤)

---

**غلور اَقوال** : وهل يكره أخذ ما زاد على القبضة ؟ فيه وجهان : أحدهما : لا يكره لما روى البخاري ذلک من فعل ابن عمر ... وعلم مما سبق أنهم اختلفو فيما طال من اللحية على أقوال :

الاول : يتركها على حالها ولا يأخذ منها شيئًا وهو مختار الشافعيّة ورجحه النووي وهو احد الوجهين عند الحنابلة .

والثاني كذلك إلّا في حج او عمرة . فيستحب أخذ شيء منها . قال الحافظ : هو المنصوص عن الشافعي .

والثالث يستحب أخذ ما فحش طولها بدون التحديد بالقبضة . وهو مختار الامام مالک . ورجحه القاضي عياض .

والرابع : يستحب أخذ ما زاد على القبضة . وهو مختار الحنفيّة . الابواب والتراجم ٢ / ١١٠ ، كشف الباري كتاب اللباس ص ٢٥٠ .

(١) بخاري ج١ ص ٨٧٥ ، اختلاف امت اور صراط مستقيم ص ٢٦٣ . حافظ ابن حجر رحمه الله د موطاء امام مالک رحمه الله روايت په دې الفاظو نقل کړی : كان ابن عمر إذا حلق رأسه أخذ من لحيته وشاربه . ابن عمر رضي الله عنهما چې به کله ( په حج یا عمره کې ) سَر خرېل نو د ګیرې د موټي نه زیاتي وېښتان او د بریتونو نه به یې هم څه وېښتان پرېکول .

(٢) فتح الباري ج١ باب تقليم الاظفار ، اختلاف اُمت اور صراط مستقيم ص ٢٥٨ .

(٣) عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبيّ صلى الله عليه وسلم قال: أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللُّحَى . وفي رواية : أَنَّهُ أَمَرَ بِإِحْفَاءِ الشَّوَارِبِ وَإِعْفَاءِ اللِّحْيَةِ . مسلم ج١ ص ١٢٩ باب خصال الفطرة .

(٤) عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كان يقبض على لحيته ثم يقص ما تحت القبضة . قال محمد وبه نأخذ . وهو قول ابي حنيفة . كتاب الآثار ص ١٩٨ باب حف الشعر من الوجه مطبوعه كراچي ، زيلعي ١ /٣٣٢ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم ومالا يفسده ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٣٩١ .

ددې نه دا ثابتيږي چې د ګيرې وجوبي حَد يوه قبضه ده، ددېنه زياتي واجب نه ده. (١)

په عالمګيري کې ليکلي دي:

ولا بأس أن يقبض على لحيته فإن زاد على قبضة منها شيء جزّه. (٢)

والقصّ سنة فيها، وهو أن يقبض الرجلُ لحيته فإن زاد منها على قبضة قطعه. (٣)

قال الغزالي: اختلف السلف فيما زاد من اللحية فقيل لابأس أن يقبض عليها و يقصّ ما تحت القبضة. كان ابن عمر يفعله... (٤)

په فتح القدير کې ذکر دي:

قوله: هو اى القدر المسنون فى اللحية "القبضة" قال فى النهاية وما وراء ذلك يجب قطعه. (٥)

## څلورمه مسئله: ګيره خريونکې فاسِق او مَردُودُ الشّهادة دی

څوک چې ګيره خرَيي يا يې د قبضې نه کموي نو دا سړی ښکاره فاسِق، مَردُودُ الشهادة او ګناهګار دی. يعنی د داسې سړي ګواهي به هم نشي قبليدی.

ځکه ګيره خريل يا د موټې نه کمول د سړو په حق کې مثله ده، او مثله حرامه ده، لهذا ګيره خريل هم حرام دي. په بحر الرائق کې د څه تفصيل نه روستو ذکر دي:

---

(١) آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٨ ص٣٠٢ تخريج شده ايڈيشن.

(٢) عالمګيري ج٥ ص٣٥٨ کتاب الکراهية الباب التاسع عشر فى الختان طبع کوئٹه. طحطاوي على الدر ٢٠٣/٤ کتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع طبع دارالمعرفة بيروت، شامي زکريا ٥٨٣/٩ کتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع، فتاوى محموديه ج٢٧ ص٤٨٨.

(٣) کذا ذکر محمد رحمه الله في کتاب الآثار عن ابي حنيفة رحمه الله، قال وبه نأخذ. کذا في محيط السرخسي، عالمګيري ج٥ ص٣٥٨ کتاب الکراهية الباب التاسع عشر، شامي زکريا ٥٨٣/٩ کتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع، فتاوى محموديه ج٢٧ ص٤٩١، آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٨ ص٣١٤ تخريج شده ايڈيشن.

(٤) بذل المجهود شرح ابوداؤد ج٥ ص٧٩ کتاب الترجل باب اخذ الشارب، فتاوى محموديه ج٢٧ ص٤٨٧.

(٥) فتح القدير ج٢ ص٢٢٠. آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج٨ ص٣١٥ تخريج شده ايڈيشن.

والحاصل أنّ الفسق بنفسه مانعٌ شرعًا من قبولها . (۱)

خلاصه دا چې نفسِ فِسق د قبلولو د شهادت نه مانِع دی . البته که دا سړی د ګیرې خریلو یا کمولو نه توبه اُوباسي نو بیا به دده ګواهي قبلولې شي .

## پنځمه مسئله : وَړه ګیره ( رِیش بَچه ) خریل بِدعت دی

د بچهٔ ریش ( یعنی د وَړې ګیرې ) خریل بدعت دی .

ونتف المنكبين بدعة ، وهما جانبا العنفقة ، وهي شعر الشفة السفلى . (۲)

البته د شونډو سره نزدې د دواړو طرفونو نه ویښتان کټ کول جائز دي ، ددې د پاره چې د خوراک او څکاک په وخت په خُله کې نه ځي .

ويأخذ من شاربه حتى يصير مثل الحاجب ... (۳)

## شپږمه مسئله : بریتونه خریل او کمول دواړه جائز دي ، البته د خریلو په نسبت کمول بهتر دي

د بریتونو د خریلو په باره کې په درمختار کې دوه قوله نقل دي: یو د بِدعت ، او بل د سُنت کیدو .

---

(۱) البحرالرائق ج۷ ص ۹۱ كتاب الشهادة باب من تقبل شهادته ومن لا تقبل ، فتاوى محمودية ج۲۷ ص ۴۹۳ . كفايت المفتي ج۹ ص ۱۷۵ . قال القاضي ثناء الله : فلا يقبل شهادة الفاسق إجماعًا . لان العدالة شرط في الرواية حيث قال الله تعالى : إن جاءكم فاسق بنبإٍ فتبيّنوا . ففي الشهادة بالطريق الاولى . المظهري ج۱ ص ۴۲۷ . آپ کے مسائل اور اُن کا حل ج۸ ص ۳۰۲ تخریج شده ایډیشن .

(۲) عالمگيري ج۵ ص ۳۵۸ كتاب الكراهية الباب التاسع عشر في الختان طبع كوئټه . رد المحتار على الدر المختار ۹ / ۵۸۳ كتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء وغيره فصل في البيع ، طحطاوي على المراقي الفلاح ص ۴۳۱ آخر باب الجمعة طبع مصري ، فتاوى محمودية ج۲۷ ص ۵۰۲ .

(۳) عالمگيري ج۵ ص ۳۵۸ كتاب الكراهية الباب التاسع عشر في الختان ، البحر الرائق ۸ / ۲۰۴۰ كتاب الكراهية فصل في البيع ، حاشيه على الهندية ۳ / ۴۱۱ كتاب الحظر والاباحة فصل في الختان، طحطاوي على المراقي ص ۴۳۰ كتاب الصلوة آخر باب الجمعة طبع مصري ، فتاوى محمودية ج ۲۷ ص ۵۰۲ . ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۳۱۴ .

حلق الشارب بدعة . وقيل سنّة . (١)

د بريتونو خريل بدعت دي ، او يو قول دا هم دی چې بريتونه خريل سُنت دي .

چونکه په يو کتاب کې دواړه قولونه ذکر دي ، لهذا دواړه جائز دي ، په بريتونو خريلو واله باندې اعتراض نه دي په کار . (٢)

البته د خيريلو په نسبت کمول بهتر دي ، ځکه چې د بريتونو خريلو په باره کې د سُنت او بِدعت کيدو دواړه قولونه شته ، او چې کله يو کار د سُنت او بِدعت په مينځ کې واقع شي نو ددې پريخودل اَولى دي .

وإذا تردّد الحكم بين سنّة وبدعة كان ترك السّنّة راجح على فعل البدعة . (٣)

بل دا چې په احاديثو کې د بريتونو په باره کې د "جُزُّوا" او "أَحْفُوْا" الفاظ راغلي ، چې ددې معنى ده " بنه کټ کول چې خريلو ته نزدې شي " . (٤)

---

(١) حلق الشارب بدعة . وقيل سنّة . مشى عليه في الملتقى وعبارة المجتبى بعد ما رمز للطحاوي حلقه سنّة ونسبه الى ابي حنيفة وصاحبيه رحمة الله عليهم . والقص منه حتى يوازي الحرف الاعلى من الشفة العليا سنة بالاجماع ... درمختار مع الشامي ج٦ ص ٤٠٧ طبع كراچي كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، وجلد ٩ ص ٥٨٣ طبع زكريا ديوبند ، طحطاوي على المراقي كتاب الصلوة آخر باب الجمعة ص ٤٣٠ طبع مصري ، البحرالرائق ٨/٢٠٢ كتاب الكراهية فصل في البيع ، سبک الانهر مع مجمع الانهر ٤/٢٢٦ كتاب الكراهية فصل في المتفرقات ، فتاوى محمودية ج٢٧ ص ٥٠٥ ، ٥٠٣ .

(٢) فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٥ .

**د بريتونو د کمولو او خريلو باره کې د علماؤ اقوال** : واختلف في المسنون في الشارب هل هو القص او الحلق ؟ والمذهب عند بعض المتأخرين من مشائخنا أنّه القص . قال في البدائع وهو الصحيح .

وقال الطحاوي القص حسن والحلق أحسن وهو قول علمائنا الثلاثة . نهر .

قال في الفتح : أن ينقص حتى ينتقص عن الإطار وهو بكسر الهمزة : ملتقى الجلدة واللحم من الشفة . وكلام صاحب الهداية على ان يحاذيه . رد المحتار ج٢ ص ٥٥٠ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣١٥ تخريج شده ايډيشن .

(٣) شامي زكريا ٢/٤٠٩ باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها مطلب اذا تردد الحكم بين سنّة ... فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٣ .

(٤) الاحفاء قريب من الحلق ، واما الحلق فلم يرد ، بل كرهه بعض العلماء و رآه بدعة . فتاوى محمودية ج٢٧ ص ٥٠٣ ، طحطاوي على المراقي الفلاح آخر باب الجمعة ص ٤٣٠ طبع مصر .

په "کفايت المفتي" کې ذکر دي چې: بريتونه په پَتري سره خريل جائز دي، خو بهتره داده چې په قينچۍ سره کټ کړی شي. (١)

خلاصه دا چې د بريتونو په کټ کولو کې سُنت طريقه داده چې دا په قينچۍ سره دومره باريک کټ کړی شي چې د بريتونو لاندې څرمن په نظر راشي. څکه په پَتري (بليډ) سره بالکل صفا کولو ته بعضې علماؤ بدعت او مکروهه ويلي. (٢)

ليکن د حَنفيه ؤ په نزد جائز دي. (٣)

د بريتونو کټ کولو په باره کې چې په احاديثو کې څومره الفاظ راغلي دي نو د هغې ټولو حاصل دادی چې بريتونه په قينچۍ سره ښه په بيخ کې کټ کړی شي خو چې په پَتري (بليډ) سره صفا نه کړی شي. دغه وجه ده چې امام مالک رحمه الله په پَتري سره بالکل صفا کولو ته مُثله ويلي ده. (٣)

همدغه رنګې د شوافعو او حنابله ؤ په نزد هم په قينچۍ سره پريکول افضل دي. (۴)

## اوومه مسئله: د رخسار او حلق د ويښتانو حکم:

د رخسار او حلق د ويښتانو ويستل او خريل دواړه جائز دي، البته نه خريل يې بهتر دي.

---

(١) والمختار في الشارب ترک الإستيصال والاقتصار على ما يبدو به طرف الشفة. نووي شرح مسلم ١ / ١٢٩ باب خصال الفطرة، کفايت المفتي ج١ ص ١٧٨، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣٠٧.

(٢) اوجز المسالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة: ١٤ / ٢٣١، شرح الزرقاني على المؤطا للامام مالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة ٣ / ٢٨٧، الابواب والتراجم ٢ / ١٠٩، فتح القدير کتاب الحج باب الجنايات ٢ / ٤٣٦. کشف الباري کتاب اللباس ص ٢٢٥.

(٢) شرح مسلم للنووي کتاب الطهارة باب خصال الفطرة ١ / ١٢٩. اوجز المسالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة: ١٣ / ٢٣٢، حاشيه ابن عابدين کتاب الحج باب الجنايات ٢ / ٢٢٢، فتح القدير کتاب الحج باب الجنايات ٢ /٤٣٦.

(٣) فتح الباري ١٠ / ٤٢٥، اوجز المسالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة: ١٤ / ٢٣٣، کشف الباري کتاب اللباس ص ٢٣٦.

(۴) فتح الباري ١٠ / ٤٢٥، اوجز المسالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة: ١٤ / ٢٣٣، شرح الزرقاني على المؤطا للامام مالک کتاب اللباس باب ما جاء في السنّة في الفطرة ٣ /٢٨٧، کشف الباري کتاب اللباس ص ٢٣٦.

ولا يحلق شعر حلقه . وعن ابي ايوسف لا بأس بذلک . ولا بأس بأخذ الحاجبين و شعر وجهه مالم يتشبه بالمخنثين . (۱)

ددې عبارت نه معلومه شوه چې د حلق وېښتان خريل نه دي په کار ، البته امام ابويوسف رحمه الله ددې جواز ورکړی .

د رخسار ( آنګو ) وېښتان خريل ، يا وېستل او خط جوړول دواړه شرعًا جائز دي ، البته علامه انور شاه کشميري رحمه الله دا بهتر نه دي خودلي .

شاه صاحب په " فيض الباري " کې ليکلي دي :

امّا الاشعار اللتي على الخدين فليست من اللحية لغة . وانْ كره الفقهاء أخذها . لانّه إنْ كان بحديد فذلک يوجب الخشونة في الخدين . وإن كان بالنتف فإنه يضعف البصر . (۲)

**نوټ** : د غوږونو سره نزدې چې کوم هډوکې دی ددې نه پورته د سَر حصه ده ، او لاندې د ګيرې حصه ده . لهذا پورته حصه خريل جائز دي او لاندې حصه خريل جائز نه دي . (۳)

## اتمه مسئله : د ګيرې توهين کوونکې کس کافِر دی

ګيره د ټولو انبياؤ سُنت ده . لهذا د ګيرې تَوهين او بې عزتي کوونکې کس بې د شک و شبهې نه کافر دی . همدارنګې د اِستقباح سُنت په وجه هم انسان کافر کيږي .

قال العلامة ابن عابدين : واستقباحها كمن استقبح من آخر ... الى انْ قال : انّ ما كان دليل الاستخفاف يكفر به وان لم يقصد الاستخفاف . (۴)

(۱) عالمگيري ٥ / ٣٥٨ كتاب الكراهية الباب التاسع عشر في الختان ... طحطاوي على المراقي ص ٤٣٠ ، ٤٣١ آخر باب الجمعة ، شامي زكريا ٩ / ٥٨٣ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، كتاب الآثار باب حف الشعر من الوجه ص ١٩٨ ، زيلعي ١ / ٣٣٢ كتاب الصوم مايفسد الصوم ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٦ و ص ٥٠٧ .

(۲) فيض الباري ٤ / ٣٨٠ كتاب اللباس باب قص الشارب ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٧ .

(۳) فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٨ .

(۴) رد المحتار ج٣ ص ٣١١ مطلب في منكر الاجماع ، فتاوى حقانيه ج١ ص ٢٥٠ ، فتاوى فريديه ج١ ص ١١٥ فصل في كلمات الكفر .

ګيره پريخودل خو بيا هم سُنتِ مؤکده (او واجب) دي ، د يو اَدنی سُنت سپکاوی او توقې ورپورې کول کفر دی .

لو لم ير السنة حقا يكفر ، لانه إستخفاف . (١)

## د ګيرې په وجه د يو مسلمان سپکاوې کول سبب د کفر دی

ګيره صرف د رسول الله صلی الله عليه وسلم محبوب سُنت نه ده بلکه د ټولو انبياؤ محبوب سُنت ده ، او په شعائرو د دين کې داخله ده . لهذا د ګيرې په وجه د يو مسلمان سپکاوې کول او هغه ته بَد رد ويل په دې سره دده ايمان زائله کيږي ، او دې مسلمان نه پاتې کيږي .

لما في الهندية : ولوقال: اين چه رسم است سبت بست كردن و دستار بزير كلو آوردن (اى ما هذه العادة تقصير الشارب وإرخاء الطيلسا تحت الرقبة ) فإن قال ذلك على سبيل الطعن في سنة رسول الله فقد كفر . (٢)

قال العلامة مُلّا علي قاري رحمه الله : وقص الشارب من سُنن الأنبياء ، فتَقبيحه كفرٌ بلا اختلاف بين العلماء . (٣)

د دين په يوه خبره باندې عمل نه کول ګناه ده ، ليکن د دين د يوې خبرې يا د نبي عليه السلام د يو سُنت پورې ټوقې او مسخرې کول صرف ګناه نه ده بلکه په دې سره داکس مرتد کيږي ، او واقعتًا د دائرهٔ اسلام نه خارجيږي . (٤)

---

(١) رد المحتار مع الدر ١ / ٤٧٢ ، كفايت المفتي ج٩ ص ١٧٩ ، ١٧٧ .

(٢) فتاوى الهندية ج ٢ ص ٢٦٥ الباب التاسع عشر في احكام المرتدين ، فتاوى حقانيه ج١ ص ١٣٤ .

(٣) شرح فقه اكبر ص ١٧٣ ، فتاوى حقانيه ج١ ص ١٢٥ .

(٤) قال ابن همام وقد كفر الحنفية من واظب على ترك السنة استخفافا بها بسبب انها فعلها النبي صلى الله عليه وسلم زيادة او استقباحها... شرح فقه الاكبر ص ١٥٢ .

ايضا : من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر . شرح فقه الاكبر ص ١٦٧ فصل في القراءة والصلوة ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج٨ ص ٣١

وجه داده چې د پیغمبر علیه السلام د سُنتو پورې توقې کول، یا ورته دنفرت په نظر سره کتل په حقیقت کې د نبي علیه السلام توهین او سپکاوی دی، او څوک چې د نبي علیه السلام توهین او سپکاوی وکړي نو هغه مسلمان نه پاتې کېږي.

او دا خبره د قرآن کریم، احادیثو، او اکابرینو د اَقوالو نه معلومیږي چې د سُنتو یا د دین د هرې یوې خبرې پورې څوک توقې او مسخرې وکړي نو دغه کس مسلمان نه پاتې کېږي، بلکه په دې سره دا کافر او مرتد ګرځي. (۱)

## نهمه مسئله: ګیره خریل جائز ګڼل او ګناه نه ګڼړل کفر دی

ګیره د اسلام په شعائرو کې داخله ده، او د روایاتو نه ثابته ده چې دا د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم او صحابهٔ کرامو په سُنتِ متواترهٔ کې داخله ده، فقهاؤ ددې د پارهٔ یو حَد معین کړې دی. لهذا ګیره خریل یا دموټې نه کمول حرام او ناجائز دي.

اوس که چیرته یو کس ګیره خریل ګناه نه ګڼي، سره د پوهې دې ګیره خرَی، او ګیره پریخودل خُود ساخته طریقه ګڼي نو دا سړی کافر دی.

البته که د یو کس دا عقیده نه وي چې ګني ګیره خریل جائز دي خو صرف په خُله باندې خلقو ته وایي چې ګیره خریلو کې هیڅ ګناه نشته، او خریل یې جائز دي نو بیا هم په ده باندې د همدې خبرې په وجه د کفر یَره شته.

لهذا مسلمان ته د داسې خبرو نه پرهیز په کار دی. (۲)

---

(۱) من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر . شرح الفقه الاكبر ص ١٦٧ فصل في القراءة والصلاة . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣١٨ .

(٢) لما قال العلامة ملاعلي القاري : ومنها ان استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر إذا ثبت كونها معصية بدلالة قطعية . وكذا الاستهانة بها كفر بأن يعدها هينة سهلة ويرتكبها من غير مبالات بها ويجريها مجرى المباحات في ارتكابها . شرح الفقه الاكبر مسئلة في استحلال المعصية ص ٢٢٥ .

قال العلامة ابن عابدين : لكن في شرح العقائد النسفية استحلال المعصية القطعية كفر اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعي . ردّ المحتار ج٢ ص ٢٩٢ مطلب استحلال المعصية كفر ، ومثله في شرح العقيدة الطحاوية ص ٣٦٣ لانكفر احداً من اهل القبلة ... فتاوى حقانيه ج١ ١٩٢ .

## لسمه مسئله : د شعائرِ اسلام توهين كفر دى

ګيره چونكه په شعائرِ اسلام كې داخله ده ، او د شعائرِ اسلام توهين او تضحيک كفر دى (۱) دغه وجه ده چې كه څوک د لور ، خور وركولو په وخت دا شرط اولږوي چې " ددې خاوند به ګيره خرَی نو بيا به دا جينۍ وركوم " نو دې كس چونكه د نبي عليه السلام د سُنتو ، او شعائرِ اسلام توهين وكړو لهذا دا سړې د اِيمان نه خارج دى ، ده ته د تجديد د ايمان فِكر په كار دى . (۲)

## يولسمه مسئله : ددې خبرې حكم چې " زما د ګيرې د نوم نه نفرت دى "

ګيره چونكه د نبي عليه السلام طريقه ده ، او ددې د پريخودو حكم يې كړى ، او خرَيونكي ته يې د هلاكت دُعا كړى ، او ورته كتل يې هم نه دي خوښ كړي . لهذا ګيره پريخودل واجب دي ، ددې خريل يا د موټي نه كمول د ټولو ائمهؤ په نزد حرام دي .

اوس كه يو مسلمان دا وايي چې زما د فلاني شرعي حكم نه نفرت دى ، نو په دې سره دا كس مُرتد او كافر كيږي . ځكه چې د يو سړي د پيغمبر عليه السلام د شكل نه نفرت وي نو هغه مسلمان نه پاتې كيږي . (۳)

همدغه رنګې كه يو كس د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دا حديث واوري :

---

(۱) من اهان الشريعة او المسائل اللتي لابد منها كفر . شرح فقه الاكبر ص ۱۷۴ طبع قديمي . آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۸ ص ۲۹۲ .

(۲) من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما يعظم في الشرع كفر . شرح الفقه الاكبر ص فصل في القراءة والصلاة . وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي: ما يكون كفرًا اتفاقا يبطل العمل والنكاح ... وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح . رد المحتار ج۴ ص ۲۲۷ باب المرتد طبع سعيد كراچي . آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۸ ص ۳۱٦ .

(۳) كفر الحنفية بالفاظ كثيرة وأفعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الإستخفاف بالدين ... بل بالمواظبه على ترک سُنة استخفافًا بها بسبب أنها إنما فعلها النبي صلى الله عليه وسلم زيادة او استقباحها ... المسايرة مع شرحها المسامرة ص ۳۲۷ ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۸ ص ۲۹۱ .

خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ : وَفِّرُوا اللِّحٰى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ . (۱)

تاسو د مشركينو مخالفت وكړئ : ګيرې اوږدې كړئ ، او بريتونه كټ كړئ .

او دې ددې حديث اَوريدو نه روستو ووايي " زما دګيرو واله نه نفرت دی " يا دا ووايي چې " ګيره خو د شيطان هم ده " نو دا خطرناک كفري الفاظ دي ، په دې سره سړی مسلمان نه پاتې كيږي .

ځكه ګيره خو د يولک او څليريشت زره (كم وزيات) پيغمبرانو وه ، د صحابه كرامو او اَولياٸې عِظامو هم وه . اوس چې يو سړی ددې خلقو نه نفرت لري نو آيا دا كس مسلمان پاتې كيدې شي ؟ (۲)

## دولسمه مسئله : ګيرې واله ته د سپَكاوي په وجه د " سِيكه " ويلو حكم :

كه چيرته يو كس د ګيرې واله ته د " سيكه " آواز وكړي او دده مقصد دګيرې سپَكاوي وي نو په دې سره دا انسان كافر كيږي .

او كه دده مقصد صرف د هغه سره خُوش طَبعي وي ، يا د تَشبِيه په طور وي نو بيا هم دا سړی فاسِق و فاجر دی .

يدل عليه ما رد المحتار : ان ما كان دليل الاستخفاف يكفر به و ان لم يقصد الاستخفاف فافهم . فقط . (۳)

---

(۱) بخاري كتاب اللباس باب تقليم الأظفار حديث ۵۸۹۲ .

(۲) رجل قال لآخر : " إحلق رأسك وقلم أظفارك فإن هذه سنة " فقال : لا أفعل وإن كان سنة . فهذا كفر . لأنه قال على سبيل الإنكار والرد . كذا سائر السنن خصوصا في سنة معروفة و ثبوتها بالتواتر . مجمع الانهر ج۱ ص ۶۹۲ كتاب السير باب المرتد طبع احياء التراث العربي . شرح فقه اكبر ص ۱۷۴ .

(۳) رد المحتار ج۳ ص ۳۱۱ مطلب في منكر الاجماع ، فتاوى فريديه ج۱ ص ۱۰۸ فصل في كلمات الكفر .

## دیارلسمه مسئله : د هغه چا حکم چې د سپکاوي په نیت د ګیرې تشبیه د چیلۍ د لکۍ سره ورکړي

که یو کس بل ته د سپکاوي په طور اُووايي چې " تا خو دا ګیره د چیلۍ د لکۍ په شان پریخې ده " او بیا ورپسې اُوخاندي هم . نو دداسې کې د ایمان نه د وتلو خطره ده ، په دې سره دده نیک اَعمال ضائع کیږي ، نکاح یې ختمیږي ، دې به اوس دوباره تجدید د نکاح کوي . ځکه ګیره پریخودل د مسلمان د پاره سُنتِ مؤکده بلکه واجب ده ، ددې پورې توقې کول د شعائرُ الله پورې توقې کول دي . او د شعائرُ الله پورې توقې کولو سره انسان د ایمان نه اُوځي . (۱)

ځوک چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د سُنتو پورې توقې کوي نو د هغه په زړه کې د نبي ﷺ هیڅ تعظیم او محبت نه وي ، او د چا په زړه کې چې د نبي ﷺ تعظیم او محبت نه وي هغه مؤمن کیدې نه شي ، ځکه د مؤمن شان دادی چې ده ته به پیغمبر علیه السلام د هر چا نه زیات محبوب او مُکرّم وي . (۲)

## څوارلسمه مسئله : د ګیرې خریونکې یا د قبضې نه کموونکې کس امامت کول مکروهِ تحریمي دی

ځوک چې ګیره خرئ ، یا یې د موټې نه کموي نو داسې کس فاسق و فاجر او ګناهګار

---

(۱) لما قال العلامة ابن عابدين : ووجهه انّ السنة حد الاحكام الشرعية المتفق على مشروعيتها عند علماء الدين ، فاذا أنكر ذلك ولم يرها شيئًا ثابتًا ومعتبرًا فى الدين يكون قد استخف بها واستهانها ، وذلك كفرٌ .

بيا مخکې فرمايي : إذا اراد أن يتكلم بكلمة مباحة فجرى على لسانه كلمة الكفر خطأً بلا قصد لايصدقه القاضي وإن كان لايكفر فيما بينه وبين ربه تعالى .... ان ما يكون كفرًا اتفاقًا يبطل العمل والنكاح . وما فيه خلافٌ يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح . رد المحتار ج۳ ص ۳۱٦ ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۲۷۲ .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ . الاحزاب آيت ٦ .

او نبي عليه السلام فرمايي : لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ . رواه البخاري كتاب الايمان باب حبّ الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان حديث ۱۵ . كفايت المفتي ج۹ ص ۱۷۹ .

دی ، لهذا داسې کس امام جوړول مکروه تحريمي دی .

ويكره امامة عبد وأعرابي وفاسق ، ولعل المراد من يرتكب الكبائر .... (۱)

امّا الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بأنّه لايهتم لامر دينه وبأنّ في تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم إهانته شرعًا . (۲)

## پنځلسمه مسئله :

## ګيره خريونکې کس مُؤذِن مقررول مکروه دي

څوک چې ګيره خرَی نو داسې کس مؤذن مقررول مکروهه دي ، البته که دې آذان وکړي نو د آذان اِعاده واجب نه ده .

ويكره آذان جُنب ... وفاسق ولو عالمًا . (۳)

## شپاړسمه مسئله :

## د علاج د پاره د ګيرې خريلو حکم :

که د يو کس په ګيره کې بيماري لېيدلې وي او دې د هغې ډير علاج وکړي خو ښه نه شي ، اوس ورته تجربه کار ډاکټران وايي چې د ګيرې خريلو نه بغير ستا ددې بيمارۍ علاج ممکن نه دی ، نو اوس دده د پاره مجبورًا دا جائز دي چې ګيره اُوخري ، ددې د پاره چې دا علاج يې کامياب شي (د ښه کيدو نه روستو به بيا ګيره پرېږدي) .

ځکه په شريعت کې ددې اِجازت شته چې که د يو مريض د پاره جائز دَوايي مفيد نه وي ، او تجربه کار ديندار ډاکټر يا حکيم ورته حرامه يا نجَسه دوايي تجويز کړي چې ستا علاج

(۱) درمختار على الشامي زكريا ج۲ ص ۲۹۸ كتاب الصلوة باب الامامة قبيل البدعة خمسة اقسام ، ملتقى الابحر على مجمع الانهر ج۱ ص ۱٦۲ كتاب الصلوة فصل في الجماعة ، زيلعي ج۱ ص ۱۳۴ كتاب الصلوة باب الامامة ، فتاوی محموديه ج۲۷ ص ۴۹۴ ، فتاوی كفايت المفتي ج۹ ص ۱۷۱ و ص ۱۷۵ . فتاوی شامي ج۱ ص ٥٦۰ باب الامامة .

(۲) فتاوی شامي ج۱ ص ٥٦۰ باب الامامة، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۳۱۵ ، وص ۲۹۰ ، وص ۳۰۳ .

(۳) كفايت المفتي ج۹ ص ۱۷۱ ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۳۱۵ تخريج شده ايڈيشن .

صرف همدا دی نو دده د پاره دا حرامه او نجَسه دوايي اِستعمالول هم بقدرِ ضرورت جائز دي.(۱)

## اوولسمه مسئله : که د ښځې ګیره را اوخيجي نو کټ کولې يې شي

کله چې د يوې ښځې ګيره يا بريت را اُوخيجي نو ديته ددې کټ کول او لرې کول جائز دي، بلکه مُستحب دي.

وإذا نبت للمرءة لحية او شوارب فلا تحرم إزالته بل تستحب.(۲)

## اَتلسمه مسئله : ګيرې يا سَر ته د خِضاب (يعنی سرو نکريزو يا تورو نکريزو) ورکولو حکم

سَر يا ګيرې ته نکريزې يا د سور رَنګ واله خِضاب ورکول بلا کراهته جائز دي.

اما بالحمرة فهو سنّة الرجال وسيما المسلمين.(۳)

بلکه سر يا ګيرې له سرې نکريزې ورکولو ته علماؤ مستحب ويلي دي. امام ترمذي رحمه الله د حضرت ابوذر غفاري ﷛ نه دا حديث نقل کړی چې رسول الله ﷺ فرمايي :

(۱) يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم انّ شفائه فيه. ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه... عالمكيري ج٥ ص ۳۵۵ كتاب الكراهية الباب الثامن عشر فى التداوي. شامي زكريا ۹/۵۵۸ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع، البحر الرائق ۸/۲۰۵ كتاب الكراهية فصل فى البيع. فتاوى محمودية ج۲۷ ص۴۹۸. فتاوى شامي ج۱ ص ۵٦۰ باب الامامة، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص۳۱۵، وص ۲۹۰، وص ۳۰۳.

(۲) شامي زكريا ج۹ ص ۵۳۲ كتاب الحظر والاباحة فصل فى النظر واللمس قبيل باب الاستبراء، نفع المفتي والسائل ص ۱۱۹ ما يتعلق بالنساء من الحيض والنفاس كتاب الحظر والاباحة، مرقاة شرح مشكوة ۱/۳۰۲ كتاب الطهارة باب السواک الفصل الاول، فتاوى محموديه ج۲۷ ص ۵۰۰.

(۳) شامي زكريا ج۱۰ ص ۴۸۷، و كراچي ج٦ ص ۷۵٦ كتاب الخنثى في مسائل شتى، عالمكيري ۵/ ۳۵۹ كتاب الكراهية الباب العشرون فى الزينة، خانيه على الهنديه ۳/۴۱۲ كتاب الحظر والاباحة باب ما يكره من الثياب والحلي والزينة، فتاوى محموديه ج۲۷ ص ۵۱۰.

إنّ احسن ما غيّرتم به الشّيب : الحناء والكتم . (۱)

په عالمگيري کې ذکر دي : اتّفق المشائخ رحمهم الله تعالى انّ الخضاب في حقّ الرجال بالحمرة سنّة وانّه من سيماء المسلمين وعلاماتهم . (۲)

ترجمه : مشائخ په دې متفق دي چې د سړو په حق کې خِضاب ( يعنى سرې نکريزې ) سُنت دي ، او دا دمسلمانانو د پيژندګلو د پاره نخه اوعلامه ده .

يا خاصکر د مرض په وجه خو په طريقِ اولٰى جائز دي ، ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم د حضرت ابوبکر صديق ﷺ والد صاحب ته د نکريزو لږولو مشوره ورکړې وه . (۳)

البته د سړو د پاره په لاس او خپو باندې نکريزې ايخودل جائز نه دي . (۴)

خو خالِصه تورې نکريزې سَر يا ګيرې له ورکول ددې د پاره چې ويښتان اَصلي تور معلوم شي نو دا دعامو فقهاؤ په نزد مکروهِ تحريمي دي. (۵)

---

(۱) اخرجه الترمذي في كتاب اللباس باب ما جاء في الخضاب ۴ /۲۳۲ رقم الحديث ۱۷۵۳./ الكتم : نبت يخلط مع الوسمة. النهاية لابن الير ۴ / ۱۵۰ . كشف الباري كتاب اللباس ص ۲۵۹ .

(۲) هنديه كتاب الكراهية ۵ / ۳۵۹ ، كفايت المفتي ج۹ ص ۱۸۰

(۳) عن جابر ﷺ قال : اتي بابي قحافة يوم فتح مكة و رأسه ولحيته كالثغامة بياضا . فقال النبي ﷺ غيروا هذا بشيء واجتنبوا السواد . مشكوة شريف ص ۳۸۰ باب الترجل الفصل الاول ، مسلم شريف ج۲ ص ۱۹۹ كتاب اللباس استحباب خضاب الشيب .

(۴) يستحب للرجل خضاب شعره ولحيته لايديه ورِجليه فإنه مكروه .. درمختار مع الشامي ج۹ ص ۶۰۴ طبع زكريا ديوبند كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، عالمكيري ۵ /۳۵۹ كتاب الكراهية الباب العشرون في الزينة طبع كويته ، نفع المفتي والسائل ص ۱۳۸ كتاب الحظر والاباحة ما يتعلق بالنوم ... فتاوى محموديه ج۲۷ ص ۵۱۲ .

(۵) ومذهبنا خضاب الشيب للرجل والمرأة بصفرة او حمرة. ويحرم خضابه بالسواد على الاصح ، وقيل يكره كراهة تنزيه . والمختار التحريم . لقوله عليه السلام : واجتنبوا السّواد . شرح المسلم للنووي ج۲ ص ۱۹۹ .

وأمّا الخضاب بالسّواد ... ومن فعل ذلك ليزيد نفسه للنساء او ليحبّب نفسه اليهن فذالك مكروه . وعليه عامة المشائخ . .. وعن الامام انّ الخضاب حسن لكن بالحناء والكتم والوسمة . عالمكيري ج۵ ص ۳۵۹ .

ويكره بالسّواد اي لغير الحرب . رد المحتار ج۶ ص ۴۲۲ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۳۲۰ .

او په دې خالِصه تورو نکريزو باندې وعيدهم راغلی .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا حديث رانقل کوي چې رسول اللهﷺ اوفرمايل :

يكون قوم في آخر الزمان يخضبون بهذا السواد كحواصل الحمام لايجدون رائحة الجنة. (١)

په آخره زَمانه کې به داسې خلق پيدا شي چې د کونترې د جَجورې په شان به ګيرې تور خِضاب ورکوي ، دا خلق به د جنت خوشبويي هم او نه مومي .

البته په کافرانو باندې د رُعب اچولو او يَرولو د پاره مجاهِد ته په سَر او ګيرې باندې تورې نکريزې استعمالول جائز دي ، خو د زِينت د پاره خالِصه تور رَنګ خِضاب عامو فقهاؤ مکروه خودلې . (٢)

يعنی د خپلې بي بي د پاره د ځان ښائسته کولو په خاطر په سَر او ګيره باندې تورې نکريزې ايخودل د عامو فقهاؤ او مشائخو په نزد مکروهه دي . البته د امام ابويوسف رحمه الله په نزد دا هم جائز دي .

**خلاصه** : خلاصه دا چې که څه شرعي مَصلحت او ضرورت وُ لکه په کافرانو باندې د رُعب اچولو د پاره په جهاد کې شرکت کوي ، يا د يو سړي ځوانه ښځه وي او دده ګيره سپينه وي نو دهغې د خوشحالولو د پاره که تور خِضاب په سَر يا ګيره ږدي نو دا بِلاکراهِيته جائز دي ، او که دا شرعي ضرورت نه وُ نو بيا خالصه تور خِضاب د عامو فقهاؤ په نزد مکروهه دي . (٣)

(١) كذا في المشكوة باب الترجل ، امداد الفتاوى ج٤ ص٢١٨ .

(٢) عالمګيري کتاب الکراهة ٥ / ٣٥٩ ، كفايت المفتي ج٩ ص ١٨١ کتاب الحظر والاباحة .

(٣) په فتاوی هِنديه کې ذکر دي : واما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلک من الغزاة ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود منه اتّفق عليه المشائخ . و من فعل ذلک ( اى الخضاب بالسواد ) ليزين نفسه للنساء وليحبّب نفسه اليهن فذلک مکروه . وعليه عامة المشائخ . و بعضهم جوّز ذلک من غير کراهة . عالمكيري كتاب الكراهة ٥ / ٣٥٩ ، كفايت المفتي ج٩ ص ١٧٩ ، وص ١٨١ کتاب الحظر والاباحة . کشف الباري كتاب اللباس ص ٢٥٧ .

خو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد خالصه تور خضاب هم جائز دي، که ضرورت وي او که نه. (۱)

خو اِحتیاط په دې کې دی چې د زِینت د پاره د خالصه تور رَنګ نه ځان اوساتي. (۲)

( **نوټ**: ګیرې ته د خِضاب ورکولو تفصیلي مسائل په امداد الفتاوی ج۴ ص ۲۱۳ تا ۲۲۰ کې ذکر دي. همدارنګې ګیرې ته د تور رَنګ ورکول د ممانعت او جواز دواړو ډلو تفصیلي دلائل په کشف الباري کتاب اللباس کې په صفحه ۲۵۸ او ۲۵۹ کې ذکر دي).

## نولسمه مسئله: بل له ګیره خریل یا ورله اَنګریزي ویښتان جوړول منع دي

لکه څرنګې چې خپله ګیره خریل یا د موټې نه کمول حرام دي نو همدغه شان بل له ګیره خریل، یا د قبضې نه ورله کمول، یا ورله اَنګریزي ویښتان جوړول هم حرام دي، او د دې ګیرې خریلو مزدوري اخیستل هم حرام دي.

ځکه دا د مسلمان شان نه دی چې دا په حرامې طریقې سره رِزق اوګټي. (۳)

بل دا چې لکه څرنګه چې په خپله ګناه کول حرام دي نو همدغه شان د یوې ګناه د پاره سبب جوړیدل، یا په ګناه کولو کې د چا اِمداد کول هم حرام دي.

## شلمه مسئله: د ګیرې د وَړو او غټو ویښتانو برابرولو حکم

کله چې د یو سړي ګیره د موټې نه کمه وي، او په دې کې څه ویښتان واړه وي او څه غټ وي، نو دا به د ډَوَل په خاطر یو شان نشي برابرولی، بلکه په همدې حالت باندې به یې پریږدي. ځکه کومه ګیره چې د قبضې نه کمه وي د هغې نه ویښتان کټ کول جائز نه دي.

---

(۱) فتح الباري ۱۰ / ۴۳٦، اوجز المسالک کتاب الشعر باب ما جاء في صبغ الشعر ۱۵ / ۲۵، کشف الباري کتاب اللباس ص ۲۵۷.

(۲) امداد الفتاوی ج۴ ص ۲۱۳.

(۳) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۸ ص ۳۱۷ تخریج شده ایډیشن.

البته که د قبضې نه زياته وه نو بيا يې کټ کولې او يو شان برابرولې شي. (١)

## يو ويشتمه مسئله: د ګيرې راختلو د پاره په مَخ باندې د پَترې (بليډ) وهلو ضرورت نشته.

په مَخ باندې د ويښتانو راختل د انسان په خپل اِختيار کې نه وي، بلکه دا د الله ﷻ په قدرت کې وي. دغه وجه ده چې که ويښتان بالکل را اُو نه خيجي نو بيا هم انسان ګناهګار نه دی. لهذا په مخ باندې د ګيرې راختلو د پاره د پَترې (بليډ) وهلو هيڅ ضرورت نشته. (٢)

(١) يحرم على الرّجل قطع لحيته والسنّة فيها القبضة فما زاد منها على قبضة قطعه. شامي زكريا ج٩ ص ٥٨٣، وشامي كراچي ج٦ ص ٤٠٧ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع، عالمكيري ٥/ ٣٥٨ كتاب الكراهية الباب التاسع، زيلعي ١/ ٣٣٢ كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم وما لايفسد قبيل فصل في العوارض، فتاوى محموديه ج ٢٧ ص ٤٩٥.

(٢) فتاوى محموديه ج٢٧ ص ٥٠٠ داڑهي اور مونچهـ كے احكام.

# د ګيرې متعلق بهترين اَشعار

د حاجي محمد اَمين صاحب په کتاب " اسرار مدينه " کې مې د ګيرې متعلق څه اَشعار لوليده ، ډير مې خوښ شو ، د فائدې د پاره يې ستاسو د وړاندې هم ذکر کوم :

د محمّد رَسولُ الله خلاف کول مَنع دي ❁ ګيره خره يَل مَنع دي

شيطان دُشمن دی د دُشمن اَمر مَنل منع دي ❁ ګيره خره يَل مَنع دي

يو لک څليريشت زره ټول پيغمبران څلميه ❁ کوي خفګان څلميه

دوموره دُوستان د پَاک الله خفه کول مَنع دي ❁ ګيره خره يَل منع دي

چې دا جُمله پيغمبران يې په خفګان کې خوَښ وي ❁ ځان يې تاوان کې خوَښ وي

داسې نا اَهله څوي که مرشي پرې ژړَل منع دي ❁ ګيره خره يَل منع دي .

اُعْفُوا اللُّحٰی وَاقْصُوا الشَّوَارِبَ حضرت ويلي ❁ شاهِ عِزت ويلي

خِلاف کول ددې حضرت په هزار ځل منع دي ❁ ګيره خره يَل مَنع دي

چې مخالف د محمّد رسولُ الله وي مُدام ❁ ځان د شيطان کړي غلام

داسې بَد رَنګ او بې حَيا مخ ته کتل منع دي ❁ ګيره خره يَل مَنع دي

چا له چې نه ورځي غيرت په مَحمّد عربي ❁ په حَق محبوبِ رَبّي

داسې بې شَرمه په جَرګه کې پريښودل منع دي ❁ ګيره خره يَل منع دي

د محمد امين ترخه ويل خواږه کړې ربه ❁ سم پرې کاږه کړې ربه (١)

دا له ښه نِيته دي په بَد نِيت يې ويل منع دي ❁ ګيره خره يَل منع دي . (٢)

---

(١) يعنی دا کاږه خلق پرې سَم کړې.

(٢) اسرار مدينه ص ١١١ .

# په جَلسه یا بل غټ پروګرام کې اِفتتاحي کلمات

**نوټ** : ( کله چې جَلسه یا بل غټ پروګرام وي او په هغې کې عُلماء ، طلباء او عام مسلمانان شریک وي نو تاسو کولې شئ چې د تقریر په شروع کې د خُطبې ویلو نه پس د موقع مناسب دا اِفتتاحي کلمات ووایئ ، اُمید شته چې په دې سره به ستاسو تقریر ډیر مؤثِر اوګرځي . هغه اِفتتاحي کلمات دادي : )

جناب صدرِ مَجلس ، واجبُ الاحترام مُعززو عُلماء کرامو ، مَشائخِ عِظامو ، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د شَمعِ پتنګانو ، د سردارِ دُوجهان محمّدُ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د ښائسته باغیچې بُلبلانو ، زما قابلِ قدر عزت مندو طالب عِلمانو ، غَیورو نوجوانانو ، سپین ګیرو ، او د لرې ځایه راغلي قدرمنو میلمنو ، مسلمانانو ورونو !

اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى وَبَرَكَاتُه .

قدرمنو ! زه نن ډیر خوشحاله یم چې په داسې یو نُوراني او د رَحمت نه ډک مَجلس کې حاضر یم په کوم کې چې هر طرف ته د جَیّدو عُلماء کرامو ، د دیني طالب عِلمانو ، او نورو نیکانو خلقو روښانه او پرقیدونکې مخونه په نظر راځي .

او زه په ځان باندې هم دا د الله ﷻ یو لوي فضل او اِحسان ګنړم چې ما عاجز بنده ته یې هم په داسې مُنَوّر او بابرکته محفل کې د ناستې ، او بیا د یو څو خبرو کولو توفیق رانصیبه کړو .

محترمو ! چونکه دلته جَیّد عُلماء کرام او مشائخ تشریف فرما دي ، تاسو د بعضې عُلماء کرامو نه په مختلفو موضوع ګانو باندې د عِبرت نه ډک ، عِلمي ، اِصلاحي او خوَنده وَر تقریرونه واوریده ، او نور به هم واورئ . خو زه به درته صرف د " ......... " په باره کې یو څو مختصرې خبرې وکړم . الله ﷻ دې اول ماته او بیا تاسو ته پرې د عمل کولو توفیق رانصیبه کړي . آمِیۡن یَارَبَّ الۡعَالَمِیۡن .

عزت مندو مسلمانانو ورونو ! ( اوس نور خپل تقریر شروع کړئ )

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د دُعاؤ دَرخواست

محترمو ! دا دُنیا دارُ الامتحان دی ، په دې کې چې مسلمان ژوند تیروي نو په ده باندې به خامخا مختلف قِسمه حالات او اِمتحانات راځي ، په مختلفو طریقو سره به دده آزمائِش کولې شي . (۱)

بیا خاصکر چې کوم خلق الله رب العزت ته ډیر نزدې وي نو په هغوی باندې امتحانات هم ډیر راځي ، دغه وجه ده چې د ټولو نه زیات اِمتحانات په پیغمبرانو راغلي ، بیا چې انسان څومره په دین کې مضبوط وي نو په هغه باندې اِمتحانات او تکلِیفونه هم ډیر راځي .

د بخاري شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

أَشَدُّ النَّاسِ بَلَآءً اَلْأَنْبِيَآءُ ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . (۲)

سخت او ډیر امتحانات په خلقو کې په انبیاء کرامو راځي ، بیا په نیکانو خلقو باندې ، بیا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډیر نزدې وي په هغوی سخت امتحانات راځي .

خو کامیاب انسان هغه دی چې دې په دې سختو حالاتو کې د صَبر ، اِسقامت او پوره حَوصلې نه کار واخلي ، په خُله باندې جَزعه فَزعه ، شَکوې او شکایتونه او نه کړي .

دا ضروري نه ده چې هر تکلیف چې په انسان باندې راځي ګڼي دا دې عذاب وي ، بلکه ډیر تکلیفونه او مصیبتونه په انسان باندې د الله ﷻ اِمتحانات وي چې په دې سره د ده ګناهونه ختمیږي ، او درجې یې اُوچتیږي .

---

(۱) الله رب العزت فرمایي : ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِيْنَ﴾ . البقرة آيت ۱۵۵ . بل ځای الله جل جلاله فرمایي : ﴿أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوْا أَنْ يَقُوْلُوْا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ﴾ . العنكبوت آيت ۲ .

(۲) اخرجه البخاري ( ۱۰ / ۱۱۱ ) ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۵۳۸ كتاب الصبر والحمد والشكر .

البته که دي په تکليفونو باندې صبر اونکړي بلکه شکوې او شِکايتونه کوي، او د خُلې نه د ناشکرۍ الفاظ را اُوباسي نو بيا يقيني چې داتکليف په ده باندې عذاب وي.

که چيرته مونږ د مخکينې پيغمبرانو په ژوند باندې نظر واچوو نو هغه هم ټول د امتحاناتو نه ډک ؤ: لکه حضرت ايوب عليه السلام، حضرت ابراهيم عليه السلام، حضرت زکريا عليه السلام او حتّى چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم سخت تکليفونه او مصيبتونه برداشت کړي.

د دريم (۳) جِلد د ليکلو نه روستو چې کله ما ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه ) کتاب د شائقينو بار بار ټيلفوني او اِصرار اُوکته نو ما د څلورم جِلد په ليکلو شروع وکړه.

کله چې څه اَندازه کتاب اُوليکلې شو نو ناګهانه د الله ﷻ د طرفه په يو آزميښت او اِمتحان کې مبتلاء شوم چې د هغې په وجه د کتاب په ليکلو کې څه ناڅه تاخير راغې.

دا خبره د شکوې او شِکايت په طور نه کوم، بلکه صرف په دې خاطريې کوم چې که يو مسلمان زمونږ په حَق کې په اَخلاص سره دُعا وکړي، او الله ﷻ مو ددې اِمتحان نه اُوباسي نو د دين خدمت به په بهترينې طريقې سره وکړو.

هغه اِمتحان داؤ چې په کور کې زما وړه ماشومه لور وه، تقريبًا د دوه نيمو کالو، ښه روغه جوړه او صحت منده وه، په ۲۰۱۶-۱-۱۰ تاريخ وړباندې د تَبې (بُخار) په وجه ناګهاني جَټکه راغله، او مکمل بې هوشه شوه، پيښور ليډي ريډنګ هسپتال ته د وړلو او ډيرو ټيسټونو کولو نه روستو معلومه شوه چې دِماغي ټي بي (T.B.M) يې ده، او ورسره يې په سَر کې اُوبه هم شوي.

ډاکټرانو ډير کوشش وکړو چې د دوائي په ذريعه د دماغو اُوبه اُوچې کړي نو سختې تيزې او قوي دَوايانې يې ورته اُوليکلې، خو ليکن اُوبه اُوچې نه شوې، او هماغه شان مسلسل په بې هوشۍ حالت کې وه، چې ورسره ورسره به وقفه په وقفه پرې سختې جَټکې هم راتللې.

د ډيرو سختو مُشكلو او تَرخو مَرحلو پاس كولو نه روستو ډاكټرانو ورته د سَر آپريشن تجويز كړو ، آخر دا چې ډاكټرانو ورله د سَر آپريشن هم وكړو ، او د سَر د اُوبو راويستلو د پاره يې ورته په دِماغو كې يو نرئ پيپ اُولږول ، او دا پيپ يې په وجود كې دَننه د پوستكي نه لاندې ګردو ته راوست ، ددې د پاره چې په دِماغو كې كومې اُوبه پيدا كيږي هغه به په دې پيپ كې ګردو ته راځي ( كوم ته چې ډاكټران په خپله اِصطلاح كې *V.P Shant* وايي ) .

په هَسپتال كې تقريبًا د يوويشت (۲۱) ورځو تيرولو او سختو تكليفونو برداشت كولو باوجود بيا هم ماشومه په هوش كې رانغله .

آخر دا چې ډاكټرانو د هَسپتال نه رارُخصت كړو ، او د كور د پاره يې علاج راته وليكل .

قدرمنو ! الله رب العزت په انسان باندې سخت سخت امتحانات راوستې شي ، خو چونكه د هر چا اِمتحان د هغه د اِستعداد موافق وي، مونږ چونكه ددينه مخكې داسې عجيبه بيماري نه وه ليدلې ، او نه مو دداسې سختې بيمارۍ تكليفونه برداشت كړي وو ، نو د هسپتال په دې دَوران كې د داسې سختو مَرحلو سره مخامخ شو چې د هغې بيان ممكن نه دى .

الله ﷻ دې دا تكليفونه زمونږ د ګناهونو د مغفرت او بخَنې ذريعه اوګرځوي ، او الله ﷻ دې هر مسلمان د داسې پيچيده بيماريو نه اُوساتي .

كله چې د هسپتال نه كورته راواپس شوم ، او د دَرس سره سره مې يو ځل بيا د څلورم جِلد په باقي حصه ليكل شروع كړه نو د عام معمول په نسبت دا ځل ليكل راته څه نا څه پيچيده معلوميده ، ځكه يو خو مُلَيان او مُدرّسين عام طور لږ نازك وي . او دويم دا چې انسان خو هسې هم عاجزه او كمزورې دى ، اوس چې كله په كوركې د يو چا وړاندې څليريشت ( ۲۴ ) ګنټې يوه مَعصومه ماشومه مُسلسل بې هوشه پرَته وي ، او ده ته د هغې دا دَرديدلې حالت هر وخت مخې ته وي نو يقيني خبره ده چې ذِهني تَوجّه پوره نه برابريږي ، بيا خاصكر د تَاليف غوندې پيچيده كار طرف ته ، كوم چې كامِله يَكسُويي او پوره تَوجُه غواړي ، او د داسې دَردمَند او

زَخمي زړه اِحساس صرف هغه څوک کولې شي چې په چا باندې دا مَرحلې تيرې شوي وي .

خو ما چونکه ددې کتاب په دويم جِلد کې په مسلمان باندې د امتحاناتو د راتلو ، او په مصيبتونو باندې د صبر کولو متعلق تفصيلي موضوع ګاني ليکلې وی ، نو هماغه آيتونه او اَحاديث مې ځانته رامخې ته کول ، او دا تکليفونه مې په ځان باندې د الله ﷻ يو اِمتحان ګنړلو ، د کلکې حوصلې او اِستقامت نه مې کار واخيست ، او د الله ﷻ په فضل سره مې د کتاب باقي حصه په داسې عِلمي او تحقيقي اَنداز باندې پوره کړه چې د مخکيني درې واړه جِلدونو په نسبت مې دې څلورم جلد سره کوشش او خواري ډيره وکړه .

بهر حال هر پنځلس ( ۱۵ ) ورځې پس به مې ماشومه ډاکټرانو ته دعِلاج د پاره وَروسته ، خو چونکه اِمتحان ډير اُوږد وُ ، د شپږو مياشتو تيريدو او علاج باوجود بيا هم ماشومه په هوش کې رانغله ، او هماغه شان په زوره حالت وه .

ددې څلورم جِلد مُسَوّدې پوره کولو نه روستو مې دا ( د دُعاؤ درخواست ) مضمون په هاغه شپه وليکل په کومه شپه چې په ليډي رِيډنګ هسپتال کې ډاکټرانو د ماشومې د پاره د دِماغو د آپريشن دا تريخ خَبر زمونږ د غوږونو نه يو ځل بيا تير کړو ، چې صبا سهر به ماشومې له دوباره د دِماغو آپريشن کوو .

د آپريشن سامان مې راوړو ، بيا چونکه د سهره پورې ډير وخت وُ نو دا موقع مې غنيمت اُوګنړله ، او په دې کې مې همدا (د دُعاؤ درخواست) مضمون وليکلو .

محترمو ! بعضې وخت انسان ته معمولي تکليف ډير سخت او غټ اِمتحان معلوميږي ، خو چې کله دې هسپتال ته راشي ، او دې ځای کې مختلف قِسمه سخت او خطرناک مريضان اوګوري ، کوم چې په ډيرو سختو بيماريو کې ګير وي نو دا خپل تکليف ورته مکهل هير شي .

د هسپتال دا ژوند اګر چې په ظاهره ډير پيچيده معلوميږي ، الله ﷻ دې هر مسلمان ددينه اُوساتي ، خو ليکن زما دناقِصې تَجربې موافق انسان ته په کې يو څو فوائد هم په ګوتو ورځي .

اول : په دې سختو بيماريو كه دې صبر اُوكړي ، او دا د الله ﷻ د طرفه يو اِمتحان اُوګڼي نو په دې سره دده ګناهونه معاف كيږي ، درجې يې اُوچتيږي ، او اَجرونه ورته حاصليږي ( لكه دا مضمون په اَحاديثو كې ذكر دى )

دويم : انسان ته د الله ﷻ په نِعمتونو باندې د شُكريې توفيق نصيبه كيږي . ځكه كه دې په يو بيمارۍ كې مُبتلاء وي او په زړه كې يې د الله ﷻ نه څه شَكوه او شكايت پيدا شوې وي خو چې كله دلته په هسپتال كې د ځان نه سخت مريضان اوګوري نو خپل ځان ورته مكمل روغ معلوم شي ، او په دې موجوده نورو نِعمتونو ورته د شُكريې توفيق ملاوَ شي .

دريم : انسان صحيح طريقې سره الله ﷻ ته متوجه شي . ځكه كه په عامو حالاتو كې انسان دُعا غواړي نو صرف په خُله باندې الفاظ وايي خو د زړه نه الله ﷻ طرف ته مُتوجه نه وي ، او نه يې په ستركو كې رِښتيني اُوخكې راځي ، خو چې كله په يو سخت او پيچيده اِمتحان كې ګير شي نو زړه يې نرَم شي ، عاجزي په كې پيدا شي بيا چې كله د الله ﷻ نه دُعا غواړي نو يقيني طريقې سره د زړه نه هغه طرف ته متوجه وي ، او په ستركو كې يې رِښتيني اُوخكې راځي .

لكه څرنګې چې د عِشق د كيفيَت اندازه صرف عاشِق ته معلومه وي ، او د عِشق په تعريف كولو سره دا د انسان په ذهن كې نه راځي ، همدغه شان چې كله انسان هر وخت په نِعمتونو كې ډُوب وي نو دې هم خپل رَب طرف ته پوره متوجه نه وي ، خو چې كله په يو سخت اِمتحان كې راګير شي نو بيا په كاملې طريقې سره الله رب العزت طرف ته متوجه شي ، او بيا داسې په اِخلاص ، عاجزۍ او اَدب سره دُعا غواړي چې د هغې كيفيَت هم بل هيچا ته پته نه لږي .

**مَقصدي ځاى** : په آخر كې د لوستونكو په خِدمت كې په ډيرې عاجزۍ سره دا دَرخواست كوم چې زمونږ په حَق كې خصوصي دُعا وكړي .

دا منَم چې زمونږ په حق كې په اِخلاص دُعا كولو سره به ستاسو قيمتي وخت څه نا څه مصروفه شي خو دا قوي اُميد دى چې په دې دُعاګانو سره به يو عاجز بنده

(یعنی مؤلِف) ددې سختې اِمتحاني مَرحلې نه اُووځي، او د دین د خدمت د پاره به ورته مزید توفیق ملاؤ شي. (۱)

انسان ته په هیڅ حالت کې د الله ﷻ نه نا اُمیده کیدل نه دي په کار، ځکه که د غَم شپه هر څومره اُوږده وي خو آخِر هم صبا کیږي، د هرې تیارې پسې رَڼا ضرور وي، او د هر تکلیف پسې روستو آساني وي.

الله تبارک و تعالی فرمایي:

﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ، إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾. (۲)

ترجمه: بیشکه د هرې سختۍ سره آساني شته، بیشکه د هرې سختۍ سره آساني شته. (یعنی د هرې سختۍ پسې روستو آساني راځي).

یو شاعر وایي:

إِذَا اشْتَدَّتْ بِكَ الْبَلْوٰى فَفَكِّرْ فِيْ أَلَمْ نَشْرَحْ

فَعُسْرٌ بَيْنَ يُسْرَيْنِ إِذَا فَكَّرْتَهُ فَافْرَحْ

کله چې په تا باندې مصیبتونه سخت او زیات شي نو په سورة اِنشراح کې فکر وکړه، ځکه په دې کې یوه تَنګي د دوه آسانیو په مینځ کې راغلې (۱) (نو دیوې سختۍ سره دوه آساني راځي) کله چې ته په دې کې فکر وکړې نو بیا خوشحاله شه

---

(۱) ځکه په کمپیوټر باندې د کتاب د لیکلو، یا په پرِنټَر باندې د راویستلو تر دې وخته پورې د لسو (۱۰) میاشتو تیریدو باوجود تر اوسه هم ماشومه په هوش کې نه ده راغلې.

(۲) سورة الشرح آیت ٥، ٦.

(۱) ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا . إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا . سورة الشرح آیت ٥، ٦ ﴾.

او دا قاعده ده: اَلنَّكِرَةُ إِذَا أُعِيْدَتْ نَكِرَةً كَانَتِ الثَّانِيَةُ غَيْرَ الأُوْلٰى ... وَالْمَعْرِفَةُ إِذَا أُعِيْدَتْ مَعْرِفَةً كَانَتِ الثَّانِيَةُ عَيْنَ الأُوْلٰى ... مِثَالُ هَاتَيْنِ الْقَاعِدَتَيْنِ قَوْلُهُ تَعَالٰى ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا . إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ فَإِنَّ الْعُسْرَ أُعِيْدَ مُعَرَّفًا فَيَكُوْنُ عَيْنَ الأُوْلٰى ، وَالْيُسْرُ أُعِيْدَ مُنَكَّرًا فَيَكُوْنُ غَيْرَ الأُوْلٰى . فَعُلِمَ أَنَّ مَعَ كُلِّ عُسْرٍ وَاحِدٍ يُسْرَيْنِ ، وَهُوَ مَعْنٰى قَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما مَرْوِيًّا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ . نور الانوار بحث العام ... بیان ما وَرَدَ النکرة والمعرفة في مقام واحد ...

. (یعنی چې کله دا درته معلومه شي چې د یوې سختۍ سره دوه خوشحالۍ راځي نو ته به خوشحاله او تازه شی ) .

یو بل شاعر وايي :

فَمَا عَلَى التِّبْرِ عَارٌ ۞ فِي النَّارِ حِيْنَ يُقَلَّبُ

د سرو زرو د پاره هیڅ شرم نه دی کله چې دا په اُور کې اَړولې راړولې شي .

یعنی زرګر چې سره زَر په اُور کې ګرموي او اَړوي راړوي یې نو په دې سره خو دد بنه خیرې صفا کیږي . او سره زر نور هم سُوچه او خالصه کیږي .

دأردو یو شاعر وايي :

تُندیِ بادِ مخالِف سے نہ گھبرا اے عُقاب

یہ تو چلتی ہے تجھے اُونچا اُڑانے کے لیے

په دې مُشکله مَرحله کې چې چا هم د مونږ سره مَنده وهلی ، یا یې خدمت کړی ، او یا یې زمونږ د پاره دُعاګانې غوښتې الله رب العزت دې دوی ټولو ته ددې اَجر په دواړه جهانه ورکړي ، او الله تبارک وتعالی دې د ټولو دُنیا مسلمانانو مریضانو ته صحتِ کامله عاجِله ورکړي .

او رَبِ لا یَزال دې مونږ ټول د هر قِسمه مُشکلاتو ، مصیبتونو ، غمونو ، تکلیفونو او ناګهانې اِمتحاناتو نه اُوساتي ، او که څوک په دې مُشکِله مَرحله کې ګیر وي نو پروردِګار دې دوی ټول په خیر خیریت سره ددینه اُوباسي ، او ربِ کریم دې دا کتاب یقیني طریقې سره د خلقو د اِصلاح او فائدې ذریعه اوګرځوي .

آمِیْن یَا رَبَّ الْعَالَمِیْن .

ابوالشمس نُورالهدیٰ عفي عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## یو ځل بیا د اَهلِ علمو او خطیبانو د پاره

## د خُوشحالۍ خبر

ډیرو اهلِ عِلمو، خطیبانو او دوستانو راته په یو څو مَخصوصو موضوعاګانو باندې د لیکلو په باره کې ډیره تاکیدي خبره کړې وه چې هغه دې هم په څلورم جِلد کې اولیکلې شي، خو په دې څلورم جِلد کې هغه ټولې شاملې نه شوی.

ځکه په دې جِلد کې مې په ډیرو اَهمو موضوع ګانو باندې ډیر تفصیلي، عِلمي او تحقیقي بحث کړی، چې د نورو موضوع ګانو لیکلو ګنجائش په کې پاتې نه شو.

اِنْشَاءَ الله که ژوندۍ نو په آینده **پنځم جلد** کې به د دغو علماؤ، خطیبانو او نورو ملګرو آرزوګانو ته عمَلي جامه وَر اَغوندم، او هاغه موضوع ګانې به هم انشاء الله په همدې انداز باندې تفصیلي لیکم.

ځکه مونږ د هر چا مُفیدو مَشورو ته ډیر د قدر په سترګه ګورو، او د دوی د حَوصله اَفزایئ او مَشورو شکریه اَداء کوو.

## د خُوشحالۍ دویم خبر:

د ډیر وخت نه مې په زړه کې دا آرزو وه چې د تقریر په موضوع باندې د "اِصلاحي مدلّل تقریرونه" نه علاوه بل داسې یو کتاب ولیکم چې په هغې کې هر یو تقریر په مختلفو ژبو (یعنی **پښتو**، **اردو**، **عربي**، **فارسي** او **انګریزي**) کې موجود وي. ددې د پاره چې په علماؤ، طلباؤ او مقرّرینو کې دا اِستعداد پیدا شي چې دوی بیا د موقع مناسب هر تقریر په مختلفو ژبو کې کولې شي.

نو الله رب العزت زما دغه آرزو هم پوره کړه، او دا کتاب په داسې جامِع، عِلمي او تحقیقي اَنداز کې ولیکلې شو چې ګمان کوم دا کتاب به په دې

موضوع باندې اَولنۍ ، بې مِثاله او نایَاب کتاب وي . ددې د پاره مې نوم کیښود :

## '' هر تقریر په مُختلفو ژبو کې ''

الله تعالی دې دا دواړه کتابونه د معاشرې د اِصلاح او راهنمایئ ذریعه اوګرځوي .

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن .

**ابوالشمس نُورالهدیٰ عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۵۴۴۷۱۷۴ ۰۳۰۶

په پښتو ژبه کې د اول ځل لپاره د ذِهن د زِیرکتیا ، بیدارولو او
مضبوطولو د پاره د مختلفو مَوضوعاتو متعلق عجیبه ،
مُعَمّیٰ ، عِلمي او تحقیقي سوالات او جوابات :

# أَلْأَسْئِلَةُ وَالْأَجْوِبَةُ الْفَاضِلَة
# لِتَشْحِيْذِ الْأَذْهَانِ الْكَامِلَة

يعنى

# مُعَمّیٰ او عِلمي سوالات او جوابات

تالِیف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی ، مردان

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اُردو ، عربي ، فارسي او
اَنګریزي ) کې د تقریر اِستعداد پیدا کولو د پاره اَولنې ،
بې مِثله ، نایاب ، جامِع ، عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

تالیف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القُرآن اکاخیل کالونی ، مردان




مکتبه غزنویه

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797